

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat .com

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

ټول حقوق په حق د ناشر کښې محفوظ دي

د کتاب نوم تنویر النحو پښتو شرح د هدایت النحو

افادات مولانا حافظ شوکت علی حقانی مدرس دار العلوم حقانیه

ترتیب حافظ کلیم الله_حافظ صدیق الله

ضخامت ۳۵۲

سټینګ بختورشاه آفریدی

زیری نګرانی مولانا سید محمد حقانی

د طباعت تاریخ ذی قعده ۱۴۳۵ھ/ ستمبر ۲۰۱۴

ناشر

مکتبه رشیدیه

جی، ټی روډ سردار پلازه اکوړه خټک ضلع نوشهره

۰۳۴۴-۹۰۸۴۲۹۳

د کتاب ترلاسه کولو ځایونه

(۱) جلال آباد	(۴) پروان	(۷) کابل	(۱) پښاور
(۲) خوست	(۵) کندوز	(۸) قندهار	(۲) اکوړه خټک
(۳) غزنی	(۶) بغلان	(۹) لوګر	(۳) کوټه

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست مضامین

مضمون **صفحه**

درخواست ---------- ۷
ترون ---------- ۸
عرض مرتب ---------- ۹
دعلم النحوتعریف ---------- ۱۱
په بِسْمِ اللهِ کښې تشریح ---------- ۱۳
کیفیت دبسم الله ---------- ۱۵
دالحمد لفظي اومعنوي تشریح ---------- ۱۲
بحث درب العالمين ---------- ۱۸
بحث دالصلوۃ اورسول ---------- ۱۹
بحث دمحمد ،اله ،اصحابه ،اواجمعین ---------- ۲۱
بحث دامّابعد ---------- ۲۳
فَهٰذا مُخْتَصَرٌ ترتیب الکافیه تشریح ---------- ۲۴
بتوفیق کښې تشریح ---------- ۳۲
تعریف د علم نحو ---------- ۳۵
موضوع دعلم النحواوبحث دالکلمة ---------- ۳۸
بحث دالف لام ---------- ۳۹
بحث د(ة) دالکلمة نه ---------- ۴۷
بحث دلفظ اووُضع ---------- ۴۸
تقسیم دکلمی ---------- ۵۴
تعریف داسم ---------- ۵۸
علامات داسم ---------- ۲۰
د تنوین اقسام ---------- ۲۳
داسم وجه تسمیه ---------- ۲۲
دفعل تعریف ---------- ۲۷
علامات دفعل ---------- ۲۹
تعریف دحرف اووجه تسمیه ---------- ۷۳

بحث د کلام ---------- ۷۹
تقسیم دَمرکب ---------- ۸۰
تقسم داسم په خاکه اجمالی سره ---------- ۸۷
تعریف د اسم معرب ---------- ۸۹
حکم المعرب ---------- ۹۲
داعراباتو تقسیم او تفصیل ---------- ۹۴
اعرابات المعرب ---------- ۹۹
اعراب داقسامو داسم معرب ---------- ۱۰۱
ملحقات دمثنی ---------- ۱۱۱
اجمالی خلاصه د اعراب تقدیری ---------- ۱۱۲
تقسیم دمعرب (۱) منصرف (۲) غیرمنصرف ته ---------- ۱۲۴
اعتراضات په تعریف دغیرمنصرف ---------- ۱۲۸
بیان دعَدَلْ ---------- ۱۳۱
وصف ---------- ۱۳۲
وصف په لغت او اصطلاح کښی ---------- ۱۳۷
تانیث ---------- ۱۳۸
تانیث لفظي ومعنوي ---------- ۱۳۹
معرفه ---------- ۱۴۱
عُجْمَه ---------- ۱۴۳
جمع ---------- ۱۴۵
بیان د ترکیب ---------- ۱۴۷
الف والنون زائدتان ---------- ۱۴۹
وزن الفعل ---------- ۱۵۱
اعتراضات په تعریف دجمعی ---------- ۱۵۲
المَقْصَدُ الاَوَّلُ فِی المَرْفُوْعَاتِ ---------- ۱۵۶
د فاعل تعریف ---------- ۱۵۸
القواعد الفاعل ---------- ۱۶۲
بحث دتنازع ---------- ۱۶۵
دتنازع متجانسین متخالفین صورتونه ---------- ۱۶۷

Maktaba Tul Ishaat.com

مذهب دکوفینو ۱۷۲
مفعول مالم یسمّ فاعله ۱۷۶
المبتداء والخبر ۱۷۷
بیان د ظرف ۱۸۴
خبران واخوتها ۱۸۹
اسم کان واخواتها ۱۹۱
اسم ماولا المشبهتین ۱۹۲
المقصد الثاني فی المنصوبات ۱۹۵
د مفعول مطلق تعریف ۱۹۵
مفعول به ۱۹۹
مختلف مقامات دحذف دعامل ناصبه دمفعول به نه ۱۹۹
علی شریطة التفسیر ۲۰۲
بحث دمنادیٰ ۲۰۴
اقسام دمنادیٰ ۲۰۵
مندوب په لغت او اصطلاح کښې ۲۰۸
مفعول فیه یاظرف ۲۰۹
مفعول له ۲۱۱
مفعول معه ۲۱۲
الحال ۲۱۴
اووم قسم دمنصوباتونه تمیزدي ۲۱۸
المثنی ۲۲۱
اعراب دمثنی ۲۲۲
نهم قسم خبرکان ۲۲۷
لسم قسم د اسم انّ ۲۲۷
یولسم قسم المنصوب ۲۲۸
دولسم قسم خبرماولا المشبهتین ۲۳۱
المقصد الثالث فی المجرورات ۲۳۵
د اضافت اقسام او تشریح ۲۳۷
قوله الخاتمة في التوابع ۲۴۲

تعریف د نعت او تشریح ---- ۲۴۵
العطف با الحروف ---- ۲۴۸
التاکید ---- ۲۵۳
اقسام د تاکید ---- ۲۵۳
د بدل تعریف اقسام او تشریح ---- ۲۵۷
عطف بیان ---- ۲۵۸
اَلبَابُ الثَّانِیْ فِی الاِسْمِ المَبْنِیْ ---- ۲۶۱
تعریف د مبنی او حکم د مبنی ---- ۲۶۲
المضمر ---- ۲۶۳
اسماء اشارات ---- ۲۶۹
الموصول ---- ۲۷۱
اسماء افعال ---- ۲۷۴
الاصوات ---- ۲۷۶
المرکبات ---- ۲۷۷
الکنایات ---- ۲۷۸
الظروف المبنیة ---- ۲۸۲
الخاتمة ---- ۲۸۹
اسماء العدد ---- ۲۹۱
مذکر او مونث ---- ۲۹۷
علامات د تانیث او اقسام د تانیث ---- ۲۹۸
د مثنی تعریف او تشریح ---- ۲۹۸
د مجموع تعریف، اقسام، تشریح ---- ۳۰۲
د مصدر تعریف او تشریح ---- ۳۰۶
د اسم فاعل تعریف او تشریح ---- ۳۰۸
فصل الصفة المشبهة ---- ۳۱۱
فصل اسم التفضیل ---- ۳۱۴
القسم الثانی فی الفعل ---- ۳۱۹
حکم او قاعده د فعل ماضی ---- ۳۲۰
د مضارع تعریف ---- ۳۲۰
حل السوالات ---- ۳۲۵

Maktaba Tul Ishaat.com

درخواست

دالله تعالی په فضل و کرم سره د کمپوزنګ نظرثانی او تصحیح نه علاوه د چهاپ کولو او جلد سازی په ټولو مرحلو کښې د ډیر احتیاط نه کار اخستلی شوی ده، خو بیا هم انسان کمزوری ده که ددې احتیاط نه باوجود هم څه غلطی په نظر درشی نو اطلاع راکړی.
ان شآء الله په راتلونکی ایډیشن کښې به ئې صحیح کړو.

(منجانب ناشــــر)

ترون

زه دا خپل معمولی غوندی کوشش د دار العلوم حقانیې بانی او مهتمم شیخ الحدیث
حضرت مولانا عبد الحق صاحب رحمه الله
او
خپل گران استاذ حضرت مولانا حافظ شوکت علی حقانی صاحب مدظله
ته کوم چه د هغوی د شپې او ورځې کوششونو او دعاگانو په برکت سره بنده پدی
میدان کښې د قدم کیښودلو قابل شو

طالب علم صدیق الله
بن
حضرت مولانا سید محمد حقانی صاحب مدظله
متعلم دار العلوم حقانیه

Maktaba Tul Ishaat.com

عرض مرتب

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِ رَّسُوْلِ اللّٰهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ.

اَمَّا بَعْدُ: د الله تعالی فضل و کرم ده، چه د هغه په توفیق سره بنده ددې قابل شو چه د خپل ګران او مشفق استاذ حضرت مولانا حافظ شوکت علي حقاني صاحب مدظله افادات د علوم شرعیه طالبانو ته پیش کړي د علمي حلقو او خاص توګه د حافظ صاحب مدظله د شاګردانو د طرف نه د دې ډیر زیات انتظار وو او اصرار کیدلو، او هدایة النحو ته چه کوم مقبولیت الله تعالی ورکړی هغه د نمر په شان ښکاره ده، او ددې د درس لپاره هم الله یو ډیر علمي، تحقیقي او ډیر زړه راښکونکی استاذ خاص کړی.

د پوهولو ملکه هم الله دوی ته پوره ورکړې ده، د بنده دا فکرووچه د حافظ صاحب دادرس په ډیر احتیاط سره منتقل شي چه د غلطیونه هم پاک وی او د خپل وس مطابق د ټولو تصنیفي آدابو سره زر تر زره طالبانو او علماء په خدمت کښې پیش کړې شي، نو ډیر به بهتره وی لیکن پدې کار کښې د روسته والي یو څو وجه وي، چه په هغې کښې اوله وجه داوه چه زمونږه ناتجربه کاري وه، دویمه وجه د تصنیفي ماحول او د سهولیاتو د کمې وجه هم وه او دریمه د قابلو ملګرو کمې چه د علمي او تحریري صلاحیتونو نه مالامال دی

او د کار په درمیان کښې بنده بیماره هم شو، ددې ټولو وجوهو په وجه اګرچه پدې عظیم علمي کار کښې ډیر زیات روسته والي وشو، لیکن د الله تعالی نه دا امید ده چه دا مجموعه به د طالبانو او علماء لپاره فائده مند وي.

پدې کتاب کښې د لاندني امورو خیال ساتلی شوی ده:

(۱) مکمل متن راوړلي شوی ده

(۲) په متن باندې اعراب لګولي شوی ده.

(۳) ترجمه په ډیر ښائسته انداز سره ذکر شوی ده.

(۴) د هر بحث مکمل تفصیل شوی ده

(۵) په آخر د کتاب کښې امتحاني سوالات او جوابات دا مسوده اګرچه د حافظ صاحب د نظر نه تیره شوی نه ده، لیکن بیا هم مونږ د خپل ناقص علم او مونږه د غلطۍ لرې کولو مکمل وس کړی ده.

ناپوهي مکمل اعتراف کوو، پدې کتاب کښې که یو صاحب علم ته څه قسمه تحریری غلطي په نظر راشي، نو هغې لره د حافظ صاحب مدظله په ځائي مرتبینو طرف ته د منسوب کړي، او ټولو کتونکو ته درخواست دے چه د دې غلطو نشاندهي کولو سره مونږ خبر کړي چه هغه سره به مونږه ستاسو ډیر زیات شکر ګزار او احسان مند یو.

کلیم الله بن حضرت مولانا حافظ شوکت علی استاذ دار العلوم حقانیه مدظله

حافظ صدیق الله

بن

حضرت مولانا سید محمد حقانی صاحب مدظله

Maktaba Tul Ishaat.com

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

دعلم النحوتعريف

د هر فن شروع کولو نه مخکښې د هغې فن لغوی او اصطلاحي تعريف، مقصد او په اسلامی علومو کښې ددې مقام او دې نه پس د مصنف تعارف پيژندل ضروري وي.

د نحوی لغوی معنی: قصد کول

اصطلاحی معنی اَلنَّحْوُ عِلْمٌ بِأُصُوْلٍ يُعْرَفُ بِهَا اَحْوَالُ اَوَاخِرِ الْكَلِمِ الثَّلٰثِ مِنْ حَيْثُ الْاِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ وَكَيْفِيَّةُ تَرْكِيْبِ بَعْضِهَا مَعَ بَعْضٍ.

غرض غايت مقصد: صِيَانَةُ الذِّهْنِ عَنِ الْخَطَإِ اللَّفْظِيِّ فِيْ كَلَامِ الْعَرَبِ.

(مقام و مرتبه د علم نحو)

علوم په دوه قسم دی (۱) مقصود عاليه (۲) مقصود غير عاليه

علم نحو د غير مقصود نه ده ځکه چه دا د علوم عاليهٔ چه تفسير او حديث ده، د لپاره آله ده په خپله مقصود نه ده، ليکن مقصود لپاره موقوف عليه ده، د وجه نه صاحب مفتاح رحمه الله فرمائی چه د علم نحو حاصلول فرض کفايه ده.

(د حضرت عمر رضي الله عنه قول) تَعَلَّمُوا النَّحْوَ كَمَا تَعَلَّمُوْنَ السُّنَنَ وَالْفَرَائِضَ.

ترجمه: تاسو علم نحو زده کړي څرنګه چه سنن او فرائض زده کوی.

(د ايوب سجستاني رحمه الله قول) تَعَلَّمُوا النَّحْوَ فَاِنَّه جَمَالٌ لِلْوَضِيْعِ وَتَرْكُه هُجْنَةٌ لِلشَّرِيْفِ.

ترجمه: تاسو علم نحو زده کړی ځکه چه دا د ادنی سړی لپاره باعث جمال ده.

(د امام کسائی رحمه الله قول) اَلنَّحْوُ قِيَاسٌ يُتَّبَعُ وَبِه كُلُّ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ.

ترجمه: علم نحو قابل اتباع قياس ده او په هر علم کښې د ذريعې سر فائده اخستلی کيږی.

د دي عظمت او ضرورت ظاهرولو لپاره د علماء کرامو عجيب او غريب فرموادات دی مثلاً (۱) اَلنَّحْوُ فِي الْكَلَامِ كَالْمِلْحِ فِي الطَّعَامِ (۲) اَلنَّحْوُ لِلْعُلُوْمِ كَالضَّوْءِ لِلنُّجُوْمِ (۳) اَلنَّحْوُ فِي الْكَلَامِ كَالضَّوْءِ فِي الظَّلَامِ

(د مصنف تعارف)

د مصنف نوم ،محمداو كنيت ئې ابوحيان،د پلار نوم يوسف

سلسله نسب

ابوحيان محمد بن يوسف بن علي بن حيان الاندلسي

ولادت:د اندلس په ښار غرناطه کښې شوال ۶۵۴ھ کښې پيدا شوی،په ابتدائي عمر کښې حفظ مکمل کړو په علم تجويد و قرات وحديث کښې مهارت کامله حاصل کړې وو،علامه سيوطي په علم نحو کښې تصنيف کړي چه د هغې نوم جمع الجوامع دي فرمائي چه پدي کتاب کښې ما څه شي ليکلي هغه مي د ابوحيان د تصانيفونه مي ليکلي،د ابوحيان هم عصر صلاح الدين صفوی رحمه الله فرمائي كَانَ أَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ فِي النَّحْوِ.

اساتذه کرام

ابومحمد عبدالحق نه فن تجويد زده کړې وو

ابوجعفر غرناطي او حافظ ابوعلي حسين بن عبدالعزيز نه دِ قرات مشق کړي وو.

عبدالحليم فرمائي چه د ابوحيان ۱۴۵۰ استاذان وو

علم الفقه علم الدين عراقي نه حاصل کړي وو

علم منطق او علم کلام دِ ابوجعفر بن زبير نه حاصل کړي وو

علم نحوئي ابوالحسن ابوجعفر بن زبير ابوجعفر ليلي او ابن صائغ نه حاصل کړو

شاګردان

ابن عقيل او ابن هشام دا مشهور شاګردان دي

تصانيف

تقريباً ۶۵ کتابونه په عربي او فارسي کښې ليکلي دي مشهور دادی، تفسير بحر المحيط،(۲) شرح التسهيل (۳) منيج السالك شرح العيه ابن مالك (۴) هداية النحو

وفات: تاريخ وفات کښې اختلاف دي يو قول مطابق په ۷۴۳ھ کښې وفات شوی او دويم قول مطابق په ۷۴۵ھ کښې وفات شوی

Maktaba Tul Ishaat.com

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

په بِسۡمِ اللّٰه کښې تشريح

ترجمه: شروع کوم په نامه دخدای چې ښېونکې او مهربانه دی

تشريح: داکتاب په علم النحو کې ليکلی شوي دي نو مُعترض اعتراض کوي چې مونږته خود نحوضرورت دي او مصنف رحمة الله عليه بسم الله ذکر کړه نوجواب دادی چې ددې ډیرې وجهې دي (۱) چې د کتاب الله اقتدا اوشي (يعني دقرآن مجيد) (۲) چې عمل وشي په حديث شريف باندي قال رسول الله صلى الله عليه وسلم **کل امرذی بال لم يبدأ بسم الله فهو ابتر** (۳) چې موافقت راشي دسلف صالحينو دکتابونو سره (۴) چې دفعه شي وسوسې دشيطانانو (۵) دپاره دويلې کيدلو دشيطانانو (۶) دپاره دکثرت دشافعينو - يعني دډيروالي دشفاعت کونکې چې حديث نبوي دي چې څوك په نيك امرکې بسم الله اُوايي نو دبسم الله ديو حرف په مقابله کې الله تعالى يوه فرشته پيدا کې او هغه فرشته دده دپاره ترقيامته بلکه دقيامت نه بعدهم د مغفرت دعاګانی کوي او په بسم الله کې نولس حرفونه دي اوددې په مقابله کې نولس فرشتې پيدا کيږي (۷) چې فرق اوشي دکافرانو سره چې هغه په خپلو کتابونو کښې باسم الات والعُزی ليکې اودادبُوتانونومونه دی (۸) چې موافقت راشي دخطوطو پيغمبرانو سره (۹) چې موافقت راشي خط د سليمانؑ سره بنام بلقيس (۱۰) هرکله چې الله جل شانه لوح اوقلم پيدا که نووېې فرمائل چې اُکتُب نو پس قلم شروع په نوم دالله سره اوکړه يعني په بسم الله سره.

د بسم الله ترکيب: باجاره اسم مضاف لفظ دالله موصوف الرحمن صفت اول الرحيم صفت ثاني موصوف سره ددواړو صفتينونه مضاف اليه شو دپاره دمضاف مضاف سره دمضاف اليه نه مجرورشو دپاره دجارجارسره دمجرورنه ظرف مستقرمتعلق شو په ابتدأمقدرپوری ابتداء فعل انا ضمير فاعل فعل سره دفاعل اومتعلق نه جمله اسميه فعليه خبريه شوه

جارمجرورته په کلام عرب کې ظرف وايې اوظرف په دوه قسمه دي يوظرف حقيقي دي بل ظرف مجازی. دظرف حقيقي نه مراد ظرف زمان اوظرف مکان دي اودمجازی نه مراد ظرف لغوه اوظرف مستقرمراددي.

ظرف لغو: هغه دي چې متعلق يې په کلام کې ذکروي اولغوه ورته ځکه وايې چې دا دالغانه ماخوذ

دي په معنی لغوه کيدل او دا مستقل رکن دي جمع نه شي واقع کيدي بلکه واقع کيږي متعلق د کلام ته.

ظرف مستقر: هغه دي چې متعلق يې په کلام کښې مذکور نه وي او مستقر ورته ځکه وايي چې دا ماخوذ د استقراء نه دي په معنی د احتياج او دا محتاجه وي په کلام کې متعلق ته او د دي متعلق په غالبو وختونو کې د لفظ استقر واقع کيږي پس په بسم الله کې ظرف مستقر دي ځکه چې متعلق يې مستتر دي او س په ديکې د بصريانو او کوفيانو اختلاف دي په ظرف لغو کې ځکه چې متعلق يې مذکور في الکلام دي برابره خبره ده که اسم وي او که فعل وي ۱۲)

مذهب دبصريانو: دوئ وايي چې د غه متعلق د ظرف مستقر به فعل وي او دغه فعل به د افعال عامو نه وي افعال عامه دا دي

(افعال عموم نزد ارباب عقول کون است ثبوت است وجود است حصول)

دليل دبصريانو: دليل د بصريانو دا دي چې اصل په عمل کې فعل دي چې کله مونږه تقدير او که نو پکار ده فعل وا خلو ځکه چې رعايت د اصل اولى دي يعني بهتر دي او اصل فعل دي- قانون د نحو هر متعلق به عامل وي په متعلق کې

مذهب دکوفيانو: دوي وايي چې متعلق د ظرف مستقر به اسم وي، دليل: ځکه چې ظرف مستقر په اکثرو وختونو کې خبر د مبتداء واقع کيږي او اصل په خبر کې افراد دي او افراد نه حاصليږي مگر په تقدير د اسم سره دلته پرې معترض **اعتراض** کوي چې افراد په اسم سره څنګه حاصليږي **جواب** دا په اسم سره ځکه حاصليږي چې اسم مفرد وي او فعل مفرد وي نه بلکه جمله وي او افراد هم ديو نه دي نو پس متعلق به اسم وي د بصريانو په نزد تقدير د تسميي به دا سې شي چې ابتدأ بسم الله الرحمن الرحيم - **اعتراض** - ابتد أخو د افعال عامه نه دي.

جواب: دا ځکه چې دلته خپله قرينه (ديو کار په شروع کې واقع کيدل) موجود ده چې اَبتدأ ده يا شرع نو او س معترض بل **اعتراض** کوي چې تا خو شروع په نوم د الله او نکړه بلکه اَبتدآ مخکې ذکر که نو اخبره د بالکل صحيح ده ځکه چې تقديم د ماحقه تاخير راغي او دا مفيد دي د حصر او اختصار د پاره نو پس تقدير به داسې شي چې بسم الله الرحمن الرحيم ابتدا يا اشرع - او د کوفيانو په مذهب به تقدير د عبارت داسې شي چې ابتدا ثابت بسم الله ------ نو ترکيب په اخر کې به داسې وي چې جار سره د مجرور نه ظرف مستقر متعلق شو په ثابت پوري ثابت صيغه د اسم فاعل شوه اسم فاعل سره فاعل او متعلق نه جمله اسميه.

Maktaba Tul Ishaat.com

کیفیت دبسم الله

لفظ باد لپاره داستعانت ده معترض اعتراض کوي چې باخود استعانت شوه خود اِسم پکې څه کوری.

جواب: دادي چې فرق راشي په مابین دباقسمیه او بااستعانیه کې که او ویل شي چې باالله الرحمٰن الرحیم نوخلق به وایي چې ملا صاحبه تاخو قسم اوخوړ نو د اسم په وجه احترازراغی دقسم نه نود اسم تفصیل به ورستوراشي بیامعترض راپاځید اعتراض کوی چې لفظ د الله ولی مقدم دي نوجواب دادي چې اول خوالله په معنی خان پوهه کړه.

الله په لغت کې معبودبرحق ته وایي.

په اصطلاح کې عَلَمٌ لذات الواجبُ الوجود المستجمع بجمیع الصفاتِ الکمالیة المنزہ عن النقصان والزوال: الله علم دی دیوذات چې واجب الوجوددي لفظ دالله اسم جامد دي اوبعض وایي چې مشتق دي کوم چې په مشتق قائل دي په دوي کې بیااختلاف دي بعض وایي چې ولَه دي اوبعضی وایي چې اله دي غرض داچې په دي مثل قوله دي اوتحقیق یې په تفسیربیضادي کې دي

جواب- الله موصوف دي اوموصوف مقدم وي په صفاتوباندي بله وجه الله ذاتی نوم دي اوذات مرتبه اوچته وي په صفاتوباندي نوځکه مقدم دي.

کیفیت درحمٰن اورحیم: رحمٰن په وزن دفعلان اورحیم په وزن دفعیل دي اودواړه صیغی دصفت مشبه دي رحمٰن اورحیم. مشتق منهٗ اوماده یوشان ده درحمت نه ماخوذدي اولغوي معنی یې رقت القلب ده (دزړه نرم والی) معترض اعتراض کوی چې دالله خوزړه نشته **جواب** معنی تري لازمی مراده یعني احسان اوتفضل بل اعتراض واردشو **اعتراض** چې دادواړه خویوشان صیغی دي نورحیم یې ولی مقدم نه کړو په رحمٰن، **جواب** (۱) لفظ دالله اولفظ درحمٰن دا یوبل سره قریب دي حواله قرآنی. (قُلِ ادْعُوا اللهَ أَوِ ادْعُوا الرَّحْمٰنَ ط) (۲) بله وجه څنګه چې الله مختص دی په الله پوری دغسی رحمٰن هم مختص دي په الله پوری اورحیم مختص نه دی په الله پوری (۳) دریمه وجه په رحمٰن کښی تعمیم دي اوپه رحیم کې تخصیص دي یعني درحمٰن معنی عامه ده اودرحیم معنی خاصه ده اورحمٰن مهربانه دي په دنیاکې اورحیم خاص دی په اخرت کې نودنیامقدم ده په آخرت باندي نوځکه مقدم دی. (۴) څلورم وجه په رحمٰن کې حروف خمسه دي اوپه رحیم کې حروف اربعه دي اوکثرت دلفظ دلالت کوي په کثرت دمعنٰی باندي- یوه معقوله ده: کثرت المبانی تدل علی کثرت المعانی.

دالحمد لفظي اومعنوي تشريح

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ:

ترجمه :تمام تعريفونه دهغه ذات لپاره دی چه کوم ذات د تمام جهانونو پالونکی دی.

تشريح: مصنفؒ دتسمیې نه بعد الحمد لله ذکر کړه ددي وجهی نه چې موافقت راشي دكتاب الله اوسلفوسره اوعمل اوشي په حديث باندي چې روايت دي **كل امرذی بال لم يبدأ بحمد الله فهواقطع واجزم** نو **اعتراض** دادي چې دابتدا دپاره دوه حديثه شونو آيا اُس به حمد مخکې راځي چې د حديث روايت دي **جواب** دادي ابتداء په دري قسمه ده ابتداء حقيقي ابتداء اضافي ابتداء عرفي

ابتداء حقيقي:هغه ده چې مقدم وي په ټولو اشياؤباندي يعني په مقصودي اوغير مقصودی دواړو باندي

ابتداء اضافي: هغه ده چې مخکې وي خواه که دټولو نه مخکې وي اوکه بعضونه.

ابتداء عُرفي: چې هغه چه مقدم وی په مقصودي مسائلو باندي، پس چې تعريفونه دي ازده کړل نوالحمد ابتداء اضافی ده نه حقيقي اوبله وجه داده چې بسم الله دلالت کوي په دريو اسماؤباندي او الحمد دلالت کوي په اسم دالله باندي يا په دوه باندي نوپس حديث دبسم الله محمول شو په حمد باندي که څوک دا **اعتراض** اوکې چې داسې به دې ولې وو چې **الحمد الله الرحمن الرحيم**؟

جواب: داكارخوصحيح نه دي ځكه چې مخالفت راځي دكتاب الله سره اوعامي طريقی دسلفوسره

كيفيت دالحمد: پدي کي دوه جملې دي يوال اوبله حمد دي ال دتعريف دپاره دي ليكن راغلی دجنس دپاره دي يااستغراقی يا عهدخارجی بعض دلام استغراق قائل دي دليل بيانوي چې په حقيقت كې ټول محامدين دالله تعالى دپاره دي اوپه دي لام استغراقی دلالت کيدي شي اوبعض وايې چې داجنسی دي دليل يې دادي چې دجنس دپاره هم داجمله دجميع محامددالله دمملوك كيدلودلالت كوي ولی چې په الله كې لام دتخصيص دپاره دي نومطلب دادي چې جنس دحمددالله تعالى په واسطه مخصوص دي حاصل يې داشوچې په دواړوصورتونوكې حمددهرفردثبوت دالله دپاره دي اوپه الحمدكې دري تعميمات دي اويوتخصيص دي تعميم دحمدتعميم دحامداوتعميم دزمانې نوپس هر حمد دهرحامدنه په هرزمانه دحمدكې داخاص دي په الله پورې تعميم دحمددال يعني دلام تعريف نه معلوميږي كه استغراقی وي اوكه جنسي دواړه مفيدد حمددپاره دي تعميم دحامديعني دتعريف كونكي تعميم دامعلوميږي دعدم ذكرد حامدنه اوعدم ذكرد حامدنه مرادهرحامددي ځان له مصنف نه دي بلكه چې څوك حمدلولي.

Maktaba Tul Ishaat.com

اوتعمیم دزمانی معلومیږی دعنوان دجملی نه چې جمله اسمیه ده اوددي فائده داده چې دادلالت په دوام اواستمرارباندي کوي یعني مرادتري تول وختونه دي اوتخصیص یکې دلله د لام نه مستمدکیږي یعني لام جاره خاص کړی شوي ده د په الله دذات پورې. یعني تخصیص دپاره کچرته څوك **اعتراض** اوکړی چې الله اسم ذات دي اوالحمدوصف دي اووصف مؤخروي دذات نه نوپکارده چې لفظ الله مخکې وي په الحمدباندي **جواب** دادي دامقام دحمددي او الله مقتضی دي حمدته چې حمد مخکې ذکرشي بل **جواب** دادي چې دلته مقصودوصف بیانول دي اوددات ذکرتعلق دوصف دوجی نه دي اوچې کوم شې مقصودوي دهغه تقدیم په غیر مقصود واجب وي نوځکه دحمدتقدیم په لفظ الله ضروری دي بل **اعتراض** واردشوچې دلفظ الله په ځای دصفتی نوم راوړلی شی نو **جواب** دادی چې لفظ الله اسم ذات دی اواسم ذات داسم صفت نه اشرف اوافضل دي په ذکرکې دغیراشرف نه.

معنوي تشريح دالحمد: حمدپه لغت کښی ستودن (تعریف کول) ته ویلی شي

په اصطلاح کې: اَلثَّنَاءُ بِاللِّسَانِ عَلَى الْجَمِيْلِ الْاِخْتِيَارِيْ عَلٰى قَصْدِ التَّعْظِيْمِ سَوَاءٌ كَانَ فِيْ مُقَابَلَةِ نِعْمَةٍ أَوْلَا: پس دتعریف نه حمدلره دوه جُزونه شو

(۱) **مورددحمد**: یعني دڅاپه ذریعی سره بیانیږی فقط لسان دي یعني په ژبه سره بیانیږی

(۲) **متعلَق دحمد**: چې په مقابله دنعمت کې وي یانوي لکه په تعریف کې فی مقابلة نعمة اولی دي نوپس مورددحمدخاص دي فقط لسان اومتعلق دحمدعام دي که په بدله داحسان وي اوکه غیراحسان وي. اوحمدپه مقابله کې مدح ده داهم تعریف بالسان دي خوشرط دادي چې افعال به یې په اختیارکې نه وي یعني غیراختیاری به وي اوحمدپدي مقاماتوکې نه استعمالیږی اومدح داختیاری اوغیراختیاری دواړودپاره استعمالیږی مثال دمدح لکه مَدَحْتُ اللُّؤْلُؤَ عَلٰى صَفَائِهَا ماتعریف اوکړودصفایې دملغلری اودمدح نه بعدشکردی فِعْلٌ يُنْبِئُ عَنْ تَعْظِيْمِ الْمُنْعِمِ بِسَبَبِ اِنْعَامٍ سَوَاءٌ كَانَ ذِكْرًا بِاللِّسَانِ اَوْ اِعْتِقَادًا بِالْجَنَانِ اَوْ عَمَلًا بِالْاَرْكَانِ:

نوپس دشکرمورددګویاپه دریوطریقوسره اداکیږي یوپه ژبه سره بل په زړه سره اوبل په ظاهری اندامونوسره. اومتعلق دشکرسبب دانعاماتو

نتیجه: حمدخاص دی په دی اعتبارسره چې موردیې خاص دي یعني صرف لسان اومتعلق یې عام دي په دي اعتبارسره چې که نعمت وي اوکه نه وي مدح اوپه حمدکې فرق دادي چې حمدصرف په افعال اختیاری کې بیانیږی اومدح په افعال اختیاری

اوغیراختیاري دواړو دپاره بیانیږي اوشکرعام دي ځکه چې موردیې عام دي یعني په دریوطریقوسره اداکیږي اومتعلق یې خاص دي ځکه چې سبب دانعام.

بحث دربّ العالمین

ربّ العلمین: رب صیغه دَ اسم مصدرده په معنی داسم فاعل ده یاصیغه دصفت مشبه ده لفظ دربٌ ماخوذدي دتربیت نه اودتربیت معنی داده چې یوشي لره کمال ته رسوي تدریجاًتدریجاً نودرب معنی شوه (پرورش کننده) رب مضاف دي اضافت یې العالمین ته شوي دي اوعلمین یې مضاف الیه دي معترض بیاسراوچت کړو او **اعتراض** کوی چې استاذه عالمین جمع دعالم ده اوماسوائ دالله نه چې څه دي ټول عالم دي (مایعلم به شئ) نوپکارده چې عالم یې ذکرکړی وي

جواب دا صحیح ده چې عالم دلالت کوي په ټولومخلوقاتوباندي مگردجمعی صیغه یې ځکه راوړه چې دلالت اوکړی په انواعودعالم باندي یعني په قسمونودعالم باندي لکه قسم ددریاب اوقسم د نباتاتواودجمادات اوحیوانات اوجنات وغیره بل **اعتراض** واردشوچې داخوصیغه دجمعی مذکرسالمی ده اودامستعمل کیږي په ذوی العقولوکې نوجواب دادي چې مصنفینوترجیح ورکړه ذوي العقولوته ځکه چې ذوی العقول اشرف دي په غیرذوي العقول باندي مثلاً خلق «والدین» لفظ استعمالوي نوداخوهم دجمع مزکر سالمه یاتثنیه ده مگردلته پلارلره تغلیب ورکړی شوي دي په موربانديي نوبرابره خبره ده چې مصنف تغلیب ورکړی دي ذوي العقولوته په غیرذوي العقول باندي بله خبره داده چې درب اضافت العالمین ته شوي دي ددي دپاره نحوي ضابط ده چې موصوف معرفه وي نوصفت به یې هم معرفه وي اوکه موصوف نکره وي صفت به یې هم نکره وي اومضاف چې کله نکره وي اواضافت یې معرفی ته وشي نومضاف هم معرفه کیږي پس اضافت په دوه قسمه دي یومعنوي اوبل لفظی اوکوم مضاف چې مفید دتعریف دپاره وي نوداضافت معنوي وي اومضاف وی دِ عامل نه په مضاف الیه معمول کې اوپه اضافت لفظي کې مضاف عامل وي په مضاف الیه معمول کې نوچې کله په اضافت لفظي کې مضاف نکره وي نومضاف الیه نه معرفه کیږي نورب دلته عامل نه دی په العالمین معمول کې نودي ته اضافت معنوي ویلی شي اوربّ العلمین معنوي دي

ترکیب **الحمد** مبتدا لام حرف جر لفظ الله مجرور موصوف **رب** مضاف العلمین مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه دا صفت کیږی دلفظ الله موصوف لپاره، موصوف سره

Maktaba Tul Ishaat.com

دصفت نه دا مجرور کیږي دلام جاره، جار سره دمجرور نه دا ظرف مستقر تعلق نیسي ثابت مقدره پوري، ثابتٌ صیغه دا اسم فاعل ضمیر دهُوَ په کښې مستتر ده هغه ئې فاعل اسم فاعل سره دفاعل نه داخبر شو دالحمد مبتدا لپاره، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه

وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ: **ترجمه** او ښه انجام ثابت ده د متقیانو لپاره

تشریح دا جمله معترضه ده ځکه چې عاقبت انجام ته ویلی شي او انجام د شرهم وي او دخیرهم وي نو دلته مضاف مقدر دي چې مستقر دي نو تقدیر دعبارت به داسې شي چې خیر العاقبت للمتقین یاحُسن العاقبتِ یعني نُزول دخیر کثیر صِرف دمتقیانو دپاره مستعمل شو. او متقین جمع دمتقی ده او متقی مشتق من التقوی دي او تقوی په لغت کې ځان بچ کیدوته وایي نو دمتقی نه معنی دپرهیزګار ثابته شوه یعني دي ځان ساتي او بچ کوي دفحاشی او حرامونه (اجتناب عن الحرام) او په تقوی سره نجات او فلاح حاصلیږي ځکه چې عمده په اعمالو کې تقوی ده او حصول التقوی یو ترغیب دي دپاره دطالبانو ځکه چې علم په تقوی سره حاصلیږي. نو ځکه مصنفؒ دخه انجام دپاره خاص لفظ دللمتقین ذکر کړه

ترکیب: **واو** اعتراضیه **العاقبة** مبتدا **لام** جاره **متقین** مجرور جار سره دمجرور نه دا متعلق شو ثابتة مقدره پوري، ثابتةٌ صیغه دا اسم فاعل پدي کښې ضمیر مستتر ده چې هِیَ ده هغه فاعل اسم فاعل سره د فاعل نه او سره دمتعلق نه دا خبر شو د العاقبة مبتدا لپاره، مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه

بحث دالصلوة اورسول

وَالصَّلٰوةُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ:

ترجمه او نزول رحمت دوی په رسول د هغه باندي

تشریح دا په اصل کې صَلَوَةٌ وو دواو متحرك او ماقبل فتحی په وجه واو په الف بدل شو نو صلوة شو. او دالف کتابت په واو سره مشهور دي او په ویلو کې دواو طرف ته مائله کیږي البته په بعضو اوقاتو کې واو ساقط کیږي لکه صلاتي او په قرآن کې هم داسې شته چې واو یکي نشته لکه عن صلاتهم صلاة په لغت کې رحمت ته ویلی شي او په خطبه کې مراد رحمت کامل دي یعني نُزول دخیر کثیر دي وي په رسول باندي او دا ثابت دي دپاره دپیغمبرؐ نقلاً او عقلاً.

نقلاً: په روایت دقرآن پاك سره (يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا)

اوحدیث شریف سره هم ثابت دي چې روایت دي خَصُّوْنِي بِكَرَامَاتٍ مِنْهَا اِذَا ذُكِرْتُمُ اللهَ فَاذْكُرُنِي مَعَهُ معترض بیا **اعتراض** ته پاسیده چې په آیات کې د صلوة سره سلام هم ذکر دي نو **جواب** دادي چې کوم دوه لفظونه یوځایي ذکرشې نود الازمه نه ده چې په عمل کې دِهم یوځایي وي ضابطه مقارنت فی العقل دامستلزم دي دمقارنت فی العمل یادا **جواب** دي چې په دي آیت کې (وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ) زکواة ذکردي نوددي خودا معنی نه ده چې تاسو دمانځه سره زکواة ورکوی نوپس ثابته دا شوه چې مقارنت فی العقل دامستلزم دي دمقارنت فی العمل لره.

عقلاً: عقل ددي خبری تقاضا کوی چې په پیغمبرؐ دصلواة اوویلی شي او تقاضائکه کوي چې الله زموږ منعم اومحسن دي نوددي په بدله کې موږ ده غه تعریف اوشکریه په حمداوشکرسره ادا کوو. دعقل تقاضاده نو دغه سی دپیغمبرؐ دپاره شکریه په صلواة اوسلام سره اداکیږي بل **اعتراض** دادي چې په حدیث سره ثابته ده چې صلوة خاص دي په پیغمبرپوری نومصنف ورسره اله ولی ذکرکه.

جواب: داخو صحیح خبره ده خودالام ال په ضمن دپیغمبرؐ کې دي یعني مخکې تري رسول لفظ مستعمل دي کچري دانوي ذکرنوبیابه ناجائزوو **عقلي جواب** څنګه چې دالله داحساناتو اوانعاماتو بدله په حمد سره کیږي دغه شان دپیغمبرؐ داحساناتو بدله په صلواة سره کیږي اوهم دغه شان دپیغمبرؐ سره په خدمت دین کې صحابه کرام مشترك دي اوبیاتابعی ،تبع تابعیي اوعلمائ کرام اوطلباء کرام هم دي نوځکه مصنف اله ذکرکرو اوبله خبره داده چې دبعضو په نزد په صلواة کې دنسبتونو په لحاظ خلورمعنی دي.

(۱) - چې نسبت یې دالله طرف ته وشي خواه که کلام الهی وي اوکه کلام ناسي وي نومعنی به تري فقط رحمت مرادوي.

(۲) - چې نسبت یې دعباد طرف ته اوشي نومعنی ددعابه تري مرادوي عباد جمع د عبد ده.

(۳) - چې نسبت یې دملائکوطرف ته اوشي نومعنی داستغفار ترینه مراده ده

(۴) - چې نسبت یې دوحوش اوطیورطرف ته اوشي نومعنی تری دتسبیح اوتهلیل مراده ده

رسوله: رسول په وزن دفعُولٌ دي اوپه معنی لیګلی شوي یعني استاذی

په اصطلاح کې رَسُوْلٌ اِنْسَانٌ بَعَثَهُ اللهُ تَعَالٰى اِلَى الْخَلْقِ لِتَبْلِيْغِ الْاَحْكَامِ الشَّرْعِيَّةِ مَعَهُ كِتَابٌ مُجَدَّدٌ اَوْشَرِيْعَةٌ مُجَدَّدَةٌ.

دنبي تعريف نبي اِنْسَانٌ بَعَثَهُ اللهُ تَعَالٰى اِلَى الْخَلْقِ مَعَهُ كِتَابٌ مُجَدَّدٌ اَوْلَا پس رسول خاص شو اونبی عام دي یعني درسول دپاره نوي کتاب اوشریعت شرط شو نواعتراض دادي چې د رسولانو

Maktaba Tul Ishaat.com

تعداد ۳۱۳ دي اوټول آسماني کتابونه ۱۰۴ دي جواب دادي زمونږه مراد دادي که دانوي کتاب داسمان نه راغلي وي اوکه دمخکي پيغمبرنه ورته پاتي شوي وي نوپس دادده دپاره نوي کتاب اوشريعت اوګرزيده اوداهم ممکنه ده چي په يوه زمانه کي په يوکتاب اوشريعت باندي مختلف پيغمبران هم تيرشوي وي والله اعلم اوداهم ممکنه ده چي په يورسول باندي متعدد کتب اوصحيفي نازل شوي دي اوداهم ممکنه ده چي يوکتاب مکررنازل شوي وي لکه سورة فاتحه يوه پيره په مکه کي اويوه پيره په مدينه کي نازل شوي دي.

ترکیب: **واو** حرف عاطفه **الصلوة** مبتدا **علی** حرف جر **رسول** مضاف **ه** ضمير مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مبدل منه شو

بحث دمحمد، اله ، اصحابه ، اواجمعين

مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ:

ترجمه: او نزول رحمت دوی په رسول و الله باندي چه نوم ئي محمد دي په ال او اصحابو د دباندي

تشريح: **مُحَمَّدٍ** دا صيغه داسم مفعول ده دباب تفعيل نه حَمَّدَ يُحَمِّدُ تَحْمِيْدًا - اويا صيغه دمبالغي مبالغه في المحموديت ده په معنی ډير تعريفونه ئي کړی شوي دي نودابرابره خبره ده چي دپيغمبرؐ تعريفات الله پخپله کړی دي يعني دټولو انبياؤ نه يې تعريفونه ډيرزيات کړی شوي دي. اويونوم يې احمد دي چي دابه ورته پلارنيکه وي نواحمد صيغه داسم تفضيل ده اودامبالغه دفی الحامديت ده په معنی زيات تعريف کونکي په نيت دنوروخلقونوپس ثابته شوه دنوموبونه چي الله دپيغمبرؐ تعريف ئی کړی دي اوپيغمبرؐ دالله تعالی تعريف کونکي دي اودا محمد مصنف درسوله نه بعد ځکه ذکرکړوچي احترازاشي دنورورسولانونه بلکه داخطبه خاص ده په محمد پوري اوپه صحابو دهغه پوري اوپه ال دهغه پوري. نوپس داسي به شي چي رسوله محمد په رسول دهغه چي نوم يې محمد دي

وَّاٰلِهٖ: دمحمد په ال باندي صلواة نقلاً ثابت دي نقلي دليل يوه پيره صحابو دپيغمبرؐنه تپوس اوکړوچي مونږه په تاباندي درود وايو خوستاپه ال څنګه درود وايو نوپيغمبرورته وفرمائيل داسي وايې چي

اللهم صل علی محمد وعلی ال محمد کما صليت علی ابراهيم وعلی ال ابراهيم انك حميد مجيد

اونقلي دليل دصلواة په بحث کي مذکور دي.

دلفظ ال لفظي تشریح: پدې کې دوه مذهبه دي یو د سیبویه او بصریینو او بل د کوفیینو دي د سیبویه په نزد باندې دا په اصل کې اهل وو او دلیل یې دا دی چې اُهَیل یې تصغیر دی پس دوی په اهل کې اعلال او که یعنې هائی یې په الف بدله کړه نو ال ترې جوړ شو - او کوفیان وایي چې دا په اصل کې اَوَل وو نو پس دا قانون دی چې واو متحرك ماقبل ترې فتحه وي نو دغه واو به په الف باندې بدلیږي نو ال شو او دلیل یې دا نیولی دی چې د دې تصغیر اُوَیلٌ دی او په کوفیانو کې بیا کسائی وایي چې ما د یو فصیح اعرابي نه ال اویل اهل او ریدلی دی او اصمعي لغوي نه هم دا منقول دی.

دلفظ ال معنوي تشریح دال او د اهل په مینځ کې فرق دا دی چې په ال کې تخصیص دی او په اهل کې تعمیم دی اول تعمیم او تخصیص دا دی چې د ال اضافت ذوی العقولو طرف ته کیږي او دالله حق. زمان مکان معاني او د حروفو طرف ته نه مضاف کیږي لکه ال الله او الی الزمان ال العلم وغیره نشي ویلی کیدی بخلاف د اهل نه یعنې اهل الله اهل القریه اهل الزمان وغیره په ټولو کې مستعمل کیږي دویم فرق د ال اضافت په ذوي العقولو کې د ذکورو طرف ته کیږي بخلاف د اهل نه چې د اهل اضافت د ذکورو او اناثو ټولو طرف ته صحیح دي دریم فرق لفظ د ال په ذوي العقولو کې او په ذوي العقولو کې په ذکورو او په ذکورو کې په اشرافو کې مستعملیږي لکه ال فرعون، په اشرافو کې شرط دا دی که د دنیا عزت وي که آخرت وي بخلاف د اهل نه چې اهل عام دی څلورم فرق چې د ال اضافت ضمیر طرف ته راجع کیږي بخلاف د اهل نه چې د وی اضافت د ضمیر طرف ته نه راجع کیږي

د ال معنوي تشریح ال په لغت کې کنیه ته ویلی شي او ال په دوه قسمه دي یو ال نسبي بل ال حسبي ال نسبي د پیغمبرؐ ازواج مُطهرات ال حسبي. کل تقي نقي فهوالي.

اَصْحَابِه: لفظ د اصحاب جمع د صحبٌ ده او صحبٌ جمع د صاحب ده چې دوست ته ویلی شي او د اصحاب جمع اصاحیب ده او صحابي هغه بنده ته ویلی کیږي چې هغه د ایمان په حالت کې د پیغمبر زیارت کړی وي او بیا د ایمان په حالت کې یې خاتمه شوې وي. او صحابه انسان او جن کیدی شي نه ملائکه

اجمعین: لفظ د اجمعین دا تاکید د پاره د اله او اصحابه دی او دا یې په دې وجه ذکر کړو چې بعضی د لې صرف په صحابو درود وایي نه په ال. نو مصنف لفظ د اجمعین د ټولو د پاره ذکر کړو او د اجمع د منتهی الجموع ده یعنې دا جمع ده په معنی د جمع سره

Maktaba Tul Ishaat.com

ترکیب: **محمد** بدل ، مبدل منه سره دبدل نه دا معطوف علیه شو ، **واو** حرف عاطفه **ال** مضاف **دضمیر** مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه دمعطوف اول شو **واو** حرف عاطفه **اصحاب** مضاف **ه** مضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه دا معطوف ثاني شو . معطوف سره دمعطوفینو نه دا مؤکد شو **اجمعین** تاکید ، مؤکد سره دتاکید نه دا مجرور شو لپاره دعلی جاره ، جار سره دمجرور نه دا ظرف مستقر تعلق نیسی نازلة پورې ، نازلة صیغه داسم فاعل ضمیر پکښې مستتر چې هي ده دا فاعل او سره دمتعلق نه داخبر شو د الصلوة مبتدا لپاره ، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه

بحث دامّابعدُ

امّابَعْدُ: **ترجمه** پس د حمد او صلوة نه

تشریح: امّابعدُ اجمالاً دوه لفظه مصنف ذکر کړل په دي معنی هرچې ورستو ددغه جُملو ثلاثو نه دي نوتقدیر دعبارت به داسی شي مهمایکن من شئ بعد الجُملِ ثلاثه: تشریحاً معنی مصنّف په جُملو ثلاثو باندي خپل کتاب لره ترغیب ورکړی دي چې دجُملو ثلاثو نه ورسته چې څه شي موجود وي نو ځما کتاب به هم موجود وي او طلباء به تري فائده حاصلوي . په اما کې مختلف اقوال دي یو قول د **خلیل** دي هغه وايي چې اما په اصل کې مهما وو ها په همزه سره بدله شوه نو ماما شو نو بیا د قلب مکاني دوجه نه میم مؤخر شو او همزه مقدم شوه او دمیم په میم کې ادغام او شو نو پس امّا شو **سیبویه** دا قول دي چې امّا اصل دي نو پس دسیبویه په قول باندي اعتراض دي ځکه چې امّا حرف شرط دي او مهما اسم دي او د اسم نه حرف نه شي جوړیدي نو رد او شو دسیبویه په قول باندي

بَعْدُ : دبعدُ دپاره درې (۳) حالته دي او لفظ دبعدُ په دوه و حالتونو کې معرب دي او په یو حالت کې مبني په ضمې سره دی یا به مضاف الیه دبعد مذکور فی الکلام وي او یا به محذوف وي او هرکله چه محذوف وي نو بیا به یا محذوف منوي وي او یا به محذوف نسیاً منسیا وي معترض **اعتراض** کوي چې منوي څه ته وایې او نسیاً منسیا څه شي دي **جواب** منوي هغه ته وایې چې دمتکلمّ په نیت کې وي او نسیاً منسیا هغه دي چې نه ذکروي او نه په نیت دمتکلم کې وي .هرکله چه تاداخبره زده کړه نو کچرته مضاف الیه دبعد مذکور او محذوف نسیًا منسیا وي نو لفظ دبعدُ به معرب وي او په دغه یو صورت چې مضاف الیه یې محذوف منوي (په نیت دمتکلم کې ، وي نو بعدُ به مبني وي په ضمې سره او دغه مضاف الیه دبعدُ به محذوف منوي وی هغه جملی ثلاثه وی ته نو پس تقدیر دعبادت به داسی مَهمَایکن

مِن الشیٔ بعد التسمیة والحمد والصلواة:

(اما بعد) نه ورسته مصنفؒ یو څو خیزونه ذکر کوي، چې هغه اُووه (۷) خبرې دي

(۱) تعین د فن د تضیف کوي چې دا متن دي که حاشیه او که شرح ده (فهٰذا المختصر مضبوط)

(۲) تعین د علمِ مصنف فیه کوي چې دا کتاب په کوم علم کې تصنیف کړی شوي دي (فی النحو)

(۳) د صفات مدحی ځکوي چه طالبان ئي خوښ کړي -------- (مصنف چې کوم صفتونه کړي)

(۴) ذکر د اسم د دي کتاب کوي چې د کتاب نوم څه دي ------- (هدایة النحو)

(۵) دوجهی د تسمیئ چې د دعا نه څه مراد دي ---------- (هدایت د الله طالبانو ته او کړي)

(۶) د اجمالي خلاصی د کتاب چې اجمال په دي کې څه دي -- (علیٰ مقدمة وثلاثة اقسام وخاتمة

(۷) دفعه د عُجب او تکبر کوی د مصنف چې مصنف خو په هر ځایې کې ځان ته نسبتونه کړي

ترکیب: اما بعد په اصل کښی **مهما یکن شیٔ من الاشیاء ثابتاً بعد التسمیة والحمدلة والتصلیة:** **مهما** اسم شرط **یکن** فعل از افعال ناقصه **شیٔ** موصوف **من** حرف جر **الاشیاء** مجرور ، جار سره د مجرور نه دا ظرف مستقر تعلق نیسی ثابتٌ پوري، ثابت صیغه د اسم فاعل ضمیر پکښی مستتر چی هو ده هغه فاعل او سره د متعلق نه دا صفت کیږي لپاره د شیٔ موصوف، موصوف سره د صفت نه دا اسم د یکن فعل لپاره، **ثابتٌ** صیغه د اسم فاعل ضمیر پکښی مستتر ده چی هُوَ ده دا ئی فاعل **بعد** مضاف **البسملة** معطوف علیه **واو** حرف عاطفه **الحمدلة** معطوف اول **واو** حرف عاطفه **التصلیة** معطوف ثانی، معطوف سره د معطوفینو نه دا مضاف الیه شو لپاره د مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مفعول فیه شو لپاره د ثابتاً ، ثابتاً صیغه د اسم فاعل ضمیر پکښی مستتر چی هو ده دائی فاعل او سره د مفعول فیه نه دا شبه جمله خبر واقع شو لپاره د یکن ، یکن فعل از افعال ناقصه سره د اسم او سره د خبر نه دا جمله فعل شرط شوه

فهٰذا مختصر .. ترتیب الکافیه تشریح

• فَهٰذَا الْمُخْتَصَرُ مَضْبُوْطٌ فِی النَّحْوِ جَمَعْتُ فِیْهِ مُهِمَّاتِ النَّحْوِ عَلیٰ تَرْتِیْبِ الْکَافِیَةِ مُبَوَّباً وَّمُفَصَّلاً

ترجمه: دا یو مختصر کتاب ده او جوړ شوي ده په نحو کښ او ما پدي کښ جمع کړی دی اهمی مسئلی د علم نحو په ترتیب د کافیه سره او مسائل د دي کتاب تقسیم شوی دی په بابونو او فصلونو سره

تشریح: اما بعد: فهٰذا المختصر مضبوط فی النحو جمعت فیه مهمات النحو علی ترتیب الکافیه

Maktaba Tul Ishaat.com

فهٰذا: هذا اسم اشاره ده او دی سره اشاره مفرد مذکر محسوس بالبصر ته کيږي چې واحد وي، مذکر وي

څکاريدونکی وي نو دلته په هذا سره اشاره کتاب ته او شوه او په کتاب کې دری (۳) احتماله دي يو الفاظ بل معنی او بل نقوش نو معترض **اعتراض** کوي چې اسم اشاره کتاب ته ده او په کتاب کې خو دغه دری څيزونه دي او اسم اشاره دغه ټولو ته نه کيږي.

الفاظ: جمع ده دلفظ او اسم اشاره مفرد ته کيږي او بله وجه داده چې الفاظ محسوس بالبصر نه دي. ځکه چې الفاظ پيدا کيږي او ختميږي نو پس الفاظو ته اسم اشاره نه کيږي

معنی: په هذا سره اشاره معانيو ته هم نه کيږي ځکه چې معنی مفرد نه دي او بله خبره داده دا محسوس بالبصر نه دي. ځکه چې معنی پوشيده وي.

نقوش: دا خو په نظر څکاري خو دا جمع ده او بله وجه داده چې دا مقصود دي نه دي يعني غير مقصود دي دي او اسم اشاره مصنف غير مقصود ته نه کوي نو پس نقوشو ته هم اشاره نه کيږي نو استعمال دلفظ دهذا صحيح نه دي په دريو احتمالاتو کې.

جواب: په هذا سره اشاره مونږ په ذهن دمصنف ته کوو يعني داسی ماحضر په ذهن دمصنف کې چې پشان دمحسوس بالبصر گرزيدلی وي دو جهی دکمال دحضور نه **اعتراض** دادي چې مصنف په ذهن کې خو دي ليکن مونږ ته په نظر نه راځي **جواب** دادي چې يو مخصوص حقيقي دي او بل محسوس حُکمي دي.

محسوس حقيقي: هغه ته وئيل شي چې په حقيقت کښی محسوس بالبصر وي يعني په سترګو سره څکاری.

محسوس حکمی: هغه دي چې په سترګو سره نه څکاري خو دو جهی دکمال دضبط نه يعني مشار اليه دمصنف ذهن دي او په هغی ذهن کې د الفاظو معانيو او نقوشو د کمال ضبط دو جهی نه او دکمال حُضور دو جهی نه او دکمال انضباط دو جهی نه محسوس حُکمي ثابت شو. نو پس هذا اسم اشاری سره مشار اليه ماحضر په ذهن دمصنف کې چې پشان گرزيدلی دي دمحسوس بالبصر او دو جهی دکمال دحُضور نه او څوك **اعتراض** او کړي چې دمصنف په ذهن کې خو داټول له مجموعه ضبط ده او اسم اشاره خو مفرد نه مذکر ته کيږي **جواب** مونږ ته محسوس بالبصر صرف دمصنف ذهن دي چې مفرد دي او مذکر دی او محسوس حکمی دي خواه که دننه ډك وي

مختصر: دا خبر دي دهذا او مختصر په معنی (قليل المبانی کثير المعانی) يعني هغه

کتاب چې الفاظ او حروف يکې لږ وي او معاني ئې زياتي وي حاصل يې دا دي چې متن يې په مختصر فقرو کښې مستعمل وي او مقصد يې ډېر وي

مضبوط: مضبوط دمُختصر صفت دي او په معنی د محفوظ عن الحشو والتطويل (يعني هغه الفاظ يا معانی چې هغه محفوظ وي د حَشو نه (حشو هغه مقصود ته وايې چې هغه خلل اندازاو بې فائدي وي) او د تطويل نه (تطويل هغه نه اثر کلام ته وايې چې هغه په مقصود کې خلل انداز نه وي)

فی النحو: يعني دا کتاب ثابت دي په نحو کې او دا ظرف مستقر دي يعني نحويې ظرفيت دي او پدي پسی يو جمله بله راځي چې جمعت فيه مهمّات النحو يعني نحو ثابت ده پدي کتاب کې نو پدي دواړو کې ظاهری تقابل دي فی النحو چې په ديکې يو ضمير مستتر دي چې فی النحو و نو ضمير مجرور حذف شو او فاعل ظرف دي قائم مقام شو نو عبارت داسی دي چې فی پدي کتاب کې النحو نحو ثابته شوه او فی النحو د مختصر صفت

جمعتُ فيه مهمّات النحو: جمعت صيغه د واحد متکلم ماضی معلوم ده او دا هم د مختصر صفت بعد الصفت دي

مهمّات: مهمات جمع د مُهِمّةٌ ده په معنی دِ اهمی خبری يعني مقصودي مسئلي د نحوي بله معنی داسی راځی چې مهمّةٌ د مبهم نه ماخوذ دي او مبهم په معنی د قصد نه ماخوذ دي او وهم په معنی مشکلات دي ليکن دلته تري مراد مشکل دي او مهمات جمع مؤنث سالمه ده **اعتراض** دا دي چې مصنف مهمات په ځايې مهمّاته ويلی وي نو **جواب** دا دي چې دا د اختصار د زيادت د وجهی نه او اسم ظاهر را وړل په ځايې د ضمير دا زيادت راولی

علی ترتيب الکافية: ترتيب په لغت کې ساختن شي ديوشي جوړول په اصطلاح کې وضع کل شئ فی مرتبته کيښود ل ديوشي يا ذکر کول ديوشي په مناسب ځايې دهغه شي کې پس دريم صفت شو چې دا کتاب په ترتيب د کافيه دي

اعتراض وارديږي چې ترتيب د کافيي ډېر مختلف دي د دي نه نو مصنف څنګه د ترتيب لفظ استعمال کړو **جواب** د ترتيب نه مراد دا نه دي چې هداية النحو بالکل د کافيي په ترتيب ده بلکه کافيه په داسی ترتيب باندي واقع ده چې دا نسان طبيعت دهغې سليم تقاضا کوي او د نحو عظيم الشان او معتبر کتاب دي او خلق ورته په درون نظر ګوری نو مصنف ځکه خيل کتاب د کافيي په ترتيب سره ذکر کړو او دا هم ممکنه ده چې د کافيي بعضی مسئلی د دي سره مُختص وي ځکه چې دا هم د علم

Maktaba Tul Ishaat.com

نحو کتاب دي او کافيه هم دنحو کتاب دي لکه ترتيب دکافيې چې دي هغه پدي شان دي چې اول بحث پکې دفعل دي بيا داسم او حرف اوبيا داسم مرفوعات . منصوبات مجرورات وغيره اودغه شان ترتيب دهداية النحوي دي .

ترکيب: فاء جزائيه **هذا** مبتدا **مختصر** موصوف **مضبوط** صيغه داسم مفعول **فى** جاره **النحو** مجرور ، جار سره دمجرور نه دا ظرف مستقر تعلق نيسي په مضبوطٌ پوري مضبوط صيغه داسم مفعول ضمير په کښې مستتر ده دا نائب فاعل اوسره دمتعلق نه دا صفت اول شو ، **جمعت** فعل ضمير ذوالحال **فى** جاره **ه** ضمير مجرور ، جار سره دمجرور نه ظرف لغو تعلق نيسي جمعت پوري، **مهمات** مضاف **النحو** مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مفعول به شو دجمعتٌ **على** جار **ترتيب** مضاف **الكافيه** مضاف اليه ، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مجرور شو دعلى جار، جار سره دمجرور نه تعلق نيسي جمعت پوري **مبوب** صيغه داسم فاعل ضمير پکښې مستتر چې هُوَ ده دا فاعل ، صيغه داسم فاعل او سره فاعل نه دا شبه جمله معطوف عليه شوه **واو** حرف عاطفه **مفصلاً** معطوف ، معطوف سره دمعطوف عليه نه دا حال شو دجمعتُ دضمير نه، حال سره د ذوالحال نه دا فاعل شو لپاره دجمعتُ

بِعِبَارَةٍ وَاضِحَةٍ مَعَ اِيْرَادِ الْاَمْثِلَةِ فِيْ جَمِيْعِ مَسَائِلِهَا مِنْ غَيْرِ تَعَرُّضٍ لِلْاَدِلَّةِ وَالْعِلَلِ:

ترجمه: عبارت واضحه مې راوړي ده او په ټولو مسائلو کښې مې مثالونه ذکر کړي دي بغير د راوړلو د دليلونو او علتونو نه

تشريح: په ديکې دوه احتماله دي يو د چه دواړه صيغې داسم فاعل واخستې شي په کسري دواو اوصاد سره اوداواړه لفظونه منصوب دي بناء برحاليت يعني داحال واقع شوي دي دقبيله دمنصوباتونه دي اوس طريقه داده چې دواړه منصوب برحاليت شي نو دابه ذوالحال غواړي که صيغې اسم فاعل وي نو دابه حال دضمير دجمعتُ نه واقع شوي وي نو معنى به يې داسې شي چې ماجمع کړي دي مهمات دنحو په ترتيب دکافيې سره په داسې حال کې چې زه باب باب کونکي اوفصل فصل کونکي ويم دوه احتمال دادي که داصيغې په فتحې دواو اودصاد سره واخستې شي نو بيابه صيغې داسم مفعول شي اودابه حال دفيه نه واقع شي او معنى به يې داسې شي چې ماجمع کړي دي مقصود دي مسئلې دنحو په ترتيب دکافيې په باب باب اوفصل فصل کې مبوب دتبويب نه ماخوذ دي په معنى باب باب او مفصلاً دتفصيل نه ماخوذ دي په معنى د فصل فصل پس ددواړو احتمالينو معنى به داسې او ګرزي چې دا مختصر په ابوابو او فصلونو مشتمل دي

بعبارة واضحة: العبارت په لغت کې دخوبونو معنى بيانولو ته وايي اوچونکه کوم

الفاظ چې په معنی دلالت کوي هغه الفاظوته عبارت ځکه وايې چې دغه معنی نفوس انسان کې مضمری وي واضحة دوضاحت نه ماخوذدي په معنی رڼړاکېدل نومطلب داشوچې په داسې عبارت سره م جمع کړه چې معنی يې صفااوواضحه وي اوبلهٔ خبره داده چې مصنف ديووهم دلرې کولولودپاره بِعبارةٍ واضحةٍ ذکرکړوهغه وهم دادي چې کله مصنف ترتیب الکافیه اووئیلی نوداوهم پیدا شوچې ددي مختصرعبارت هم دکافیې پشان دي نوداواضح په وجه وهم لرې شوچې ددي مختصرعبارت دکافی دعبارت پشان نه بلکه واضح دي.

مَعَ ایرادُالامثلةِ: مع دمفعول فیه واقع کېدلودوجهی نه همیشه منصوب وي په اعتباردمتعلق چې واضحة دي اوایادعبارة صفت دي ایرادمصدردي په معنی راوړل دده اضافت مفعول طرف ته دي امثلة دمثال جمع ده اومثال هغه ته وئیلی شي چې هغه دقاعدي دواضح کېدودپاره ذکرشي

فی جمیع مسائلها: فی دلام اختصاص په معنی دي مسائل دمسئلی جمع ده په اصطلاح په شرع کې مسئله ديو امرنسبت دالله یادحضورﷺ یامجتهدینودرابې طرف ته کول داهل فنونوپه اصطلاح کې اثبات محمول للموضوع بالدلیل یابلادلیل بیانولوته مسئله وايې - اوپه مسائلهاکې داهاضمیردمؤنث دي اودلته مختصرته راجع دي اودراجع اومرجع دیوبل سره مطابقت ضروری دي اومختصرخومذکردي نوداهاضمیردمؤنث ځنګه مختصرمذکرته راجع دي.

جواب داپه اعتباردرسالهٔ سره دي ځکه چې دي کتاب ته رساله هم ویلی شي دویم **جواب** دادي چې داپه عتباردکافیه سره دي اګرکه په کافیهٔ کې تادمبالغی ده لیکن تادتانیث دمعنی نه دمبالغی په صورت کې نه خارجیږي نوداها ضمیر د مختصر طرف ته راجع نه ده بلکه دکافیې طرف ته راجع ده چونکه دمختصرمسائل بعینه دکافیې مسائل دی نوګویادمختصر د مسائلو مثال دکافیی دمسائلومثال راوړل دي

مِنْ غَیرِتَعَرُّضٍ لِلاَدِلَّةِ وَالعِلَلِ: تعرض اواعتراض دواړه په معنی اقدام علی شيي (دیوشي مخی ته راتلل) نومعنی به تړوله داسې شي چې بغیردپیش قدمی ددلائلواودعلتونونه ادله ددلیل جمع ده په لغت کې (راه نماننده) ته ویلی شي په اصطلاح کې دلیل هغه شي دي چې دهغی په پیژندلوسره دبل شي پیژندل لازم راشي

علل جمع دعلة ده لغوي معنی یې (موش) ده

Maktaba Tul Ishaat.com

په اصطلاح کې هغه شي دي چې په هغه باندي دبل شي وجود موقوف وي . بعضي شارحين وايي چې دليل او علت يوشي دي او په خطبه کې دالفاظو مترادفه جمع کول مذموم نه دي نو پس دمصنف وينا ده چې په دي مختصر کې په مسائلو د دليلونو او علتونو پيش قدمي ما ونکړه اګرچې په بعضو مسئلو کې يې بيان کړي دي

ترکيب: **باء** جاره **عبارة** موصوف **واضحة** صيغه د اسم فاعل ضمير پکښې مستتر ده دائې فاعل **مع** مضاف **ايراد** مضاف اليه مضاف **الامثلة** مضاف اليه **في** جاره **جميع** مضاف **مسائل** مضاف اليه مضاف **هاء** ضمير مضاف اليه مضاف سره دمضاف اليه نه دا بيا مضاف اليه شو دجميع مضاف لپاره مضاف سره دمضاف اليه نه مجرور شو د **في** جاره ، جار سره دمجرور نه دا ظرف لغو تعلق نيسي ايراد مصدر پوري **من** جاره **غير** مضاف **تعرض** صيغه دمصدر ده **لام** حرف جاره **الادلة** معطوف عليه **واو** حرف عاطف **العلل** معطوف ، معطوف سره دمعطوف عليه نه دا مجرور شو دعلى جاره، جار سره دمجرور نه دا ظرف لغو تعلق نيسي تر ترض مصدر پوري **واو** حرف عاطفه **سميت** فعل ضمير پکښې مستتر چې آنا دي فاعل . **ه** ضمير مفعول به **باء** حرف جاره **هداية** مصدر مضاف **النحو** مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مجرور شو دباء جاره لپاره جار سره دمجرور نه دا تعلق نيسي تر سميتُ فعل پوري **رجاء** مصدر مضاف **ان** ناصبة **يهدى** فعل **الله** ذوالحال **تعالى** فعل فاعل ، فعل سره دفاعل نه دا حال شو لپاره دذوالحال ، حال سره دو ذوالحال نه دا فاعل شو لپاره يهدى **با**، جاره **ه** ضمير مجرور، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو يهدى پوري، **الطالبين** مفعول به، يهدي فعل فاعل مفعول او سره دمتعلق نه دا جمله فعليه خبريه په تاويل دمصدر سره مضاف اليه شوه لپاره د رَجاءَ مضاف، رجاء مصدر مضاف سره دمضاف اليه نه دا مفعول له شو لپاره د سميت ، سميت فعل فاعل مفعول به مفعول له او سره دمتعلق نه دا جمله خبريه شوه **واو** عاطفه فعل فاعل **ه** ضمير مفعول به **على** جاره معطوف عليه **واو** عاطفه **ثلاثة** عدد مبهم مميز مضاف **اقسام** تميز مضاف اليه ، مميز مضاف سره دتميز مضاف اليه نه دا معطوف اول شو ، **وخاتمة** معطوف ثاني معطوف سره دمعطوفينو نه دا مجرور شو دعلى جاره، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغو تعلق نيسي رتبت پوري

لِئَلَّا يُشَوِّشَ ذِهْنَ الْمُبْتَدِئِ عَنْ فَهْمِ الْمَسَائِلِ وَسَمَّيْتُهُ بِهِدَايَةِ النَّحْوِ رَجَاءَ أَنْ يَّهْدِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى بِهِ الطَّالِبِيْنَ وَرَتَّبْتُهُ عَلٰى مُقَدِّمَةٍ وَثَلٰثَةِ أَقْسَامٍ

ترجمه: د دی دَ پاره چه د مبتدی ذهن مسائلو پوهیدلو په وخت کښې تشویش او

پریشانی کښی مبتلا نه شی او ما د دې ی کتاب نوم هدایة النحو کیخودلو پدی امید سره چه الله د ذریعې سره طالبانو ته هدایت ورکړی او ما دامرتب کړی په یوی مقدمی او په دری اقسامو(اسم ،فعل ،حرف)

تشریح: یشوش التشویش پریشان کولوته وایي

الذهن: په لغت کې فهم ته وایي په اصطلاح هغه قوت دي چې کوم دانسان په زړه کې موجود دي اوپه هغې کې دمعنی انطباح کیږي اودي ته مدرکه - دراکه او قوت علمیه هم ویلی شي

المبتدي: په لغت کې شروع کولو والا په اصطلاح کې چې هغه جزاول دباقی تمامو جزیاتو دتحصیل په اراده شروع کړی مبتدي په دوه قسمه دي طبعی ، اکتسابی

طبعی مبتدي: هغه سړی دي چې هغه مسائل په خپل طبیعت او پوهی سره حاصل کړی

اکتسابی مبتدي: هغه سړی دي چې هغه دنورونه زده کړی لکه مثلاً شاګرد د استاد نه - مصنف په عبارت کې دالمبتدي نه مراداکتسابی دي

لئلایشوش: پدی کې دوه احتماله دي یوداچې معروف اوویلی شي اوذهن المبتدي ورله مفعول شي او منصوب شي یشوش په کسری دواوسره اوفاعل به پکې ضمیرشي چې ایراد داله طرف ته راجع دي نومطلب داشوچې دادله نه زاورل ددي وجهی نه دي چې ایرادادده ذهن دمبتدي لره په تشویش کې اچوي اوپریشان کوي یې اوکچرته دادله اوعلل نه تعرض کړی وي اوبیان کړی یې دي نواکتسابی مبتدي به په مسائلو کې مشغول وواودلیلونواوعللتونوسره به ویلی نودغریب طالب ذهن به پریشان شوي وو اوداهم ممکنه ده چې سبق یې پربنیی وي. دویم احتمال دادي چې لئلایشوش کله چې مجهول اوویلی شي نوپه دغه وخت کې به ذهن مبتدي دنائب فاعل کیدوپه بناء مرفوع ویلی کیږي نوبیا ترجمه به داسی شي چې پریشان دنکړی شي ذهن دمبتدي اکتسابی

المسائل: پدی کښی الف لام عهد خارجی دي او یا دمضاف الیه دعوض نه دي اوددي نه مرادمسائل مختصره دي

وَسَمَّيْتُهُ بِهِدَايَةِ النَّحْوِ رَجَاءً أَنْ يَهْدِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى بِهِ الطَّالِبِيْنَ: مامسمٰی کړی دي دي مُختصر لره په هدایه النحوسره په عبارت کې مصنف دخپل کتاب اسم بیانوي اوبیادهغې دپاره یوه وجه ذکرکوي چې هغه رجاءً أنْ یّهدي----- ده اوبیااجمالی خلاصه بیانوي اوبیادفع دتوهُم اوتکبرا وودلوپې دنسبتونو دمصنف چې هرځائ کې ځانته اشاری کړی دي چې داماکړی داماکړی وغیره

سَمَّيْتُهُ: واحدمتکلم تسمیه په معنی د نوم اینبودل سره اودادوه مفعولینوته متعدي بنفسه

کیږي اول ضمیر متصل او بل هدایة النحو دي او لفظ د هدایت مضاف دي النحو ته او د مضاف او مضاف الیه په مینځ کې لفظ د فی پوشیده او مقدر دي یعني تقدیر یې داسې دي هدایة فی النحو، دي ته اضافت ظرفی وایې او لفظ د مبتدي پکې هم مقدر دي نو پس تقدیر به یې داسې شي بهدایت المبتدي فی النحو چې ما دا کتاب مسمّیٰ کړی دي په لاری د مبتدي په نحو کې یعني مبتدي ته به دا لاره خایې (یعني راه نمودن)

اعتراض دا دي چې ته وایې چې طالبانو ته د خما کتاب هدایت او کړی او هدایت کول خو الا الله دي او په ظاهره خو دي نه داسې معلومیږی چه هدایت دا کتاب ورکوی **جواب** رجاء ایهدي الله تعالی مونږ وایو چې هدایت دالله کار دي لیکن دا کتاب مونږه سبب گرزولی نو دا نسبت د دي کتاب چې او شونو دا سببیت گرزیدلی دي او که رجاء مفعول به وي پس دي ته وجه د تسمیې ویلی کیږي او که هدایت د سببیت د پاره دی یعني یدي سبب سره چې هدایت او کړی الله تعالی طلب کونکو د علم ته

رتبته: او ما مرتب کړی دي رتبت صیغه د واحد متکلم ماضی ده د ترتیب نه ماخوذ ده په معنی د هر څیز په خپل ځائي اینبودل. او په اصطلاح کې هغه ته وایې چې اشیایې کثیره داسې کیخودل چې په ټولو باندي د یو اسم اطلاق وي او د هغو تقدیم او تاخیر سره یې تعلق وي. نو پس ما مرتب کړی دي په یو مقدّمه باندي او په درې اقسامو او په خاتمی باندي

مُقدمه: مصنف د کتاب د اجزاو طرف ته اشاره کړی ده یعني دا کتاب په پنځه اجزاء و کښې تقسیم دي اول مقدمه. بیا درې اقسام (اسم فعل حرف) او بیا خاتمه ده.

او په مقدمه کې درې فصله دي اول فصل، په تعریف، موضوع، غرض، او د کلمې په تقسیم مشتمل دي.

او په دویم فصل کې د کلمې وضاحت شوي دي او په دریم فصل کې د کلام تشریح او وضاحت شوي دي او خاتمه په کتاب کې نشته او خاتمه د کتاب آخری حصی ته وایې نو د دي کتاب په آخره کې خو خاتمه نشته نو دا د کاتبانو نه غلطی شوي ده

ترکیب لام جاره ان مصدریه لا نافیه **یشوش** فعل ضمیر پکښې مستتر چې هُوَ ده دا فاعل ده **عن** مضاف **المبتدی** مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه ته دا مفعول به شو د یشوش، **عن** حرف جاره، **فهم** مضاف **المسائل** مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه ته دا مجرور شو د عن جار سره پکښې فاعل دا ظرف لغوی تعلق نیسی یشوش پوري، یشوش فعل ضمیر د هو پکښې فاعل او سره

دمفعول په او سره دمتعلق نه دا جمله فعليه خبريه په تاويل د سره مجرور شو دلام جاره جار سره دمجرور نه دا ظرف لغوى تعلق نيسى تعرض مصدر پوري، تعرض مصدر سره د دوارو متعلقينو نه چى متعلق اول هغه للادلة والعلل ده او متعلق ثانى لئلا يشوش المسايل دي دا مضاف اليه شو لپاره د غير مضاف. مضاف سره دمضاف اليه نه مجرور شو د من جاره، جاره سره دمجرور نه دا تعلق نيسى ايراد مصدر پوري، ايراد مصدر مضاف سره د دوارو متعلقينو نه او سره دمضاف اليه چى الامثلة ده دا بيا مضاف اليه شو لپاره دمع مضاف. مع مضاف سره دمضاف اليه نه چى ايراد الامثلة الخ دي دا مفعول فيه دي لپاره دواضحة اسم فاعل. واضحة صيغه داسم فاعل او ضمير پټ مستتر دي هغه نايب فاعل او سره دمفعول فيه نه دا شبه جمله صفت شو لپاره دعبارةٍ موصوف، موصوف سره دصفت نه دا مجرور شو لپاره دباء جاره. جار سره دمجرور نه دا تعلق نيسى جمعت پوري، جمعت فعل فاعل مفعول به او سره دمتعلقينو نه دا جمله فعليه خبريه صفت ثانى شو لپاره دمختصر موصوف موصوف سره دصفتينو نه دا جمله فعليه خبريه خبر شو لپاره دمبتدا چى هذا ده، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه جزا شوه دشرط، شرط سره دجزا نه دا جمله فعليه خبريه شرطيه شو

واو حرف عاطفه **سميت** فعل ضمير پټ مستتر دي چى انا ده نائب فاعل، **ه** ضمير مفعول به، **باء** حرف جاره **هداية** مصدر مضاف **النحو** مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مجرور شو دباء جاره، جار سره دمجرور نه دا تعلق نيسى سميت فعل پوري **جاء** مصدر مضاف **ان** ناصبه **يهدى** فعل **الله** ذوالحال **تعالى** فعل فاعل، فعل سره دفاعل نه دا حال شو لپاره د ذوالحال، حال سره دو ذوالحال نه دا فاعل شو لپاره يهدى **باء** جاره **ة** ضمير مجرور، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو يهدى پوري، **الطالبين** مفعول به، يهدي فعل فاعل مفعول او سره دمتعلق نه دا جمله فعليه خبريه په تاويل دمصدر سره مضاف شوه لپاره د رجاء مضاف، رجاء مصدر مضاف سره دمضاف اليه نه دا مفعول له شو لپاره د سميت، سميت فعل فاعل مفعول به مفعول له، او سره دمتعلق نه دا جمله فعليه خبريه شوه **واو** عاطفه **رتبت** فعل فاعل **ه** ضمير مفعول به **على** جاره **مقدمة** معطوف عليه **واو** عاطفه **ثلاثة** عدد مبهم مميز مضاف، **اقسام** تميز مضاف اليه، مميز مضاف سره د تميز مضاف اليه نه دا معطوف اول شو **وخاتمة** معطوف ثانى معطوف سره دمعطوفينو نه دا مجرور شو دعلى جاره، جار سره دمجرور نه دا ظرف لغو تعلق نيسى رتبت پوري

بتوفيق ..... كښى تشريح

بتوفيق الملك العزيز العلام

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: په توفيق د کائناتو د بادشاه سره چه هغه غالب او پوهه دی په هر شی باندې

تشريح: توفيق د باب تفعيل نه دی په لغت کې (دست دادن كسى رابكارى) يعني چاته په كاركي لاس وركول نو پس دا معنى ترې ثابته شوه چې د چاسره په يو كار كې مدد كول.

په اصطلاح كښې جَعْلَ الاسبابِ الْعَبْدِ مُوَافِقًا لمطلوبِ الخَيْرِ گرزول د اسبابو د عبد دي موافق د مطلوب خير سره پس معنی دا شوه چې په توفيق د تمامو کائناتو د بادشاه چې غالب دې او پوهه دي په هرڅه نو مصنف دا جمله د دوو وجوهاتو نه ذکر کړه يو دا چې د تاليف او تصنيف دا محل او مقام د خطراتو نه دي يعني د دين خدمت دي نو په دوجه شيطاني وسوسې او مشکلات وي نو ځکه مصنف دالله په مدد سره بتوفيق الملك ذکر کړو بله وجه دا ده چې درتبت صيغه د واحد متکلم ده او د فعل نسبت پکې خپل نفس طرفته کيږي او ځان طرف ته نسبت د عجز او کسر نفسی خلاف دي نو خلق به وايي چې مصنف خو ځان ته نسبتونه کړي دي او د دي نه تكبر او تعجب معلوميږي نو ځکه مصنف دا جمله ذکر کړه چې دا تصنيف په توفيق دالله سره ما کړی دي.

ترکيب: باء جاره **توفيق** مضاف **الملك** موصوف **العزيز** صفت اول **العلام** صفت ثاني، موصوف سره د صفتينو نه دا مضاف اليه شو لپاره د توفيق مضاف، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مجرور شو لپاره د على جاره، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغو متعلق شو رتبت پوري رتبت فعل سره د فاعل تا مفعول به او سره د متعلقينو نه دا جمله فعليه خبريه شوه

أَمَّا الْمُقَدِّمَةُ فَفِي الْمَبَادِي الَّتِي يَجِبُ تَقْدِيمُهَا وَلِتَوَقُّفِ الْمَسَائِلِ عَلَيْهَا وَفِيهَا فُصُولٌ ثَلٰثَةٌ:

ترجمه: پس هرچې مقدمه ده په ابتداء كښی واجب ده مخکی کول د هغې چې موقوف دي مسئلې په هغې باندې او په دې کې درې فصله دي

المقدمة تشريح: لفظ د مقدمې ماخوذ دي د مُقَدِّمَةُ الْجَيْش نه. او مقدمة الجيش د لښكر (جنګی لښکر) نه چې مخکې کوم جماعت انتظاميه وي يعني د لښكر د پاره د خوراك څښاك او د رهائش وغيره پروګروام کوي او مخکې ترې روان وي او مناسبت يې په منځ کې دا دي چې مقدمة الجيش په ټول لښكر باندې مخکې وي نو د غه شان دا مقدمه د كتاب په مسائلو باندې مخکې وي او پدې کې ډير اختلافات دي ليكن جمهور په دې باندې قائله دی چې دا د مقدمة الجيش نه ماخوذ دي او بيا پکې ډير اقسام دي يو مقدمة العلم دي يو مقدمة الكتاب دي او نور هم دي خو ته دا ده يادساته مقدمة العلم هغه معنى مخصوصه وي چې مسائل د علم شروع بناء بربصيرت موقوف وي او هغه مبادي عشره دي چې تعريف د علم موضوع د علم او غرض د علم وغيره تفصيل

بي په منطق کې ګوره . اومقدمة الكتاب دكلام هغه حصّه چې هغه دكتاب دمسائلونه مخکې وي كه مسائل پرې موقوف وي اوکه نوي اوس دلته دمقدمې نه بعد لفظ دمبادی ذکردی اومبادی امورثلثه دي نودامقدمة العلم ثابته شوه دليل دادي چې دغه امورثلاثه موقوف عليه دمسائلودپاره دي.

مبادي: جمع مبدأده په معنى أوّل كُلّ شيٍ؛ اول دهرشي ته وايي، اومقدّمة ايضاً: دمصنف په قول باندي يو **اعتراض** دي چې په امامقدمة ففى المبادى كې دافى د ظرفيت دپاره ده اودتعريف نه دامعلومه شوه چې مقدمه اومبادي يوشي دي نودلته ظرفيت دشي دخپل نفس دپاره لازم شواودامحال اوناجائزدي . **الجواب** مقدمه عبارت دمعانيو مخصوصه دي اومبادي عبارت دالفاظومخصوصه دي نوتقديربه يې داسې شي امّاالمعانى المخصوصة ففى الالفاظ المخصوصة نوظرف الفاظ اومعانى مظروف اوګرزيدونوظرفيت الشئ لنفسه لازم نه شواومعانى مخصوصه امورثلاثه دي تعريف موضوع غرض اوالفاظ ددغى دامخصوص الفاظ دي نومعنى به داسې شي هرچې دي دغه امورثلاثه داکائن اوثابت دي په الفاظوکې اودغه امورثلاثه موقوف عليه دمسائلولپاره وي اودمتاخرينودادستوردي چې په مقدمه کې ذکرکوي اوبياهرشارع فى العلم لره لابُدي ده دامورثلاثه نه چې تعريف دي موضوع ده اوغرض دعلم پس تعريف دعلم ذکرکول ضروری دي چې طلب دّ مجهول مطلق لازم نه شي اودانا جائزدي . موضوع دعلم ځکه ضروری دي چې امتيازراشي دعلم شروع فيه دغيرمشروع فيه يعني ديوعلم دبل علم نه جدا والى اوامتيازپه موضوع سره کيږي او چه امتيازرانه شي نودامحال اوحرام دي اوغرض دعلم ځکه ضروری دي چې سعى كوشش په عبثوکې لازمه نه شي يعني هرکله چې غرض دعلم معلوم نوي نودمبتدي کوششونه په عبث اوبيکاری کې واقع شي اودعبث شي حاصلول ناجائزدي

تركيب: اما حرف تفصيل **مقدمة** مبتدا ده متضمن ده معنى دشرط لره **فاء** جزائيه **فى** حرف جر **المبادى** موصوف **اللتى** اسم موصول **يجب** فعل **تقديم** مضاف **هاء** ضمير مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا فاعل شو، **لام** جاره **توقف** مصدر مضاف **المسائل** مضاف اليه **على** حرف جر **هاء** ضمير مجرور جار سره دمجرور نه دا ظرف لغوه متعلق شو توقف مصدر پوري، توقف مصدر مضاف او سره دمضاف اليه او سره دمتعلق نه دا مجرور شو، دلام جاره . جار سره دمجرور نه دا متعلق شو يجب فعل پوري، يجب فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا صله شوه دموصول ، موصول سره دصلة نه دا صفت شو دموصوف ، موصوف سره دصفت نه دا مجرور شو دفى جاره، جار سره دمجرور نه دا ظرف

Maktaba Tul Ishaat.com

مستقر متعلق شو په ثابتۀ پوري دا مجموعه خبر قائمقام جزا مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه جزائیه شو دواو عاطفه **فیها** جار مجرور ظرف مستقر متعلق په ثابتۀ پوري خبر مقدم **فصول** موصوف **ثلاثة** صفت، موصوف سره د صفت نه دا مبتدا مؤخر شوه، مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

تعریف د علم نحو

فَصْلٌ: اَلنَّحْوُ عِلْمٌ بِاُصُوْلٍ يُعْرَفُ بِهَا اَحْوَالُ اَوَاخِرِ الْكَلِمِ الثَّلٰثِ مِنْ حَيْثُ الْاِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ وَكَيْفِيَّتُ تَرْكِيْبِ بَعْضِهَا مَعَ بَعْضٍ:

ترجمه: نحو د یوسو قاعدو پیژندلو نوم ده. د ذریعی سره پیژندلی شی احوال داواخرو د کلماتو ثلاثه د حیثیت د اعراب او بناء نه، او پیژندلی شی کیفیت د ترکیب د بعضو کلماتو د نورو بعضو سره.

تشریح: دا د مقدمی اول فصل دي په دی کښی مصنّف تعریف موضوع او غرض بیانوی.

اُس لفظ دفصلٌ چې کله دمابعد سره پیوست کړی شي نو بیا به معرب وي او په دیکې دوه احتمال دي که لفظ دفَصْلٌ مرفوع شي نو دا به بنا، برخبریت دمبتدا مقدري دپاره وي او خبر د مرفوعاتو نه دي نو عبارت تقدیر به داسی شي چې هٰذَا فَصْلٌ دویم احتمال دادی که منصوب شي نو دا به مفعول به واقع شي دفعل مقدر دپاره نو تقدیر دعبارت به داسی شي خُذْ فَصْلاً خذ صیغه دامر حاضر ده.

دفصل لغوي معنی قطع ده لکه عرب مثال پیش کوی فَصَلْتُ الثِّيَابَ يعني قَطَعْتُ الثِّيَابَ او دافصل هم قاطع دي په مابین دماقبل او مابعد عبارت کې په اصطلاح کې (اَلْحَاجِزُ بَيْنَ الْحُكْمَيْنِ) هغه مانع او حاجز په مابین ددوه حکمینو کې.

تعریف دعلم النحو: په لغت کې لفظ دنحو په ډیرو معنو سره مستعمل ده قصد او ارادی ته واني لکه مثال نَحَوْتُ نَحْوَهُ يعني قَصَدْتُ (۲) په معنی مثلٌ سره هم راځی یعني دمثال په ځای (۳) جانب او طرف ته هم ویلی شي لکه (ذَهَبْتُ اِلٰى نَحْوِ دَارِهِ) ما تلل او که دجانب دکور دهغه ته یعني طرف ته (۴) حفاظت او صیانت ته هم ویلی شي لکه نحوهم عن النار کما نحو کلامي عن الخطاء (مراد تري نحویان دي) (۵) احتراز کولو ته هم ویلی شي یعني دیو ځای نه احتراز کول لکه (ثُمَّ تَنَاحَیْ عَنْ ذَالِكَ الْمَكَانِ) بیا به روان شی دخپل ځاي یعني احتراز به او کې.

دعلم النحو سره څلورمه معنی مناسبت لري

اُصول: دا جمع داصل ده په لغت کې (مَا يَبْنِيْ عَلَيْهِ الْغَيْرُ يعني هر هغه شي چې بل څیز پری بناء وي

په اصطلاح کې قواعد کليو ته ويلی شي اُس دد غه قواعدو کليو فائده داده چې پيژندي شي پدي سره حالتونه د آخر د کليمو ثلاثو (چې اسم دي فعل دي او حرف دي) پدي حيثيت سره چې معرب ده که مبني ده او کيفيت عطف دي په احوال باندي يعني کيفيت او حالت او هيئت د ترکيباتو د بعضو نه په بعضو باندي نو پس علم نحو يو داسی علم دي چې حاصليږي د قواعد کليو نه خو داسی قواعد کليه چې په هغی سره پيژندي شي آخر د کلماتو ثلاثو پدي اعتبار سره چې معرب ده که مبني او کيفيت د ترکيب په قواعدو او ضوابطو سره د بعضی کلماتو د بعضو سره لکه مثال ضَرَبَ زَيْدٌ د علم نحو په ذريعی دا معلوميږي چې زيد اسم دي او ورسته فاعل واقع شوي دي او دغه شان دده د حرکاتو احوال چې عامل واقع وي نو لفظ به وضع وي ځکه چې كُلُّ عامل مرفوع او که فاعل ناصب وي نو لفظ منصوب وي ځکه چې كُلُّ مفعولٌ كُلُّ مَفْعُولٍ مَنْصُوبٌ او که عامل جاروي نو لفظ به مجروروي ځکه چې كُلُّ مضاف اليه مجرورٌ

فائده: اواخر الكلم- پدي سره احترازراغی د علم لغت نه چې په هغي کې د اول وسط او آخرنه بحث کيږي.

من حيث الاعراب والبناء: پدي سره د علم صرف نه احترازراغی چې پدي کې د بناء بحث دي **كيفيت تركيب الخ** پدي سره احتراز د ديگر علومونه راغی لکه فقه منطق وغيره يو معترض د **اعتراض** کوي چې طالب کاکاتول کال نحو او وايي او بيا د جملی ترکيب نشي کولی او حرکات د کلمو هم نشي جاري کولي.

جواب: دلته يعرف بها يعی پيژندي شي مگر په استحضار د قواعدو کليو سره چې په قواعدو کليو او په ضوابطو ادا کولوئی ځان نوي پوهه کړی نو تش په عبارت لوستلو باندي نشي زده کولی اعتراض ساقط او مدفوع شو.

ترکيب: فصل خبر د مبتداء محذوفه چې هذا ده. هذا مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه **النحو** مبتدا **اعلم** موصوف **باء** جاره **اصول** موصوف **يعرف فعل مجهول باء** جاره **هاء مجرور**، جار سره د مجرور نه ظرف لغو متعلق په يعرف پوري ، **احوال** مضاف **اواخر** مضاف اليه **الحكم** موصوف **الثلث** صفت . موصوف سره د صفت نه دا مضاف اليه شو آواخر مضاف لپاره، آواخر مضاف سره د مضاف اليه نه دا بيا مضاف اليه شو احوال مضاف لپاره، مضاف سره د مضاف اليه نه دا نائب فاعل شو د يعرف **من** حرف جر **حيث** مضاف **الاعراب** معطوف عليه **واو** حرف عاطف **البناء** معطوف ، معطوف سره

Maktaba Tul Ishaat.com

دمعطوف عليه نه دا مضاف اليه شو، دحيث مضاف لپاره، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مجرور شو دمن جاره، جار سره دمجرو نه دا ظرف لغو تعلق نيسي بعرف پوري، واو عاطفه **كيفية مضاف تركيب** مضاف اليه مضاف، **بعض** مضاف اليه مضاف **هاء** ضمير مضاف اليه، بعض مضاف سره دهاء ضمير مضاف اليه نه دا مضاف اليه ده لپاره د تركيب **مع** مضاف **بعض** مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مفعول فيه ده لپاره د تركيب، تركيب مصدر مضاف سره د بعضها مضاف اليه او سره دمع بعض مفعول فيه نه دا مضاف اليه ده لپاره دكيفية مضاف، كيفية مضاف سره د تركيب بعضها مع بعض نه دا معطوف ثاني شو معطوف سره دمعطوفينو نه دا مضاف اليه شو دحيث مضاف، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مجرور دجار شو چې مِن ده، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو يعرف پوري، يعرف سره دنائب فاعل او سره دمتعلقينو نه دا جمله فعليه خبريه صفت شو دا صول موصوف، موصوف سره دصفت نه دا مجرور دباء جار، جار سره دمجرور نه دا ظرف مستقر په اعتبار دمتعلق سره صفت شو د علمٌ، علمٌ موصوف سره دصفت نه دا خبر شو دمبتدا، مبتدا سره دخبر نه جمله اسميه خبريه

دعلم النحو غرض

وَالْغَرَضُ مِنْهُ صِيَانَةُ الذِّهْنِ عَنِ الْخَطَاءِ اللَّفْظِيِّ فِيْ كَلَامِ الْعَرَبِ:

ترجمه: (د علم نحو غرض) ذهن لره په كلام عربي كښي د لفظي غلطي نه ساتل.

تشريح: صيانت په لغت كې حفاظت ته ويلي شي او دخطائ لفظي نه مراد اعرابات دي يعني په لفظ كې كله رفع وي نو رفعي ويل پكاروي او چې نصب وي نو نصبي ويل پكاروي او چې جروي نو جري ويل پكار دي دلته

سوال وارد كيږي چې مصنف خطاء الفظي ذكر كړی دي نو تلفظ خو دالفاظو په لسان سره كيږي او مصنف ذهن ذكر كړی دي او الفاظ ټول د ژبي نه ادا كيږي نو پكار ده چې داسې يې ويلي دي صيانت السان عن الخطاء الفظي نو بيابه صحيح وو؟

جواب: (۱) دلته عبارت په حذف دمضاف سره دي او عبارت د تقديريې داسې دي **صيانت مُبَيِّنِ الذهن عن الخطاء الفظي** او مبين په معنى دوضاحت كونكي سره دي او وضاحت كونكې دذهن دپاره لسان دي نو گويا لسان مبين دذهن دپاره دي نو ساتل دذهن دمبين دي په خطاء الفظي كې او خطاء لفظي په ژبه كې هم واقع كيږي (۲) دصيانت نسبت چې مصنف ذهن ته كړي دي نو كلام او الفاظ داپه حقيقت كې په ذهن كې پراته وي يعني په ذهن كې چې كلام او الفاظ صحيح وي نو په لسان سره هم صحيح ادا كيږي نو اول حفاظت او صيانت دذهن پكار دي اعتراض ساقط شو. دفي كلام نه مراد دغه

دري اقسام دي (اسم فعل حرف) او چونکه دا کتاب په نحو کي دژبې دعربي دزده کولو پاره دي او دزده کړې بنيادي څيزونه دغه دري اقسام دي نو مصنف ځکه في كلام العرب ذکر کړو بله خبره داده چي كله صيانت اضافت دفاعل ظرف ته اوشي نو په الذهن کښې به الف لام عوض دمضاف اليه وي او تقدير به بې داسې شي.

بل **اعتراض** وارد شو چي نور کتابونو کي موضوع مقدم وي په غرض باندي او دلته مصنف دموضوع نه مخکښې غرض ذکر کړو **الجواب** دا ځکه چي دتعريف او غرض معنى قريباً يو شان دي يعني په دواړو کښې مناسبت شته نو اعتراض مدفوع شو

ترکيب: واو عاطفه يا استنافيه **الغرض** موصوف **منه** جار مجرور ظرف مستقر متعلق په الكائن پوري الكائن صيغه داسم فاعل ضمير په کښې مستتر هغه ئي فاعل او سره دمتعلق نه دا صفت جوړيږي دموصوف ، موصوف سره دصفت نه مبتدا ، **صيانة** مصدر مضاف **الذهن** مضاف اليه **عن** حرف جر **الخطاء** مصدر موصوف **اللفظي** صفت اول **في** حرف جر **كلام** مضاف **العرب** مضاف اليه. مضاف سره دمضاف اليه نه دا مجرور شو دفي جاره، جار سره دمجرور نه ظرف مستقر متعلق په كائنٌ پوري، كائنٌ دا صفت ثاني شو. موصوف سره دصفتينو نه دا مجرور شو دعن جاره ، جار سره دمجرور نه دا ظرف لغو تعلق نيسي په صيانت پوري، صيانت مصدر مضاف سره د الذهن مضاف اليه نه او سره دمتعلق نه دا خبر کيږي دمبتدا ، مبتدا سره دخبر نه جمله اسميه خبريه

موضوع دعلم النحو او بحث دالكلمة

موضوع: الكلمة والكلام:

ترجمه: موضوع د علم نحو كلمه او كلام

تشريح: مصنف چي كله دتعريف او غرض نه فارغ شو نو دمقدمې دا جزاء نه هغه دريم جز ذكر كوي چي موضوع ده موضوع دعلم هغه شي دي چي داحوال ذاتيو نه پکې بحث کيږي نو موضوع دعلم نحو كلمه او كلام ده.

دلته **اعتراض** وارد كيږي چي دهر علم موضوع يوه وي او دنحو موضوع يوه كلمه ده او يو كلام نو لازم شو تعدّد په الفاظو کي او دا قانون دي چي تعدّد دموضوع مستلزم دي تعدّد دعلومو دپاره او دلته دوه موضوع ګاني دي نو دا معلوميږي چي علم نحو دوه علومه دي.

جواب: تفصيلي. ستاخبره صحيح ده چي تعدّد په موضوع دعلم نحو کي لازم شوي دي

Maktaba Tul Ishaat.com

خوتعدّد په دوه قسمه دي (۱) تعدد باعتبارمعنی اولفظ دواړه يعني تعدّد سمعنوي اولفظی دي (۲)اوبل تعدد لفظی فقط نه معنوي مثالونه دا ولنی مثال لکه بالغ عاقل دا تعدد الفاظوهم دي اوّمعنوهم دي نودامعنوي لفظی شومثال ددويم لکه قاعدٌ جالسٌ پديکې تعدد الفاظوشته ليکن معنی ددواړويوه ده نوپه الکلمة والکلام کې تعدد لفظی دي فقط دکلمی نه مرادلفظ موضوعه دي اوکلام هم داسې نوپس کلمه اوکلام اګرچې الفاظ دي ليکن دالفظ موضوعه دي اولفظ موضوعه مفرد دي.

(۲) دويم جواب تعدّدد موضوع مستلزم وی دتعدّد دعلومو دپاره خودهغه موضوع دپاره چې حيثيتونه يې ډيروي اوچې کله يې حيثيت يووي نودغه تعدددموضوع دعلومو دپاره مستلزم نه وي

(۳) دريم جواب دلته واوپه معنی مع دي يعني تقديريې داسې الکلمة مع الکلام بل

اعتراض کلمه يې په کلام ولی مقدمه کړو **جواب** داځکه چې کلمه دکلام جُزده لفظاًاومعنیً لفظاًداسی لکه زيدٌ قائمٌ پدی کښی لفظ دزيد جزدي دقائم نه چې کلام دي اومعناً داسی لکه زيدٌقائمٌ معنی په مجموعي طورداسي ده (زيد) حيوان ناطقٌ مع هذا التّشخص وذات من له القيام اودزيدمعنی فقط حيوان ناطق هذا التشخص نوداد مخکينۍ معنی جُزدي نوددي نه ثابته شوه چې کلمه دکلام جُزده اوجُزيه کل مقدم وي.

بل **جواب** په تعريف دکلام کې دی کلمه مقدمه اومعتبره ده نوګوياکلمه موقوف عليه شوه دپاره دکلام اوموقوف عليه مقدم وي په کلام موقوف باندي نومصنف کلمه څکه مقدمه کړه په موضوع اوتفصيل د دواړوکوی نواول بيان دالکَلِمَةُ دي

بيان دالکلمة: په الکلمة کې دری اجزاء دي يوحرف تعريف يعنی (ال، بل ماده (کلم) اودريم جزدتاء دي ددي نه پس به په الکلمة کې دری بحثه کيږي

بحث دالف لام

اول بحث: دال دي الف لام په لغت کې مطلق کلمه ال نه ويلی شې اودمطلق کلمه ال مطلب دادي که هر ځاۍ وي يعني همزه مفتوحه چي په ل ساکن داخله وي نودي ته مطلق کلمه ال وايي

په اصطلاح کې: كَلِمَةٌ تُحْذَفُ بِهَا كَلِمَةٌ أُخْرٰی يعنې داسی کلمه ده چې مزين کولی شې بلی کلمی لره يعني بلی کلمی لره ښائست ورکوي

تقسیم دالف لام: الف لام په دوه قسمه ده یو الف لام اسمی ده بل ال حرفی دي اواُس دالكلمة دَال شناخت كووچې دا اسمی دي او كه حرفی نو اول تفصيل دالف لام اسمی.

الف لام اسمي: داهغه الف لام دي چې كوم داخلیږی په اسم فاعل او اسم مفعول باندي اتفاقاً او داخلیږی په صفت مشبه باندي اختلافاً تفصيل یې عنقریب دی لکه القائمُ، القاعدُ، الضاربُ وغیره داصیغی داسم فاعل دي او الف لام اسمی دي مثال داسم مفعول لکه المضروب، المقتول وغیره داصیغی اسم مفعول دي او دا هم الف لام اسمی دي اودي ته اسمی ځکه وایې چې دا الف لام موصولی دي او موصول اسم دي نو ځکه ورته موصولی وایې په صیغی دصفت مشبه کښی چې کله الف لام داخل شې لکه (الحَسَنْ) نو په دي کې اختلاف دي بعضی وایې چې دا الف لام اسمی دي دلیل دا پیش کوي چې صفت مشبه داسم فاعل مشابه ده نو دا ځکه اسمی دي او بعضی وایې چې دا حرفی دي دلیل یې دا دي چې ددي په معنی کې فرق دي دصفت مشبه په معنی کې ثبُوت اولزُوم دي او داسم فاعل په معنی کې حُدوث دي نو گویا دا حرفی دي ددي دپاره یوه ضابطه داده چې کوم ال داخل شې په اسم فاعل او اسم مفعول نو دا به اسمی وي اوچې داسم فاعل او اسم مفعول نه علاوه چې په هرڅه الف لام وي نو دا به حرفی وي لکه النحو، الكتاب، الكلمة وغيره وغيره

الف لام حرفی: الف لام حرفی په دوه قسمه دي یو زائد او بل غیر زائد

الف لام زائد: هغه الف لام دي چې په سقُوط ددي سره په معنی کې خلل نه راځی

الف لام غیر زائد: هغه الف لام دي چې په سقوط ددي سره په معنی کې خلل اونقصان واقع کیږي پس اول بحث دالف لام زائد. دالف لام زائد مثال لکه كمافی قوله شاعر

وَلَقَدْ اَمُرُّ عَلَى اللَّئِيمِ يَسُبُّنِيْ فَمَضَيْتُ ثُمَّةَ قُلْتُ لَايَعْنِيْنِيْ

ترجمه دشعر: زه تیردم په یو بدبخته سړی باندي او داسی بدبخته چې ماته یې کنځل کول پس بیا تیرشوم او داسی مِ اُووي چې دامانه یادیږي پس به مذکور شعر کې لفظ داللئيم کې ال زائده دي پدي تقدیر باندي چې لئیم یې موصوف دي او یَسُبُّنِی دا جمله فعلیه صفت دلئیم دي او جمله صفت دنکری دپاره واقع کیږي اودلته صفت دلئِيمُ دپاره دي نو په لئیم کې چې کله ال زائد وي نو دا به نکره وي دویم احتمال دادي چې کله یَسُبُّنِی حال واقع شې اولئیم یې ذوالحال شې نو بیا به په لیئم کې ال غیر زائده وي او په دي حالت کې به معرفه وي

ددي نه بعد الف لام زائده په دوه قسمه دي (۱) الف لام زائده لازمی (۲) الف لام زائده غیر لازمی.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۱) **الف لام زائده لازمي**: دا هغه الف لام ده چې په ده باندې عالميت احاطه كړي وي معنى دا ده چې دغه الف لام سره دخپل مدخول نه مجموعه دچا پاره عالميت ګرزيدلى وي لكه الله.

(۲) **الف لام زائده غيرلازمي**: دا هغه الف لام ده چې په ده باندې عالميت احاطه نه وي كړې يعنې سره دخپل مدخول نه دچا دپاره عالميت نه وي ګرزيدلى لكه (الناس) بيا هر واحد دې دواړو په دوه دوه قسمه دي. اول دالف لام زائده لازمي دوه اقسام دي يو الف لام زائده لازمي عوضي او بل الف لام زائده لازمي غيرعوضي دي.

(۱) **الف لام زائده لازمي عوضي**: مثال لكه لفظ دالله په دې كې الف لام زائد ځكه دي كچرې داترې لرې كړې نو الِهٌ به شي او الِهٌ هم په معنى معبود برحق نه ويلى شي او لازمي ځكه دي چې سره دخپل مدخول نه عالم دپاره ديو ذات ګرزيدلى دي چې معبود برحق دي او عوضي ځكه دي چې دا الف لام په عوض دهمزې كې راغلى دي يعنې الله په اصل كې الاهٌ وو همزه حذف شوه او دهغې په عوض كې مو ال اولګوو نو الالٌ جوړ شو بيا دوه حرفه متجانسين جمع شول نو ادغام مو پكې اوكړو نو الله ترې جوړ شو.

(۲) **الف لام زائده لازمي غيرعوضي**: لكه النجم، الصعق، الثريا. دا درې واړه دستورو نومونه دي په دې كې الف لام زائد ځكه دي كچرې داترې لرې كړې نو په معنى كې څه خلل او نقصان نه راځى يعنې النجم هم ستورى دى خو معرفه ده دلام تعريف په وجه او نجمٌ هم ستورى ده خو نكره ده دتنوين تنكير په وجه. لازمي ځكه دي چې دا الف لام سره دخپل مدخول نه علم ګرزيدلى يعنې مجموعه علم دي او ستورى هم علم دي او غيرعوضي ځكه دي چې دا الف لام دچا په عوض كې نه دي راغلى. دغه شان الف زائد غير لازمي لره هم دوه اقسام دي يو الف لام زائده غيرلازمي عوضي او بل الف لام زائده غيرلازمي غير عوضي.

الف لام زائده غيرلازمي عوضي: لكه الناس په دې كې الف لام ځكه دي چې په سقوط د دې سره به معنى كې خلل نه راځى يعنې النّاس هم خلقو ته وايي او ناس هم خلقو ته وايي غيرلازمي ځكه دي چې په مدخول دالف لام باندې عالميت احاطه نه ده كړې ځكه چې لفظ دالنّاس تولې ته ويلى شي يعنې دا اسم جنس دي او تعميم دي پكې نه تحصيص. عوضي ځكه دي چې دا په عوض دهمزې كې راغلى دي لكه الناس په اصل كې أُناسٌ وو همزه مو حذف كړه په ځاى مو ال راوړو نو الناس ترې جوړ شو عوضي ځكه دي چې په عوض يعنې په ځاىٔ دهمزې راغلى دي.

(۴) **الف لام زائده غيرلازمي غيرعوضي**: لكه مثال يو شعر دي.

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ... فَبِالْغُلَامَانِ الّذانِ فَرَّ ... اِنَّکُمَا اَنْ تکسبا الشَرَّ

لفظ دَالغلامان کې الف لام زائد ځکه دي چې په سقُوط د دې سره په معنی کې خلل نه واقع کیږي ځکه که غلامان او ویلی شي نو بیا هم ترې مراد غلامان دي غیر لازمی ځکه دي چې احاطۂ پرې عالمیت نه ده کړی بلکه هر غلام ترې مراد دي یعنې مخصوص نه دي بلکه عمُوم دي او غیر عوضی ځکه دي

دَالف لام زائد څلور اقسام بیان شو دي نه بعد د الف لام غیر زائد تقسیم دي ده لره څلور اقسام دي (۱) الف لام جنسی (۲) الف لام استغراقی (۳) الف لام عهد خارجی (۴) الف لام عهد ذهنی پس د دې څلورو نه به یو یو مع تعریف او مع مثال ذکر کیږي .ذهن ورته متوجّه کړه او پوهه شه

(۱) **الف لام جنسي**: دا هغه الف لام دي چې په دې سره اشاره کولی شي ماهیت او حقیقت د یو شي ته قطع نظر د افرادو نه یعنې چې په چا داخل شي نو د هغه ماهیت او حقیقت به ترې مراد وي بغیر د افرادو نه لکه (اَلرَّجل خَیْرٌ مِّنَ المَرْاَةِ) ترجمه جنس د رجل ښه دي د جنس د مَرءِ نه او که څوک داسې او وائي چې افراد د رجل بهتر دي د افراد د مَرءِ نه نو دا غلط ده بلکه ماهیت د رجل او ماهیت د مَرءِ یعنې جنس رجل (المذکر من بنی اٰدم) او جنس المرأة (المؤنث من بنی اٰدم) او که افراد ترینه مراد شي نو بیا خو اَزْوَاجِ مطهرات مثلاً حضرت عائشهؓ حضرت خدیجهؓ او حضرت فاطمهؓ وغیره بهتر دي د رجالو نه نو پس په رجل او مَرءِ کې الف لام جنسی دي ځکه چې مدخول د الف لام رجل او مرء دي نو پدې کې اشاره ماهیاتو او اجناسو ته او شوه نه افرادو ته.

(۲) **الف لام استغراقي**: دا هغه الف لام دي چې په دې باندې اشاره کولی شي ماهیت د یو شي ته سره د لحاظ د افرادو نه یعنې چې دا په چا داخل شي نو د هغه مدخول ماهیت به ترې مراد وي خو سره د افرادو نه لکه آیات قرآنیه اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِیْ خُسْرٍ کې په اِن الانسان کې الف لام استغراقی دي نو پدې سره ماهیت او جنس سره د افرادو نه ذکر شو یعنې بیشکه هر انسان او علامت د الف لام استغراقی دا دي چې لفظ د کُلُّ هم د ده په ځاي استعمالیږی یعنې که داسې او ویلی شي چې کُل انسان لفی خسرٍ نو دا هم صحیح دي او په الف لام استغراقی باندې دلیل لفظ د اِلَّا حرف استثنا دي

او حرفِ استثناء د کثرو افرادو نه کیږي او داخلیږی په جمیع او په کُل باندې لکه مذکور شو

(۳) **الف لام عهدخارجي**: دا هغه الف لام دي چې په هغه باندې اشاره کولی شي

Maktaba Tul Ishaat.com

ماهیت دیوشي ته په ضمن دیوفرد معین کې یعني هغه فرد معین چې معلوم اومعین وي په ذهن دمتکلم اومخاطب دواړوکې لکه ایات د قرآن فَعَصَىٰ فِرْعَوْنُ الرَّسُولَ کې نافرمانی اوکړه فرعون دهغه رسول معین نه چې موسیٰ دي چې داصرف متکلم (الله) ته اومخاطب (پیغمبرؐ) ته معلوم دي یعني دَدواړوپه ذهن کې معین دي نوپه الرسول کې الف لام عهدخارجی دي اوداچې په چاداخل شي هغه ته معهودفی الخارج وایې چې دلته الرسول دي نوپه دي سره اشاره شوي ده ماهیت رسول ته اودغه ماهیت درسول په ضمن دیوفرد کې مراددي نودفعصٰی ... معنی به داسی شي نافرمانی اوکړه فرعون دهغه معهوداومعین رسول چې موسیٰ دي.

(۴) **الف لام عهدذهني**: داهغه الف لام دي چې په دي باندي اشاره کولی شي ماهیت دیوشئ ته په ضمن دیوفرد کې چې هغه فردمعین اومعلوم وي په ذهن دمتکلم کې فقط نه مخاطب لکه آیت قرآنی إِنِّىٓ أَخَافُ أَن يَأْكُلَهُ ٱلذِّئْبُ بیشکه زه یریږم چې اوبه خوری ده لره شرمخ په الذئبُ کې الف لام عهدذهنی دي چې الذئبُ نه مرادیوحادثه ده یعني عام ذئب تري مرادنه ووچې دغه حادثه صرف دیعقوبؑ په ذهن کې معینه وه فقط نه د مخاطبینوکښی عام شرمخ تري مرادوي نومعاذالله بیاخوبه پیغمبرؑ (یعقوبؑ) کاذب وي خکه چې شرمخان خوبې رونړه صاحبان ووچې یوسفؑ بې کوهی ته غورزولی وونودغه حادثه تري مرادده چې صرف دمتکلم یعني دیعقوبؑ په ذهن کې معلومه وه نه ده مخاطبینوروڼړو.

نوټ: الکلمةُ کې الف لام جنسی ده اوبعضې په عهدخارجی باندي قائل دي انشاءالله وضاحت به ئې راشي چې کوم جنسی ده اوکوم عهدخارجي دي

﴿اجمالی شکل دالف لام﴾

مطلق الف لام دالف لام داقسامو اجمالي شکل



ټول نهه اقسام شول

﴿بحث دکَلِمٌ﴾

دِ الف لام دبحث نه بعد دالکلمة دویم بحث شروع شوچي ﴿ك. لام. اوميم ﴾ کَلِمٌ دي په کَلِمٌ کې دوه بحث دي یو په اعتبارداشتقاق اوعدم اشتقاق اوبل په اعتباردجمعیّت. انفرادیت اوجنسیت دي ﴿انفرادیت یعني باعتبار افراداوجنسیت یعني باعتبارجنس﴾

﴿۱﴾ **اول بحث په اعتبارداشتقاق اوعدم اشتقاق**: دکَلِمٌ په مشتق والی اوغیرمشتق والی کې دوه مذهبه دي یو دبعضوبل دجمهور مذهب دبعضو: بعضی وایې چې دا یوداسی لفظ دي چې نه

مشتقي دي او نه دچانه مشتق شوي دي بلکه دالفظ موضوعه برآسه دي (یعني وضع شوي صرف په خپل سر دي) او دلیل یې دادي که لفظ دکلمْ مشتقي شي نو مشتقي خامخا مشتق منه غواړي او ددي مشتق منه نشته، او که مشتق شي نو دمشتق او مشتق منه په مینځ کښې مناسبت پکار دي لفظاً او معناً لکه څنګه چې ضَرَبَ مشتق دي دضَرْباً نو پدي کې لفظي مناسبت دادي چې ضرب دضَرَبَ صحیح حروف دي او دغه حروف په ضَرْباً کې هم موجود دي او معنوي مناسبت ئې دادي چې لکه معنی په ضرباً کې پرته ده هغه معنی په ضَرَبَ کې موجوده ده او ددي دمناسبت تعریف دادی اِنْ تُجِدَبَین للفظین تناسُباً فی لفظٍ ومعنیً نو پس لفظ دکَلِمْ مشتقي نه دي او که مشتق منه ورله پیدا کړو نو بیا به مناسبت غواړي نو لفظي خو به وي خو معنوي مناسبت به ورله دکوم ځایې نه راوړو نو حاصل دا چې ددوي په نِزدا اسم جامد دي.

مذهب دجمهورنحاة: جمهور وایې چې دا مشتق دي دلیل تفصیلي دادي چې لفظ دکَلِمْ په کسری دلام سره دا مشتق دي دکَلْمْ نه په سکون دلام سره او لفظاً مناسبت خویې دادي چې څنګه دضَرَبَ او ضرباً لفظي مناسبت دي هم دغه شان پدي کې هم دری حرف اصلي دي (ك ل م) او معنوي مناسبت یې دادي چې دکَلْمْ لغوي معنی جَرْح ده یعني زخم کول او بعضې کلمات داسې دي چې هغه په خپل تاثیر کې تکلیف او دَرد رسوي نفُوسو ته لکه څنګه چې متکلم یو خبره مخاطب ته بیان کوی او په مخاطب ډیره بده اولګی نو دهغه په زړه کې دَردشې دخبری دتاثیر دوجهی نه نو ګویا دغه درد دزخم پشان محسوسیږی.

لکه یو شاعر فرمایې:

جَرَاحَاتُ السِّنَانِ لَهَا الْتِيَامٌ ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ وَلَا يَلْتَامُ مَاجَرَحَ اللِّسَانُ

(علی کرم الله وجه) غالباً ترجمه: دزخمونو دنیزی دپاره پیوند کیدل شته او نه جوړیږی هغه زخم چې په ژبه اُوشې. یو شاعر په پښتو کې اړولی دي.

شعر

پرهر د نیزې ښه دی چې به جوړ شی په مرهم | پرهر د ژبې بد دی چې وي عمر سره سم

(۲) **دویم بحث په اعتبار دجمعیت او جنسیت سره**: لفظ دکَلِمْ بدون تا یعني بغیر دتایې وحدت نو پدیکې دوه مذهبه دی یو دجمهورنحاة دي او بل بعضې دي جمهور ددي په جنسیت قائل دي او بعضې ئې په جمعیّت قائل دي نو معترض **اعتراض** کوي چې صاحبه جمعیت او جنسیت څه ته وایې

جنسیت: دي ته وایي چې اطلاق یې تر یو نه واخله په قلیل او کثیر تولو باندي کیږي.

جمعیت: دي ته وایي چې اطلاق یې تر دریو نه واخله او ډېروالی یې څه حد نشته یعني کم ازکم تر دریو نه په پورته پسې چې څومره تللې شي نو زه پسې پس جمهور وایي چې لفظ دکَلِمٌ جنس دي.

دجمهورو دلیل: په قرآني آیت سره پیشکی (اِلَیۡهِ یَصۡعَدُ الۡکَلِمُ الطَّیِّبُ) په دیکې طیب صفت دي دکَلِمٌ او کلم یې موصوف دي او دا قانون او ضابطه ده چې د موصوف او صفت په مینځ کې مطابقت ضروري وي که موصوف جمع وي نو صفت به یې هم جمع وي او که موصوف مذکر وي نو صفت به یې هم مذکر وي او دغه شان په اتانیث کې او په تعریف او تنکیر کې. نو که لفظ دکلم جمع وي نو بیا پکار ده چې د الطیب په ځای جمع الطیبات ذکر کړی شي او یا دي الطیبة ذکر کړی شي (الطیبة په معنی دجماعة دي) نو پس د آیت نه ثابته شوه چې طیب دکلمٌ صفت دي او دا مفرد دي نو لفظ دکلمٌ هم جنس دي ځکه چې دجنس اطلاق په یو فرد باندي هم کیږي او په ډیرو باندي هم کیږي.

دجمهورو دویم دلیل: لفظ دکلمٌ واقع کیږي تمیز دعدد نږي کول دا وسط لپاره او عدد اوسط هغه ته ویلی شي چې اطلاق یې د یولسو نه تر یو کم سلو پوري کیږي او تمیز د عدد اوسط مفرد وي او منصوب وي لکه آیت اِنِّیۡ رَاَیۡتُ اَحَدَ عَشَرَ کَوۡکَبًا بیشکه ما ولیده یولس ستوري نو دغه شان لفظ دکلمٌ تمیز واقع کیږي د اَحَدَ عَشَرَ یعني دعدد اوسط دپاره لکه قَرَأْتُ اَحَدَ عَشَرَ کَلِمًا پس احد عشر ممیز او کلماً یې تمیز واقع شوي دي ځکه چې تمیز دعدد اوسط دي او که لفظ دکَلِمٌ جمع وي نو بیا به تمیز نه واقع کیدو دعدد اوسط دپاره نو معلومه شوه چې لفظ دکلم جنس دي او جمع نه ده.

دلیل دبعضو: دوي وایي چې دا جمع ځکه ده چې عُرف او په استعمال کې لفظ دکلمٌ کم ازکم په دریو الفاظو باندي کیږي نو معلومیږي دعرف او د استعمال نه چې دا جمع ده یعني چې متکلم کلام پیشکوي نو د هغه به خامخا دری کلمې یا زیاتي وي نو د ادبعضو په نزد جمع ده.

دویم دلیل دبعضو: دوي دجمهورو د اولنی دلیل جواب داکوي چې په آیت کې الکلم الطیب نه مخکې لفظ د بَعۡضُ مقدر دي یعني تقدیر د آیت داسې دي الیه یصعد بعض کَلِم الطیب یعني څي د الله طرف ته بعضې کلمې صالحې نو په دیکې طیب صفت واقع شو د بعضُ (نه د کلم نه) او بعضُ یې موصوف دي نو د بعض په وجه د طیب جمع راوړلو ته ضرورت نشته په خپل ځای جمع پاتې شوه.

جوابات دجمهورو نحاتو: د بعضو د اولنی دلیل جواب دادي لفظ دکلم وضع کړی دي

Maktaba Tul Ishaat.com

واضعینو د یو کلمی دپاره البته په استعمال اوپه عُرف کې مستعمل په دریو یازیاتو کیږي لیکن اعتبار وضعي لره دي نه استعمال لره ځکه چې وضع اصل دي او اعتبار داصل اولی وي یعني داوضع دي جنسی معنی لره چې

اطلاق یې په فردهم کیږي اوپه قلیل او کثیرهم نو معلومه شوه چې لفظ دکلمٌ جنس دي

دَ دویم دلیل جواب: جمهور خیل دلیل بیا ثابته وي چې لفظ دبعضُ په آیت کې مقدرنه دي ځکه چې تاویل او تقدیر په آیاتونوکې خلاف اولی دي پدې شرط سره چې کله دآیت ظاهری معنی صحیح وي نو دلته خو عبارت په پخپله ظاهری معنی باندي حمل کیدي شي ځکه چې دجنس اطلاق په یو فردهم کیږي اوپه قلیل او کثیرهم کیږي نو بعضُ بی فائدي دی او که سړی په دقیق نظر سره اوګوری نو بعضُ سره ګویا په آیت کښی خلل واقع کیږي ځکه چې طیّبی کلمیٔ ټولی دالله طرف ته خیزی په خلاف دبعضو نه نو پس کَلِمٌ به یې موصوف او طیب به یې صفت واقع شي نو معلومه شوه او ثابته شوه او سالمه شوه چې لفظ کَلِمٌ جمع نه ده بلکه جنس دي

بحث د(ة) دالکلمة نه

دریم بحث په الکلمة کي دتادي: تا په ډیرو معنو سره مستعمل ده (۱) کله دتانیث دپاره راځی لکه امراةٌ طلحة (۲) کله دوحدت دپاره راځی لکه نعجةٌ کې تاء دوحدت ده (۳) او کله دمُبالغی دپاره راځی لکه علّامةٌ (۴) کله دوحدانیت معنی اسمیّت ته دنقل کولو دپاره راځی لکه کافیةٌ او شافیةٌ داصیغی دصفت (اسم فاعل) وي چې کله پری ة داخله شوه نو دوصفیت معنی په اسمیت کې بدله شوه یعني اُس دااسماء دي (۵) او کله دتذکیر دپاره راځی خو په هغه وخت کې چې کله دعدداقل تمیز مذکر واقع شي لکه ثلاثة رجالٍ خمسةُ رجالٍ وغیره

عدداقل: چې اطلاق یې ددری نه ترنهو پوری کیږي

عدداکثر: دسلونه یې په زیاتو اطلاق کیږي

فائده: دلته ة دتذکیر حرف په عدد اقل کې مُستعملیږي

پس په الکلمة کې ة وحدت دپاره ده او علامت دتانیث لفظی هم دي او الف لام پکې جنسی دي نو دلته

سوال: وارید یږی چې الف لام جنسی دکلمی په کثرت او عموم باندي دلالت کوي او ة دکلمی په وحدت باندي دلالت کوي نو چې په الکلمةُ کې عموم او خصوص واقع شي نو په دي

دواړوکې مُنافات اوتضاد دي.

الجواب: جواب دادي دي چې وحدت په درې قسمه دي (۱) وحدت شخصي (۲) وحدت نوعي (۳) وحدت جنسي پس پدي دريواړوکې وحدت شخصي دعموم اودکثرت منافي دي فقط اودلته وحدت نوعي ياجنسي مراددي اودنوعي اوجنسي دالف لام سره هيڅ قسمه منافات اوتضادنشته اوچې په الکلمة کې الف لام جنسي شي نوماهيت دکلمې ته به اشاره کيږي اوکه الف لام دالکلمة عهد خارجي شي نوبيابه دالکلمة معنی داشي چې هغه کلمه چې هغه جاري وي په ژبودنحوبانوباندي نوهغه لفظ چې معنی يې مفرده اووضع شوي وي ديارە دمعنی مفردي

نوټ: په الکلمة کې الف لام جنسي ځکه دي چې تعريف دماهيت دشي کيږي نه دافرادواوکه غير جنسي شي نوبيابه دالف لام دمدخول نه مراد افرادشي کلاً يابعضاً نوتعريف به دافرادوته اوشي اودانا جائزه دي ځکه چې دتعريف نه مقصود دمعرفي بالفتحي استحضاروي اوددي افراد غيرمتناهي وي بخلاف دماهيت چې متناهي وي اوځوک وايي چې داعهد خارجي دي نودايوه منطقي مسئله ده ۲ **قاعده** ده دويې وايې چې تعريف دافرادوجائزدي ځکه چې ددي افراد غيرمتناهي نه دي بلکه په دريو اقسامومنحصره دي چې اسم دي فعل دي اوحرف دي اونيزدالکلمة نه مرادهم هغه کلمه ده چې دنحاتوپه ژبوجاري وي.

فائده: الف لام عهدخارجي کې څه اشکال نشته.

ترکيب: واو حرف عاطفه، موضوع مضاف ه ضمير مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مبتدا شو الکلمة معطوف عليه، واو حرف عاطفه الکلام معطوف، معطوف سره دمعطوف عليه نه دا خبرشو دمبتدا. مبتدا سره دخبرنه دا جمله اسميه خبريه.

بحث دَلفظ او وُضعَ

اَلْكَلِمَةُ لَفْظٌ وُضِعَ لِمَعْنًى مُفْرَدٍ:

ترجمه: کلمه هغه لفظ دی چه معنی مفرد لپاره وضع کړی شوی وی.

تشريح: دلفظ دَتفصيل اجمالي ترتيب: اول به دلفظ لغوي معنی بيانيږي اوبيابه اصطلاحي اوددي څه اعتراضات اودهغې جوابات: لفظ په لغت کې رمی ته ويلی شي اورمی په معنی دويشتلو اوغورزولو سره راځي برابره خيره ده که دغه لفظ غورزول دفَم نه وي اوکه غيرفَم نه وي درمی مِنَ الفَمْ مثال لکه عرب وايي اَكَلْتُ التَّمرةَ وَلَفَظْتُ النَّوَاةَ دلته لفظت په معنی درَمَيْتُ سره

Maktaba Tul Ishaat.com

دي يعني ما اوخوړه كجهوره او اوم غورزولو اوكې (زړې نود خُلې نه غورزيږي نود ادرمې من الفم مثال شو او دغير فم مثال لكه لفظت الرّحى الدقيق) اوغورزول مخچنې اوړه نوپس لَفَظ يَلْفِظُ لَفظاً په معنى درمى سره دي

اصطلاحي تعريف: مَايَتَلَفَّظُ بِهِ الْاِنْسَان: په كوم شي باندي چه انسان تلفظ كوي يعني ملفوظ الانسان ته ويلى شي چي كوم شي دانسان دژبې نه خارجيږي او به به كې بامعنى دسببيت سره ده اويا په معنى دعلى سره ده نوتقدير دعبارت به داسې شي مَايتلفظ (باللسان) عليه الانسان اولفظ دمايكي به الاشتراك دي نوټول تعريف به داسي شي مايتلفظ باللسان عليه الانسان حقيقتاً كان اوحكماً مفرداً كان اومركباً موضوعاً كان اومهملاً اولاً كان اوثانياً نوپس برابره خبره ده چي پدي سره دټولو اعتراضاتو جوابات اوګرزيدل فرض څوك اعتراض كوي

اول اعتراض: چې ستاسو دتعريف نه ضمائر مستتره خارج شول لكه اضرب چې أنتَ ضمير پكې مستتردي نو په اِضرب خو تلفظ او شو خو په انت تلفظ اونه شو او ضمائرهم الفاظ دي پكاره چې تلفظ پراوشي نوددي **جواب** دادي چې اِضرب تلفظ حقيقتاً راغلى دي اوددي سره سره انت هم دخُلې نه خارج شو خو حكماً يعني انت خو په خله كې نه پاتې كيږي.

دويم اعتراض: كه دا اعتراض څوك كوي چې ستادتعريف اول نه دامعلوميږي چې صرف په لفظ باندي انسان تلفظ كوي نو ددي خو مفردلفظ مراددي او ټول مركبات ستاسو نه خارج شول

جواب: دادي كه مفردوي اوكه مركب وي يعني كه انسان يو لفظ خارجوي اوكه پوره كلام خارجوي.

دريم اعتراض: كه څوك دا اعتراض كوي چې ستادلفظ نه مراد بامعنى لفظ مراددي چې دمعنى دپاره وضع شوي وي نوبې معنى الفاظ ستاسو نه ټول خارج شول اوداهم دژبې نه اداكيږي لكه لفظ د زيد موتړه بالعكس كړو (ديز) نوداخو معنى نه لري

جواب: برابره خبره ده كه معنى نه لري خو لفظ دي يعني دانسان دژبې نه اداكيږي

خلورم اعتراض: مايتلفظ به الانسان غيرصحيح دي ځكه چې داتعريف الفاظ مختص كوي په انسانانو پورى او كلمات الهيه (قرآن) او كلمات ملائكه او كلمات جنيه تري خارج شول يعني صرف ملفوظ دانسان دي او قرآن واحاديث وغيره خارج شول او كلمات ملائكه دادى چې دحسنينو دمدحې په باره كې جبرائيل ؑ يو شعر فرمائلى دي:

شعر

اِنَّ فِى الْجَنَّةِ نَهْرًا مِّنْ لَبَنٍ لِعَلِيٍّ وَحُسَيْنٍ وَحَسَنٍ

او کلمات جنیه دادي چې یو سړی د پیریانو سره بد کړي وونو هغه سړی (چې نوم یې حَرب وو) پیریانو مړ که او په صحرا کې یې دفن که ډیره موده بعد یې وارثان ګرزیدل خو بیا یې پیدا نه کړو آخر یو پیری ورته غیبی شعر اووي

شعر

قَبْرُ حَرْبٍ بِمَكَانٍ قَفْرٌ وَلَيْسَ قُرْبَ قَبْرِ حَرْبٍ قَبْرٌ

داد پیریانو خبری دي .ترجمه قبر د حرب په خوشې صحرا کې دي (خالی مکان) او نشته قریب د قبر د حَرب سره بل قبر.نو یس الفاظ جنیه او ملائکه خارج شول د ملفوظ د انسان نه.

الجواب: زمونږ مراد دادي چې تلفظ د انسان اولاً وي او که ثانیاً یعني په دویم ځل پری انسان تلفظ او کړو لیکن بیا هم ملفوظ د انسان او ګرزیدل دا ټول جوابات په تعریف کې مذکور دي پدي وجه مونږه تعریف د لفظ د معترضاتو دوجهی نه په تقدیر د عبارت سره اکد او طویل که.

وُضِعَ: وضع صیغه د فعل ماضی مجهول ده (مصدر یې وضعاً دي) په معنی د نهادن یعني کیښودل یا جَعَلَ الشئ حَيِّزَ شيءٍ آخر ګرزول یا کیښودل د یو شي په بل شي باندي

اصطلاحي تعرف تَخْصِيصُ الشيءِ بِالشيءِ بِحَيْثُ مَتَى أُطْلِقَ أُحِسَّ الشيءُ الاول فُهِمَ مِنْهُ الشيءُ الثاني:

ترجمه خاص کول د یو شي په بل شي سره پدي حیثیت سره چې اطلاق یا احساس د یو شي وي چې د هغی نه د بل شي علم فهم ته راشي پس دا تعریف په کومو الفاظو صادق راځی هغو ته لفظ موضوعه ویلی شي او چې په کوم الفاظ صادق نه راځی هغو ته لفظ مهمل وایې نو په لفظ وضع سره احتراز راغی د مهملاتو نه او د الفاظو بالطبع نه (أَخْ، أَحْ) په تهٔخی دلالت کوي نه په معنی او دغه شان لفظ د زید په لفظ او وضع دواړو صادق راځی او چې کله او بدل شي نو پس بیا یې څه معنی نوي نو دا صرف په لفظ صادق راځی یعني وضع شوي نه دي مهمل دي او دغه شان تري دوال اربعه تري هم خارج شول ځکه چې دا صرف په وضع صادق راځی لیکن الفاظ نه دي خو دا صرف د الفاظ نه خارج دي بلکه صادق په وضع دي نو ددي وجهی نه په لفظ کې عموم دي او په وضع کې تخصیص دي .

سوال په تعریف کې دوه شیان ذکر شول یو شیي اول او بل شیي ثاني او س دلته دوه احتماله دي

اول احتمال که د شئ اول معنی لفظ شي او ثاني نه مراد معنی شي نو معنی به یې دا شي چې خاص کیدل د لفظ دي په معنی پدي شان سره چې لفظ ذکر شي نو اطلاق د لفظ او شي نو د هغی نه به خاص لفظ د معنی خاصی ذهن ته راځی

Maktaba Tul Ishaat.com

دویم احتمال: چې دشي اول نه مراد معنی شي او دشي ثاني نه مراد لفظ شي نو معنی به بې داسې شي چې خاص کیدل دمعنی دي په لفظ پورې نو په دواړو احتمالینو کې تخصیص دي.

په اول احتمال سوال: هرکله چه تعریف دلفظ راشي خاص کیدل دلفظ دي په معنی پورې نو دا صحیح نه دي ځکه چې بعضې داسې الفاظ وي معنی یې مختلفې وي لکه عَینٌ په مختلفو معنوکې مستعمل دي مثلاً. سترګې ته ویلی شي عینک ته ویلی شي او چینو ته ویلی شي اودنور (سورج -شمس) سترګې ته ویلی شي او سپینو زرو ته او سرو زرو ته ویل شي او دزنګون غوندئ دوکې ته ویلی شي وغیره وغیره نو داسې قسم الفاظ مشترکه ترې خارج شول ځکه چې خاص کیدل دلفظ دي معنی لره او په بعضې الفاظو کې عموم دي

په دویم احتمال سوال: هرکله چه تعریف بالعکس واخلو نو بیا به خاص والی دمعنی راشي لفظ لره او دا هم صحیح نه دي ځکه چې بعضې الفاظ مترادفه وي یعنې الفاظ ډیروي او معنی یې یوه وي لکه قعود او جلوس په یوه معنی مستعمل دي نو دا قسمه الفاظ ترې هم خارج شول او لفظ مشترکه مذکور ترې هم خارج شول یا خو دا او وایه په دا مهمل دي نو بیا صحیح ده.

الجواب: په تعریف کې تخصیص په معنی دجَعَلَ سره دي یعنې جَعلُ الشئ بالشئ.
مُعترضه په سوال دي راله غوګونه او خوړل او جواب یې دجواب په څیره نه دي.

بله مسئله داده: چې لفظ دمتی اُطلق راځی دشرطیت دپاره یعنې کله چې شي اول ذکرشي نو دویم شي به ترې خامخا فهم ته راځی او کثیر من الالفاظ داسې دي چې اطلاق یې کیږي لیکن معنی ترې فهم ته نه راځی مثلاً حروف تهجی یا حروف جاره لکه مِنْ واخله چې اطلاق یې کیږي لیکن مکمل معنی ترې ذهن ته نه راځی او دغه شان بعضې الفاظ دقرآن پاک هم داسې دي او احادیث هم دي نو **جواب** دادي چې داطلاق نه مراد اطلاق کامل یا صحیح مراد دي لکه مِنْ معنی مکمله ترهغې نه ورکوي چې ترڅو پورې انضمام دبلې کلمې نه وي راغلې او قرآني الفاظ او داحادیثو بعض الفاظ چې دي نو دلته داطلاق نه مراد اطلاق مع العلم دي او اطلاق کامل دي یعني ددي معنی به هله کامله او صحیح وي چې یو سړی دلفظ اول په معنی پوهیږي نو ثاني شي فهم ته راتلل خودبخود راځی لکه مثال چې درب معنی چاله نه ورځی نو دعالمین معنی به ورله هم نه ورځی او چې کله درب معنی پرورش کننده راشي نو ثاني شي چې العالمین دي معنی به هم په ذهن کې راشي

اوَجش: دالفظ یې په تعریف کې ځکه راوړو چې تعریف شامل شي دوال اربعه ته چه

خطوط. نسوق. اشارات اوعقود دی

خطوط: کرخې راخکودل دحساب کتاب دپاره.

نسوق: نخې وډرول دحساب کتاب اومعلوماتو دپاره

اشارات: په لاس سترګه وغیره سره چاته اشاره کول ځان ته دمتوجه کولو دپاره

عقود: د ګوتو حساب کتاب لکه تجارتیان چې په خپل مابین کې دمال اوپیسو حساب کتاب په ګوتو سره کوي. پس داخو الفاظ نه دي خوچې کله یې احساس اوشي نوشي ثاني لره تري فهم حاصل شي

لِمَعْنًى: معنی په لغت کې مقصود اومرادته ویلی شي په اصطلاح کې مَایُقْصَدُ بِالشَّئِ چې هغه مقصود او ګرزي دیو شي نه یعني چې داقصد کړی شي دبل شي نه لکه لفظ دزید دي اوددې معنی حیوان ناطق مع التشخص ده نوګویادا معنی قصد کړی شوه دزیدنه. معنی صیغه داسم مفعول ده داپه اصل کې مَعْنُوِيْنٌ وو واوپه یابدل شو نومَعْنُيْنٌ تري جوړشو اودیا نه ماقبل ضمه وه هغه موپه کسری بدله کړه نومَعْنِيْنٌ شو اودحرف یا ضمه مودثقل دوجهی نه حذف کړه نومَعْنِيْنٌ شو اوبیاد التقاد ساکینینو دوجهی نه مودماقبل کسره په فتحی باندي بدله کړه برایې تخفیف نومَعْنًا تري جوړشو. مَعْنُوِيْنٌ _ مَعْنُيْنٌ _ مَعْنِيْنٌ _ مَعْنِيْنٌ _ مَعْنًا (برایې تخفیف)

مُفْرَدٌ: پدیکې دری احتماله دي (۱) مفرد (مرفوع) (۲) مفرد (مجرور) (۳) مفرد (منصوب)

اول احتمال چې لفظ مفرد کلمه مرفوع شي نوپدي تقدیرباندي به لفظ موصوف شي داخبر دمبتدا واقع شي چې الکلمةُ دي نومبتدا سره دخبرنه جمله اسمیه شوه لکه مذکورترکیب چې دي

دویم احتمال په تقدیر دجر باندي چې مفرد شي نو دابه صفت واقع شي دمعنًا ځکه چې دموصوف او صفت اعراب یوشان وي نومعنی به یې داشي چې کلمه یولفظ ده چې وضع شوي ده دپاره دمعنی داسی معنی چې هغه مفرده وي.

دریم احتمال دامنصوب دي بنابرحالیت پدیکې دوه احتماله دي یاخوحال واقع کیږي معنیٰ اویادهغه ضمیرچې په وضع کې مستتردي که حال دمعنی واقع شي نومعنی به داسی شي چې کلمه یو لفظ دي چې وضع کړی شوي دي دپاره دمعنی په حال دکون دمعنی کښ چې دغه معنی مفرده وي اوکه حال دضمیرمستترنه واقع شي نوترجمه عبارت به داسی شي کلمه یولفظ ده چې وضع کړی شوي ده دپاره دمعنی په حال دکون دلفظ کې چې دغه لفظ مفردوي. دلفظ مفردتفصیل. لفظ مفرد هغه لفظ ده چې جزدده دلالت نه

Maktaba Tul Ishaat.com

کوي په جزد معنی باندي نودي لفظ ته مفردوایي اودي معنی ته معنی مفرده وایي
هر کله چې جزد لفظ دلالت نه کوي په جزد معنی باندي نو په دی کښې څلور صورته دي (عبد په بنده دلالت کوي او الله په خپل ذات دلالت کوي خو داغیر مقصود دي ځکه چې عبدالله دڅادپاره علمیت یعني اسم ګرزیدلی دی) یاخو دلفظ جز نه وي اودمعنی جزهم نه وي لکه مثال همزه استفهامیه یعني دده جزهم نشته اودمعنی جزیې هم نشته
(۲) یاخو جزدلفظ وي خو دمعنی جزنه وي لکه (الله) داجزدلفظ دي خو جزدمعنی یې نشته ځکه چې دابسیط دي یعني صرف په ذات دالله باندي دلالت کوي
(۳) دریم صورت چې دلفظ جزهم وي اودمعنی جزهم وي خوبیاهم دلالت نه کوی لکه لفظ دزید دده دواړه جُزونه شته یعني جزدزید دلالت نه کوی په جزدمعنی چې معنی یې حیوان ناطق مع التشخص ده او داځان دزید معنی نه ده.
(۴) څلورم صورت جزددواړووي لیکن معنی یې غیر مقصودي وي لکه لفظ دعبدالله په حالت دعلت کې یو عبد دي چې جزدلفظ دي او الله جزدلفظ دي نو جزدلفظ دلالت کوي خو غیر مقصود دي وي یعني داصحیح نه دي ځکه چې الله په خپل ذات دلالت کوي او عبدالله یوخاص شخص دي پس داڅلورواړه احتمالات چې کله منتفي شي نولفظ مرکب تري جوړیږي نو دلفظ مرکب معنی داشوه چې جزدلفظ دلالت کوي په جزدمعنی باندي

ترکیب: الکلمة مبتدا **لفظ** موصوف **وضع** فعل ضمیر پکښې نائب فاعل **لام** جاره **معنیً** مجرور جار سره دمجرور دا ظرف لغوه تعلق نیسی وضع پوري وضع فعل سره دنائب فاعل نه دا جمله فعلیه خبریه صفت شوه **مفرد** دري احتماله لري اول احتمال چې کله مفرد ووائی نو پدي وخت کښې به معنیً موصوف او مفرد به صفت شي، دویم احتمال چې کله منصوب ووائی نو معنیً به ذوالحال شي او مفرداً به حال شي، چې کله مفردٌ ووائی نو نو دا به نائب فاعل واقع شي دوضع نه، په ټولو صورتونو کښې به دا ټوله صفت جوړیږي دلفظ موصوف، موصوف سره دصفت نه دا به خبر شي دمبتدا لپاره، مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه

تقسيم دكلمې

وَهِيَ مُنْحَصِرَةٌ فِيْ ثَلٰثَةِ اَقْسَامٍ اِسْمٌ وَفِعْلٌ وَحَرْفٌ لِاَنَّهَا اِمَّا اَنْ لَّاتَدُلَّ عَلٰى مَعْنًى فِيْ نَفْسِهَا وَهُوَ الْحَرْفُ اَوْتَدُلَّ عَلٰى مَعْنًى فِيْ نَفْسِهَا وَيَقْتَرِنُ مَعْنَاهَا بِاَحَدِ الْاَزْمِنَةِ الثَّلٰثَةِ وَهُوَ الْفِعْلُ اَوْتَدُلَّ عَلٰى مَعْنًى فِيْ نَفْسِهَا وَلَمْ يَقْتَرِنْ مَعْنَاهَا بِهٖ وَهُوَ الْاِسْمُ:

ترجمه: او دا كلمه منحصره ده په دريو اقسامو كښې اسم فعل او حرف او وجه حصه ئې داده كه كلمه په خپله معنى باندې په اعتبار د ذات سره دلالت نه كوی نو دا به حرف وی، او كه دلالت كوی په خپله معنى يوی زمانې ته په اعتبار د ذات سره او معنى د دې پيوسته وی يو د دريو زمانو سره نو دا به فعل وی، اوكه په خپله معنى باندې دلالت كوی په اعتبار د ذات سره او يو دريو زمانو ته باندې محتاج نه وی نو دا به اسم وی.

تشريح: مصنف چې كله د تعريف دكلمې نه فارغ شو نو اوس اقسام دكلمې ذكر كوي او بيا هر واحد لره تعريفونه ذكر كوي.

سوال وارديږي چې هِيَ ضمير د مؤنث دي كه دا د الكلمة طرف ته راجع شي نو دا صحيح نه ده ځكه چې الكلمة اسم دي الف لام پرې داخل دي او معنى يې داسې جوړيږي چې اسم كلمه په درې قسمه ده په دې سره لازميږي تقسيم د اسم د خپل نفس او د غير د پاره نو دا غير صحيح دي او كه هِيَ دكلمې مفهوم ته راجع شي نو معنى خو به يې صحيح شي چې مفهوم د كلمې په درې قسمه دي ليكن مفهوم دكلمې مذكر ده او هِيَ ضمير مؤنث ده نو راجع او مرجع مطابقت نه دی صحيح.

جواب: ضمير د هِيَ راجع دي الكلمة ته په اعتبار د مفهوم سره يعني كلمه په اعتبار د مفهوم منحصره (انحصار بندش) ده په دريو اقسامو كې دواړه اعتراضات دفعه شول.

سوال: اسم فعل او حرف مساوي دي په اعتبار د اقسامو دكلمې سره نو اسم په فعل او فعل په حرف ولې مقدم كړی شو

جواب: دا تقديم او تاخير ترجيح بلا مرجع نه دي بلكه د دې د پاره علت او سبب موجود دي هغه دا چې اسم مستقل دي او فعل او حرف مستقل نه دي او اسم مستقل ځكه دي چې داسم سره بغير د انضمام د فعل او د حرف نه مركب تام (جمله) جوړيږي لكه زيد قائم او د فعل سره بغير د انضمام د اسم نه جمله نه جوړيږي لكه ضَرَبَ نو له ورځ وا په هيڅ مطلب تري نه حاصليږي ترڅو چې ورسره اسم نه وي پيوست شوي لكه ضَرَبَ زَيْدٌ نو ځكه اسم بوجه استقلال په فعل مقدم

Maktaba Tul Ishaat.com

کړی شو او فعل په حرف باندي ځکه مقدم دي چي فعل د اسم سره ملاؤشي نو جمله جوړیږی او حرف فقط د اسم سره یا فقط د فعل سره په انضمام جمله سره نه شي جوړولی نو ځکه فعل په حرف مقدم دي خلاصه داده چي ترجیح د علت د مرجع سره ده هغه استقلال دي یعني اسم مستقل فی المعنی دي او فعل او حرف مستقل فی المعنی نه دي .

لِاَنَّهَا: کې اَنّ حرف مشبه بالفعل دي او ها ضمیر اسم دي د اَنّ او لاتدل خبر دي د اَنّ اعتراض دادي چي خبر واجب العمل دي په مبتداهر کله چي لاتدل محمول شو په هاضمیر نو دا صحیح نه ده ځکه چي هاضمیر راجع د الکلمة طرف او لاتدل وصف دي ، مصدر وصف وي ، نو ګویا چي وصف محمول شو په ذات باندي دا نا جائز دي

الجواب: عبارت مقدر دي داسی چي لانها ،من شانها، ان لاتدل او تدل .تحقیق دکلمی شان دادي چي دلالت نکوي یا به کوي په معنی مستقله باندي نو ګویا چي لاتدل خبر دي دمبتدا مقدر من شانها چي کوم وصف دي او د وصف په وصف باندي حمل کول جائز دي

فِیْ نَفْسِهَا: جار مجرور ظرف شو که ظرف لغوه وي نو متعلق به د تدل سره وي او که ظرف مستقر شي نو متعلَق به یې د کائنٌ یا حاصلٌ مقدره سره وي **سوال** دادي که ظرف لغوه شي نو د تدل په صله کې فی راغلی دي او پداسی صله کې فی راځی بلکې د دفی په ځایې باراځی **جواب** دلته فی په معنی د با سره دي یعني بنفسه.

سوال: په تقسیم کې حرف مؤخر دي او په دلیل کې حرف مقدم دي څه وجه ده

جواب: یوه وجه خو داده چي حرف په لغت کې طرف او کناری ته وایي او مصنف لغوي معنی ملحوظه او ساتله او حرف یې په تقسیم کې چي مؤخر یو طرف ته ذکر کړو او په دویم ځایي کې یې مخکې طرف ته ذکر کړو . ځکه چي طرف اول هم وي او وروسته هم وي بخلاف د مینځ نه دویمه وجه داده چي د حرف په تعریف کې یو جزدي ، ان لاتدل علی معنی ، او د اسم د فعل تعریفونه دوه دوه اجزاء وي نو ګویا حرف بمنزله مفرد شو او فعل او اسم مرکب او مفرد مقدم وي په مرکب نو ځکه حرف په دلیل کې مقدم شو .

سوال: په تقسیم کې مصنف اسم په فعل مقدم کړی دي نو به دلیل کې یې فعل ولی مقدم کړو

جواب: دا ځکه چي د فعل معنی وجودي ده او د اسم معنی عدمی ده او وجود مقدم وي په عدم باندي

معنی وجودي: فعل مستقل فی المعنی وي او وجود یکې د زمانو وي یعني اقتران بالزمان وي

معنی علمی: او اسم مستقل في المعنى وي ليکن وجود پکې د زمانو نه وي يعني اقتران پکې د وخت نه وي

ترکیب: **واو** عاطفه **هی** مبتدا **منحصرة** صيغه د اسم فاعل ضمير پکښې مستتر چې هی دا فاعل **فی** جاره **ثلثة** عدد مبهم مميز مضاف **اقسام** تميز مضاف اليه، عدد مبهم مميز مضاف سره د تميز مضاف اليه نه دا مجرور شو د في جاره، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغوه تعلق نيسي په منحصرة پوري، منحصرة صيغه د اسم فاعل او سره فاعل نه او سره د متعلق نه دا جمله فعليه خبريه شو د مبتدا، مبتدا سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه.

اسم وفعل وحرف دا خبر دي لپاره د مبتدا محذوفه چې احدها ده. احد مضاف ها ضمير مضاف اليه. مضاف سره د مضاف اليه نه دا مبتدا شوه، مبتداء سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه معطوف عليها شو **واو** عاطفه **فعل** دا خبر ده لپاره د مبتداء محذوفه چې ثانيها ده ثاني مضاف او ها ضمير مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مبتداء شوه. مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه معطوف اول **واو** عاطفه **حرف** خبر د مبتدا محذوفه لپاره چې ثانيها ده ثالث مضاف ها ضمير مضاف اليه. مضاف سره د مضاف اليه نه دا مبتدا شوه، مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه معطوف ثاني، معطوف سره د معطوفينو نه دا جمله اسميه خبريه معطوفة عليه. **لام** جاره **ان** حرف از حروف مشبه بالفعل **ها** ضمير اسم **اما** ترديديه **ان** مصدريه **لا** نافيه **تدل** **فعل** ضمير پکښې مستتر دي چې هی ده فاعل **علی** جاره **معنیً** موصوف **فی** جاره **نفس** مجرور مضاف **ها** ضمير مضاف اليه نه دا مجرور ده د في جاره، جار سره د مجرور نه متعلق شو کائنةً پوري. کائنةً صيغه د اسم فاعل ضمير پکښې مستتر چې هی ده فاعل او سره د متعلق نه دا صفت کيږي د معنیً موصوف، موصوف سره د صفت نه دا مجرور کيږي د علی جاره، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغوه تعلق نيسي لا تدل پوري، لا تدل فعل ضمير پکښې مستتر چې هی ده دا فاعل او سره د متعلق نه دا په تاويل د مصدر سره خبر دي لپاره د أنّ، **ان** سره د اسم د خبر نه دا مجرور کيږي د لام جاره، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو منحصرةٌ پوري **واو** عاطفه **هو** مبتدا **الحرف** خبر، مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه

او حرف عاطف **تدل** فعل ضمير پکښې فاعل **علی** حرف جر **معنیً** موصوف **فی** حرف جر **نفس** مجرور مضاف **ها** ضمير مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه مجرور کيږي د في جاره، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو کائنٍ پوري، کائنٍ صيغه د اسم فاعل سره د فاعل او سره د متعلق نه دا صفت کيږي د موصوف، موصوف سره د صفت نه دا مجرور کيږي. د على جاره، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو تدل پوري تدل فعل فاعل او سره د متعلق نه دا جمله فعليه معطوفة عليه. **واو** حرف

Maktaba Tul Ishaat.com

عاطف، **يقترن فعل معناها** مضاف مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا فاعل شو ديقترن **باء** جاره **احد** مجرور مضاف **الازمنة** موصوف **الثلاثة** صفت، موصوف سره دصفت نه دا مضاف اليه شو د احد، احد مضاف سره د مضاف اليه نه دا مجرور كيږي دباء جاره، جار سره دمجرو نه داظرف لغو تعلق نيسي يقترن پوري، يقترن فعل فاعل اوسره دمتعلق نه دا جمله فعليه خبريه معطوف، معطوف سره دمعطوف عليه نه دا جمله فعليه خبريه عطف شو په تدل پوري **او** حرف عاطف **تدل فعل فاعل على حرف جر معنى** موصوف **فى** جار **نفسها** مضاف مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مجرور كيږي دفي جاره، جار سره دمجرور نه په اعتبار دمتعلق سره دا صفت كيږي دموصوف، موصوف سره دصفت نه دا مجرور كيږي دعلى جاره، جار سره دمجرو نه دا تعلق نيسي تدل پوري، تدل فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا جمله فعليه معطوفة عليه

واو حرف عاطف **لم** حرف جازم **يقترن فعل معناها** مضاف مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دافاعل شو ديقترن، **به** جار مجرور، جار سره دمجرور نه دا ظرف لغوه تعلق نيسي يقترن پوري، يقترن فعل فاعل اوسره دمتلعق نه دا جمله فعليه خبريه معطوف، معطوف سره دمعطوف عليه نه جمله فعليه خبريه عطف دي په تدل باندي **واو عاطفه هو** مبتدا **الاسم** خبر مبتدا سره دخبر نه جمله اسميه خبريه

تعريف د اسم

فَحَدُّ الاِسْمِ كَلِمَةٌ تَدُلُّ عَلٰى مَعْنًى فِيْ نَفْسِهَا غَيْرُ مُقْتَرِنٍ بِاَحَدِ الْاَزْمِنَةِ الثَّلٰثَةِ اَعْنِيْ اَلْمَاضِيْ وَالْحَالَ وَالْاِسْتِقْبَالَ كَرَجُلٍ وَعِلْمٍ:

ترجمه د اسم تعريف اسم هغه كلمه ده چه په داسې معنى باندي دلالت كوي چه كومه معنى دده په ذات كښې موجوده وي او د دريو زمانو نه يوې زمانې سره پيوست هم نه وي. د دريو زمانو نه زما مراد ماضي، حال، او استقبال دي لكه رَجُلٍ وعِلْمٍ

تشريح سوال په مصنف دا سوال واريديږي چي د هر جز تعريف معلوم شو نو دوباره ولې ذكر كړې شو

جواب اول اجمالاً او اوس تفصيلاً بيانيږي او تفصيل بعد الاجمال في الذهن وي يعني تكرر، تقرر في الذهن

فحد الاسم: دلته فا فصيحيه ده او دا تقاضا د شرط كوي او شرط يې مقدر (مقدم) دي هغه دا دي تقدير د عبارت دا دى إِذَا فَرَغْنَا مِنْ دَلِيْلِ الْحَصْرِ فَحَدُّ الاسم: يا اذا اتينا دليل الحصر فحد الاسم الخ

حد: حد په لغت كې منعې ته وايي او په اصطلاح د منطقيانو كې دا نوم د هغه تعريف دي چي مركب وي د ذاتياتو نه او په اصطلاح د اهل عربيت كې حد هغه تعريف دي چي جامع وي د خپلو افرادو د پاره او مانع وي د دخول د غير نه نو پس دا هغه تعريف دي چي جامع مانع وي د منطقيانو په لحاظ هم صحيح دي چي د جنس او د فصل نه مركب دي نو كلمه (جنس) + تدل على معنى في نفسها (فصل اول) غير مقترن باحد فصل ثاني او اهل عربيت (علمايې نحو) په لحاظ سره هم صحيح دي چي جامع دي افرادو د اسم ته او مانع دي د اغيارو نه چي فعل دي او حرف نو په دي سره احترازراغى د فعل او حرف نه في نفسها، في نفسها كې في د ظرفيت د پاره وضع ده او دلته غير صحيح ده خكه چي ظرف په دوه قسمه ده يو ظرف زمان ده او بل ظرف مكان او نفسها نه زمان دي او نه مكان دي

سوال: في په معنى د با سره دي نو بيا اعتراض دي چي بابه يې ذكر كړې وه

جواب زمان او مكان ته ظرف حقيقي وايي او د دي نه علاوه ظرف مجازي وي لكه ظرف تشبيهي او تنبيهي نو گويا دا في مشابه د ظرف دي لكه الماء في الكوز نو څنگه چي ظرف محيط وي يعني احاطه كونكې وي نو گويا دا معنى د ننه ده په نفس د كلمې كې. نو حاصل دا دي چي بعينه ظرف نه دي بلكه مشابه د ظرف دي.

غير مقترن: په غير مقترن باندي **سوال** دي چي تعريف د اسم جامع با فراده او مانع با غياره نه

Maktaba Tul Ishaat.com

دي ځکه چې اسم هغه کلمه ده چې مقترن نه وي په يو د ازمنه ثلاثه پوري نو ددي نه اسمايې افعال خارج شو ځکه چې دا مقترن دي په زمانو پوري نو تعريف جامع بافراده نه دي

سوال: تعريف د اسم مانع باغياره نه دي ځکه په افعال مقاربه او افعال مدح وذم ته داشامل شو حالا نکه چې دا مقترن نه دي په زماني پوري او دي ته منسلخه عن الزمان وايي نو تعريف مانع د دخول د غير افراده نه دي.

جواب: د دواړو سوالاتو جواب دا دي چې مقترن به نه وي اصل وضع لره نه استعمال. او غير اقتران اصل وضع لره معتبر دي

اصل وضع او استعمال: د کومې معنى د پاره چې اصلي معنى وضع شوي وي او ددي نه بعد چې د غه معنى په بله معنى کې مستعمل شي نو ديته استعمال وايي پس چې کومه کلمه په اصل وضع کې مقترنه نه وي په زمانو ثلاثو پوري نو هغى ته به اسم وايي نو اعتبار اصل وضع لره دي او اسمايې افعال مقترن نه دي په اصل وضع کې او افعال مقاربه مدح ذم ته مقترن دي په اصل وضع کې خو بيا هم خارج نه دي د اسم نه بلکه داغير مقترن په استعمال کې دي **بأحد الازمنة** يدي سره احترازراغی د فعل مضارع نه ځکه چې په هغی کې دوه زمانی دي. يعني اقتران يې په دوه زمانو کې دي.

جواب: دا قيد احترازی نه دي بلکه اتفاقي دي او د اقل لمرتبه د تصريح د پاره دي يعني د يوي زمانی سره به يې اقتران هم نوي

نوټ: غير مقترن په دريو اړو اعراباتو راتلی شي

(۱) **جر**: د جريان مذکور دي (غير مقترن) (۲) **غيرمقترن**: که مرفوع او ويلی شي نو دا مرفوع بناء برخبريت شي او خبر به شي د پاره د مبتدا مقدرې چې هُوَ دي يعني تدل على معنىً في نفسها (هُوَ) غير مقترن (۳) که منصوب او ويلی شي نو بيا به بنابر حاليت حال واقع شي د معنى نو تقدير به داشي تدل (حال کونهٖ) غير مقترن

کرجل وعلم: دوه مثالونه ذکر شو يو د اسم ذات لپاره رجل المذکر من بني آدم او بل د اسم صفت د پاره.

ترکيب: **فا**، تفصيليه **حد** مضاف **الاسم** مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه مبتدا شوه **کلمة** موصوف **تدل** فعل فاعل **على** حرف جر **معنىً** موصوف **في** حرف جر **نفس** مجرور مضاف **هاء** ضمير مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه دا مجرور شو د في جاره جار سره د مجرور نه داظرف

مستقر شو متعلق نيسي په كائنةٌ پوري، كائنةٌ صيغه داسم فاعل ضمير پكښې مستتر چې هي ده هغه فاعل. اسم فاعل سره دفاعل نه او سره دمتعلق نه دا شبه جمله صفت اول شو لپاره دمعنىً موصوف، **غير** مضاف **مقترن** صيغه داسم فاعل **باء** حرف جار **احد** مضاف **الازمنة** موصوف **الثلاثة** صفت، موصوف سره دصفت نه دا مضاف اليه شو لپاره داحد مضاف. مضاف سره دمضاف ليه نه دا مجرور شو دباء جاره، جار سره دمجرور نه دا ظرف لغوه تعلق نيسي مقترن پوري مقترن صيغه داسم فاعل ضمير دهو پكښې فاعل او سره دمتعلق نه دا شبه جمله مضاف اليه لپاره دغير مضاف، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مبين شو **اعني** فعل فاعل **الماضي** معطوف عليه **والحال** معطوف اول **والاستقبال** معطوف ثاني. معطوف سره دمعطوفينو نه دا مفعول به شو داعني لپاره، اعني فعل فاعل اوسره دمفعول به نه دا جمله فعليه بيان شو، مبين سره دبيان نه دا مضاف اليه شو، دا غير مضاف لپاره، مضاف سره دمضاف اليه نه دا صفت ثاني شو دمعنىً موصوف لپاره، موصوف سره دصفتينو نه دا مجرور شو لپاره دعلى جاره، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو تدل پوري، تدل فعل فاعل اوسره دمتعلق نه دا صفت شو لپاره دكلمة موصوف، موصوف سره دصفت نه دا خبر شو لپاره دمبتدا، مبتدا سره دخبر جمله اسميه خبريه **كاف** بمعنى مثل، مثل مضاف، **رجل** معطوف عليه **واو** عاطفه **علمٌ** معطوف، معطوف سره دمعطوف عليه نه دا خبر شو دمبتدا محذوفه چې مثاله ده، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه

علامات د اسم

وَعَلَامَتُهٗ صِحَّةُ الْاِخْبَارِ عَنْهُ نَحْوُ زَيْدٌ قَائِمٌ وَالْاِضَافَةُ نَحْوُ غُلَامُ زَيْدٍ وَدُخُوْلِ اللَّامِ التَّعْرِيْفِ كَالرَّجُلِ وَالْجَرِّ وَالتَّنْوِيْنِ نَحْوُ بِزَيْدٍ وَالتَّثْنِيَةُ وَالْجَمْعُ وَالنَّعْتُ وَالتَّصْغِيْرُ وَالنِّدَاءُ فَاِنَّ كُلَّ هٰذِهٖ خَوَاصُ الْاِسْمِ

ترجمه: علامې د اسم دادي چه له دې اسم نه به خبر وركول صحيح وي لكه زيد قائم او اضافت به وي لكه غُلَامُ زَيْدٍ او لام تعريف داخليدل لكه اَلرَّجُلُ، جر او تنوين داخليدل لكه بِزَيْدٍ او تثنيه او جمع به وي صفت، تصغير او نداء به وي پس دا ټول خواص د اسم دي

تشريح: كله چې مصنف فارغ شو دتعريف داسم نه نو اُس علامات دوضاحت دپاره ذكر كوي دپاره ددې چې اسم يوازې دتعريف نه نه پيژندلې كيږي يعني په تعريف او علامت كې فرق دي

فرق: فرق په مابین ددواړو کې په تعریف سره دیوشي معرفت ذهني حاصلیږي اوپه علاماتو سره دیوشي معرفت خارجي حاصلیږي. علامات داسم مصنف لس ذکر کړي دي (۱) مسند اليه واقع کیدل (۲) اضافت (۳) الف لام (۴) جر (۵) تنوین (۶) تثنیه مثنی (۷) جمع (۸) نعت يعني صفت (۹) تصغير (۱۰) حرف ندا

صحة الاخبار عنه: اولنی تفصیلي بحث قسم په صحته اخبار عنه کې مصنف بیانوي اخبار په معنی دخبر سره دي او په عنه کې ضمیر اسم ته راجع دي معنی به داشي چې صحیح دي خبرورکول داسم نه اوخبر دمبتدا ورکوي اومبتدا مسند اليه وي. نومخبرعنه واقع کیدل داسم دي يعني مسند اليه واقع کیدل داسم دي په کلام کې نومطلب داشو چه اسم به مسند اليه وي لکه زید قائم کښ زید مخبر عنه (مسند اليه) دي او قائم خبر (مسند) دي

دمسندالیه کیدو وجه: وجه یې داده چې فعل مستقل فی المعنی دي اوفعل واضعینو ددي دپاره وضع کړي دي چې دي به مسند وي اوحرف غیر مستقل فی المعنی دي. نو یس اسم مسند اليه وي

(۲) **والاضافة**: دویمه علامه داسم اضافت ده او اضافت دمضاف او مضاف اليه درمیانی نسبت ته وایي. اوس **سوال** واردیږي چې خاصه داسم جرف اضافت دي اومضاف اومضاف اليه تري خارج شول **جواب** دادي اسم به مضاف هم وي اومضاف اليه به هم وي ځکه چې مصنف اضافت ذکر کړي او داضافت نه مضاف اومضاف اليه دواړه مستفاد شو.

وجه یې څه ده (ای وجه الاول) اضافت په دوه قسمه ده لفظی اومعنوي. اضافت معنوي دوه فائدي لري يو تخصیص اوبل تعریف. اواضافت لفظی فقط مفید دتخصیص دپاره وي او دا دریواره فوائد فقط په اسماء کې موجود دیږي نه په افعالو وحروفو کې داځکه خاصه ده داسم ده.

وجه: په واسطی دحروف جارو سره ځکه چې اضافت ددواړو ترمینځه وي لکه غلام زيد، دغلام اضافت نسبت زید ته دجر په واسطه سره شوي ده

(۳) **لام التعريف**: دریمه علامه داسم داده چې په کومه کلمه الف لام داخل شي نوهغه به اسم وي داخاصه داسم ځکه ده چې الف لام دتعین دذات دپاره راځي اوذات اسم دي یالام تعریفی راځي دپاره دتعین دمعنی مستقلي اومطلب یې داوي چې دغه کلمه معینه اوواضحه شي اودفعل اوحرف معنی مستقلي نه ده نولام التعريف ځکه خاصه داسم ده.

سوال: په اسماء خو الف لام دواړه داخلیږي او مصنف صرف لام التعريف ذکر کړي دي څه وجه ده.

جواب: دااختلافی مسئله ده په دیکښې دری مذاهب دي (۱) **سیبویه**: سیبویه داوایي چې حرف تعریفی فقط لام دي **دلیل**: دالام ساکن دي او ابتدا بالسکون محال وي ناجائزوي نوهمزه ورسره وصلی ده اووصلی ځکه ده چې په وصل کښې ساقطیږی لکه (کالرجل) یافاالکتاب. (۲) امام مُبرّد: ده دامام سیبویه مخالفت کړی دي دي وایي چې د تعریف دپاره فقط همزه ده اولام زائده دي ځکه چې همزه په دوه قسمه ده یوه همزه استفهامیه ده اوبله همزه تعریفیه ده نوپه لام سره تمیزراغی دهمزه استفهامئیی نه (۳) **امام خلیل**: وایي چې دتعریف دپاره الف لام مجموعه ده یعني دواړه دي اووجه یې داده چې دَدوي دیوبل سره شدت الاتصال ده که همزه حذف شي نولام قائم مقام دهمزی ګرزی.

عقلی دلیل: تعریف په مثل داستفهام دي اوداستفهام دپاره هَلْ استعمالیږی اوپه هَل کښې دوه حرفه دي نوپکاره ده چې دتعریف دپاره دوه حرفه وي صحّانه مذهب دسیبویه دي نومصنف ځکه لام التعریف ذکرکړو.

سوال: میم هم دتعریف دپاره دي ځکه په حدیث شریف کښې راځی چې یوصحابی پوښتنه اوکړه د پیغمبرﷺنه أمِنْ امبِرّامصِیَامِفی امسَفَرْ نوحضوروَرته اوفرمائیل چې لَیْسَ مِن امبِرّامصیامِفی امسَفردي احادیثونه معلومه شوه چې میم هم تعریفی ده.

جواب: په عربوکښې ژبه یوه وه خودقبائلو جداجدا اصطلاحات ووندوغه حدیث چې کوم صحابی نقل کړی دي دهغوپه اصطلاح میم تعریفی دي اومیم مستقله خاصه داسم نه ده بلکه داد لام التعریف په بدل کښې راغلی ده نومصنف ځکه لام التعریف ذکرکړو چې شامل اومتناول شي میم ته هم. خلاصه لام التعریف مُعتبردي

(۴) **والجر**: واوعطف دي اودتنوین اقسام معطوف دي په لام التعریف دعبارت تقدیربه داسی شي چې دُخول الجر **سوال** دادي چې دخول دکلمی په اول کښې وي نوتقدیرددخول غیرصحیح دي **جواب** دخول اولُحوق دواړه یوشان الفاظ دي چې کله په ابتداکښې زیاتوالی واقع شي نوتعبیریې په لُحوق سره کیږي

علامه داسم ولی ده: علامه داسم ځکه ده چې داجرائردحرف دي اوحروف جاره خواص داسم دي فقط اوکه چرته په فعل باندي حرف جراشي نوبیاتري تاویل اسم ته کولی شي چې مخالفت رانشي داسم نه.

Maktaba Tul Ishaat.com

د تنوین اقسام

(۵) **والتنوین**: واو عطف دي او تنوین معطوف او حکم یې دخول او اعتراض مذکور. معنی به یې داشي چې تنوین لُحوق دي د اسم په آخر پوری تنوین په لغت کې منون مزین کول په اصطلاح کې تنوین نون ساکن دي چې ملحق دي د کلمې په آخر کې او تابع وي د کلمې د آخری حرکت. (لا لتاکید الکلمة)

تنوین خاصه داسم ولی ده تنوین په پنځه قسمه دي. (۱) **تنوین تمکّن** داهغه تنوین دي چې په آخر د منصوب کنبې راځي یعني په آخر اسم متمکن کې راځي. (۲) **تنوین تنکیر** دا د نکرې په آخر کې راځي یعني په اسمایې مُنکرۆ داخلیږي فقط لکه (رجلٍ) وغیره (۳) **تنوین عوضی** دا په عوض د مضاف الیه کې راځي لکه یومَ اذٍ په اصل کې کان کذا وو په حذف سره تري جوړشو (۴) **تنوین مقابله**: داهغه تنوین دي چې په مقابله دجمع مذکرسالم د صیغو د آخری نون په جمع مؤنث سالم کې په آخر کې ملحق کیږي لکه د مسلمون نه د مسلماتٍ تنوین د مقابلې دي (۵) **تنوین ترنم** داهغه تنوین دي چې ملحق کیږي په آخر د ابیاتو کې او د امتداد الصوت د پاره راځي د خوش آوازي د پاره راځي لکه یو شعر.

اَقلّي اللّومَ عَاذِلَ وَالعِتَابَنْ .... وَقُولِي اِنْ اَصَبْتُ لَقَدْ اَصَابَنْ

دلته په شعر کې اَصَابَنْ په اصل کې صیغه د فعل ماضی ده لیکن نون ساکن پکې د ترنم د پاره راغلی دي پس اولنی څلور اقسام مختص دي په اسم پوری او پنځم قسم اسم، فعل، حرف ټولو لره شامل دي خو بیاهم اکثر په اسم پوری ملحق کیږي او اکثر لره حکم د کُل دي نو تنوین خاصه د اسم تنکیر ده د تنوین اقسام یو شاعر په خیالاتو کې بیان کړی دي.

شعر

تنوین پنج قسم شد ای یار من بگیر ✦ اول تمکن است و عوض، ثالث اش تنکیر

دیگر مقابله و ترنم برادرم ✦ این پنج یاد کن که شدي شاه بی نظیر

(۶) **والتثنیة**: د تثنیې نه تر والندا پوری واو عطف دي په علامة باندي او والتنوین عطف دي په دخول باندي شپږمه علامه د اسم مثنٰی کیدل دي

(۷) **والجمع**: اوومه علامه د اسم جمع ده د دي دوارو علامو وجه داده چې دوي دلالت په تعدد باندي کوي او تعدد او تکثر د پاره فقط اسم دي.

اعتراض په افعالوکې هم تثنیه او جمع وي لکه یضربان یضربون وغیره
جواب افعالوکې تثنیه والی او جمع والی په اعتبار داسم سره دي ځکه چې په افعالوکې ضمائر مستتره وي نو په وجه ددغو ضمائرو په افعالوکې تثنیه جمع راځي او ضمائر راجع وي اسماؤ ته نو دا خاصی داسم دي

(۸) **والنعت:** دا داسم اتمه علامه ده . النعت هغه لفظ ته وایې چې دلالت کوي په داسې معنی باندي چې زائده وي په اصلي معنی باندي یا په نورو الفاظو کې النعت صفت ته وایې لکه زَیْدٌ عَالِمٌ په یکې عالم النعت یعني صفت دي او دلالت کوي په معنی زائده باندي ولی چې دزید خپله معنی اصلي حیوان ناطق دي او عالم یو زائده معنی ده یعني صفت دي او فعل او حرف زائده معنی نه قبلوي . دا ځکه خاصه داسم ده

(۹) **والتصغیر:** نهمه علامه مصغّر کیدل داسم دي . فعل او حرف تصغیر دحقارت نه شي جوړیدي . فقط اسم دحقارت دپاره دي یعني اسم مصغّر کیدي شي او فعل او حرف مصغّر کیدي نه شي

(۱۰) **والنداء:** لسمه علامه داسم ندا یعني منادیٰ کیدل دي . نداء فقط منادیٰ ته کیږي او منادیٰ اسماء کیدی شي او افعال او حروف نشي کیدی که یو فعل منادي کړی شي نو دا به دکماله خالی نه وي هغه دا چې په دغه فعل کې به ضمیر منادي کړی شوي وي لکه مثال یَااِضْرِبْ (ای أووهه) یا حرف ندا او په اِضْرِبْ کې ضمیر دأَنْتَ مستتر دي او دا صیغه دامر ده نو پس دغه أَنْتَ یعني مخاطب منادیٰ شو

فان کل هٰذه خواص الاسم: پس هر کله چې دا لس واړه علامی او خواص داسم دي نو دعلامی معنی خو دا ده چې مَالَایَنْفَکُّ عَلَى الشَّیْءِ چې نه جدا کیږي دیو شي . او خواص جمع دخاصی ده او خاصه دیته وایې چې مَایُوْجَدُ فِیْهِ وَلَایُوْجَدُ فِیْ غَیْرِهٖ چې موجوده وي فقط په اسم کې او نه موجودیږي په غیر دده کې نو

سوال دا دي چې څه اسماء داسې دي چې علامات داسم او خواص داسم پکې نه وي لکه ضمائر په ضمائرو الف لام او تنوین نه داخلیږي او دغه شان اسماء اشارات او اسماء موصولات چې تنوین پرې نه داخلیږي
جواب خاصه په دوه قسمه ده یوه خاصه شامله ده او بله خاصه غیرشامله ده دشاملې مثال لکه کتابت بالقوة یعني دا ټولو افرادو ته شامله ده یعني په هر انسان کې دا قوت موجود دي او دغیر شاملې مثال لکه کتابت بالفعل . دا خاصه دانسان ده خو غیرشامله ده

Maktaba Tul Ishaat.com

يعني چې څوك قابل دليكلووي نوهغولره شامله ده نو د اسم بعض خواص شامله دي لكه مسند اليه او مضاف او باقي خواص غير شامله دي ـ په خواص الاسم سره مصنف يوه دفعه د اعتراض كړى ده هغه داچې مصنف اول علامات ذكر كړه نو بيا به دا اعتراض كيدوچې په نورو كتابونو كې مثلاً كافيه شرح جامي وغيره كې يې خواص د اسم ذكر كړي دي نو څكه يې دلته ذكر نه كړه.

تركيب: واو عاطفه **علامته** مضاف مضاف اليه نو دا شوه مبتدا **صحة** مضاف **الاخبار** مصدر **عنه** جار مجرور دا متعلق شو مصدر پوري. مصدر سره د متعلق نه دا ممثل شو **نحو** مضاف **زيد** مبتدا **قائمٌ** خبر. مبتدا سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه مضاف اليه شو لپاره د نحو مضاف. مضاف سره د مضاف اليه نه دا مثال لپاره د ممثل. ممثل سره د مثال نه دا معطوف عليه شو. **واو عاطفه الاضافة** ممثل **نحو** مضاف **غلام** مضاف اليه مضاف. **زيد** نى مضاف اليه. مضاف سره د مضاف اليه نه دا بيا مضاف اليه شو لپاره د غلام مضاف. مضاف سره د مضاف اليه نه دا بيا مضاف اليه شوه لپاره د نحو مضاف. مضاف سره د مضاف اليه نه دا مثال شو لپاره د ممثل. ممثل سره د مثال نه دا معطوف اول شو. **واو عاطفه دخول** مضاف **لام** مضاف اليه مضاف **التعريف** مضاف اليه. مضاف سره د مضاف اليه نه دا بيا مضاف اليه شو دا لام مضاف لپاره. مضاف سره د مضاف اليه نه دا بيا مضاف اليه شو د دخول مضاف. مضاف سره د مضاف اليه نه دا ممثل شو

كاف په معنى د مثل سره دا مضاف شو. **الرجل** مضاف اليه. مضاف سره د مضاف اليه نه دا مثال شو د ممثل. ممثل سره د مثال نه دا معطوف ثاني شو. **واو عاطفه الجر** معطوف عليه **واو حرف عاطف التنوين** معطوف. معطوف سره د معطوف عليه نه دا ممثل شو **نحو** مضاف **باء** جاره **زيد** مجرور جار سره د مجرور نه دا مضاف اليه شو د نحو مضاف. مضاف سره د مضاف اليه نه دا مثال شو د ممثل. ممثل سره د مثال نه دا معطوف ثالث شو **واو عاطفه التثنيه** معطوف رابع **واو عاطفه الجمع** معطوف خامس **واو عاطفه النعت** معطوف سادس **واو عاطفه التصغير** معطوف سابع **واو عاطفه النداء** معطوف ثامن. معطوف سره د معطوفاتو نه دا مضاف اليه شو د صحة مضاف. مضاف سره د مضاف اليه نه دا خبر شو د مبتدا مبتدا سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه. **فاء** په جواب د شرط محذوفه كښې واقع ده تقدير د عبارت دا رنګه ده اذا علمت ان المعدودات علامات الاسم فقد علمت ان جميع هذه المفردات خواص الاسم دا ټوله جمله شرط واقع كيږي **ان** حرف از حروف مشبه بالفعل **كل** مضاف **هذه** اسم اشاره **المعدودات** مشار اليه. اسم اشاره سره د مشار اليه نه دا اسم د ان شو **خواص الاسم**

مضاف مضاف اليه دا خبر شو د ان ، ان سره د اسم او سره د خبر نه دا جمله اسمیه خبریه مفعول به دی دعلمت لپاره علمت فعل فاعل او سره د مفعول به نه دا جمله فعلیه جزا شوه لپاره د شرط، شرط سره دجزا نه دا جمله فعلیه شرطیه شوه.

وَمَعْنَى الْاِخْبَارِ عَنْهُ اَنْ يَكُوْنَ مَحْكُوْمًا عَلَيْهِ لِكَوْنِهِ فَاعِلًا اَوْ مَفْعُوْلًا اَوْ مُبْتَدَأً:

ترجمه: د اخبار عنه معنی داده چه دا به محکوماً علیه وی ځکه چه دا به یا فاعل یا مفعول یا مبتدا وی

تشریح: د اسم په اقسامو کې اولنی قسم واضحه نه وو نو مصنف ځکه د الاخبار عنه تشریح دلته ذکر کوي . د الاخبار عنه معنی داده چې اسم به محکوم علیه واقع کیږي یعني په ده به حکم کیږي او خبر او طلب به ورته کیږي په نورو الفاظو کې به مسند الیه واقع کیږي یعني اسناد به ورته کیږي او محکوم علیه - مسند الیه . او مخبر عنه الفاظ مترادفه دي . د مخبر عنه وجه داده چې اسم به یا فاعل وي او یا به مفعول مالم یسم فاعله وي لکه ضُرِبَ زَيْدٌ او یا به مبتدا وي لکه زيدٌ قائمٌ

ترکیب: واو عاطفه **معنی** مضاف **الاخبار** مصدر **عنه** جار مجرور ، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغوه متعلق شو الاخبار مصدر پوري ، مصدر سره د متعلق نه دا مضاف الیه شو د معنی مضاف ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مبتدا شوه ، **ان** ناصبه مصدریه **یکون** فعل ناقص ضمیر پټ پکښې مستتر چه هو ده هغه ئي اسم **محکوماً** صیغه د اسم مفعول ضمیر پکښې مستتر چی هو ده هغه ئی نائب فاعل **علیه** جار مجرور دا ظرف لغوه متعلق شو محکوماً پوري ، **لام** جاره **کون** مصدري ه ضمیر اسم د کون **فاعلاً** معطوف علیه **او** حرف عاطف **مفعولاً** معطوف اول **او** حرف عاطف **مبتدأ** معطوف ثاني ، معطوف سره د معطوفینو نه دا خبر شو د کون لپاره ، کون سره د اسم او سره د خبر نه دا مجرور شو د لام جاره ، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغوه تعلق نیسی محکوماً پوري ، محکوماً صیغه د اسم مفعول ضمیر پکښې مستتر ده چې هو ده هغه نائب فاعل او سره د دواړو متعلقینو نه دا خبر د یکون شو ، یکون سره د اسم او سره د خبر نه دا جمله اسمیه خبریه په تاویل د مصدر سره دا خبر شو لپاره د مبتدا ، مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه

د اسم وجه تسمیه

(وَيُسَمّٰى اِسْمًا لِسُمُوِّهٖ عَلٰى قَسِيْمَيْهِ)

وَيُسَمّٰى اِسْمًا لِسُمُوِّهٖ عَلٰى قَسِيْمَيْهِ لَا لِكَوْنِهٖ وَسْمًا عَلَى الْمَعْنٰى:

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: او د دی نوم اسم کیخودلی شو دد وجه نه چه دا بلند د په خپل قسیمینو باندي نه دد ی وجه نه چه د اعلامه ده په خپله مسمّی باندي

تشريح: د اسم لفظي تشريح پديکې دوه مذهبه دي يو بصريين او بل کوفين (۱) **بصريين** وايي چې دا په اصل کې سمْوٌ وه (ناقص واوي) اعلال يکې داسې دي چې په واو باندي ضمه ثقيله وه نو حذف شوه نو ميم هم ساکن دي او واو هم ساکن شو پس التقاء الساکنين متجانسين محال دي نو واو مو حذف کړو سمٌ پاتې شو او د سين ضمه مو ماقبل ته ورکړه نو سين ساکن شو او د کلمې په اول کې سکون محال دي نو مخکې موتري همزه راوړه نو اسمٌ شو سُمُوٌ په لغت کې اوچت والي او بلندي ته ويلي شي يعني دا مشابه د سماء (اسمان) سره دي نو څنګه چې اسمان اوچت او عالي دي نو دغه شان اسم هم بلند دي په خپلو اخوينو باندي او اخوين د اسم فعل او حرف دي

(۲) **کوفين**: دوي وايي چې دا په اصل کې وسْمٌ وو دا قانون دي چې واو مکسور مقدم به په همزې بدليږي. نو واو مو په همزه بدل که اسْمٌ تري جوړ شو. او وسْمٌ په لغت کې علامې او نشانې ته ويلې شي او اسم هم يوه علامه ده په خپل مسمّی باندي.

خلاصه مصنف ترجيح د بصريانو مذهب ته ورکړې ده او په کوفيين رد کړي دي.

ترکيب: واو عاطفه **يسمی** فعل ضمير پکښې مستتر چې هو ده هغه ئې نائب فاعل **اسماً** مفعول به **لام** جاره **سمو** مصدر مضاف ه ضمير مضاف اليه. مضاف سره د مضاف اليه نه دا مجرور کيږي د علی جاره، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغوه تعلق نيسي سمو مصدر مضاف پوري، مصدر مضاف سره د مضاف اليه نه او سره د متعلق نه دا معطوف عليه شو. **لام** عاطفه **لام** جاره **کون** مصدر ضمير پکښې اسم چې هي ده **وسماً** مصدر **علی** جار **المعنی** مجرور جار سره د مجرور نه دا متعلق شو وسماً مصدر پوري وسماً مصدر سره د متعلق نه دا خبر د کون شو. کون سره د اسم او خبر نه دا مجرور شو د لام جاره، جار سره د مجرور نه دا معطوف شو د معطوف عليه لپاره. معطوف سره د معطوف عليه نه د مجرور کيږي د لام جاره. جار سره د مجرور نه دا متعلق شو يسمی پوري يسمی فعل فاعل مفعول به او سره د متعلق نه دا جمله فعليه خبريه شوه

دفعل تعريف

وَحَدُّ الْفِعْلِ كَلِمَةٌ تَدُلُّ عَلٰى مَعْنًى فِيْ نَفْسِهَا دَلَالَةً مُقْتَرِنَةً بِزَمَانٍ ذٰلِكَ الْمَعْنٰى كَضَرَبَ يَضْرِبُ اِضْرِبْ.

ترجمه: د فعل تعريف: فعل هغه کلمه ده چه في نفسه په داسې معنی باندي دلالت کوئ چه دريو زمانو نه يوه زمانه په کښې موجود وي لکه ضرب يضرب اضرب

تشريح هرکله چې مصنف داسم د اصطلاحي تعريف او علاماتو او دوجه بې تسمیې نه فارغ شو نو شروع يې د فعل په تفصيل او علاماتو او کړه سره د مثالونو. مصنف په تعريف د فعل کې لفظ د حد ذکر کړه او حد تعريف جامع ته وايې تفصيلي معنی د عبارت تعريف جامع جامع د فعل هسې فعل چې دا يو کلمه ده او هسې کلمه چې دلالت کوي په معنی داسې معنی چې کومه معنی ده په نفس کې ده او دلالت کوي داسې دلالت چې دا (فعل) مقترن وي په يوه زمانه پورې. اُس داسم په عکس **اعتراض** دلته وارديږي هغه دا چه تعريف د فعل جامع بافراده او مانع بغيره (اي مانع باغياره دا دعاشقانو اصطلاح ده) افراد نه دي ځکه چې اسمايي افعال پکې داخل شو او اقتران يې په زمانو پورې دي او دغه شان افعال مُنسلخه عن الزمان ترې خارج شو ځکه چې اقتران يې په زمانو پورې نه دي.

الجواب: اعتبار اصل وضع لره دي اسمايي افعال داخل نه دي په تعريف د فعل بلکه دا داخل دي په تعريف داسم کې ځکه چې دا کله واضعينو وضع کوله نو په هغه وخت کې يې اقتران په زمانو پورې نه وو بلکه په استعمال کې يې اقتران په زمانو پورې راغلی نو اعتبار اصل وضع لره دي نو دا خارج دي دافعالونه. او دغه شان افعال مدح وذم (منسلخ عن الزمان) ددې عکس دي.

بل اعتراض دادي چې په تعريف د فعل کې لفظ د صَبُوحٌ او غَبُوقٌ داخل شو ځکه چې په صبوح کې زمانه د سحر ثابته ده او دغه شان په عبوق کې زمانه د ماښام پرته ده نو داخو افعال نه دي خو تعريف د فعل پرې ثابت شو.

الجواب: داخو مونږ منو چې زمانې پکې ثابتې دي خو صبوح مطلق زمانه سحر ته ويلې شي (د سحر چايې) او عبوق هم مطلق زمانه ماز يګر ته ويلې شي (د ماښام چايې) کچرته دوي په يو وخت دلالت کولې نو بيا به افعال وو پس دا اسماء دي او علامه او خاصه پکې تنوين ده او بله وجه دا ده چې صبوح لغوي معنی شراب ده او د عبوق لغوي معنی هم شراب دي نو په اصل وضع کې پکې اقتران نه وو خو په استعمال د څکلو د شراب و سحر او ماښام په وجه د استعمال کې يې تاويل په چايې سره شوي دي.

ترکيب: واو عاطفه حد مضاف **الفعل** مضاف اليه، مضاف سره مضاف اليه نه دا مبتدا شوه **كلمة** موصوف **تدل** فعل ضمير دهي پکښې مستتر دي هغه ئې فاعل **على** جار **معنى** موصوف **في**

Maktaba Tul Ishaat.com

جار **نفسها** مضاف مضاف الیه نو دا بیا مجرور شو دجار ، جار سره دمجرور نه دا ظرف مستقر شو کائنٌ پوري. کائنٌ صیغه دا سم فاعل ضمیر پکښې مستتر ده هغه فاعل ، فعل سره دفاعل نه او سره دمتعلق نه دا صفت شو دموصوف، موصوف سره دصفت نه دا مجرور کیږي دعلی جاره جار سره دمجرور نه دا ظرف لغو تعلق نیسی تدل پوري، **دلالة** موصوف **مقترنة** صیغه دا سم فاعل ضمیر پکښې فاعل **باء** جاره **زمان** مضاف **ذلك** اسم اشاره **المعنی** مشار الیه اسم اشاره سره د مشار الیه نه دا مضاف الیه شو د زمان مضاف لپاره ، مضاف سره دمضاف الیه نه دا مجرور کیږي دباء جاره، جار سره دمجرور نه دا ظرف لغوه تعلق نیسي مقترنة پوري، مقترنة صیغه دا سم فاعل ضمیر پکښې فاعل اوسره دمتعلق نه دا صفت دموصوف . موصوف سره دصفت نه دا مفعول مطلق کیږي دتدل لپاره تدل فعل فاعل اوسره دمفعول مطلق نه دا صفت کیږي د کلمه موصوف . موصوف سره دصفت نه دا خبر کیږي دمبتدا ، مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه.

کاف په معنی دمثل. مثل مضاف، **ضرب** فعل ضمیر پکښې مستتر چی هو ده هغه فاعل ، فعل سره دفاعل نه دا معطوف علیه شو. **یضرب** فعل ضمیر دهو پکښې فاعل، فعل سره دفاعل نه دا جمله فعلیه خبریه معطوف اول **اضرب** صیغه دامر حاضر معروف ضمیر د انت پکښې مستتر هغه ئی فاعل، فعل سره دفاعل نه دا معطوف ثانی. معطوف سره دمعطوفینو نه دا **جمله فعلیه خبریه** مضاف الیه شو لپاره دمثل مضاف، مثاله مضاف سره دمضاف الیه نه دا مبتدا شوه. مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه.

علامات دفعل

وَعَلَامَتُهُ اَنْ يَصِحَّ الْاَخْبَارُ بِهِ لَاعَنْهُ وَدُخُوْلُ قَدْ وَالسِّيْنِ وَسَوْفَ وَالْجَزْمِ وَالتَّصْرِيْفِ اِلَى الْمَاضِيْ وَالْمُضَارِعِ وَكَوْنِهِ اَمْرًا وَنَهْيًا وَاتِّصَالِ الضَّمَائِرِ الْبَارِزَةِ الْمَرْفُوْعَةِ نَحْوُ ضَرَبْتُ وَتَاءِ التَّانِيْثِ السَّاكِنَةِ نَحْوُ ضَرَبَتْ وَنُوْنَيِ التَّاكِيْدِ.

ترجمه: علامات د فعل دادی چه په دی باندي خبر ورکول صحیح کیږی د بل شی نه دده نه او قَدْ سِیْن سَوْفَ او جزم به داخل وی ماضي او مضارع طرف ته به ئي گردان کیږی امر او نهی به وی او ضمیر بارز به ورسره متصل وی لکه ضَرَبْتُ او تا ، تانیث الساکنه به ور باندي داخل وی، لکه ضَرَبَتْ او نون تاکید به ور باندي داخل وی خفیفه وی او که ثقیله، لکه اِضْرِبَنْ اِضْرِبَنَّ

تشریح: په تعریف سره معرفت دوجود ذهنی حاصلیږی اوپه علامت اوخاصی سره معرفت دوجود خارجی حاصلیږی نو دتعریف نه بعد مصنف علامات دفعل ذکر کوي.

(۱) **اول علامت دفعل** دادي چې صحيح وي خبرور کول دده يعني واقع کيدل دفعل دي مخبربه، محکوم به، مسند به او محمول (د منطقيانو په اصطلاح کې) ان يصح الاخبار به لاعنه دامجموعه علامه دفعل ده (۲) **دويم علامت دفعل** دادي چې قد په کومه کلمه داخل شي نوهغه به فعل وي اوقد په درې معنو سره راځي قدچې کله په ماضي باندي داخل شو نومعنى يې حال ته قريبه کوي (تقريب الماضي الى الحال) لکه قَدرَكِبَ الامیرُ او کله دتحقيق دپاره راځي لکه قدضَرَبَ په تحقيق سره وصل کړې وو هغه يوتن په تيره زمانه کې اوچې په مضارع داخل شي نودتقليل معنى ورکوي لکه قَديَضرِبُ. اودادريواړه معنى په افعالو کې لازميږي نوځکه خاصه دفعل ده .(۳) **سين** (۴) **سوف**: دادفعل دريمه اوځلورمه علامه ده اودادواړه دزمانه استقبال دپاره وضع کړى شوي دي فرق پکې دادي چې سين داستقبال قريب دپاره وي لکه سَيَضرِبُ زرده چې وهل به اوکي هغه يوکس په راتلونکې زمانه کې اوسَوفَ داستقبال بعيد دپاره راځي لکه سوف يضرب لرى ده اوپدي وضاحت سره دا **اعتراض** دفعه اُوشوه هغه داچې ځوك پوښتنه اوکړى چې دادواړه په استقبال کې مستعمل دي نوسين يې ولې په سوف مقدم کړو. **جواب** اَلحَقُّ لِلقَرِيبِ ثُمَّ لِلبَعِيدِ.

بل **اعتراض** دا واردیدیږی چې مصنف په سين باندي الف لام داخل کړى دي اوپه سوف يې نه دي؟

الجواب: سوف حرف داستقبال بعيد دپاره راځي په افعالو کې اوکله کله په اسماؤ کې هم مُستعمليږي اوسين تقريباً په شپږو معنو کې مستعمليږي اوپه هغې کې بعضى اقسام په افعالو کې مستعمل دي نومصنف ځکه په سين الف لام داخل کړو اودالف لام عهدخارجي دي په دي سره اشاره کيږي بعضو اقسامو ته چې کوم په فعل داخليږي.

دسين مختلفي معنى: (۱) دطلب دپاره راځي لکه اِستَفهَمتُهُ (۲) راځي دپاره موندلو دموصوف په صفت باندي لکه اِستَعظَمتَهُ (مااوموندیو سړى چې دعظمت خاوند دي) (۳) دتحويل دپاره راځي يعني دبدليدو دپاره لکه اِستَحجرَ الطِّينُ (خټه په کاڼړى بدله شوه) (۴) دپاره دزيادت هم راځي (سين زائده) لکه اِسطَاعَ دسين په سقوط سره په معنى کې خلل نه راځي (۵) هغه سين چې ملحق کيږي په آخر دکلمي مؤنث مخاطبي کې دکاف ضميري سره لکه مَرَرتُ بِكِ پدي چې کله وقف اوکړى شي نوبيا مَرَرتِ بِكِس وئيلى شي اوديته سين الكسكسه وايي (۶) داستقبال قريب دپاره راځي.

پس خلاصه داشوه چې بغيردسين الكسكسى نه پنځه واړه اقسام مختص دي دفعل پورې.

(۵) **والجزم**: په لغت کې قطعى ته وايي په اصطلاح کې سُقُوطُ الحرکات عن اٰخِرِ الكَلِمَةِ

Maktaba Tul Ishaat.com

جزم د خواصو د فعل نه دي او دخول په معنی دلحوق سره ده یعني دي ملحق کیږي په آخر د کلمي کي او خاصه د فعل ځکه ده چي جزم اثر د عواملو جازمو دي او عوامل جازمه خاص دي په فعل پوري چي مخالفت رانشي د موثر د اثر نه ځکه دا نا جائزه دي

(۶) **والتصریف الی الماضی والمضارع:** ارول د فعل دي کله ماضي کله مضارع کله امر او کله نهی ته او دا بدلیدل په اعتبار د زمانو سره راځی او زمانی نه وي مگر په افعالو کي راځی او مراد د زمانی تري حاصلیږی نو تصرف علامه د فعل شوه. (اعتراض) فعل مضارع د ماضی نه جوړیږی نو دا خو دواړه افعال دي او ماضی د ضرباً نه جوړه شوي او ضرباً مصدر دي یعني اسم دي نو بیا خو دیته هم فعل وئیل پکار دي ځکه چي تصرف پکي کیږي (جواب) الی په معنی د من سره ده او یا تقدیر دي په عبارت کي مضاف الیه محذوف ده. التصریف (فعل اصطلاح) الی الماضی والمضارع (۷) **امر** (۸) **نهی**: امر او نهی دواړه د طلب د پاره راځی لیکن فرق پکي دا دي چي امر د طلب د وجود د فعل د پاره راځی لکه اِضرب (وهل موجود که) او نهی د طلب ترک الفعل د پاره راځی لکه (لاتضرب) (وهل ختم کړه)

(۹) **الضمائر البارزة المرفوعة** نحو ضَرَبْتُ: متصل کیدل دي په فعل پوري د ضمائر و بارزو دا ځکه علامه او خاصه د فعل ده چي دا پخپله فاعل دي او فاعل په فعل کي مستعملیږي. لکه ضَرَبْتَ

(۱۰) **تاء التانیث الساکنة**: تاء ساکنه چي کله د کلمی په آخر کي مُلحقه شي نو دا به فعل وي او تاء متحرکه علامه د اسم ده ځکه چي اسم پخپله خفیف ده او حرکات ثقیل دي او فعل پخپله ثقیل ده او تاء ساکنه خفیفه ده او دا ضابطه ده چي ثقیلي کلمی ته خفیف حرکت ورکولی شي نو ځکه تاي ساکنه خاصه د فعل ده.

(۱۱) **نونی التاکید:** نون تاکید (ثقیله، خفیفه) دواړه علامات او خاصی د فعل دي ځکه چي دا د تاکید المعنی د پاره راځی او تاکید فقط په فعل کي وي په دې وجه دا وضع شوي د فعل مضارع، امر او نهی د پاره او تاکید هم په فعل مضارع کي وي نو ځکه خاصه د فعل ده.

ترکیب: واو عاطفه **علامت** مضاف ۀ ضمیر مضاف الیه. مضاف سره د مضاف الیه نه دا مبتدا شوه **ان** ناصبه مصدریه **یصح** فعل **الاخبار** مصدر **به** جار مجرور دا معطوف علیه شو. **لا** عاطفه **عن** جاره ۀ ضمیر مجرور، جار سره د مجرور نه دا معطوف شو. معطوف سره د معطوف علیه نه دا متعلق شو په الاخبار مصدر پوري، الاخبار مصدر سره د متعلق نه دا فاعل شو لپاره د یصح، یصح فعل

سره دفاعل نه دا جمله فعلیه معطوفة علیه **واو** عاطفه **دخول** مضاف **قد** معطوف علیه **واو** عاطفه **السین** معطوف اول **واو** عاطفه **سوف** معطوف ثاني **واو** عاطفه **الجزم** معطوف ثالث ، معطوف سره دمعطوفینو نه دا مضاف الیه شو د دخول مضاف ، مضاف سره دمضاف الیه نه دا معطوف اول شو ، **واو** عاطفه **التصریف** مصدر **الی** جاره **الماضی** معطوف علیه **واو** عاطفه **المضارع** معطوف معطوف سره دمعطوف علیه نه دا مجرور کیږي دباء جاره ، جار سره دمجرور نه دا ظرف لغوه متعلق شو تصریف مصدر پوري، تصریف مصدر سره دمتعلق نه دا معطوف ثاني شو ، **واو** عاطفه **کون** مصدر **ة** ضمیر کون دا اسم **امرآ** معطوف علیه **واو** عاطفه **نهیاً** معطوف ، معطوف سره دمعطوف علیه نه دا خبر د کون سره، کون سره دا اسم نه دا معطوف ثالث شو **واو** عاطفه **اتصال** مضاف **الضمائر** موصوف **البارزة** صفت، موصوف سره دصفت نه دا مضاف الیه شو د اتصال مضاف لپاره. مضاف سره دمضاف الیه نه ممثل شو. **نحو** مضاف **ضربت** فعل فاعل ، فعل سره دفاعل نه دا مضاف الیه شو دنحو مضاف لپاره، مضاف سره دمضاف الیه نه دا خبر دمبتدا محذوفي لپاره چي مثاله ده مثاله مضاف الیه دا مبتدا شوه، مبتدا سره دخبر نه دا مثال شو دممثل ، ممثل سره دمثال نه دا معطوف رابع شو ، **واو** عاطفه **تاء** مضاف **التانیث** موصوف **الساکنة** صفت، موصوف سره دصفت نه دامضاف الیه شو د تاء دمضاف، مضاف سره دمضاف الیه نه دا ممثل شو **نحو** مضاف **ضربت** فعل فاعل ، فعل سره دفاعل نه دا مضاف الیه شو دنحو مضاف لپاره، سره دمضاف الیه نه دا خبر شو دمبتدا محذوفه چي مثاله ده مثاله مضاف مضاف الیه دامبتدا شو ، مبتدا سره دخبر نه دا مثال شو دممثل ، ممثل سره دمثال نه دا معطوف خامس شو، **واو** عاطفه **نون** مضاف **التاکید** مضاف الیه مضاف سره دمضاف الیه نه دا معطوف سادس شو ، معطوف علیه سره دمعطوفاتو نه دا په تاویل دمصدر سره خبر شو دمبتدا، مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه

خواص الفعل ومعنی الاخبار به

فان کل هذه خواص الفعل:

ترجمه: او دا ټول علامات د فعل دي، دفعل علاماتو ته علامات وئیل صحیح نه دي ځکه چي دعلامت معنی داده چي نه جُدا کیږي دیوشي نه اوپه دیکي بعض علامات داسي دي چي جدا کیږي دفعل نه بلکه دا دفعل خواص غیر شامله دي

ترکیب: **فاء** فصیحیه **ان** حرف از حروف مشبه بالفعل **کل** مضاف **هذه** اسم اشاره **ة** مشار الیه، اسم اشاره سره دمشار الیه نه مضاف الیه شو دکل مضاف. مضاف سره دمضاف الیه نه دا اسم د

ان شو ، **خواص** مضاف **الفعل** مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه دا خبر د انّ شو ، ان سره داسم او خبر نه دا جمله اسمیه خبریه شو

ومعنى الاخبار به ان يكون محكوما به: مصنف داول علامت تشریح پخپله کوي چې محکوم به به واقع کیږي یعني پده سره به حکم کیږي فاعل ته. او دي ته مخبربه ، محکوم به ، مسندبه واقع کیږي دادرې واړه الفاظ مترادفه دي

ترکیب: واو عاطفه **معنى** مضاف **الاخبار** مصدر **به** جار مجرور دا ظرف لغوه تعلق نیسي الاخبار پوري، الاخبار مصدر سره دمتعلق نه دا مضاف الیه شو، دمعنیٰ مضاف لپاره مضاف سره دمضاف الیه نه دا مبتدا شوه، **ان** مصدریه **یکون** فعل از افعال ناقصه هو ضمیر پکښې مستتر هغه ئې اسم **محکوماً** صیغه داسم مفعول **به** جار مجرور دانائب فاعل شو، اسم مفعول سره دنائب فاعل دا شبه جله خبر دیکون، یکون سره دایم او خبر دا جمله فعلیه خبریه په تاویل دمصدر سره خبر دمبتدا شوه، مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه

تعریف دَحرف او وجه تسمیه

وَيُسَمّٰى فِعْلًا بِاسْمِ اَصْلِهٖ وَهُوَ الْمَصْدَرُ لِاَنَّ الْمَصْدَرَ هُوَ فِعْلُ الْفَاعِلِ حَقِيْقَةً وَحَدُّ الْحَرْفِ كَلِمَةٌ لَاتَدُلُّ عَلٰى مَعْنًى فِيْ نَفْسِهَا بَلْ تَدُلُّ عَلٰى مَعْنًى فِيْ غَيْرِهَا نَحْوُ مِنْ فَاِنَّ مَعْنَاهَا الْاِبْتِدَاءُ وَهِيَ لَا تَدُلُّ عَلَيْهِ اِلَّا بَعْدَ ذِكْرِ مَا مِنْهُ الْاِبْتِدَاءُ كَالْبَصْرَةِ وَالْكُوْفَةِ مَثَلًا تَقُوْلُ سِرْتُ مِنَ الْبَصْرَةِ اِلَى الْكُوْفَةِ وَعَلَامَتُهٗ اَنْ لَا يَصِحَّ الْاَخْبَارُ عَنْهُ وَلَا بِهٖ وَاَنْ لَا يَقْبَلَ عَلَامَاتِ الْاَسْمَاءِ وَلَا عَلَامَاتِ الْاَفْعَالِ وَلِلْحَرْفِ فِيْ كَلَامِ الْعَرَبِ فَوَائِدُ كَالرَّبْطِ بَيْنَ الْاِسْمَيْنِ نَحْوُ زَيْدٌ فِي الدَّارِ وَالْفِعْلَيْنِ نَحْوُ اُرِيْدُ اَنْ تَضْرِبَ اَوْ اِسْمٍ وَفِعْلٍ كَضَرَبْتُ بِالْخَشَبَةِ وَالْجُمْلَتَيْنِ نَحْوُ اِنْ جَاءَنِيْ زَيْدٌ اَكْرَمْتُهٗ وَغَيْرِ ذٰلِكَ مِنَ الْفَوَائِدِ الَّتِيْ تَعْرِفُهَا فِي الْقِسْمِ الثَّالِثِ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى.

ترجمه: او د دی نوم ئې فعل کیخودلو د اصل نوم د وجه نه چه هغه مصدر ده ځکه چه په حقیقت کښی دا مصدر د فاعل فعل وی، د **حرف تعریف** چه فی نفسه په خپله معنی باندې دلالت نه کوی بلکه دلالت به کوی په خپله معنی خو په واسطی د غیر سره لکه مِن ځکه چه د دی معنی ابتداء، ده او مِن په ابتدا ، باندې دلالت نشی کولې بغیر ذکر د هغه امر نه چه ابتداء دکوم امر نه شوی وی، لکه سِرتُ مِنَ البَصرَةِ الَی الکُوفَهِ زما د بصری نه کوفی طرف ته سفر وکړو، **علامات** ئې دادی چه نه به دد نه خبر ورکولی شی او نه به د باندې خبر ورکول کیږی او

دا حرف به نه د اسم علامات او نه د فعل علامات قبلوی په کلام عرب کښی د حرف ډيری **فائدی** دی مثلاً دوه اسمونو کښی ربط پیدا کول لکه زَیْدٌ فِی الدَّارِ یا په دوو فعلونو په درمیان کښی لکه اُرِیْدُ اَنْ تَضْرِبَ (زه اراده لرم چه تا اووهم) یا په اسم او فعل په درمیان کښی لکه ضَرَبْتُ بِالْخَشَبَةِ (ما په لرګی سره اووهلو) یا په دوو جملو په درمیان کښی لکه اِنْ جَاءَنِیْ زَیْدٌ اَکْرَمْتُهٗ (زید کچرته ما ته راغی نو زه به نی اکرام وکړم) دی نه علاوه نوری فائدی هم شته چه هغه به ان شاء الله په قسم ثالث کښی زده کړی.

تشریح: مصنف دفعل وجه تسمیه اولغوي تشريح تفصيلاً ذكر كوي چې فعل مسمٰى كولى شى په اعتبار د معنى لغوي او معنى اصلي سره. فعل اصطلاحي مركب د دريو اجزاؤ نه دي يو معنى مصدرى حدثى او بل نسبت الى الفاعل او دريم اقتران بالزمان، او دفعل خپله معنٰى لغوي مصدري حدثي ده او په اصطلاحي تعريف دفعل كې هم اولني معنى حدثي ده نو گويا فعل مسمٰى دخپلى اصطلاحي معنى ديو جزنه دي نو دا تسميه د كل ده په اسم دجز سره (تسمية الكل باسم الجز) او دا دريواړه اجزاد فاعل فعل نشي جوړيدي بلكه يو جزچې هغه معنى مصدري ده او معنى مصدري ته فعل لغوي وايې او دا جُزاعظم دي په خپلو اخوينو باندي (نسبت الى فاعل، اقتران بالزمان) نو ځكه دټول مركب نوم فعل وضع شو.

وحد الحرف: مصنف چې كله دفعل د تعريف، علاماتو او خواصو او دلغوي تفصيل نه فارغ شو نو شروع د حرف په تعريف علاماتو، مثالونو او كړه. حد تعريف جامع مانع ته وايې او دعبارت ترجمه داده چې حرف يو داسې كلمه ده چې دلالت نكوي په معنى مستقله داسې معنى چې دغه معنى په نفس دده كې وي بلكه دلالت كوي په داسې معنى چې په غير دده كې وي **اعتراض** نو پس دعبارت نه دا معلوميږي چې دي په نورو كلماتو دلالت كوي او په خپله معنى دلالت نكوي او دا خلاف عقل ده جواب د حرف په تعريف كې دواړه (فى) په معنى د باسره دي نو ترجمه به داسې شي چې حرف يو كلمه ده چې دلالت نكوي په سبب ددغه خپلې معنى بلكه دلالت به كوي په سبب او په اعتبار د غير سره مثال لكه مِنْ نو دمن خپله معنى په هغه وخت كښى فهم ته راځي چې انضمام يي دبل چاسره راشي وهي لاتدل عليه الابعد ذكر ما منه الابتداء: هي ضمير مِنْ ته راجع دي او په عليه كې ضمير ابتداء ته راجع دي.

سوال: دمِنْ معنى خو ذكر شوه چې ابتداء ته وايې نو په دي خو تعريف د حرف نه ثابتيږي يعني مِن د حرف غير او گرزيدو؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: ابتداء په دوه قسمه ده ابتداء کلي، ابتداء جزي. ابتداء کلي عامه ابتداء ده دهرځای نه شروع ته وایې او ابتداء جزي چې دیو خاص ځای نه شروع شي یادیومعین اومخصوص ځایې نه شروع کیږې نوګویامعنی دوه شوي ابتداء کلي ابتدایې مطلقه ده دامعنی مستقله ده اودافهم کیږې بغیرد انضمام دبلی نه اوابتداء جزي دامعنی غیرمستقله ده اودابغیرد انضمام دبلی کلمی نه نه حاصلیږي: نوپس دمنْ معنی ابتداء جزي ده. لکه سرت من البصرة الی الکوفة. منْ ابتداء جزي ده خپله ورسره بصره ذکرشوه نومعنی تري فهم ته راغله (الی په معنی دانتهادي)

وعلامته: خالي کیدل دحرف دي دعلاماتو داسم اوفعل نه یعني نه به دي مخبرعنه واقع کیږې اونه مخبربه یعني یوعلامه اوخاصه دحرف اوګرزیده

سوال: حرف په خپله معنی دلالت هم نکوي اونه به مسند الیه وي اونه به مسندوي نوداخوبې فائدي دي په کتابونوکښې

جواب: فوائدخان له علامات دفعل اواسم نه دي بلکه نورهم ډیرفوائد دي چې مصنف په خپله ذکرکړی دي. مثلاً غته فائده یې داده چې دي ددوو جملتینو اودوه کلمتینو اوددوه فعلتینوپه مابین کې ربط یعني پیوست والی راولی

ترکیب: واو عاطفه **یسمی** فعل ضمیر دهو پکښې فاعل **فعلاً** مفعول به **باء** جاره **اسم** مضاف **اصل** مضاف الیه مضاف ة مضاف، مضاف سره دمضاف الیه نه دا بیا مضاف الیه کیږي داسم مضاف لپاره مضاف سره دمضاف الیه نه دا مجرور کیږي دباء جاره، جار سره دمجرور نه داظرف لغوه تعلق نیسی یسمی پوري، یسمی فعل فاعل مفعول به اوسره دمتعلق نه دا جمله فعلیه خبریه

واو عاطفه **هو** مبتدا **المصدر** خبر، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه، **لام** جاره **ان** حرف از حروف مشبه بالفعل **المصدر** اسم **هو** مبتدا **فعل** مصدر مضاف **الفاعل** مضا الیه **حقیقة** مفعول به مصدر مضاف سره دمضاف الیه اوسره دمفعول به نه دا خبر شو دمبتدا لپاره، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه خبر د انّ، ان سره د اسم او خبر نه دا مجرور دجار، جار سره دمجرور نه داظرف لغوی متعلق ثابت پوري، ثابت صیغه داسم فاعل ضمیر پکښې نائب فاعل اوسره دمتعلق نه دا خبر د مبتدا محذوفه شو چې هذا ده، مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه شوه

واو عاطفه **حد** مضاف **الحرف** مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه دا مبتدا شوه **کلمة** موصوف **لا** نافیه **تدل** فعل فاعل **علی** جار **معنیً** موصوف **فی** جاره **نفس** مجرور مضاف **هاء** ضمیر

مضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه دا مجرور شو دفي جاره ، جار سره دمجرور نه دا په اعتبار دمتعلق سره صفت شو دمعنی موصوف، موصوف سره دصفت نه دا مجرور کیږي دعلی جاره ، جار سره دمجرور نه دا تعلق نیسی تدل فعل پوري ، تدل فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا جمله فعلیه معطوف علیه، **بل** عاطفه **تدل** فعل فاعل **علی** جاره **معنیٰ** موصوف **فی** جاره **غیرها** مضاف مضاف الیه دا مجرور شو دفي جاره جار سره دمجرور نه دا په اعتبار دمتعلق سره صفت کیږي دمعنیٰ موصوف موصوف سره دصفت نه دا مجرور کیږي د علی جار سره دمجرور نه دا ظرف لغوه تعلق نیسی تدل پوري . تدل فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا جمله فعلیه معطوف . معطوف سره دمعطوف علیه نه دا صفت شو لپاره دکلمة موصوف موصوف سره دصفت نه دا خبر شو لپاره دمبتدا . مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه **نحو** مضاف **من** مضاف الیه. مضاف سره دمضاف الیه نه دا خُبر شو لپاره دمبتدا محذوفه چی مثاله ده. مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه

فاء تفصیلیه **معنی** مضاف **ها** مضاف الیه. مضاف سره دمضاف الیه نه دا مبتدا شوه **الابتدا** خبر .مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه **واو** عاطفه **هی** مبتدا **لا**، نافیه **تدل** فعل فاعل، **علی** جاره، م ؤ مجرور، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو تدل پوري، **الا** حرف استثنی **بعد** مضاف **ذکر** مضاف الیه مضاف **ما** موصوله یا موصوفه **من** حرف جار، ؤضمیر مجرور، جار سره دمجرور نه دا په اعتبار د متعلق سره خبر مقدم **الابتداء** مبتدا مؤخر ، خبر مقدم سره دمبتدا مؤخر نه دا صله شوه لپاره د ما موصوله، موصول سره دصله نه. دا مضاف الیه کیږي د ذکر مضاف لپاره ، مضاف سره دمضاف الیه نه دا بیا مضاف الیه کیږي دبعد مضاف لپاره. مضاف سره دمضاف الیه نه دا مستثنی مفرغ شوه دمستثنی منه مقدره لپاره چی فی وقت من الاوقات ده. مستثنی مفرغ سره دمستثنی منه نه دا متعلق شو تدل فعل پوري . تدل فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا جمله فعلیه خبریه خبر ده لپاره دهی مبتدا، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه

کاف بمعنی مثل مضاف **البصرة** معطوف علیه **واو** عاطفه **الکوفة** معطوف. معطوف سره دمعطوف علیه نه دا بیا مضاف الیه کیږي دمثل مضاف. مضاف سره دمضاف الیه نه دا خبر کیږي دمبتدا محذوفه چی مثاله مضاف مضاف الیه دا مبتدا شوه. مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه .

مثلاً دا مفعول مطلق ده لپاره دفعل محذوفه چی مثلت ده مثلت فعل فاعل سره دمفعول مطلق نه دا جمله فعلیه خبریه شوه **تقول** فعل فاعل قول **سرت** فعل فاعل **من** جاره **البصرة** مجرور جار سره دمجرور نه دا متعلق شو سرت پوري **الی** حرف جر **الکوفة** مجرور جار سره دمجرور نه دا متعلق شو

Maktaba Tul Ishaat.com

سرت پورې سرت فعل فاعل سره دمتعلقينو نه دا جمله فعليه مقوله، قول سره دمقولې نه جمله فعليه قوليه شوه **واو** عاطفه **علامة** مضاف ةضمير مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مبتدا شوه **ان** ناصبه مصدريه **لا** نافيه **يصح** فعل مضارع معروف **الاخبار** مصدر **عنه** جار مجرور دا معطوف عليه شو **واو** عاطفه **لا** نافيه **به** جار مجرور دا معطوف شو، معطوف سره دمعطوف عليه نه دا تعلق نيسي الاخبار مصدر پورې، مصدر سره دمتعلق نه دا فاعل شو لپاره د يصح. يصح فعل سره دفاعل نه جمله فعليه په تاويل دمفرد سره معطوف عليه **واو** عاطفه **ان** ناصبه مصدريه **لا** نافيه **يقبل** فعل ضمير دهو پکښې مستتر هغه ئې نائب فاعل **علامات** مضاف **الاسماء** مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مفعول به شو د يقبل، يقبل فعل فاعل مفعول به نه دا معطوف شو لپاره دمعطوف عليه، معطوف سره دمعطوف عليه نه دا خبر شو لپاره دمبتدا. مبتدا سره دخبر نه جمله اسميه خبريه.

واو عاطفه **حرف** موصوف **فى** جاره **كلام** مضاف **العرب** مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه دا مجرور شو دجار، جار سره دمجرور نه دا صفت شو لپاره دموصوف. موصوف سره دصفت نه دا خبر مقدم شو **فوائد** صيغه جمع كثرت **كاف** جاره **ربط** مصدر مضاف شو دا بيا مضاف شو دربط مضاف لپاره، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مجرور شو دكاف جاره لپاره. جار سره دمجرور نه دا متعلق شو فوائد پورې، فوائد سره دمتعلق نه دا معطوف عليه شو. **او** عاطفه **الفعلين** ممثل **نحو** مضاف **اريد** صيغه واحد متكلم ضمير پکښې مستتر د چې هغه انا دې دا فاعل **ان** ناصبه مصدريه **تقرب** فعل فاعل، فعل سره دفاعل نه دا مفعول به شو لپاره د اريد. اريد فاعل فاعل مفعول به دا مضاف اليه شو لپاره دنحو مضاف. مضاف سره دمضاف اليه نه دا مثال شو، ممثل سره دمثال نه دا معطوف اول شو، **او** عاطفه **اسم** معطوف عليه **واو** عاطفه **فعل** معطوف، معطوف سره دمعطوف عليه نه دا ممثل شو، **كاف** په معنى دمثل مضاف، **ضربت** فعل ضمير د انا فاعل **باء** جاره **الخشبة** مجرور، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو ضربت پورې، ضربت فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا مضاف اليه شو، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مثال شو ممثل سره دمثال نه دا معطوف ثاني شو **او** عاطفه **الجملتين** ممثل **نحو** مضاف **ان** حرف ضرذ **جاء** فعل **نون** وقايه وقايه ياء ضمير ومتكلم مفعول به **زيد** فاعل. فعل فاعل او سره دمياء دمتكلم مفعول به دا جمله فعليه فعل شرط **اكرمت** فعل ضمير د انا پکښې فاعل **ه** ضمير مفعول به فعل سره دفاعل او سره دمفعول به نه دا جمله فعليه جزاء شرط. فعل شرط سره دجزاء نه دا جمله فعليه معطوف ثالث. معطوف سره دمعطوفاتو ثلاثه نه دا مبتدا موخر شوه. خبر مقدم سره دمبتدا مؤخر نه دا جمله اسميه خبريه.

واو عاطفه **غير** مضاف **ذاک** موصوف **من** جاره **الفوائد** موصوف **التى** اسم موصول **تعرف** فعل ضمير د انت فاعل **فى** جاره **القسم** موصوف **الثالث** صفت، موصوف سره د صفت نه دا مجرور کيږي د في جاره، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو تعرف پوري، تعرف فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا صله شو د موصول ، موصول سره دصله نه دا صفت شو لپاره دموصوف ، موصوف سره دصفت نه دا مجرور دجار، جار سره دمجرور نه دا صفت کيږي دموصوف، موصوف سره دصفت نه دا مضاف اليه شو دغير مضاف سره دمضاف اليه نه دا جزا مقدم **ان** شرطيه **شاء** فعل **الله** ذوالحال **تعالى** حال ، حال سره دذوالحال نه دا فاعل شو ، فعل سره دفاعل نه دا شرط مؤخر. شرط سره دجزاء نه دا جمله فعليه شرطيه شوه.

وَيُسَمّٰى حَرْفًا لِوُقُوْعِهٖ فِي الْكَلَامِ حَرْفًا اَىْ طَرَفًا اِذْ لَيْسَ مَقْصُوْدًا بِالذَّاتِ مِثْلُ الْمُسْنَدِ وَالْمُسْنَدِ اِلَيْهِ:

ترجمه او د دې نوم حرف دی ځکه چه دا په کلام کښې طرف ته واقع کيږي ځکه چه حرف مسند او مسند اليه په شان مقصود بالذات نه دہ.

تشريح: حرف مسمیٰ کولی شي په معنى لغوي سره چې طرف او کناري ته وايي لکه عرب مقوله پيش کوی چې جَلَسْتُ حرفَ الوادي اى طرفَ الوادي .نو حرف اصطلاحي ته حرف ځکه وايې چې دې هم کلام کې يو طرف ته وي **سوال** تا دا او ويل چې يو طرف ته وي ځکه ورته حرف وايې نو زيد فى الدار کې خوفى حرف نه دي ځکه چې دې خو په عين وسط کې واقع دې.

جواب په جمله کې مقصود دي شيان دوه دي مسند او مسند اليه نو ګويا حرف دمسند نه يو طرف ته واقع کيږي. يا مخکې يا روستو د دوی نه

تركيب: **واو** عاطفه **يسمى** فعل هو ضمير پټ‌پنبی فاعل **حرفاً** مفعول به **لام** جاره **وقوع** مصدر مضاف **ه** ضمير مضاف اليه **فى** جار **الكلام** مجرور جار سره دمجرور نه دا ظرف لغوه تعلق نيسي وقوع مصدر پوري، **حرفاً** مُفَسَّرْ اى حرف تفسير **طرفاً** مُفَسِّرْ. مفسر سره دمفسر نه دا مفعول به کيږي لپاره دوقوع مصدر، وقوع مصدر مضاف سره دمضاف اليه او سره دمفعول به او سره دمتعلق نه دا مجرور کيږي دلام جاره، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو يسمى پوري، **اذ** مضاف **ليس** فعل از افعال ناقصه ضمير دهو پټ‌پنبی مستتر هغه ئې اسم **مقصوداً** صيغه داسم مفعول **بالذات** جار مجرور ، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو مقصوداً پوري، مقصوداً صيغه داسم مفعول سره دمتعلق نه دا خبر کيږي د ليس ، ليس سره داسم او خبر نه دا مفعول فيه کيږي د يسمى لپاره، يسمى فعل فاعل مفعول بها او

Maktaba Tul Ishaat.com

سره دمفعول فیه نه او سره د متعلق نه دا جمله فعلیه خبریه شوه.

مثل مضاف **المسند** معطوف علیه واو عاطفه **المسند** معطوف، معطوف سره د معطوف علیه نه دا مضاف الیه کیږي د مثل مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه دا خبر کیږي لپاره د مبتدا محذوفه چې هو ده، مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه

بحث دکلام

فَصْلٌ: اَلْكَلَامُ لَفْظٌ تَضَمَّنَ كَلِمَتَيْنِ بِالْإِسْنَادِ:

ترجمه: کلام یو لفظ ده چې مشتمل ده په دوه کلمتینو داسې کلمتین چې اسناد وي په کښې وی

تشریح: مصنف چې کله د موضوع د یو جز نه فارغ شو نو اُس د موضوع د دویم جُز تشریح او وضاحت کوي چې کلام ده په بالاسناد کې باء د سببیت ده او اسناد نسبت ته وایې پس کلام یو لفظ ده، چه مشتمل په دوه کلمو کښې وی په سبب د اسناد سره او دغه اسناد به نسبت د یو امر یل امرته وي او دواړه به مسند مسند الیه وي . په بالاسناد کې دوه احتماله دي یا به ظرف لغو شي او متعلق به یې تضمن شي او د عبارت **ترکیب** به داسې شي الکلام مبتد الفظ موصوف تضمن صیغه د ماضي د باب تَفَعُّل ضمیر پکې مستتر دي چې راجع دي لفظٌ ته . کلمتین مفعول به بالاسناد جار مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو د تضمن فعل پوری، فعل سره د خپل فاعل مفعول به او متعلق نه جمله فعلیه دا صفت شو د پاره د موصوف موصوف سره د صفت نه خبر د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله (خبریه اسمیه) دویم احتمال چې متعلق یې ظرف مستقر شي نو د عبارت تقدیر به داسې شي چې الکلام لفظٌ تضمن (تضمنًا) کلمتین (حاصلاً) بالاسناد په دې صورت کې به حاصلاً سره د خپل متعلق نه مفعول مطلق شی د پاره د تضمن.

سوال: په مصنف دا سوال دي چې د الکلام نه مخکې حرف عطف پکار وو ځکه چې مخکې په موضوع کې الکلمة والکلام ذکر دي نو په قیاس د دي چې ځنګه بحث د کلمی ختم شو نو ورپسی بحث د کلام دي چې کلام معطوف شي او کلمة ورله معطوف علیه شي.

جواب: دا یې ځکه نه دي ذکر کړی چې کلام معطوف شي او الکلمة معطوف علیه شي او دا قانون دي چې معطوف تابع وي او معطوف علیه یې متبوع وي او متبوع اصل وي او تابع فرع وي نو داسې نه شي کیدي ځکه چې متبوع غیر مستقل کلمه ده او کلام (تابع) مستقل دي او اصل دي پدي معنی سره چې دا مفید د فائدي د پاره دي یعني جمله وي او فائده تري حاصلیږي نو ددي

وجی نه حرف عطف ذکرنه شو او بناء د کلام په معنی مستقله شوه هرتعریف لره جنس اوفصل پکاروي نوپه تعریف دالکلام کې جنس لفظٌ دي چې مرکباتو اومفرداتو اومهملاتوټولوته شامل دي ـ اوتضمن کلمتین فصل اول دي اوبالاسنادفصل ثاني دي په فصل اول سره احترازراغی دمفرداتونه اوپه فصل ثاني سره احترازراغی دَ مرکبات غیرکلامیه نه.

تقسیم دَمرکب

مرکبات جمع دمرکب ده اومرکب دَدوه یادزیاتوکلموٍمجموعی ته وایي ـ په کلام عربی کې مرکب په شپږقسمه دي

(۱) **مرکب مفید:** هغه ده چې متکلم تلفظ اوکې اوچپ شي اومخاطب ته څه خبریاطلب ملاؤشي (چون قائل برای سکون کندوسامع راخبری یاطلبی حاصل شود) اودې ته مرکب اسنادي هم وایي اومرکب تام ورته هم وایي اوددي نه علاوه مرکب غیرتامه دي مرکب ناقصه)

(۲) **مرکب تقیدي:** هغه مرکب دي چې دویم جُزیې قیدوي دپاره دَاول

(۳) **مرکب غیرتقیدي:** چې اول جزیې قیدد دویم دپاره نه وي:

مرکب تقیدي په دوه قسمه دي (۱) **مرکب اضافی** : چې اضافت پکې شوي وي لکه غلام زیدٍ (۲) **مرکب توصیفی** : چې ماهیت اوصفت پکې وي لکه زیدٌ عالمٌ

اومرکب غیرتقیدي په دری قسمه دی.

(۱) **مرکب عددي یاتعدادي:** داحَدَعَشَرَنه تاتسعةَ عَشَر

(۲) **مرکب مزاجی یاأمتزاجی:** امتزاجی اتصال ته وایي نوپه دیکې هم پیوستوالی ددوه کلموراځی بغیرد عطف نه لکه (بَعلَبَكَ) بَعَل یواسم دي او بَكَ بل اسم دي.

(۳) **مرکب صوتی:** چې په دویم جزکې یې صوت (اواز) وي لکه سیبویه ـ سیب یو کلمه ده اوآخری جزوبَه ده.

فائده اولنی مرکب مفید (مرکب تامه ، مرکب اسنادي) دي اوددي نه علاوه پنځه واړه مرکبات غیرکلامیه دي

(۴) **جنس:** چې مقصودي اوغیرمقصودي اشیاؤتولولره شامل وي

ترکیب: فصل ای هذا فصل ثالث ، **هذا** مبتدا **فصل** موصوف **ثالث** صفت، موصوف سره دصفت نه دا خبر کیږي دمبتدا الپاره چې هو ده، مبتدا سره دخبر نه جملهٔ اسمیه خبریه **الکلام** مبتدا

Maktaba Tul Ishaat.com

لفظ موصوف تضمن فعل فاعل كلمتين مفول به، **بالاسناد** جار مجرور دا ظرف لغوه شو تعلق نيسي تضمن پوري، تضمن فعل فاعل مفعول به او سره د متعلق نه دا صفت كيږي لپاره د موصوف . موصوف سره د صفت نه دا خبر كيږي لپاره د مبتدا . مبتدا سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه

فصل: د دې په ذريعى سره د تعريف نه غير مقصودي اشياء خارجيږي

- مركب
  - مركب مفيد
  - مركب تقيدي
    - مركب اضافى
    - مركب توصيفى
  - مركب غير تقيدي
    - عددي
    - امتزاجى
    - صوتى

(اعتراضات په تعريف دكلام باندي)

يو شاعر د مركباتو اقسام د خيال په طرز سره ذكر كړي دي چې هغه لاندې ليكل شوي

بود تركيب نزد نحويان شش بيادش گير گر خائف زفوتى
اضافى دان تعدادي مزاجى هم اسنادي وتوصيفى وصوتى

په كلام كې فقط يو مركب اسنادي مراد دي او په بالاسناد سره نور پنځه واړه خارج شول

سوال: په مصنف دا سوال دي چې تعريف د كلام منقوض دي په زيدٌ قائم ابوهٗ باندي يعني په دې كې درى كلمى دي او كلام متضمن په دوه كلمتينو وي نو تعريف پرى ثابت نه دي .

جواب: زمونږ مراد د كلمتينو نه عامى كلمى دي كه حقيقتاً وي او كه تاويلاً وي نو په زيدٌ قائم ابوه كې په ظاهره درى كلمى دي خو تاويل دي يكې يعني زيد دوه كلمتين دي بعدهٗ طاويل زيد مبتدا قائم مضاف ابوه مضاف اليه . مضاف سره د مضاف اليه نه خبر شو د مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه . نو يوه كلمه زيد شوه او بله كلمه قائم الاب شوه.

سوال تعريف د كلام منقوض دي په اِضرِب باندي ځكه چې دا يوه كلمه ده.

جواب: زمونږ مراد عام دي د كلمتينو نه كه لفظاً وي او كه حكماً وي په اضرب كې انت ضمير مستتر دي تلفظ پرى نه كيږي خو حكماً موجود دي نو تقدير د عبارت به داسى شي (اِضرِب انتَ)

نوټ: تضمن په معنی د ترکّب سره ده یعني چې مرکب شي د دوه کلمونه او په لغت کې (گرفتن) نیولو ته وایې نو گویا دي دځان سره دوه کلمې رانسې. پس په تعریف د کلام کې د اسناد نه علاوه نور الفاظ د معنو په لحاظ سره واضح وو نو مصنف د اسناد تشریح کوي.

وَالْإِسْنَادُ نِسْبَةُ إِحْدَى الْكَلِمَتَيْنِ إِلَى الْأُخْرٰى بِحَيْثُ تُفِيْدُ الْمُخَاطَبَ فَائِدَةً تَامَّةً يَصِحُّ السُّكُوْتُ عَلَيْهَا نَحْوُ زَيْدٌ قَائِمٌ وَقَامَ زَيْدٌ وَيُسَمّٰى جُمْلَةً:

ترجمه: او اسناد دیته وائی چه نسبت دیوی کلمی نه بلی کلمی ته په داسې طریقې سره دی چه مخاطب ته فائده تامه ورکوی چه سکوت وربانديې صحیح کیږی لکه زَیْدٌ قَائِمٌ او قَامَ زَیْدٌ او دی کلام ته جمله هم وئیلی شی.

تشریح: اسناد په لغت کې نسبت ته وایې په اصطلاح کې نسبت دیوي کلمې بلې کلمې ته بیا برابره خبره ده که دغه نسبت د اولی کلمې نه دویمې ته شوي وي او که د دویمې کلمې نه اولی ته شوي وي چې اسناد د اولی شوي وي دویمې ته نو اول جز ته مسند او دویم جز ته مسند الیه وایې لکه زیدٌ قائمٌ د زید نسبت قائم ته شوي دي نو زید مسند الیه دي او قائم مسند دي او چې کله نسبت د دویمې اولی ته اوشي لکه قائم زیدٌ نو د زید نسبت اولی ته شوي دي او قائم مسند دي او زید مسند الیه نو گویا جملې دوه شوي یوه جمله اسمیه او بله جمله فعلیه نو مصنف په عبارت کې لیکلي دي چې (یُسَمّٰی)

ترکیب: **واو** عاطفه **الاسناد** مبتدا **نسبة** مضاف مصدر **احدی** مضاف الیه مضاف **الکلمتین** مضاف الیه **الی** جاره **الاخری** مجرور. جار سره د مجرور نه ظرف لغوه تعلق نیسی نسبت مصدر پوري **باء** جاره **حیث** مضاف **تفصلیه** فعل فاعل **المخاطب** مفعول به **فائدة** موصوف **تامة** صفت، موصوف سره د صفت نه دا بیا موصوف کیږي **یصح** فعل **السکوت** فاعل **علیها** جار مجرور، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغوه تعلق نیسی یصح پوري، یصح فعل فاعل او سره د متعلق نه اصفت کیږي لپاره د موصوف، موصوف سره د صفت نه دا مفعول به ثانی کیږي لپاره د تفید و تفید فعل فاعل او سره مفعولینو نه دا مضاف الیه کیږي لپاره د حیث مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مجرور کیږي د باء جاره، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغوه تعلق نیسی نسبت پوري، نسبت مضاف سره د مضاف الیه او سره د متعلقینو نه دا خبر کیږي لپاره د الاسناد مبتدا، مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه

نحو مضاف **زید** مبتدا **قائم** خبر، مبتدا سره د خبر نه دا معطوف علیه شو **واو** عاطفه **قام** فعل **زید** فاعل. فعل سره د فاعل نه دا معطوف شو، معطوف سره د معطوف علیه نه دا مضاف الیه کیږي لپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

دمضاف ، مضاف سره دمضاف الیه نه داخبر کیږي لپاره دمبتدا محذوفه چې مثاله ده، مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه **واو** عاطفه **یسمی** فعل فاعل **جملة** مفعول به فعل سره دفاعل اوسره دمفعول به نه دا جمله فعلیه خبریه شوه.

فَعُلِمَ اَنَّ الْكَلَامَ لَا يَحْصُلُ اِلَّا مِنْ اِسْمَيْنِ نَحْوُ زَيْدٌ قَائِمٌ وَيُسَمّٰى جُمْلَةً اِسْمِيَّةً اَوْ مِنْ فِعْلٍ وَاسْمٍ نَحْوُ قَامَ زَيْدٌ وَيُسَمّٰى جُمْلَةً فِعْلِيَّةً اِذْ لَا يُوْجَدُ الْمُسْنَدُ وَالْمُسْنَدُ اِلَيْهِ مَعًا فِيْ غَيْرِهِمَا وَلَا بُدَّ لِلْكَلَامِ مِنْهُمَا:

ترجمه: پس معلومه شوه چه کلام نه حاصلیږي مګر دوو اسمونو نه لکه زَیْدٌ قَائِمٌ او دیته نوم جمله اسمیه کیخودلی شو، یا د یو اسم او یو فعل نه لکه قَامَ زَیْدٌ او دیته نوم جمله فعلیه کیخودلی شو ځکه چه مسند او مسند الیه دواړو نه یو موندلی کیږي، د دی دوو صورتونو نه علاوه او کلام د پاره د دی دواړو موجودیدل ضروری دی.

تشریح: پس کلام دکلمی داقسامونه جوړیږي چې اسم دي فعل دي اوحرف دي نواسم مسندهم کیدي شي اومسند الیه هم اوفعل فقط مسندوي اوحرف نه مسندوي اونه مسند الیه وي .نوپدي اعتبارسره جملی لره طرفین پکاردي نوعقل داتقاضاکوي چې په اقسامودکلمی کې شپږطرفین جوړیږي.

دعقل تقاضا اسمٌ.اسمٌ____ فعلٌ فعلٌ____ حرفٌ حرفٌ موافق صورت ئي

فعلٌ ، اسمٌ____ اسم حرفٌ____ فعلٌ.حرفٌ مخالف صورت ئي

پدي کې دوه احتماله دکلمی دپاره صحیح دي او ځلور احتماله ناصحیح دي اودَ صحیح والی بناء په نسبت سره ده یعني اسمٌ اسمٌ اوفعلٌ اسمٌ یافعلٌ اسمٌ-داځکه صحیح دي چې پدي کښ مسند اومسند الیه دواړه راتلی شي اودکلام دپاره دادواړه ضروري دي اوباقی ځکه صحیح نه دي چې مسندبه پکې وي خومسند الیه به پکې نه وی یا پکې مسند الیه وي خومسندبه په کې نه وي-

فائده: د دوو کلمتینو دنسبت دافائده اوعلامت دي چې مخاطب ته به فائده ورکوي اودغه فائده به تامه وي پدي بناء سره چې متکلم دسکون نه بعدبلی خبری ته محتاجه نه وي اومخاطب هم بل تپوس کولوته محتاجه نه وي-

سوال: تاخوداُوویل چې په کلام کښ متکلم اومخاطب دواړه بلی خبری ته محتاجه نه وي نوپه ضَرَبَ زَیدٌ کې دواړه محتاجه دي ځکه چې متکلم سکوت په ضَرَبَ زَیدٌ اوکړو

نو مخاطب به دیته محتاجه وي چې څوك يې وهلی دي (یعني څوك د بولی دي) نو متکلم به ورسره عمراً ذکر مخاطب به بیا تپوس وکړي چې په کوم ځای کې وهلی دي نو متکلم به ورسره فی داره ذکر کړي نو مخاطب به بیا تپوس اوکړی چې په څه يې وهلی دي نو متکلم به ورسره بالخشبة ذکر کړی نو مخاطب به بیا تپوس اوکړی چې ولی يې وهلی دي نو متکلم به ورسره لِتَادِیبِ ذکر کړی نو دي نه خو دلیلیٰ مجنون قصه جوړه شوه اوته وایې چې داوړه محتاجه نه وي دویم کلام ته.

جواب زمونږ مراد دانه دي چې تاسوتري دیوسف خان شیربانو قصه جوړه کړی بلکه زمونږ مراد دادي چې متکلم او مخاطب څنګه د کلام دپاره مُسند او مسند الیه ته محتاجه دي نو دغسی نورڅه ته نه دي محتاجه څکه چې مُسند او مُسند الیه د جُملو دوه بنیادي رکنه دي او ددي نه علاوه نورتول فضولیات دي البته دانور د جملی د تفصیل دپاره ذکر کیږي.

ترکیب: فا، تفصیلیه **علم** فعل **ان** حرف از حروف مشبه بالفعل **الکلام** اسم **لا** نافیه **یحصل** فعل ضمیر د هو پکښی فاعل **الا** حرف استثناء **من** جار **اسمین** مجرور ، جار سره د مجرور نه دا معطوف علیه شو او عاطفه **من** جار **فعل** معطوف علیه **واو** عاطفه **اسم** معطوف معطوف سره د معطوف علیه نه دا مجرور کیږي د جار ، جار سره د مجرور نه دا معطوف شو لپاره د معطوف علیه، معطوف سره د معطوف علیه نه دا مستثنی مفرغ شو لپاره د مستثنی منه مقدري لپاره تقدیر د عبارت به دا رنګی شی لا یحصل بشئ من الاشیاء الا من اسمین او من فعل و اسم. دا متعلق کیږي تر لا یحصل پوري، یحصل فعل فاعل او سره د متعلق نه دا جمله فعلیه خبریه خبر د ان شو بیا ان سره د اسم او خبر نه دا جمله اسمیه خبریه مفعول به قائمقام د مفعولینو شو که په معنی د یقین کولو سره واخلی او یائی مفعول به واخله نو معنی به ئی شی پوهیدلو سره بیا علم سره د مفعولینو نه دا جمله فعلیه شوه **نحو** مضاف **قام** فعل **زید** فاعل .فعل سره د فاعل نه دا مضاف الیه شو **یسمی** فعل فاعل **جملة** موصوف **اسمیة** صفت، موصوف سره د صفت نه دا مفعول به کیږي لپاره د یسمی ، یسمی فاعل فاعل او سره د مفعول به نه دا جمله فعلیه خبریه **نحو** مضاف **زید** مبتدا **قائم** خبر مبتدا سره د خبر نه دا مضاف الیه شو د مضاف لپاره مضاف سره د مضاف الیه نه دا خبر شو لپاره د مبتدا محذوفه چې مثاله ده، مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه ، **واو** عاطفه **یسمی** فعل فاعل **جملة** موصوف **فعلیة** صفت، موصوف سره د صفت نه دا مفعول به شو د یسمی لپاره **اذ** مضاف **لا** نافیه **یوجد** فعل **المسند** معطوف علیه **واو** عاطفه **والمسندالیه** معطوف ؛ معطوف سره د معطوف علیه نه دا فاعل شو د یوجد **معاً** مفعول به **فی** جاره **غیر** مضاف **هما** مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مجرور شو د فی جاره، جار

Maktaba Tul Ishaat.com

سره دمجرور نه دا متعلق شو یوجد پوري. یوجد فعل سره فاعل او سره دمفعول به او سره دمتعلق نه دا جمله فعلیه مضاف الیه شو د اذ مضاف لپاره مضاف سره دمضاف الیه نه دا مفعول فیه لپاره دیسمی و یسمی فعل فاعل مفعول به او سره مفعول فیه دا جمله فعلیه خبریه شوه، **واو** عاطفه **لا** نافیه **یدا** اسم **لام** جاره **الکلام** مجرور، جار سره دمجرور نه دا ظرف لغوه متعلق شو یُدْ پوري، **من** جار **هما** مجرور، جار سره دمجرور نه دا په اعتبار دمتعلق سره خبر کیږي دلا نفي جنس، لا نفي جنس سره داسم او سره دخبر او سره دمتعلق نه دا جمله اسمیه خبریه شوه

فَاِنْ قِيْلَ قَدْ نُوْقِضَ بِالنِّدَاءِ نَحْوُ يَا زَيْدُ قُلْنَا حَرْفُ النِّدَاءِ قَائِمٌ مَقَامَ اَدْعُوْ وَاَطْلُبُ وَهُوَ الْفِعْلُ فَلَا نَقْضَ عَلَيْهِ وَاِذَا فَرَغْنَا مِنَ الْمُقَدَّمَةِ فَلْنَشْرَعْ فِي الْاَقْسَامِ الثَّلٰثَةِ وَاللهُ الْمُوَفِّقُ وَالْمُعِيْنُ.

ترجمه: پس کچرته او ویلی شي چې په تحقیق سره ماتوي ستا دا قاعده نداء (یعني تعریف د کلام منقوض دي په ندا) لکه یَا زَیْدُ جواب نو مونږه وایو چې حرف ندا قائم مقام دادعوا و اطلب او دا فعل دي پس نه ماتوي ده لره (تعریف د کلام) او هر کله چې مونږه فارغ شو دمقدمی نه پس اراده دشروع مو او کړه په اقسام ثلاثه کې او الله پاك توفیق ورکونکي او مدد به کونکی دی

تشریح: فان قیل سره په دغه مخکې عبارت دا **اعتراض** وو چې کلام نه حاصلیږی مگر دد وه کلمتینو نه چې هغه به اسم اسم. فعل اسم وي نو دغه قاعده منقوضه ده په حرف نداء باندي او حرف نداء لکه یا زید نو دا هم مستقله جمله ده او برابر خبره ده چې یا حرف دي او زید اسم دي بخلاف ستاسو نه. مصنف **جواب** په قلنا سره کوي چې یا خو په ظاهره حرف دي خو دا قائم مقام دادعوا و اطلب دي یعني دا دتخفیف او اختصار دپاره په یا بدل شوي دي او ادعوا و اطلب دواړه افعال دي

قاعده: حرف کله کله دفعل قائم مقام گرزي او بلکه کله کله دټولی جملی قائم مقام هم راځی لکه یو سړی او وایي چې اَجاءَ زَیْدٌ (آیا زید راغی)، نو مخاطب جواب په نَعَمْ سره کوي او نَعَمْ حرف دي او قائم مقام دجملی په ځایي راغلی دي ځکه چې په جواب کې (جَاءَنِی زَیْدٌ) زید ماته راغی.

فلنشرع فی الاقسام ثلاثة: پس مونږه اراده دشروع او کړه که حرف شروع تري مراد واخلو نو ددي نه به مراد متصله شروع دیو بیان په بل بیان پسی راشي او دا هم ممکنه ده چې مصنف" کله دمقدمی نه فارغ شوي وي او لګه دمه یي پکې کړی وی یا څه چایې وغیره یې په کې څکلی وي نو احتراز راغی دمتصل شروع نه

اقسام ثلاثة: ددي نه مراد اسم، فعل او حرف دي يعني د اقسام ثلاثه تفصيل او اقسام وغيره.

والله الموفِّقُ والمُعِينُ: الموفِّق د باب تفعيل نه د اسم فاعل صيغه ده په معنى توفيق ورکولو والا. او المعين د باب افعال نه د اسم فاعل صيغه ده په معنى مدد کولو والا.

ترکيب: فاء تفصيليه **ان** حرف شرط **قيل** فعل **هو** ضمير پکښې مستتر هغه ئې نائب فاعل نه دا جمله فعليه قول **قد** حرف تحقيق **نوقض** فعل ضمير دهو پکښې مستتر هغه نائب فاعل **بالنداء** جار مجرور دا ظرف لغوه تعلق نيسى نوقض پوري نوقض فعل سره د نائب فاعل نه او سره د متعلق نه دا جمله فعليه مقوله د قول، قول سره د مقوله نه دا جمله فعليه خبريه. **نحو** مضاف **ياء** حرف ندا چې قايمقام د ادعوا ده ادعوا فعل ضمير پکښې مستتر دي چې تعبير ترينه په انا سره کيږي هغه فاعل، **زيد** منادى مفعول به، ادعوا فعل سره د فاعل نه او سره د مفعول به نه دا جمله فعليه مضاف اليه لپاره د نحو مضاف، مضاف سره د مضاف اليه نه دا خبر شو لپاره د مبتدا محذوفه چې مثاله ده، مبتدا سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه.

قلنا فعل فاعل دا قول شو، **حرف** مضاف **النداء** مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مبتدا شوه **قائم** صيغه اسم فاعل ضمير مستتر پکښې هغه فاعل **مقام** مضاف **ادعوا** معطوف عليه **واو** عاطفه **اطلب** معطوف معطوف عليه سره د معطوف نه دا مضاف اليه شو د مقام مضاف لپاره مضاف سره د مضاف اليه نه دا مفعول فيه شو د قايمقام، قايم صيغه د اسم فاعل سره د فاعل او سره د مفعول فيه نه دا شبه جمله خبر لپاره د مبتدا، مبتدا سره د خبر نه دا مقوله شوه لپاره د قول قو سره د مقولې نه دا جمله فعليه شوه **واو** عاطفه **هو** مبتدا **الفعل** خبر، مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه **فاء** تفصيليه **لا** نفي الجنس **نقض** اسم **عليه** جار مجرور په اعتبار د متعلق سره خبر د لا، لا سره د اسم او سره د خبر نه جمله اسميه خبريه، **واو** عاطفه **اذ** ظرف متضمن ده معنى د شرط له، **فرعنا** فعل فاعل **من** جار **المقدمة** مجرور، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغوه تعلق نيسى فرعنا پوري، فعل سره د فاعل او سره د متعلق نه دا جمله فعليه خبريه فعل شرط **فاء** جزائيه **نشرع** فعل فاعل **فى** جار **الاقسام** موصوف **الثلث** صفت موصوف سره د صفت نه دا مجرور کيږي دفى جاره، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغوه متعلق شو نشرع پوري، نشرع فعل فاعل او سره د متعلق نه دا جزاء شوه، شرط سره د جزاء نه جمله فعليه شرطيه، **واو** عاطفه **الله** مبتدا **الموافق** معطوف عليه **واو** عاطفه **المعنى** معطوف، معطوف سره د معطوف عليه نه دا خبر شو د مبتدا، مبتدا سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه.

Maktaba Tul Ishaat.com

تقسم داسم په خاکه اجمالی سره

اَلْقِسْمُ الْاَوَّلُ فِي الْاِسْمِ وَقَدْ مَرَّ تَعْرِيْفُهٗ وَهُوَ يَنْقَسِمُ اِلَى الْمُعْرَبِ وَالْمَبْنِيِّ فَلْنَذْكُرْ اَحْكَامَهٗ فِيْ بَابَيْنِ وَخَاتِمَةٍ اَلْبَابُ الْاَوَّلُ فِي الْاِسْمِ الْمُعْرَبِ وَفِيْهِ مُقَدِّمَةٌ وَثَلَاثَةُ مَقَاصِدَ وَخَاتِمَةٌ اَمَّا الْمُقَدِّمَةُ فَفِيْهَا فُصُوْلٌ (اَرْبَعَةٌ).

ترجمه: قسم اول په بیان د اسم کښې دی او په تحقیق سره د دی تعریف تیر شوی او دا منقسم کیږی معرب او مبنی طرف ته، پس مونږ د هغی احکام لره په دوو بابونو او یوی خاتمی سره بیانوو باب اول په بیان د اسم معرب کښی دی او په دی کښی یوه مقدمه او دری مقاصد او یوه خاتمه ده، پس مقدمه کښی یو څو فصله دی (یعنی څلور فصله دی).

تشریح: په مصنف دا **اعتراض** دي چې بحث داسم يې ولی مقدم کړو په فعل او په حرف باندي **جواب** يې دادي چې ځنګه په وړاندي په اجمال کې مقدم وو هم دغسی په تقسيم اوتفصيل کې مقدم کړی شو اود تقديم وجه يې داده چې اسم مستقل فی الافاده دي يعني په فائده کې مستقل ده چې دوه اسمين راجمع کړی شي نوفائده تامه ورکوي اوفعل اوحرف مستقل فی الافاده نه دي۔

وقدمرّتعريفه: پدي سره مصنف يو **اعتراض** دفعه کوي هغه داچې تقسيم ديوشي دافرع دتعريف وي اوتعريف اصل دي اوکوم شي چې منقسم کيږي نودهغه شي تعريف کول ضروری وي ځکه چې تعريف اصل دي نومصنف پخپله **جواب** کوي چې تعريف مخکې تيرشوي دي اوهرځايي تعريف ذکرکول طوالت دي۔

وينقسم الى المعرب والمبنى: اسم منقسم دي دوه قسمينوته يومعرب دي اوبل مبنی اوددواړو اقسامو تفصيل به په دوه بابونواويوه مقدمه کې ذکرکيږي په اولنی باب کې بيان دمعرب اوپه دويم باب کې بيان دمبنی دي اوپه مقدمه کې احکام مشترکه ذکرکيږي.

الباب الاول فی الاسم المعرب: دباب اول اجمالی خاکه مصنف ذکرکوي چې دااول باب په بيان داسم معرب کې دي اودا باب مشتمل دي په يوه مقدمه اوپه ثلاثة مقاصد(مرفوعات ، منصوبات ، مجرورات) اوپه خاتمه اوهرچې مقدمه ده پديکې څلورفصله دي په فصل اول کې داسم معرب تعريف دي اوپه فصل ثاني کې داسم معرب احکام اوپه دريم کې يې اقسام اوپه څلورم فصل کې بيان دمنصرف اوغير منصرف دي۔

سوال معرب او مبنی دواړه د اسم مستقل قسمونه دي او په قسمیت کې دواړه یو دي نو څه وجه ده چې مصنف معرب مقدم کړو په مبنی باندي دا خو ترجیح بلا مرجح لازمه شوه.

جواب ددي دپاره دوه وجې دي (۱) معرب محل داعراب لفظي دي او مبنی محل داعراب تقدیري دي او اعراب لفظي اصل دي داعراب تقدیري نه نو محل داعراب لفظي هم اصل شو د محل داعراب تقدیري نه (۲) دمعرب په اقسامو کې یو منصرف دي او دمبنی دپاره نشته او اصل په اسماؤ کې انصراف دي نو ګویا اسم معرب مشتمل دي په دوه اصلیتینو باندي نو ځکه مصنف مقدم کړی دي.

ترکیب: **القسم** موصوف **الاول** صفت، موصوف سره دصفت نه دا مبتدا شوه، **فی** جاره **الاسم** مجرور، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو ثابتُ پوري، ثابت صیغه داسم فاعل ضمیر دفاعل او سره دمتعلق نه دا خبر شو دمبتدا مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه. **واو** عاطفه **قد** حرف تحقیق مرَ فعل **تعریف** مضاف **ه** ضمیر مضاف الیه . مضاف سره دمضاف الیه نه دا فاعل شو ، فعل سره دفاعل نه دا جمله فعلیه خبریه شوه، **واو** عاطفه **هو** مبتدا **ینقسم** فعل ضمیر دهو فاعل **الی** جاره **المعرب** معطوف علیه **واو** عاطفه **المبنی** معطوف ، معطوف سره دمعطوف علیه نه دا مجرور شو دجار، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو ینقسم پوري، ینقسم فعل فاعل او سره دمتعلق نه جمله فعلیه خبریه خبر دمبتدا شو مبتدا سره دخبرنه جمله اسمیه خبریه، **فاء** تفصیلیه **لام** ابتدائیه **نذکر** فعل فاعل **احکامه** مضاف مضاف الیه دا مفعول به شو **فی** جاره **بابین** معطوف علیه **واو** عاطفه **خاتمة** معطوف ، معطوف سره دمعطوف علیه نه دا مجرور شو دجار، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو نذکر پوري، نذکر فعل فاعل مفعول به او سره دمتعلق نه دا جمله فعلیه خبریه شوه، **الباب** موصوف **الاول** صفت، موصوف سرهد صفت نه دا مبتدا شوه **فی** جاره **الاسم** موصوف **المعرب** صفت، موصوف سره دصفت نه دا مجرور شو دجار، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغوه تعلق نیسی ثابت پوري، ثابتَ صیغه داسم فاعل ضمیر دهو فاعل او سره دمتعلق نه دا شبه جمله خبر کیږي دمبتدا. مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه. **واو** عاطفه **فیه** جار مجرور د خبر مقدم شو، **مقدمة** معطوف علیه **واو** عاطفه **ثلاثة** مضاف **مقاصد** مضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه دا معطوف اول شو ، **واو** عاطفه **خاتمة** معطوف ثاني، معطوف سره دمعطوفینو نه دا مبتدا مؤخر شو ، خبر مقدم سره دمبتدا مؤخر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه.

اما حرف شرط **المقدمة** مبتدا **فاء** حرف جزا **فی** جاره **ها** مجرور، جار سره دمجرور نه دا په اعتبار دمتعلق سره خبر مقدم شو ، **فصول** موصوف **اربعة** صفت، موصوف سره دصفت نه دا مبتدا

Maktaba Tul Ishaat.com

مؤخر شوه، خبر مقدم سره دمبتدا مؤخر نه دا جمله اسمیه خبریه خبریه دمبتدا شو، مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه

تعریف د اسم معرب

فَصْلٌ: فِيْ تَعْرِيْفِ الْاِسْمِ الْمُعْرَبِ وَهُوَكُلُّ اِسْمٍ رُكِّبَ مَعَ غَيْرِهٖ وَلَا يُشْبِهُ مَبْنِيَّ الْاَصْلِ اَعْنِيْ الْحَرْفَ وَالْاَمْرَ الْحَاضِرَ وَالْمَاضِيْ نَحْوُ زَيْدٌ فِيْ قَامَ زَيْدٌ لَازَيْدٌ وَحْدَهٗ لِعَدَمِ التَّرْكِيْبِ وَلَاهٰؤُلَاءِ فِيْ قَامَ هٰؤُلَاءِ لِوُجُوْدِ الشِّبْهِ وَيُسَمّٰى مُتَمَكِّنًا:

ترجمه: فصل دي بیان د تعریف د اسم معرب کې او معرب هرهغه اسم دي چې مرکب وی (سره دخپل عامل نه) او نه وي مشابه دمبنی الاصل سره مراد ځما بل سره حروف، امرحاضر او ماضی دي لکه زید په قام زیدٌ کښې نه ځان له زید دوجه د نه مرکب والی نه او نه هٰؤلاء په قام هٰؤلاء کې دوجه د مشابهت نه او معرب مسمی کړی شوی ده په متمکن سره.

لفظی تشریح دَمعرب: معرب داعراب نه ماخوذ دي او اعراب په معنی دَ ظاهرکردن سره نو معرب هم حرکات ثلاثه په کلمه کې ظاهره وي معرب صیغه دباب افعال نه ظرف مکان دي په معنی جایې محل الاعراب: محل داعراب

سوال: معرب چې ماخوذ داعراب نه دي نو ګویا اعراب اصل دي او معرب فرع ده او اصل مقدم وي په فرع باندي

جواب: اسم معرب دلالت په ذات (دکلمی) باندي کوي او اعراب دلالت په صفت دکلمی باندي کوي او صفت مؤخر وي او ذات یعنی موصوف مقدم وي نو ځکه معرب مقدم شو. داسم معرب اصطلاحي تعریف مصنف ذکرکړو او دغه تعریف دمعرب ددوه جزیاتو نه مرکب دي یعني دوه قیده په کې راغلل یو قید وجودي او بل قید عدمي.

قیدوجودي: دقید وجودي نه مراد دادي چې معرب به مرکب وي په داسی ترکیب کې چې متحقق وي دخپل عامل نه.

قیدعدمي: قید دعدم دینه وایې چې معرب عدم مشابه دمبنی الاصل وي (یعني دمبنی الاصل سره مشابه نوي) مبنی الاصل دری دی (جمله حروف، امرحاضر، ماضی) لکه مثال ضَرَبَ زَیْدٌ په زید باندي دادواړه جزونه متحقق شوي دي یعني ضَرَبَ فعل عامل رافعه دي چې زید فاعل ته یې رفع ورکړیده نو زید په ترکیب کې دعامل رافعه سره متحقق دي او دمبنی الاصل سره مشابه

نه دي پس دادواړه جزونه چې کله مبني شي نوهله به معرب وي کچري يوتري خارج شي نوبيابه مبني وي .لکه ددواړو دخُروج دپاره مفصل مثالونه دادي .داول جزيعني قيد دخُروج دپاره مثال لکه غُلام زيدِ (په سکون دميم اوپه سکون ددال سره) دااګرچې په ترکيب کې واقع دي ليکن دخپل عامل سره په ترکيب کې متحقق نه دي اوعدم مشابه دمبني الاصل سره نه دي ليکن عامل ورسره متحقق نه دي نودامبني دي اوچې کله ورسره متحقق عامل ذکرشي نوبيابه معرب شي لکه جاءني غلام زيد_ددويم جزدخروج دپاره مثال لکه جاءنی هٰؤلاء دامرکب دي سره دخپل عامل نه ليکن مشابه دمبني الاصل سره دي ځکه چې هؤلاء دا اسماء اشاراتونه اسم اشاره ده اودغه تول دمبني الاصل سره مشابهت لري ځکه چې دامشابه دي دحروفو سره په محتاج والی کې يعني څنګه چې حروف محتاجه دي ضم دضميمی ته نودغه شان اسم اشاره محتاج دي دمشارالیه ته نوپس دامبني دي اګرکه مرکب دي سره دخپل عامل نه خودويم په کې مشابهت دمبنياتو سره راغی۔

ويسمّى متمكنًا: اومسمّى کړی شوي دي دا اسم معرب په اسم متمکن سره يعني دويم نوم دمعرب اسم متمکن دي متمکن دَتمکن نه دی دباب تفعّل نه دااسم فاعل صيغه ده په معنی ځايي دهنده ځايي ورکولوولا نوګويامعرب هم حرکاتوته ځايي ورکوي نوپس متمکن معرب دي اوامکن اسم معرب غيرمنصرف ته وايي نومتمکن عام دي اوحرکات ثلاثه پری جاری کيږي اوامکن خاص دي اوکسره اوتنوين نه قبلوي اوددي په خلاف غيرمتمکن دي چې هغه مبنی دي نومصنف ځکه اشاره اوکړه چې معرب ته متمکن هم وايي

سوال دمعرب دتعريف نه خبراومبتداخارج شول ځکه چې دوي په ترکيب کې دعامل سره نه وي لکه زيدٌ مبتدااوقائم خبردي نوپه دوی کښې خوعامل نشته

جواب عامل په دوه قسمه دي يوعامل لفظی بل عامل تقديری.

عامل لفظي: داهغه عامل دي چې مذکورفی الکلام وي لکه جاء زيدٌ.

عامل معنوي: داهغه عامل دي چې مذکورفی الکلام نه وي لکه زيد قائمٌ پدي کې عامل معنوي دي چې ابتداء ده چونکه عامل معنوي په اثرکې دعامل لفظی پشان دي نودوجی دتاثيرنه دا هم اعراب بدلوي پس چې څه حکم چې دلفظی ده هغه حکم به دمعنوي وي که عامل لفظی په ترکيب کې حقيقتاً واقع کيږي نومعنوي به حکماًواقع کيږي نوپس په تعريف دمعرب کې ترکيب په معنی دعام دي که حقيقي وي اوکه حکمي وي نوپس مبتدااوخبردواړه داخل شوپه تعريف دمعرباتوکې

Maktaba Tul Ishaat.com

شعر

معرب آن باشد که گردد بار بار مبنی آن باشد که ماند برقرار

ترکیب: **فصل** مبتدا **فی** جاره **تعریف** مضاف **الاسم** موصوف المعرب صفت ، موصوف سره دصفت نه دا مضاف الیه شو دتعریف مضاف لپاره، مضاف سره دمضاف الیه نه دا مجرور شو دجار، جار سره دمجرور نه دا ظرف مستقر په اعتبار دمتعلق سره خبر کیږي د مبتدا ، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه شوه،

واو عاطفه **هو** مبتدا **کل** مضاف **اسم** موصوف **رکب** فعل فاعل **مع** مضاف **غیر** مضاف الیه مضاف **ه** ضمیر مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه دا بیا مضاف الیه شو دغیر مضاف لپاره، غیر مضاف سره دمضاف الیه نه دا بیا مضاف الیه شو دمع مضاف لپاره مع مضاف سره دمضاف الیه نه دا مفعول فیه شو درکب لپاره، رکب فعل فاعل سره دمفعول فیه نه دا صفت شو دموصوف، موصوف سره دصفت نه دا مضاف الیه شو دکل مضاف لپاره، مضاف سره دمضاف الیه نه دا خبر شو دمبتدا مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه . **واو** عاطفه **لا** نافیه **یشبه** فعل ضمیر دهو پټښی فاعل **مبنی** مضاف **الاصل** مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه دا مبیّن شو **اعنی** **فعل** ضمیر د انا پټښی فاعل **الحرف** معطوف علیه **واو** عاطفه **الامر** موصوف **الحاضر** صفت، موصوف سره دصفت نه دا معطوف اول شو ، **الماضی** معطوف ثانی ، معطوف سره دمعطوفینو نه دا مفعول به شو داعنی ، اعنی فعل فاعل اوسره دمفعول به نه دا جمله فعلیه مبَیّن شوه، مبیَن سره دمبین نه دا مفعول به شو دلا یشبه لپاره . لا یشبه فعل سره دفاعل اوسره دمفعول به نه دا جمله فعلیه خبریه شوه

نحومضاف **زید** ذوالحال **فی** جاره **قام** **فعل** **زید** معطوف علیه **لا** عاطفه **زید** ذو الحال **وحده** مضاف مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه دا حال شو د ذوالحال ، حال سره د ذوالحال نه دامعطوف شو ، معطوف سره دمعطوف علیه نه دا فاعل شو دقام فعل، فعل سره دفاعل نه دا مجرور شو دفی جاره جار سره دمجرور نه دا په اعتبار دمتعلق سره حال کیږي د ذو الحال ، حال سره د ذوالحال نه دا مضاف الیه کیږي دنحو مضاف، مضاف سره دمضاف الیه نه دا مبتدا شوه، **لام** جاره **علم** مضاف **الترکیب** مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه دا مجرور کیږي دجار ، جار سره دمجرور نه دا په اعتبار دمتعلق سره خبر شو دمبتدا ، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه، **واو** عطفه **هؤلاء** ذوالحال **فی** جاره **قام** مجرور، جار سره دمجرور نه دا حال شو د ذوالحال ، حال د ذوالحال نه دا مبتدا شوه **لام** جاره **وجود** مضاف **الشبه** مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه دا

مجرور کیږي دجار، جار سره دمجرور نه دا خبر دمبتدا شو. مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه شوه، یسمی فعل فاعل متمکن مفعول به فعل سره دفاعل او سره دمفعول به نه دا جمله فعلیه خبریه شوه.

حکم المعرب

فَصْلٌ: وَحُكْمُهُ اَنْ يَخْتَلِفَ اٰخِرُهُ بِاخْتِلَافِ الْعَوَامِلِ اِخْتِلَافًا لَفْظِيًّا نَحْوُ جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَرَاَيْتُ زَيْدًا وَمَرَرْتُ بِزَيْدٍ اَوْتَقْدِيْرِيًّا نَحْوُ جَاءَنِيْ مُوْسٰى وَرَاَيْتُ مُوْسٰى وَمَرَرْتُ بِمُوْسٰى: اَلْاِعْرَابُ مَابِهٖ يَخْتَلِفُ اٰخِرُ الْمُعْرَبِ كَالضَّمَّةِ وَالْفَتْحَةِ وَالْكَسْرَةِ وَالْوَاوِ وَالْاَلِفِ وَالْيَاءِ:

ترجمه دویم فصل په بیان او حکم دمعرب دادي چې آخرئي مختلف کیږي په سبب داختلاف دعواملو سره که هغه اختلاف لفظی وی لکه جاءنی زیدٌ ورایت زیداً ومررت بزید اختلاف او که تقدیری وی، تقدیری لکه جاءنی موسی ورایت موسی ومررت بموسی (فصل) اعراب هغه (حرکت یاحرف) دي چې په هغې سره مختلف کیږي اخر دمعرب که (اعراب حرکتی) ضمه اوفتحه اوکسره او یا (اعراب حرفی) واو والف او یا سره

تشریح په حکمه کې ضمیرمعرب طرف ته راجع دي او باختلاف العوامل کې باسببیه ده او اختلافا لفظیاً مفعول مطلق دي په معرب پوری نو پس اثرمرتبه دمعرب دادي چې مختلف کیږي په آخرده په سبب داختلاف دعواملو سره اودامختلف کیدل به یالفظاً وي یاتقدیراً نواختلاف لفظی په دوه قسمه دي یو اختلاف لفظی حقیقتاً دي اوبل اختلاف لفظی حکماً دي

اختلاف لفظی حقیقتاً: داهغه اختلاف دي چې دمعرب دري واړه حالتونه به جُدا جُدا وي (ضمه فتحه کسره)

اختلاف لفظی حکماً: داهغه اختلاف دي چې یو حالت دبل تابعداری کوي نو دیته حکماً وایي لکه مثال په حالت جری غیرمنصرف کې به پری نصب وي لکه اَحْمَدُ جاءنی احمدُ ورایت احمَدَ ومررت باحمدَ حالت رفعی یې مرفوع دي اونصبی اوجری یې دواړه منصوب دي.

اختلاف تقدیری: داهغه اعرابات دي چې داسم معرب په آخر کښې نه ظاهریږی او تقدیراً یعني پټ وي لکه مذکورمثال (موسی) ددي د نه ظاهریدووجه داده چې دکومو اسماؤ په آخرکې چې الف مقصوره راغلی وي نو اعرابات به پری نه راځی ځکه چې الف اعرابات نه قبلوي اووي به معرب.

سوال: لفظ دحکم مضاف ده ضمیرته اوه ضمیرمعرب ته راجع دي اودحکم نه مراداثرمرتبه دي

Maktaba Tul Ishaat.com

نو تعريف د معرب به داسي شي چي اثر مرتبه د معرب دادي چي آخر يې بدليږي په اختلاف د عواملو سره نو اثر مرتبه معرب ته غير صحيح دي ځکه چي اختلاف د آخر د عامل اثر دي.

جواب: په عبارت کي تقديردي حكمأله ان يختلف..... نو معنى به يې داشي اثر مرتبه دده د پاره اختلاف د عواملو دي يعني اثر د عواملو په معرب ثابتيږي نو ځکه ه ضمير راجع دي معرب ته.

سوال: العوامل جمع د عاملٌ ده او عوامل كم ازكم په دريو دلالت کوي ځکه چي دا صيغه د جمعي ده او جمع د دريو نه كم نه وي نو معنى به داسي شي چي اثر مرتبه د معرب دادي چي آخر يې مخلتف كيږي په اختلاف د عواملو ثلثه سره او دا محال ده ځکه چي ديو معرب سره دري عوامل نه شي جمع كيدي.

جواب: په العوامل باندي الف لام داخل دي او قاعده داده چي كله په جمع الف لام داخل شي نو دهغى جمعيت باطله وي يعني ختموي يې او يا به تري مراد جنس وي او جنس به ځکه د كثير و افرادو د پاره راځي د غه شان د واحد د پاره هم راځي او دېته الف لام عهد خارجي وايي (په ضمن ديو فرد کي) نو بس د العوامل نه مراد يو عامل دي چي آخر د معرب لره مختلف كوي.

الاعراب: دا يو جُدا فصل دي. په الاعراب ما به کي ماعامه ده او مرادتري حركت او حرف دي نو اعراب هر هغه حرف يا حركت ته وايي چي په هغى سره آخر د معرب مختلف كيږي نو اعراب په دوه قسمه دي يو اعراب بالحرف او بل اعراب بالحركت

تركيب: **فصل** اى هذا فصل ثان **هذا** مبتدا **فصل** موصوف **ثان** صفت، موصوف سره د صفت نه دا خبر شو د مبتدا، مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه. **واو** عاطفه **حكم** مضاف ه ضمير ئى مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مبتدا شو **انْ** ناصبه مصدريه **يختلف** فعل **آخره** مضاف مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه دا فاعل شو لپاره د يختلف **باء** جاره **اختلاف** مضاف **العوامل** مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مجرور شو د باء جاره، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغوه تعلق نيسى يختلف پوري، **اختلافاً** موصوف **لفظياً** صفت، موصوف سره د صفت نه دا مفعول مطلق شو د فعل. فعل سره د فاعل او سره د متعلق او سره د مفعول مطلق نه دا په تاويل د مصدر سره خبر شو د مبتدا. مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه، **نحو** مضاف **جاء** فعل **نون** وقايه ى ضمير د متكلم مفعول به **زيد** فاعل. فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه دا جمله فعليه خبريه معطوف عليه، **واو** عاطفه **رايت** فعل فاعل، **زيدا** مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه دا معطوف اول شو، **واو** عاطفه **مررت** فعل فاعل **بزيد** جار مجرور دا متعلق شو مررت پوري، مررت فعل فاعل سره د متعلق نه دا معطوف ثاني شو معطوف سره

دمعطوفینو نه دا مضاف الیه شو لپاره دنحو مضاف، مضاف سره دمضاف الیه نه دا خبر شو لپاره دمبتدا محذوفه چې مثاله ده، مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه، **اوتقدیریا عطف علی لفظیاً نحو** مضاف **جاء** فعل **نون** وقایه **ی** ضمیر دمتکلم مفعول به **موسی** فاعل فعل سره دفاعل او سره دمفعول به نه دامعطوف علیه شو **واو** عاطفه **رایت** فعل فاعل **موسی** مفعول به، فعل سره دفاعل او سره دمفعول به نه دا معطوف اول شو **واو** عاطفه **مررت** فعل فاعل **باء** جاره **موسی** مجرور، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو مررت پوري، مررت فعل فاعل او سره دمتعلق نه دامعطوف ثانی شو، معطوف سره دمعطوفینو نه دا مضاف الیه شو لپاره دنحو مضاف، مضاف سره دمضاف الیه نه دا خبر شو دمبتدا چې مثاله ده مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه **الاعراب** مبتدا **ما** موصوله یا موصوفه **به** جار مجرور دا متعلق شو **یختلف** پوري، **یختلف** فعل ضمیر دهو پټښې فاعل **اخر** مضاف **اعراب** مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه دا مفعول به شو دیختلف، فعل فاعل مفعول به او سره دمتعلق نه دا صله شوه دموصول، موصول سره دصله نه دا خبر شو دمبتدا، مبتدا سر دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه.

کاف په معنی دمثل سره مضاف **الضمة** معطوف علیه، **والفتحة** معطوف اول **والکسرة** معطوف ثانی **والواو** معطوف ثالث **والالف** معطوف رابع **والیاء** معطوف خامس معطوف سره دمعطوفاتو خمسه نه دا مضاف الیه شو دمثل مضاف لپاره، مضاف سره دمضاف الیه نه دا خبر شو دمبتدا محذوفه چې مثاله ده مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه

داعراباتو تقسیم او تفصیل

اعراب بالحرف: داهغه حروف دي چې دمعرب په آخرکې راځي او دادری حرفه دي واو، الف، یا.

اعراب بالحرکت: داهغه اعراب دي چې دمعرب په آخرکې راځي او دادری حرکات دي (ضمه، فتحه، کسره) اصطلاحات دحرکات ثلاثو: (۱) ضمةٌ، فتحةٌ، کسرةٌ (۲) رفع، نصب، جر (۳) ضمٌ، فتحٌ، کسرٌ فرق پکې دادي چې (۲) رفع نصب او جر دا دریواړه مختص دي په معرباتو پورې (۳) ضمٌ، فتحٌ، کسرٌ دادري واړه مختص دي په مبنیاتو پورې (۱) او ضمةٌ، فتحةٌ، کسرةٌ دادري واړه په دواړو کې مشترک استعمالیږي (مبنیات و معربات)

وَاِعْرَابُ الْاِسْمِ عَلٰى ثَلَاثَةِ اَنْوَاعٍ رَفْعٌ وَنَصْبٌ وَجَرٌّ وَالْعَامِلُ مَا بِهٖ رَفْعٌ اَوْنَصْبٌ اَوْجَرٌّ وَمَحَلُّ الْاِعْرَابِ مِنَ الْاِسْمِ هُوَالْحَرْفُ الْاَخِيْرُ مِثَالُ الْكُلِّ نَحْوُقَامَ زَيْدٌ فَقَامَ عَامِلٌ وَزَيْدٌ مُعْرَبٌ وَالضَّمَّةُ اِعْرَابٌ وَالدَّالُ مَحَلُّ الْاِعْرَابِ وَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَايُعْرَبُ فِيْ كَلَامِ الْعَرَبِ اِلَّا الْاِسْمُ الْمُتَمَكِّنُ وَالْفِعْلُ

Maktaba Tul Ishaat.com

الْمُضَارِعُ وَسَيَجِيئُ حُكْمُهُ فِي الْقِسْمِ الثَّانِي إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى:

ترجمه: د اسم اعراب په درې قسمه دی رفع، نصب، جر او عامل هغې ته وئیلی شي چه د ده د وجه نه رفع، نصب، جر راشي او په اسم کښې محل د اعراب آخري حرف وی د ټولو مثال قَامَ زَيْدٌ دی، قَامَ عامل ده او زید معرب ده او ضمه اعراب ده او دال په کښې محل د اعراب دی پوهه شه چه په کلام د عربو کښې د اسم متمکن او فعل مضارع نه علاوه معرب نشته او د فعل مضارع حکم به ان شاء الله په قسم ثانی کښې راشي

تشریح: مصنف ددې عبارت نه مخکې د اعراب تقسیم کړی دی چې اعراب په دوه قسمه دي يو اعراب بالحرف ده چې واو، الف، یاء دي او بل اعراب بالحرکت دي چې (ضمه، فتحه، کسره)

وجه تسمیه: ضمی ته ضمه ځکه وایې چې دا د انضمام د شفتینو نه اداکیږي او فتحی ته فتحه ځکه وایې چې دا په وخت د اداکولو کې د شونډو د انفتاح او کولاویدو نه اداکیږي او کسری ته کسره ځکه وایې چې دا په وخت د اداکولو کې د شفت سُفلا د انکسار او ښکته والی نه اداکیږي۔

الاعراب الاسم (معرب): اعراب د اسم معرب په درې قسمه دي مصنف لفظ د انواع ذکر کړو

سوال: انواع ډیر دی افراد و ته ویلی شي او اعراب فقط درې دي نو د انواع په ځایې اقسام پکار دي یا فقط ثلاثه هم کافی کیدي شي انواع لفظ غیر صحیح دي

جواب: نوعه هغه منقسم شي ده چې د ما تحت نور اقسام وي نو دا دري وارړه انواع دي (رفع نصب جر) او د دو یې د پاره نور مختلف اقسام دي. هغه دا دي رفع کله په شکل د ضمی راځی او کله په شکل د واو کې راځی او کله په شکل د یاء کې هم راځی د غه شان فتحه په شکل د زید کې راځی او کله علی هذا القیاس او جر کله په شکل د زید کې راځی او کله عَلٰى هٰذَا الْقِيَاس۔

وجه د تسمیی داده: رفعی ته رفع ځکه وایې چې رفع په لغت کې بلندی ته وایې او دا حرکت قَوِیَه دي او مرتبه یې هم عالی او اوچته ده په خپلو اخوینو باندي فتحی ته فتحه ځکه وایې چې نصب په لغت کې ولاړ والی ته وایې نو د نصب په اداینګې کې هم دواړه شونډی اُدریږی نو ځکه ورته نصب وایې جرته جر ځکه وایې چې جر په نعت کې راخکلو ته وایې او فعل خپل معمول ته د حرف جر د وجی نه راخکلی کیږي په رفع، نصب او جر باندي دریواړه اعرابات جاری کیدي شي (رفعٌ ونصبٌ وجرٌ) که مرفوع او ویلی شي نو بناء برخبریت به مرفوع شي او مبتدا به د هریو نه مخکې مقدره وي نو تقدیر د عبارت به داسې شي ثلاثة انواع (احدها رفعٌ و ثانیها نصبٌ و ثالثها)

جرٌ که منصوب اوویلی شي نو اعنی صیغه د جمع متکلم مُقدّره به تري مخکې راشي او تقدیر به دا رنګی شي (اَعنِی) رفعاً ونصباً وجراً که مجرور او ویلی شي نو بیدي حالت کې به بدل واقع شي دانواع نه او قاعده داده چې دبدل او مبدل منه اعراب به یو وي نو ثلاثة انواعِ رفعٍ ونصبٍ وجرٍ به شي

سوال: اعراب دکلمی په آخر کې ولی راځی په اول او وسط کې ولی نه راځی ؟

جواب: وجه یې داده چې اعراب دکلمی دپاره بمنزله صفت دي یعني کلمی لره ظاهره وي او دا قاعده ده چې صفت همیشه مؤخروي په موصوف باندي یعني کلمه بمنزله موصوف ده او اعراب یې صفت دي او صفت مؤخروي نو ځکه اعراب په اول او وسط کې نه راځی

تعریف دعامل: عامل هغه دي چې په سبب دده سره رفع . نصب او جر په آخر د معرب کې راځی

سوال: تعریف دعامل جامع نه دي افرادو نه ځکه چې عوامل جازمه تري خارج شول . او دهغی اثر دجزم دي

جواب: مراد دعامل نه عامل داسم دي او عوامل جازمه مختص دي په فعل پوری او دلته فقط اسم مراد دي او دلیل پری قرینه ده یعني قرینه دمعرب دبحث ده چې عامل د اسم معرب مراد دي . مصنف دټولو امورو دپاره صرف یو مثال ذکر کړی دي قام زیدٌ په دي کې قام عامل رافعه دي ځکه چې زید ته یې رفع ورکړی ده او زید معرب دي ځکه چې رفعه پری په سبب دعامل راغلی ده او اعراب پکې رفع ده او محل داعراب په کې دال حرف آخر دي

واعْلَمْ انه: په دي عبارت سره مصنف تنبیه ورکوي چې معرب په کلام دِ عربو کې دوه دي یو اسم متمکن دي چې په ترکیب کې واقع شي او دویم فعل مضارع بغیر دنون التاکید ثقیله دخفیفه او بغیر دنون بنایي نه چې جمعی په صیغو کې دي پس په تمام کلام عرب کې معربات فقط دوه دي او نور ټول مبنیات دي

شعر

یارم مبنی دي زه معرب یم مبنی په ځای وي معرب تل تکری خورینه

ترکیب: **واو** عاطفه **اعراب** مضاف **الاسم** مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مبتدا شوه ، **علی** جاره **ثلاثة** عدد مبهم ممیز مضاف **انواع** تمیز مضاف الیه ، ممیز مضاف سره د تمیز مضاف الیه نه دا مجرور شو دجار ، جار سره د مجرور نه دا په اعتبار د متعلق سره خبر شو د مبتدا ، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه **رفع** خبر ده د مبتدا محذوفه چې **احدها** ده احدها مضاف مضاف الیه دا مبتدا شوه ، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه معطوف علیه **واو** عاطفه **نصب** خبر د مبتدا

Maktaba Tul Ishaat.com

محذوفه ده چې ثانيها ده، ثاني مضاف ها ضمير مضاف اليه. مضاف سره د مضاف اليه نه دا مبتدا شوه، مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه معطوف اول شو. واو عاطفه **جر** خبر د مبتدا محذوفه ده چې ثالثها ده ثالث مضاف ها ضمير مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مبتدا شوه، مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه معطوف ثاني شو، معطوف سره د معطوفينو نه دا جمله اسميه خبريه معطوفه شوه. **واو عاطفه العامل** مبتدا **ما** موصوله يا موصوف **به** جار مجرور دا ظرف مستقر تعلق نيسي حصل فعل پورې حصل فعل هو ضمير فاعل او سره د متعلق نه دا جمله فعليه خبر مقدم **رفع** معطوف عليه **او** عاطفه **نصب** معطوف اول **او** عاطفه **جر** معطوف ثاني، معطوف سره د معطوفينو نه دا مبتدا مؤخر شوه خبر مقدم سره د مبتدا موخر نه دا جمله اسميه صله شوه لپاره د ما موصوله موصول سره د صل نه دا خبر شو د مبتدا، مبتدا سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه.

واو عاطفه محل مضاف **الاعراب** مضاف اليه. مضاف سره د مضاف اليه نه دا مبتدا شوه، **من** جاره **الاسم** مجرور، جار سره د مجرور نه دا په اعتبار د متعلق سره خبر كيږي د مبتدا، مبتدا سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه. **هو** مبتدا **الحرف** صفت، موصوف سره د صفت نه دا خبر كيږي د مبتدا، مبتدا سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه، **هو** مبتدا **الحرف** موصوف **الاخير** صفت. موصوف سره د صفت نه دا خبر كيږي د مبتدا، مبتدا سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه، **مثال** مضاف **الكل** مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه مبتدا، **نحو** مضاف **قام** فعل **زيد** فاعل، فعل سره د فاعل نه دا مضاف اليه شو د مضاف، مضاف سره د مضاف اليه نه دا خبر شو د مبتدا، مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه

فاء تفصيليه **قام** فعل **فاعل** فعل سره د فاعل نه دا جمله فعليه خبريه شوه **واو** عاطفه **زيد** مبتدا **معرب** ئې خبر، مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه خبريه. **واو** عاطفه **الضمة** مبتدا **محل** مبتدا **اعراب** خبر، مبتدا سره د خبر نه دا بيا خبر جوړيږي د مبتدا، مبتدا سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه. **واو** عاطفه **الدال** مبتدا **محل** مضاف **الاعراب** مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه دا خبر شو د مبتدا، مبتدا سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه. **واو** عاطفه **اعلم** فعل فاعل **ان** حرف از حروف مشبه بالفعل ه ضمير اسم **لا** نافيه **يعرب** فعل فاعل **فى** جاره **كلام** مضاف **العرب** مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مجرور شو د في جاره، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغوه تعلق نيسي لا يعرب پورې، لا يعرب فعل فاعل او سره د متعلق نه دا خبر شو لپاره د ان. ان سره د اسم او سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه مفعول به چې قائمقام د مفعولينو ده لپاره د اعلم. اعلم فعل فاعل او سره د مفعول به نه دا جمله فعليه

انشائیه شوه.

الا حرف استثنی **الاسم** موصوف **المتمکن** صفت، موصوف سره دصفت نه دا معطوف علیه شو. **واو** عاطفه **الفعل** موصوف **المضارع** صفت، موصوف سره دصفت نه دا مستثنی مفرغ شوه دمستثنی منه مقدري لپاره چې شئ من الاشیاء ده بیا مستثنی مفرغه سره دمستثنی منه مقدري نه دا نائب فاعل شو دلا یعرب **واو** عاطفه **س** للتقریب **یجئ** فعل **حکمه** مضاف مضاف الیه دا فاعل شو **فی** جاره **القسم** موصوف **الثانی** صفت، موصوف سره دصفت نه دا مجرور شو دجار، جار سره دمجرور نه دا ظرف لغوه تعلق نیسی یجئ پورې، یجئ فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا جمله فعلیه خبریه جزاء مقدم شوه. **ان** حرف شرط **شاء** فعل **الله** ذوالحال **تعالی** حال، حال سره د ذوالحال نه دا فاعل شو دشاء فعل، شاء فعل سره دفاعل نه دا جمله فعلیه فعل شرط فعل شرط سره دجزاء مقدم نه دا جمله فعلیه شرطیه شوه.

Maktaba Tul Ishaat.com

اعرابات المعرب

فَصْلٌ: فِيْ اَصْنَافِ اِعْرَابِ الْاِسْمِ وَهِيَ تِسْعَةُ اَصْنَافٍ:

ترجمه: دا فصل په بیان د اقسامو د اعراب د اسم کښ ده اقسام د اعراب نهه دی.

تشریح: دا دمقدمی دریم فصل دی په دي کښ داسم معرب داعراباتو اقسام ذکر کیږي. ددی نه مخکښ د اعراباتو تقسیم ضروری دي ځکه چې مبتدي اعراب او پیژنی نو داسم معرب اعرابات اول په دوه قسمه دي (۱) اعراب لفظی (۲) اعراب تقدیری. اعراب لفظی بیا په دوه قسمه دي (۱) اعراب لفظی بالحرکت (۲) اعراب لفظی بالحرف بیا هر واحد په دوه دوه قسمه دي (۱) بالحرکت حقیقي (۲) بالحرکت حکمی.



(۱) حقیقي (۲) حکمی په شکل کښ واضح دي.

اعراب حقیقي دیته وایي چې په هر حالت کښ مستقل اعراب وي یعني یو حالت بل حالت تابع نه وي

اعراب حکمي دیته وایي چې په هر حالت کښ به مستقل اعراب نه وي یعني یو حالت به دبل حالت تابع وي. پس اسم متمکن (معرب) داعرابو قبلولو په لحاظ سره په نهه قسمه دي اجمالی خاکه یې داده چې اول شپږ اقسام داعراب لفظی دي او آخری دری اقسام داعراب تقدیری

دي بیاپه اول شپږو اقسامو کښې اولنی دری داعراب لفظی بالحرکت دي اوآخری دری داعراب لفظی بالحرف دي او بیادي دواړو نه هر واحد داعراب حقیقي دي اوآخری دوه داعراب حکمی دي.

اصناف - داجمع دصنف ده اوقسم اونوع دادریواړه متحدبالذات اومغائربالاعتباردي. صنف دامر خارج په اعتبارسره ویلی کیږي اونوع په اعتبار دذات سره ویلی کیږي اوقسم اعم دي دصنف نه مثال لکه رومی دنوع مثال لکه انسان اودقسم مثال حیوان دي یعني انسان قسم دحیوان دي.

ترکیب: **فصل** مبتدا **فی** جاره **اصناف** مضاف **اعراب** مضاف الیه مضاف **الاسم** مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه دا بیا مضاف الیه کیږي، لپاره دمضاف، مضاف سره دمضاف الیه نه دا بیا مضاف الیه کیږي لپاره دمضاف، مضاف سره دمضاف الیه نه دا مجرور کیږي دفی جاره جار سره دمجرور نه دا ظرف مستقر تعلق نیسی ثابتً پوري، ثابت صیغه دا سم فاعل ضمیر دهو فاعل اوسره دمتعلق نه دا خبر کیږي دمبتدا چې فصل ده، مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه شوه، **واو** عاطفه **هی** مبتدا **تسعة** عدد مبهم ممیز مضاف **اصناف** تمیز مضاف الیه، عدد مبهم ممیز مضاف سره دتمیز مضاف الیه نه دا خبر واقع کیږي دمبتدا، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه.

Maktaba Tul Ishaat.com

اعراب د اقسامو د اسم معرب

اَلْاَوَّلُ اَنْ يَّكُوْنَ الرَّفْعُ بِالضَّمَّةِ وَالنَّصْبُ بِالْفَتْحَةِ وَالْجَرُّ بِالْكَسْرَةِ وَيُخْتَصُّ بِالْمُفْرَدِ الْمُنْصَرِفِ الصَّحِيْحِ (۱) وَهُوَعِنْدَ النُّحَاتِ مَالَايَكُوْنُ فِيْ اٰخِرِهٖ حَرْفُ عِلَّةٍ كَزَيْدٍ وَبِالْجَارِيْ مَجْرَى الصَّحِيْحِ وَهُوَ مَايَكُوْنُ فِيْ اٰخِرِهٖ وَاوٌ اَوْيَاءٌ مَاقَبْلَهَا سَاكِنٌ كَدَلْوٍوَظَبْيٍ وَبِالْجَمْعِ الْمُكَسَّرِ الْمُنْصَرِفِ كَرِجَالٍ تَقُوْلُ جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَدَلْوٌ وَظَبْيٌ وَرِجَالٌ وَرَأَيْتُ زَيْدًا وَدَلْوًا وَظَبْيًا وَرِجَالًا وَمَرَرْتُ بِزَيْدٍ وَدَلْوٍوَظَبْيٍ وَرِجَالٍ:

ترجمه: په اصناف تسعو کښ اول صنف دا دی چه حالت رفعی به ئی په ضمی سره وی او حالت نصبی به ئی په فتحی سره وی او حالت جری به ئی په کسری سره وی او دا خاص دی په مفرد منصرف صحیح سره په نزد د نحاتو باندې دا هغه اسم ده چه په آخر کښ حرف علت نه وی لکه زید او دا قسم اعراب مختص ده په جاری مجرٰی صحیح سره دا هر هغه اسم ده چه په آخر کښ واو یا یاء ما قبل ساکن وی لکه ته اووائی (جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَدَلْوٌ وَظَبْيٌ وَرِجَالٌ وَرَأَيْتُ زَيْدًا وَدَلْوًا وَظَبْيًا وَرِجَالًا وَمَرَرْتُ بِزَيْدٍ وَدَلْوٍوَظَبْيٍ وَرِجَالٍ)

تشریح په اصنافو تسعو کې اولنی صنف دادی چې حالت رفعی به یې په ضمی سره وي او حالت نصبی به یې په فتحی سره وي او حالت جری به یې په کسری سره وي او دا خاص دي په دریو محلاتو پوری محلات جمع دمحل ده.

(۱) مفرد منصرف صحیح (۲) جاری مجری صحیح (۳) جمع مکسر منصرف.

یختص: دا صیغه دفعل مضارع ده او دمعروف او مجهول دواړو احتمال په کښې دی ځکه چې دلازم او متعدي دواړو دپاره مستعمل ده په اختصاص کې یعني داعرابو داقسم. اول ددریو محلاتو سره خاص دي

(۱) **مفرد المنصرف الصحیح**: په مفرد سره إحتراز راغی دتثنی او جمعی نه او په منصرف سره احتراز راغی دغیر منصرف نه ځکه چې دهغه اعراب نور دي ان شاء الله زر ده چې رابه شي په صحیح سره احتراز راغی دغیر صحیح نه

عند النحاة: نحات دناح جمع ده لکه څنګه چې قضات جمع دقاض ده او ناح هغه شخص ته وایي چې دعلم النحوي په مسائلو کې خبری کوي یعني دنحویانو په نزد صحیح هغه دي چې په آخرئي حرف علت نه وي که په اول او اوسط کې وي خیر دي او صرفیانو په نزد صحیح هغه دي چې حرف علت همزه. دو حرف یك جنس درونباشد (یعنی دوه حرفه د یو جنس نه نه وی) یوشاعر په

خپلو خيالاتو کې ظاهر کړی ده.

دانی که صحیح چیست بنزدیك نحویان ما لایکون آخره حرف علتان

دانیکه صحیح چیست بنزدیك صرفیان خالی از حرف علت وتضعیف وهمزه دان

(۲) **وبالجاري مجري الصحيح**: هغه اسم ته وايي چې دهغې په آخر کښې واو ماقبل ساکن يا يا، ماقبل ساکن وي لکه دَلْوٌ اوظَبْيٌ. اودماقبل ساکن دپاره شرط دادي چې حرف صحيح به ري واو عطف په صحيح باندي دي جاري په معنی دچليدونکي سره اومجری په معنی دمقام نودانوم ورته ځکه ورکړی شوچې داقائم مقام دصحيح وي. ځکه چې ځنګه په صحيح کې تغيُر اوتبدل نه راځي نودغه شان پدي کې هم تغيراوتبديلی نه راځي

سوال: دکمو کلماتو په آخرکې چې حرف علت واقع شي نودغه حرف علت کله په حرکت بدليږي او کله حذف کيږي نوتعريف دجاري مجری جامع نه شو

جواب: اګرچې حرف علت په کې موجوددي ليکن ددغه حرف علت نه مخکې حرف ساکن دي يعني خفيف دي نوددي وجی نه دحرف علت ثقل برداشت کوي اوبدليږی نه

(۳) **وبالجمع المكسر المنصرف**: مکسرصفت اول دي پدي سره احترازراغی دجمع سالمی نه اومُکسر ماخوذ دکسرنه دي په معنی دِ ماتيدل سره نوداهغه جمع ده چې بناء دواحد په کې ماته شوي وي لکه رجالٍ واحدیې رَجُلٌ دي منصرف صفت ثاني دي پدي سره احترازراغی دجمع مکسری غيرمنصرف نه يعني دغيرمنصرف اعراب جُدادي پس دری واړو احتمالاتو حالت رفعي به په ضمې سره وي اوحالت نصبی به يې په فتحې سره اوحالت جری به يې په کسرې سره لکه امثله.

حالت رفعي: جاءنی زيدٌودلوٌ وظبيٌ ورجالٌ.

حالت نصبی: رأيتُ زيداًودلواً وظبياً ورجالاً.

حالت جري: مررتُ بزيدٍ ودلوٍ وظبيٍ ورجالٍ.

سوال: څه وجه ده چې مصنف اول قسم مقدم که په نوروباندي اوبيايې مفردمنصرف صحيح په جاري مجری ولی مقدم که اوپه جمع مکسر منصرف يې ولی مقدم کړو

جواب: مصنف اول قسم ځکه مقدم دي چې دادټولو اصنافونه اشرف اواعلی دي ځکه چې په ده باندي اعراب لفظي بالحرکت حقيقي راځي اودا اصل دي داعراب بالحرف نه

Maktaba Tul Ishaat.com

اودغه شان مفرد منصرف اصل دي اوجاری مجری قائم مقام دصحيح دي نوداهم اصل دي دغیراصل نه اودغه شان جمع مکسره هم اصل ده په جمع مؤنث سالمه باندي . نوداځکه مقدم دي په ټولو اضافو باندي بیاپه دوی کښ مفرد منصرف صحیح په جمع مکسرمنصرف ځکه مقدم دي چې مفرد اصل دي دجمع اواصل طبعاًمقدم وي په فرع باندي.

ترکیب: الاول مبتدا **ان** ناصبه مصدریه **یکون** فعل از افعال ناقصه **الرفع** معطوف علیه **واو** عاطفه **النصب** معطوف اول **والجر** معطوف ثانی معطوف سره دمعطوفینو نه دا اسم دیکون شو **بالضمة** معطوف علیه **بالفتحة** معطوف اول **بالکسرة** معطوف ثانی معطوف سره دمعطوفینو نه دا خبر دیکون، یکون فعل از افعال ناقصه سره داسم او خبر نه دا جمله فعلیه په تاویل دمصدر سره خبر دمبتدا شوه، مبتدا سره دخبر نه جمله اسمیه خبریه شوه

یختص فعل فاعل **باء** جاره **المفرد** موصوف **الصحیح** صفت، موصوف سره دصفت نه دا مجرور دباء جاره ، جار سره دمجرور نه داظرف لغوه تعلق نیسی یختص پوري، یختص فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا جمله فعلیه خبریه شوه **واو** عاطفه **هو** ذو الحال **عند** مضاف **النحو** مضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه دا حال شو د ذو الحال حال سره دذو الحال نه دا مبتدا شوه، **ما** موصوله **لا** نافیه **یکون** فعل از افعال ناقصه **فی** جاره **اخر** مضاف **ه** مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه دا مجرور دجار کیږي جار سره دمجرور نه دا متعلق شو ثابتٌ پوري، ثابتٌ صیغه داسم فاعل ضمیر دهی فاعل او سره دمتعلق نه دا خبر مقدم شو **حرف** مضاف **علة** مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه دا اسم مؤخر شو ، یکون سره داسم او سره دخبر نه دا جمله فعلیه صله شو لپاره دموصول، موصول سره دصله نه دا خبر شو لپاره دمبتدا ، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه. **کاف** په معنی دمثل سره دا مضاف شو ، **زید** مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه دا خبر شو لپاره دمبتدا محذوفه چی مثاله ده، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه.

واو عاطفه **باء** جاره **الجاري** مضاف **الصحیح** مضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه دا مجرور کیږي دجار، جارسره دمجرور نه دا متعلق شو یختص فعل پوري، یختص فعل فاعل اوسره دمتعلق نه جمله فعلیه خبریه شوه ، **واو** عاطفه **هو** مبتدا **ما** موصوله **یکون** فعل از افعال ناقصه **فی** جار **اخر** مضاف **ه** ضمیر مضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه دا مجرور دجار، جار سره دمجرور نه دا په اعتبار دمتعلق سره خبر مقدم شو، **واو** معطوف علیه او عاطف **یاء** معطوف ، معطوف سره دمعطوف علیه نه دا موصوف شو **ما** موصوله **قبل** مضاف **هما** مضاف الیه ، مضاف سره دمضاف الیه نه دا

مفعول شو لپاره دفعل مقدره چې ثبت ده **ساکن** دا فاعل ده لپاره د ثبت ،ثبت فعل فاعل سره دمفعول فيه نه دا صله شو لپاره موصول ، موصول سره دصلي نه دا مبتدا مؤخر شوه مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه، **کاف** په معنی دمثل مضاف سره، **دلو** معطوف عليه **واو** عاطفه **ظبي** معطوف، معطوف سره دمعطوف عليه نه دا مضاف اليه کيږي دمضاف. مضاف سره دمضاف اليه نه دا خبر کيږي لپاره دمبتدا چې مثاله ده، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه،

واو عاطفه **با،** جاره **الجمع** موصوف **المكسر** صفت، موصوف سره دصفت نه دا بيا موصوف کيږي **المنصرف** صفت، موصوف سره دصفت نه دا مجرور کيږي دباء جاره، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو يختص پوري، يختص فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا جمله فعليه خبريه شوه، **کاف** په معنی دمثل مضاف سره **رجال** مضاف اليه. مضاف سره دمضاف اليه نه دا خبر کيږي دمبتدا چې مثاله ده مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه، **تقول** فعل انت ضمير فاعل، فعل سره دفاعل نه دا جمله فعليه خبريه قول، **جاء** فعل **نون** وقايه **يا،** ضمير دمتكلم مفعول به **زيد** معطوف عليه **ودلو** معطوف اول **وظبي** معطوف ثاني، **ورجال** معطوف ثالث معطوف سره دمعطوفاتو ثلاثه نه دا فاعل کيږي لپاره دجاء ، جاء فعل نون وقايه يا، ضمير دمتكلم مفعول به او سره دفاعل نه دا جمله فعليه معطوفه عليه **واو** عاطفه **رايت** فعل فاعل **زيدا** معطوف عليه **ودلوا** معطوف اول **وظبيا**معطوف ثاني **ورجال** معطوف ثالث، معطوف سره دمعطوفاتو ثلاثه نه دا مفعول به کيږي د رايت و رايت فعل فاعل سره دمفعول به نه دا جمله خبريه معطوف اول، **واو** عاطفه **مررت** فعل فاعل **با،** جاره **زيد** معطوف عليه **واو** عاطفه **دلو** معطوف اول **وظبي معطوف** ثاني **ورجال** معطوف ثالث. معطوف سره دمعطوفاتو ثلاثه نه دا مجرور کيږي دباء جاره ، جار سره دمجرور نه دا متعلق مررت پوري، مررت فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا جمله فعليه خبريه معطوف ثاني. معطوف سره دمعطوفاتو نه دا جمله فعليه خبريه مقوله ، قول سره دمقولې نه دا جمله فعليه خبريه

(۲) **اَلثَّانِيْ اَنْ يَّكُوْنَ الرَّفْعُ بِالضَّمَّةِ وَالنَّصْبُ وَالْجَرُّ بِالْكَسْرَةِ وَيَخْتَصُّ بِجَمْعِ الْمُؤَنَّثِ السَّالِمِ تَقُوْلُ هُنَّ مُسْلِمَاتٌ وَرَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ:**

ترجمه: او د دويم قسم اعراب دا ده چه حالت رفعي به ئې په ضمې سره وي او نصب او جر به ئې په کسرې سره وي او دا قسم اعراب د جمع مؤنث سالمې سره خاص ده لکه (هُنَّ مُسْلِمَاتٌ وَرَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ)

تشريح: دا صنافو تسعونه دويم قسم دادي چې حالت رفعي به يې په ضمې سره وي

Maktaba Tul Ishaat.com

اوحالت نصبی اوجری به یې په کسری سره وي لکه دحالت رفعی مثال (هُنَّ مُسْلِمَاتٌ) هن مبتدا دي اومسلمات يې خبردي اوبنا برخبريت هم حالت رفعی دي اومبتدايې عامل رافعه دي اوحالت نصبی به يې تابع دجروي لکه (رَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ)

سوال: سوال دادي چې پدي قسم کې نصب تابع دجرولی دي.

جواب: جواب دادي چې دادجمع مذکرسالمه فرع ده اوپه هغی کښی نصب تابع دجردي نوپه دي وجه چې داصل اوفرعی مطابقت اوموافقت باقی پاتی شې. اوبله وجه داده چې پدي قسم باندي اعراب لفظی بالحرکت حکمی داخلېږی اودحکمی تعریف مونږه کړی دي چې يوحالت دبل تابع وي

سوال: جمع مؤنث سالمه فرع ده دجمع مذکرسالمی اوجمع مذکرسالم يې اصل ده اواعراب بالحرکت اصل دي اواعراب بالحرف فرع ده اوتاد اصل نه خلاف کړی دي څکه چې اعراب بالحرکت اصل دي اوداتاجمع مؤنث سالمی (فرعی) ته ورکړی دي يعني ديته اعراب بالحرف پکاردي

جواب: دامودمجبوری دوجی نه ورکړی دي يعني دجمع مؤنث سالمی په آخر کښی داعراب بالحرف صلاحيت نشته اودجمع مذکرسالمی په آخرکې صلاحيت داعراب بالحرف شته چې ياء ماقبل مکسوراوواوماقبل مضموم دي خمايه مذهب يې دويم **جواب** دادي چې پدي باندا اعراب حکمی راځی اوحکمی فرع ده داعراب بالحرف حقيقي نوپس فرعی لره فرع ثابته شوه

ترکيب: **الثانی** مبتدا **ان** ناصبه مصدريه **يکون** فعل از افعال ناقصه **الرفع** معطوف عليه **والنصب** معطوف اول **والجر** معطوف ثانی، معطوف سره دمعطوفاتو سره دا اسم ديکون شو. **باء** جاره **الضمة** معطوف عليه **واو** عاطفه **باء** جاره **الکسرة** مجرور. جار سره دمجرور نه دا معطوف شو، معطوف سره دمعطوف عليه نه دا مجرور شو دجار جار سره دمجرور نه دا خبر ديکون شو. يکون سره دا اسم او خبرنه دا جمله فعليه خبر دمبتدا شوه، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه، **واو** عاطفه **يختص** فعل فاعل **باء** جاره **جمع** مضاف **المونث** موصوف **السالم** صفت، موصوف سره دصفت نه دا مضاف اليه کيږي دجمع مضاف لپاره، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مجرور کيږي دباء جاره، جار سره دمجرو نه دا متعلق په يختص پوري شو يختص فعل فاعل سره دمتعلق نه دا جمله فعليه خبريه شوه، **تقول** فعل فاعل، فعل سره دفاعل نه دا جمله فعليه خبريه قول شو، **هن** مبتدا **مسلمات** ئی خبر، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه معطوف عليه شوه، **واو** عاطفه **رايت** فعل فاعل **مسلمات** مفعول به فعل سره دفاعل او

سره دمفعول به نه دا جمله فعليه خبريه معطوف اول واو عاطفه مررت فعل فاعل بمسلمات جار مجرور، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو مررت پوري، مررت فعل فاعل سره دمتعلق نه دا جمله فعليه خبريه معطوف ثاني، معطوف سره دمعطوفاتو نه دا جمله فعليه خبريه مقوله شوه لپاره دقول، قول سره دمقولي نه دا جمله فعليه خبريه شوه.

(۳) الثَّالِثُ أَنْ يَكُوْنَ الرَّفْعُ بِالضَّمَّةِ وَالنَّصْبُ وَالْجَرُّ بِالْفَتْحَةِ وَيُخْتَصُّ بِغَيْرِ الْمُنْصَرِفِ كَعُمَرَ تَقُوْلُ جَاءَنِيْ عُمَرُ وَرَأَيْتُ عُمَرَ وَمَرَرْتُ بِعُمَرَ.

ترجمه او دریم قسم اعراب داده چه حالت رفعي به ئې په ضمې سره وی او حالت نصبي او جري به ئي په فتحي سره وی او دا قسم اعراب خاص ده غیر منصرف صحیح سره لکه (عُمَرُ وَرَأَيْتُ عُمَرَ وَمَرَرْتُ بِعُمَرَ)

تشريح: داصنافو تسعو نه دريم صنف دادي چې حالت رفعي به يې په ضمى سره وي اوحالت نصبي اوجرى به يې په فتحي سره وي اوديته اعراب بالحركت حكمي وايې يعني يوحالت په کې دبل تابع وي اودا مختص دي غير منصرف پورى اوغير منصرف هغه دي چې پده کې دوه سببونه د اسباب منع صرف نه موجود وي يا يو سبب چې قائم مقام ددوو وي مثال لکه عُمَرُ په ده کې يو سبب عالميت دي اوبل سبب په کې عدل دي .حالت رفعي جاءني عُمَرُ حالت نصبي رايت عُمَرَ حالت جري مررت بِعُمَرَ.

سوال اعراب بالحركت ولى مختص دي په غير منصرف پورى.

جواب: غيرمنصرف هميشه مفرد وي اومفرد اصل دي دغير اصل نه البته اعراب يې حكمي دي ددي وجه داده چې كسره په غير منصرف ممنوعه ده نوفتحه تابع دجر اوگرزيده.

سوال: كسره پرى ولى ممنوعه ده.

جواب: غير منصرف مشابه دفعل دي اوپه فعل كسره نه راځي ځکه چې جرد خواصو د اسم نه دي

سوال غيرمنصرف مشابه د فعل ولى دي

جواب: دغير منصرف پوره بحث راروان دي

تركيب: **الثالث** مبتدا **ان** ناصبه مصدريه **يكون** فعل از افعال ناقصه **الرفع** معطوف عليه **والنصب** معطوف اول **والجر** معطوف ثاني، معطوف سره دمعطوفاتو نه دا اسم ديكون شو، **باء** جاره **الضمة** معطوف عليه **باء** جاره **الفتحة** مجرور، جار سره دمجرور نه دا معطوف شو لپاره دمعطوف عليه، معطوف سره د معطوف عليه نه دا مجرور شو دجار، جار سره دمجرور نه دا خبر ديكون شو، يكون

Maktaba Tul Ishaat.com

سره داسم او خبر نه دا جمله فعليه خبريه په تاويل دمصدر سره دا خبر دمبتدا شو، مبتدا سره دخبر نه جمله اسميه خبريه، **واو** عاطفه **يختص** فعل فاعل، **باء** جاره، **غير** مضاف، **المنصرف** مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مجرور كيږي دجار، جار سره دمجرور نه دا ظرف لغوه تعلق نيسي يختص پوري. يختص فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا جمله فعليه خبريه شوه. **كاف** بمعنى مثل مضاف **عمر** مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا خبر كيږي دمبتدا دمحذوفه چې مثاله ده، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه، **تقول** فعل فاعل. فعل سره دفاعل نه دا جمله فعليه قول شوه، **جاء** فعل **نون** وقايه **ياء** ضمير دمتكلم مفعول به **عمر** فاعل، جاء فعل نون وقايه ياء ضمير دمتكلم مفعول به سره دفاعل نه دا جمله فعليه خبريه معطوف عليه **واو** عاطفه **رايت** فعل فاعل **عمر** مفعول به فعل سره دفاعل او سره دمفعول به نه دا معطوف اول شو واو عاطفه **مررت** فعل فاعل **بعمر** جار مجرور، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو مررت پوري مررت فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا معطوف ثاني شو، معطوف سره دمعطوفاتو نه دا جمله فعليه خبريه مقوله. قول سره دمقولې نه دا جمله فعليه خبريه شوه

﴿۴﴾ **اَلرَّابِعُ اَنْ يَكُوْنَ الرَّفْعُ بِالْوَاوِ وَالنَّصْبُ بِالْاَلِفِ وَالْجَرُّ بِالْيَاءِ وَيَخْتَصُّ بِالْاَسْمَاءِ السِّتَّةِ مُكَبَّرَةً مُوَحَّدَةً مُضَافَةً اِلٰى غَيْرِ يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ وَهِيَ اَخُوْكَ وَاَبُوْكَ وَهَنُوْكَ وَحَمُوْكِ وَفُوْكِ وَذُوْمَالٍ تَقُوْلُ جَاءَنِيْ اَخُوْكَ وَرَأَيْتُ اَخَاكَ وَمَرَرْتُ بِاَخِيْكَ وَكَذَا الْبَوَاقِيْ.**

ترجمه څلورم قسم اعراب دا دی چه رفع به ئې په واو سره وی او نصب به ئې په الف سره وی او جر به ئې په ياء سره وی او دا قسم اعراب خاص دی د اسماء سته مكبره سره په داسې حال كښې چه واحد به وی او مضاف به وی و ياء متكلم طرف ته نه علاوه او هغه اخوك ابوك هنوك حموك فوك او ذومال دی لكه ته اووائي جَاءَنِيْ اَخُوْكَ وَرَأَيْتُ اَخَاكَ وَمَرَرْتُ بِاَخِيْكَ په دې مثال باندې باقي پنځه واړه قياس كړه.

تشريح هركله چې مصنف فارغ شو دهغه مواضعونه كوم چې داعراب بالحرف حقيقي اوحكمي وو نو شروع يې په اعراب بالحرف باندې اوكړه. پس داصنافو تسعو نه څلورم صنف دادي چې حالت رفعي به يې په واو سره وي او حالت نصبي به يې په الف سره وي اوحالت جري به يې په ياء سره وي اودا قسم اعراب بالحرف حقيقي دي اودا مختص دي په اسماء سته مكبرو موحدو اضافو الى غيرياء المتكلم پوري .مكبرةً .موحدةً او مضافةً درې واړه منصوب دي تقدير دعبارت داسې دي (كان) مكبرةً (وكان) موحدةً (وكان) مضافةً الى غيرى المتكلم

نوپس داسمایي ستو د پاره ګویاڅلورشرطه دي.

اول شرط مکبره ېدی سره احترازراغی دمصغرنه که چری مصغرشي نواعراب به بې بالحرف نه وي بلکه اعراب بالحرکت حقيقي به وي لکه جاء أُخَيٌ رایت أُخَيا ومررت بأُخَيٍ یاء اضافت په وخت کې چې مصغروي لکه جاءنی أُخَيُكَ رایت أُخَيَكَ ومررت بأُخَيِكَ. احترازیه دي سره دمُصغرونه راغی ځکه داقسم اعراب بالحرکت حقيقي دي.

دویم شرط مؤحده چې مفردوي یعني واحدوي پدي سره احترازراغی دتثنیی اودجمعی نه کچری تثنیه اوجمع اوویلی شي نوبیابه بې اعراب بالحرف نه وي بلکه اعراب بالحرکت حکمی به وي لکه جاءنی اخوانٌ رایت أخوَینِ مررت باخوَینِ یعني چې کله تثنیه اوجمع شي نواعراب به بې دنورو تثنیو او جمعو پشان وي. نوځکه دویم شرط دموحدة ذکرشو.

دریم شرط مضافةً الی غیریاء متکلم: ګویاپدي کې دوه شرط دي یوداچې اضافت به بې شوي وي او بل داچې اضافت به بې بغیردیاء متکلم نه علاوه هرضمیرته شوي وي. کچري اضافت په کې اونه شي نوبیابه اعراب بالحرکت حقيقي وي لکه جاءنی ابٌ رایت اباً ومررت بابٍ. کچري یاء متکلم ته بې اضافت اوشي نوبیابه بې اعراب بالحرکت تقدیری وي لکه جاءنی اخِي رایت اخِي ومررت باخِي پس ددي دواړوشرطونونه احترازراغی اسمایي ستة شپږدي ـ اخٌ ـ ابٌ ـ هنٌ ـ حمٌ ـ فمٌ اوذُومالٍ تقولُ جاءنی اخوك. ابوكَ حموكِ رأیت اخاكَ اباكَ حماكِ ومررت باخوكَ ابوكَ حمِيكِ فمِيكَ ـ جاءابی زیدٍ رایت ابازیدٍ ومررت بابی زید.

سوال په اسماء ستهٔ کې ماسوا دذُونه دنوروتولو اضافت ضمیرطرف ته کیږي نودذُو اضافت ضمیرته ولی نه کیږي.

جواب دذُو اضافت دااسم ضمیرطرف ته ځکه نه کیږي چې دااسم جنس دي اوواضعینو دااسم جنس یاء اسم ظاهرد پاره وضع کړی دي لکه ذومالٍ دااسم جنس اطلاق په لږاوډیرتولو باندي کیږي یعني لږو پیسووالاته هم مالدار وئیل صحیح دي.

حَمٌ: لیورته وایي اولیورفقط په مؤنث پوری مختص وي لکه جاءنی حَمُوكِ حَمَاكِ حَمِيكِ.

هَنٌ: امرمستکره ته وایي یعني هرهغه شئ چې دهغی ذکرقبیح وي.

وجه تسمیه: ابٌ اخ هنٌ حمٌ په اصل کې ابوٌ ـ هنوٌ اوحموٌ وو داڅلورواړه ناقص واوي دي ذوپه اصل کې ذَوَوٌ ود الفیف مقرون دي اوفمٌ په اصل کې فوهٌ وو دا اجوف واوي دي دتولونه آخری

Maktaba Tul Ishaat.com

حرف حذف شو البته دفوه نه ه حذف شوه نو پاتي شو او په ميم سره بدل شو دوجې دا قتران دشخصيتينو نه نو فم تري جوړ شو

ترکيب: الرابع مبتدا **ان** ناصبه مصدريه **يكون** فعل از افعال ناقصه **الرفع** معطوف عليه **والنصب** معطوف اول **والجر** معطوف ثاني، معطوف سره دمعطوفينو نه دا اسم ديكون شو. **باء** جاره **والواو** معطوف عليه **باء** جاره، **الالف مجرور**، جارسره دمجرور نه دا معطوف اول شو. **باليا**ء دا معطوف ثاني شو. معطوف سره دمعطوفينو دا مجرور كيږي دجار سره دمجرور نه دا خبر كيږي ديكون. يكون سره داسم او خبر نه دا جمله فعليه خبريه په تاويل دمصدر سره دا بيا خبر واقع كيږي مبتدا لپاره. مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه.

واو عاطفه **يختص** فعل فاعل. **باء** جاره **الاسماء** موصوف **الستة** صفت موصوف سره دصفت نه دا ذوالحال شوه، **مكبرة** حال اول **موحدة** حال ثاني، **مضافة** صيغه داسم مفعول ضمير پکښې مستتر هغه ئې نائب فاعل، **الى** جاره، **غير** مضاف **ياء** مضاف اليه مضاف **المتكلم** مضاف اليه. مضاف سره دمضاف اليه نه دا بيا مضاف اليه كيږي لپاره دمضاف. مضاف سره دمضاف اليه نه دا مجرور كيږي دجار، جار سره دمجرور نه دا ظرف لغوه تعلق نيسي مضافة پوري. مضافة صيغه داسم مفعول سره دنائب فاعل او سره دمتعلق نه دا شبه جمله حال ثالث شو حال ثلاثة سره د ذوالحال نه دا مجرور كيږي دجار، جار سره دمجرور نه دا ظرف لغو تعلق نيسي يختص پوري. يختص فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا جمله فعليه خبريه شوه،

واو عاطفه **هى** مبتدا **اخوك** معطوف عليه **وابوك** معطوف اول **وهنوك** معطوف ثاني **وحموك** معطوف ثالث **وفوك** معطوف رابع **وذومال** معطوف خامس، معطوف سره دمعطوفات خمسه نه دا خبر كيږي دمبتدا ، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه، **تقول** فعل فاعل ، فعل سره دفاعل نه دا جمله فعليه خبريه قول، **جاء** فعل **نون** وقايه **ياء** ضمير دمتكلم مفعول به **اخوك** مضاف مضاف اليه، دا فاعل شو فعل سره دفاعل او سره دمفعول به نه دا جمله فعليه خبريه معطوف عليه، **واو** عاطفه **رايت اخاك** معطوف اول **ومررت باخيك** معطوف ثاني ، معطوف سره دمعطوفاتو نه دا مقوله شوه لپاره دقول، قول سره دمقولې نه دا جمله فعليه خبريه **واو** عاطفه **كذا** خبر مقدم **البواقى** مبتدا مؤخر ، خبر مقدم سره دمبتدا مؤخر نه دا جمله اسميه خبريه شوه.

(۵) اَلْخَامِسُ اَنْ يَكُوْنَ الرَّفْعُ بِالْاَلِفِ وَالنَّصْبُ وَالْجَرُّ بِالْيَاءِ الْمَفْتُوْحِ مَا قَبْلَهَا وَيَخْتَصُّ بِالْمُثَنّٰى وَكِلَا مُضَافًا اِلٰى مُضْمَرٍ وَاثْنَانِ وَاثْنَتَانِ تَقُوْلُ جَاءَنِى الرَّجُلَانِ كِلَاهُمَا وَ

اِثْنَانِ وَاثْنَتَانِ وَرَأَيْتُ الرَّجُلَيْنِ كِلَيْهِمَا وَاثْنَيْنِ وَاثْنَتَيْنِ وَمَرَرْتُ بِالرَّجُلَيْنِ كِلَيْهِمَا وَاثْنَيْنِ وَاثْنَتَيْنِ.

ترجمه: د اعراب پنځم قسم داده چه حالت رفعي به ئې په الف سره وی نصب او جر به ئې په ياء سره وی خو ما قبل به ترې فتحه وی او دا قسم اعراب خاص ده تثنيه سره او كلا چه كله دا ضمير طرف ته مضاف وی او اثنان او اثنتان سره لكه جَاءَنِي الرَّجُلَانِ كِلَاهُمَا وَاثْنَانِ وَاثْنَتَانِ وَرَأَيْتُ الرَّجُلَيْنِ كِلَيْهِمَا وَاثْنَيْنِ وَاثْنَتَيْنِ وَمَرَرْتُ بِالرَّجُلَيْنِ كِلَيْهِمَا وَاثْنَيْنِ وَاثْنَتَيْنِ.

تشريح: د اصناف تسعو نه پنځم صنف دادی چې حالت رفعي به يې الف سره وي او حالت نصبي او جري به يې په ياء ما قبل مفتوح سره وي او د قسم اعراب ته اعراب لفظي بالحرف حكمي وايي ځكه چې نصب يكې تابع د جر وی او دا قسم اعراب خاص ده په مثنى پورى او په ملحقاتو د مثنى پورى مثنى: هغه لفظ يا اسم ته ويلى شي چې په آخر د مفرد كې يې الف او نون پيوست وي لكه رجلان

ملحقات دمثنٰی

ملحقات دمثنٰی: مُلحقات د تثنیې مصنف څلور ذکر کړي دي کلا ، کلتا ، اثنان ، اثنتان دیته ملحقات ځکه وایې چې داپه حقیقت کې تثنیه نه دي ځکه چې ددوي مفرد نشته اودتثنیې دپاره مفرد شرط دي نودا په ملحقاتو دمثنٰی سره مسمٰی کړی شو **فائده** یعني دامعناًتثنیه دي اولفظاً تثنیه نه دي ۔ کلاعطف دي په مثنٰی باندي اوپه اضافة المضمر سره احترازراغی دااسم ظاهرنه که چیری اسم ظاهرته یې اضافت اوشي نواعراب به یې تقدیري وي لکه جاء کلاَ رجلین رایت کلاَ رجلین مررت کلاَ رجُلین ۔نوپس دامضاف الی مضمر قید احترازي دي۔

سوال: مصنف یوازی کلا ذکر کړواو کلتایې ولی ذکر نکړو؟

جواب: مصنف په اصل باندي اکتفاء اوکړه ځکه چې مذکراصل دي او کلاهم دمذکردپاره استعمالیږي نوداصل دحکم نه دفرعی حکم قیاساًاومستفاداًمعلومیږي نوکلتاخودبخودمعلوم شو۔

سوال: مصنف چې څنګه په کلاباندي اکتفاء اوکړه نوپکار ده چې اثنتان یې هم نوي ذکرکړی۔

جواب: په اثنتان سره مصنف دفع دتوهم کړی ده هغه داچې اعراب ددواړویوشان دي اوحکم یې جُداجُدادي نوبیابه داتوهم مبتدي ته کیده چې اثنتان مصنف ځکه نه دي ذکرکړی چې دهغی اعراب به جُداوي حلانکه اعراب داثنان اواثنتان یوشان دي نوځکه مصنف اکتفاء په دواړواوکړه ۔ مثالونه حالت رفعی : جاءني الرجلان کلاهما و اثنان حالت نصبی اوجری رایت الرجلین کلیهما واثنین ومررت بالرجلین کلیهما واثنین ، اودّ مؤنث مثالونه پدی سره قیاس کړه

کلاوکلتا: کوفیین وایې چې کلا و کلتا په هرصورت کې په مثنٰی کې داخل دي ځکه چې الف په کې دتثنیې دي اونون په کې په واجبی طورمحذوف دي او داهمیشه مضاف وي اوواحدیې کل وي چې په احاطه دافرادوسره راځی لیکن داقول غلط دي ځکه چې داکله اسم ظاهرته مضاف شي نوالف په کې باقی نه پاتی کیږي۔

ترکیب: **الخامس** مبتدا **ان** ناصبه مصدریه **یکون** فعل از افعال ناقصه **الرفع** معطوف علیه **والنصب** معطوف اول **والجر** معطوف ثاني، معطوف علیه سره دمعطوفینو نه دا اسم دیکون شو ، **بالالف** جار مجرور دا معطوف علیه شو **بالیاء** جار مجرور دا موصوف شو ، **المفتوح** صفت، موصوف سره دصفت نه دا بیا موصوف شو ، **ما** موصوله یا موصوفه **قبلها** مضاف مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه دا مفعول فیه شو دثبت مقدر لپاره، ثبت فعل فاعل اوسره دمفعول فیه نه دا صله شوه

لپاره موصول. موصول سره د صلہ نه دا صفت شو لپاره د موصوف. موصوف سره د صفت نه دا معطوف شو لپاره د معطوف علیه. معطوف سره د معطوف علیه نه دا خبر دیکون شو یکون سره دا اسم او خبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه

واو عاطفه **یختص** فعل فاعل **باء** جاره **المثنی** معطوف علیه **واو** عاطفه **کلا** ذوالحال **مضافاً** صیغه د اسم مفعول ضمیر پکښې نائب فاعل **الی** جار **مضمر** مجرور جار سره د مجرور نه دا متعلق شو مضافاً پورې، مضافاً صیغه د اسم مفعول ضمیر پکښې نائب فاعل او سره د متعلق نه دا شبه جمله حال شو لپاره د ذوالحال. حال سره د ذوالحال نه دا معطوف اول شو **واثنان** معطوف ثانی **واثنتان** معطوف ثالث معطوف سره د معطوفاتو نه دا مجرور شو د جار. جار سره د مجرور نه دا ظرف لغوه متعلق شو یختص پورې. یختص فعل فاعل او سره د متعلق نه دا جمله فعلیه خبریه شوه **تقول** فعل فاعل دا جمله فعلیه قول **جاء** فعل **نون** وقایه **یا** ضمیر د متکلم مفعول به **الرجلان** مؤکد **کلاهما** مضاف مضاف الیه دا تاکید شو. مؤکد سره د تاکید نه دا معطوف علیه شو. **واثنان** معطوف اول **واثنتان** معطوف ثانی. معطوف سره د معطوفینو نه دا فاعل د جاء شو. جاء فعل فاعل او سره د مفعول به نه دا جمله فعلیه معطوفة علیها ده. **واو** عاطفه **رایت** فعل فاعل **الرجلین** مؤکد **کلیهما** مضاف مضاف الیه نه دا تاکید شو مؤکد سره د تاکید نه دا معطوف علیه شو **واثنین** معطوف اول **واثنتین** معطوف ثانی، معطوف سره د معطوف فینو نه دا مفعول به شو د رایت لپاره، رایت فعل فاعل مفعول به نه دا جمله فعلیه معطوف اول، **واو** عاطفه **مررت** فعل فاعل **باء** جاره **الرجلین** مؤکد **کلیهما** مضاف مضاف الیه دا تاکید شو، مؤکد سره د تاکید نه بیا معطوف علیه شو **واثنین** معطوف اول **واثنتین** معطوف ثانی، معطوف سره د معطوفینو نه دا مجرور شو د جار، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو مررت فعل پورې، مررت فعل فاعل او سره د متعلق نه دا معطوف ثانی شو معطوف سره د معطوفینو نه دا جمله فعلیه قولیه شوه

(۶) اَلسَّادِسُ اَنْ یَّکُوْنَ الرَّفْعُ بِالْوَاوِ الْمَضْمُوْمِ مَا قَبْلَهَا وَالنَّصْبُ وَالْجَرُّ بِالْیَاءِ الْمَکْسُوْرِ مَا قَبْلَهَا وَیَخْتَصُّ بِجَمْعِ الْمُذَکَّرِ السَّالِمِ نَحْوُ مُسْلِمُوْنَ وَاُولُوْ وَعِشْرُوْنَ مَعَ اَخَوَاتِهَا تَقُوْلُ جَاءَنِیْ مُسْلِمُوْنَ وَعِشْرُوْنَ وَاُولُوْ مَالٍ وَرَاَیْتُ مُسْلِمِیْنَ وَعِشْرِیْنَ وَاُولِیْ مَالٍ وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِیْنَ وَعِشْرِیْنَ وَاُولِیْ مَالٍ.

ترجمه: شپږم اعراب دا دی چه حالت رفعی به ئې په واو ما قبل مضموم سره وی او نصب او جر به ئې په یاء ماقبل مکسور سره وی او دا قسم اعراب د جمع مذکر سالمې سره خاص دی لکه

مسلمون او اولو او عشرون سره د خپلو اخواتو چه ثلثون، اربعون او خمسون وغیره دی لکه: جَاءَنِیْ مُسْلِمُوْنَ وَعِشْرُوْنَ وَاُوْلُوْمَالٍ وَرَاَيْتُ مُسْلِمِيْنَ وَعِشْرِيْنَ وَاُولِيْ مَالٍ وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِيْنَ وَعِشْرِيْنَ وَاُولِيْ مَالٍ،

تشریح: د اصنافو تسعو نه شپږم صنف دا دي چې حالت رفعي به يې په واو ماقبل ضمي سره او حالت نصبي او جري به په ياء ماقبل كسرې سره وي. او دا قسم اعراب بالحرف حكمي دي او دا مختص دي په جمع مذكر سالمي پورې او په ملحقاتو د دي پورې. لكه مثال د حالت رفعي: جاءني مسلمُون وعشرُون واولو مالٍ حالت نصبي او جري: رايت مسلمين وعشرين واولي مالٍ ومررت بمسلِين وعشرِين وباولِي مالٍ.

جمع مذكر سالمه: دېته وايي چې ملحق شوي په آخر د دي پورې واو ماقبل مضموم او ياء ماقبل مكسور لكه مسلمون او عشرونَ وغيره او سالمه ورته ځكه وايي چې بناء د واحد په كي نه وي ماته شوي.

سوال: اولو جمع د ذو ده نو ګويا پدي كي بناد واحد ماته شوي ده نو دېته جمع مكسره وئيل پكار دي.

جواب: دېته جمع مفرد من غير لفظه وايي يعني چې د مفرد حرفونه په كې نوي او دا واضعينو وضع كړي وي لپاره د جمع مذكري سالمي يعني تعريف پرې ثابت دي ځكه چې په آخر كښ يې واو ماقبل مضموم دي.

عشرون مع اخواتها: د دي نه مراد خوېندي د عشرون دي مثلاً ثلثون، اربعون، خسمون، ستون، سبعون، ثمانون، تسعون دا جمع حقيقي نه دي بلكه دېته ملحق بالجمع وايي يعني معناً خو جمع وي ليكن لفظاً يا حقيقتاً جمع نه دي او دېته دهائي وايي په اصطلاح د نحاتو كي ورته عقود ثمانيه وايي. ځكه دي چې د دي د پاره مفرد نشته او مفرد اصل وي جمع لره نو مسمّٰى په ملحق بالجمع شو.

سوال: د عشرونَ نه تسعون پورې دا جمع حقيقي دي ځكه د دوی افراد شته. عشرة د عشرون مفرد دي او ثلاثة د ثلاثون مفرد دي او اربعة د اربعون مفرد دي على هذا القياس.

جواب: دا نه شي كيدي چې مفرد دي عشرة شي ځكه چې عشرة په دلالت په لسو باندي كوي او مفرد يو ته وايي او كچري دا يي مفرد او ګرزي نو بيا پكار ده چې عشرون په اقل عدد باندي دلالت او كي ځكه چې د جمعي اقل عدد دری دي نو دا جمع حقيقي كله هم نه شي كيدي او دغه شان اخواتها قياس كړه.

سوال: پدي قسم كي حالت نصبي تابع د حالت جري دي. او دا قسمه اعراب ولې مختص دي په جمع مذكر سالمه پورې او د تثنيې حالت نصبي او جري ياء ماقبل مفتوح ولې

ده او جمع مذکر سالمه یاء ماقبل مکسور ولی ده .

جواب اعراب بالحروف ټول دری دي ، واو ، الف ، یاء ، او اعراب بالحرکت هم دری دي ـَـ ـِـ ـُـ نو مجموعه اعراب شپږ شو او مُستحقین د اعرابا تو نهه دي یعني دری حالتونه د مفرد دي او دری حالتونه د تثنی دي او دری حالتونه د جمعی دي . پس مفرد له مو اعراب بالحرکت ورکړو ځکه چې مفرد اصل دي او اعراب بالحرکت هم اصل ده باقی دری اعراب بالحروف پاتی شو او شپږ حالتونه پاتی شو دری د تثنیی او دری د جمعی کچیری د ریواړه تثنیی ته ورکړونو جمع به خالی پاتی شي او که عکس او کړونو تثنیه به خالی پاتی شي او دواړو ته یوشان ورکړونو التباس لازمیږی نو پس الف مو د تثنیی په حالت رفعی پوری خاص کړو او واو مو د جمع مذکر سالمی په حالت رفعی پوری خاص کړو او دا مو ځکه ورکړو چې په تثنیه کې الف علامت د فاعل دي او په جمع کې واو علامت د فاعل دي باقی یوه یاء پاتی شوه او څلور حالتونه پاتی شو ، د تثنیی نصبی او جری او د جمعی نصبی او جری ، پس تثنی ته هم یاء ورکړه او جمعی ته هم او فرق مو په کې د رأوس چې د تثنیی یاء ماقبل مفتوح شوه او د جمعی یاء ماقبل مکسور شوه نو اعتراض رفع شو ځکه چې حالتونه څلور دي او حرف یو دي نو حالت نصبی تابع د جر ځکه شو د مختص کیدو جواب دا دي چې نور اعراب تري مفرد او حالت رفعی او تختول نو خود بخود پوری یاء غریبه مختص شوه تثنیی ته مو دیاء نه ماقبل فتحه ځکه ورکړه چې تثنیه متوسطه ده او فتحه هم متوسطه ده بله وجه داده چې تثنیه کثیر الاستعمال ده او جمع قلیل الاستعمال ده نو د کثیر الاستعمال سره خفت مناسب دي او فتحه هم آخَفُ الحرکات ده نو فتحه مو تثنی ته ځکه ورکړه او جمعی ته کسره ورکړه ځکه چې ضمه پری ثقیله ده

ترکیب: السادس مبتدا **ان** ناصبه مصدریه **یکون** فعل از افعال ناقصه **الرفع** معطوف علیه **والنصب** معطوف اول **والجر** معطوف ثانی ، معطوف سره د معطوفینو نه دا اسم د یکون شو ، **باء** جاره ، **والواو** موصوف **المضموم** صفت ، موصوف سره د صفت نه دا بیا موصوف شو **ما** موصوله **قبلها** مضاف مضاف الیه دا مفعول فیه شو د ثبت لپاره ، ثبت فعل فاعل او سره د مفعول فیه نه دا صله شوه لپاره موصول ، موصول سره د صله نه دا صفت شو د موصوف ، موصوف سره د صفت نه دا مجرور شو د جار ، جار سره د مجرور نه دا معطوف علیه شو باء جاره ، **الیاء** موصوف **المکسورة** صفت ، موصوف سره د صفت نه دا بیا موصوف شو ، **ماقبلها** مضاف مضاف الیه دا صفت شو د موصوف ، موصوف سره

Maktaba Tul Ishaat.com

دصفت نه دا مجرور شو دجار. جار سره دمجرور نه دا معطوف شو لپاره، دمعطوف عليه، معطوف سره دمعطوف عليه نه دا خبر شو ديكون، يكون سره دا اسم او سره دخبر نه دا جمله په تاويل دمصدر سره خبر دمبتدا شو، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه.

يختص فعل فاعل **باء** جاره **جمع** مضاف **المذكر** موصوف **السالم** صفت، موصوف سره دصفت نه دا مضاف اليه شو لپاره دمضاف، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مجرور شو دجار، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو يختص فعل پوري يختص فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا جمله فعليه خبريه شوه **نحو** مضاف **مسلمون** معطوف عليه **والواو** معطوف اول **وعشرون** ذوالحال **مع** مضاف **اخواتها** مضاف مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا بيا مضاف اليه شو لپاره دمضاف. مضاف سره دمضاف اليه نه دا حال شو دذوالحال لپاره، حال سره دذوالحال نه دا معطوف ثاني شو، لپاره دمعطوف، معطوف سره دمعطوفينو نه دا مضاف اليه شو لپاره دنحو مضاف. مضاف سره دمضاف اليه نه دا خبر شو لپاره دمبتدا محذوفه چې مثاله ده مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه **تقول** فعل فاعل دا قول شو **جاء** فعل **نون** وقايه **ياضمير** دمتكلم مفعول به **مسلمون** معطوف عليه **وعشرون** معطوف اول **والواو** مضاف **مال** مضاف اليه. مضاف سره دمضاف اليه دا معطوف ثاني شو لپاره دمعطوف معطوف سره دمعطوفينو نه دا فاعل شو لپاره دجاء. جاء فعل فاعل او مفعول به نه دا جمله فعليه معطوفة علها شوه. **واو** عاطفه **رايت** فعل فاعل **مسلمين** معطوف عليه **وعشرين** معطوف اول **واولى** مضاف **مال** مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا معطوف ثاني شو لپاره دمعطوف، معطوف سره دمعطوفينو نه دا مفعول به شو لپاره درايت، رايت فعل فاعل او سره دمفعول به نه دا معطوف اول شو. **واو** عاطفه **مررت** فعل فاعل **باء** جاره **مسلمين** معطوف عليه. **واو** عاطفه **عشرين** معطوف اول **واو** عاطفه **اولي** مضاف **مال** مضاف اليه مضاف سره دمضاف اليه نه دا معطوف ثاني شو لپاره دمعطوف، معطوف سره دمعطوفينو نه دا مجرور شو دجار، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو مررت فعل پوري مررت فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا معطوف ثاني شو لپاره دمعطوف، معطوف سره دمعطوفينو نه دا مقوله شوه دپاره دقول، قول سره دمقولي نه دا جمله فعليه خبريه شوه

وَاعْلَمْ اَنَّ نُوْنَ التَّثْنِيَةِ مَكْسُوْرَةٌ اَبَدًا وَنُوْنَ الْجَمْعِ السَّلَامَةِ مَفْتُوْحَةٌ اَبَدًا وَكِلَاهُمَا تَسْقُطَانِ عِنْدَ الْاِضَافَةِ تَقُوْلُ جَاءَنِیْ غُلَامَا زَيْدٍ وَمُسْلِمُوْ مِصْرَ.

ترجمه او پوهه شه چه نون د تثنيى به هميشه مكسور وى او نون د جمع مزكر سالم به مفتوح وى او دواړه به هميشه اضافت په وخت كښ په حرف كيږى لكه جَاءَنِیْ غُلَامَا زَيْدٍ وَمُسْلِمُوْ مِصْرَ

تشریح: ابدأ په دواړو مقاماتو کې بنا بر ظرفیت منصوب دي او سلامةً صفت دي د نون خکه منصوب دي او په دي سره احتراز راغی د جمع مکسری نه لکه شیاطین دا نون مرفوع او منصوب کیږي خو د اضافت په وخت کې نه حذف کیږي.

خُلاصه: نون د تثنیی به همشیه یعني په دریواړو حالتونو کې مکسور وي او نون د جمعی به همیشه یعني په دریواړو حالتونو کې مفتوح وي وجه یې داده چي نون په اصل کې مبنی دي او اصل په بنا کې ساکن دي نو چې هر کله نون ساکن شي نو التقاء ساکنین راځي نو متحرك کیږي او دا قانون دي چي اَلسَّاکِنُ اِذَاحُرِّكَ حُرِّكَ بِالْكَسْرَةِ: نو پس د تثنیی نون ته موکسره ورکړه او جمعی ته مو فتحه خکه ورکړه چي ضمه پری ثقیله ده په وخت د اضافت کې به دواړه نونونه ساقطیږی

اوله وجه: ځکه به ساقطیږی چې دا دواړه د تنوین په عوض کې دي او تنوین په وخت د اضافت کې ساقطیږی.

دویمه وجه: اضافت مقتضی د اتصال دي یعني تقاضا د اتصال کوي او نون د جمعی او تثنیی تقاضا د انفصال کوي او اتصال او انفصال په یوه کلمه کې نه جمع کیږي نو د اضافت په وخت کې به خکه ساقطیږی.

اجمالی خلاصه د اعراب تقدیری

داخری دریو اقساموچې اعراب یې تقدیری دي

هر کله چي مصنف فارغ شو د اعراب لفظی نه نو شروع یې په هغه مواضعو وکړه چي د کوم اعراب تقدیری ده او دا په آخری دریو اقسامو پوری مختص ده. اعراب تقدیری په دوه اقسامو مشتمل ده. بتقدیر الحرکت. بتقدیر الحرف. بتقدیر الحرکت هغه ده چي حرکت په کې تقدیری وي. بتقدیری الحرف هغه دي چي حرف په کي تقدیری وي بیا د هر واحد د پاره دوه دوه احتمالات دي یو دا چي په دریواړو حالاتو (رفعی نصبی جری)

کې به اعراب تقدیری وي او بل دا چې په بعضو کې به اعراب تقدیری وي.

پس د اعراباتو احتمالات ځلور جوړشو او اقسام بقیه دری دي نو مصنف یو احتمال د اعراباتو نه ترك کړو یعني هغه قسم چي کوم بتقدیر الحرف دي او په دریواړو حالاتو کې (رفعی نصبی جری) تقدیری وي دا یې ځکه ترك کړو چي دا قلیل او نادر دي. د اعراب تقدیر به د پاره دوه وجی دي یو دا چي اعراب لفظی به کوم ځایې کې متعذر (ناممکن) وي نو په هغه ځایې به اعراب

تقدیری وي بله دا چې په کومو ځاینو کې اعراب لفظي ثقل پیدا کوي نو په هغه ځاینو کې به اعراب تقدیري وي پس زده کړه دا خبره چې د تقدیر الاعراب مواضع په دې کتاب کې څلور ذکر دي . په کومو مواضعو چې اعراب تلفظ متعذر او نا ممکن وي هغه دوه دي یو اسم مقصوره او بل هغه اسم چې یا، متکلم ته مضاف وي او په کومو مواضعو چې د اعراب تلفظ ثقیل وي نو هغه هم دوه دي یو اسم منقوص دي چې په آخر کې یې یاء ماقبل مکسور وي او بل هغه جمع مذکر سالمه چې د یاء متکلم طرف ته مضاف وي

ترکیب: واو عاطفه **اعلم** صیغه د امر حاضر **ان** حرف از حروف مشبه بالفعل ، **نون** مضاف **التثنیه** مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا معطوف علیه شو ، واو عاطفه **نون** مضاف **جمع** موصوف **السلامة** صفت موصوف سره د صفت نه دا مضاف الیه شو لپاره د مضاف ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا معطوف علیه، معطوف سره د معطوف علیه نه دا اسم د ان شو **مکسورة** صیغه د اسم مفعول ضمیر پکښې نائب فاعل، **ابدأ** مفعول فیه مکسور صیغه د اسم مفعول سره د نائب فاعل او سره مفعول فیه نه دا شبه جمله معطوف علیه شوه ، واو عاطفه **مفتوحة** صیغه د اسم مفعول ضمیر پکښې نائب فاعل، **ابدأ** مفعول فیه، مفتوحة صیغه د اسم مفعول سره د نائب فاعل او سره د مفعول فیه نه دا معطوف شو لپاره د معطوف علیه، معطوف سره د معطوف علیه نه دا خبر د ان شو ان سره د اسم او سره د خبر نه دا جمله اسمیه خبریه مفعول به قائمقام د دو مفعولینو ، اعلم فعل فاعل او سره د مفعول به نه دا جمله فعلیه انشائیه شوه .

واو عاطفه **کلا** مضاف **ها** مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مبتدا شوه **تسقطان** فعل فاعل **عنه** مضاف **الاضافة** مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مفعول فیه شو ، فعل فاعل او سره د مفعول فیه نه دا جمله فعلیه خبریه خبر د مبتدا شو ، مبتدا سره خبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه ، **تقول** فعل فاعل دا قول شو ، **جاء** فعل **نون** وقایه **یاضمیر** د متکلم مفعول به، **غلاما** مضاف **زید** مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا معطوف علیه شو ، واو عاطفه **مسلموا** مضاف **مصر** مضاف الیه، مضاف سره مضاف الیه نه دا معطوف شو لپاره د معطوف علیه، معطوف سره د معطوف علیه نه دا فاعل شو د جاء ، جاء فعل فاعل او سره د مفعول به نه دا جمله فعلیه مقوله د قول ، قول سره د مقولې نه دا جمله فعلیه مقولیه شوه .

(۷) اَلسَّابِعُ اَنْ یَّکُوْنَ الرَّفْعُ بِتَقْدِیْرِ الضَّمَّةِ وَالنَّصْبُ بِتَقْدِیْرِ الْفَتْحَةِ وَالْجَرُّ بِتَقْدِیْرِ الْکَسْرَةِ یَخْتَصُّ بِالْمَقْصُوْرِ وَهُوَ مَا فِیْ اٰخِرِهٖ اَلِفٌ مَقْصُوْرَةٌ کَعَصًا .

ترجمه: اووم قسم اعراب داسې دی چې رفع به ئې په تقدیر د ضمې سره وی او نصب به ئې په تقدیر د فتحې سره وی او جر به ئې تقدیر د کسرې سره وی او دا قسم اعراب اسم مقصور سره خاص دی او اسم مقصور هغې ته وئیلی شی چه په آخر کښې الف مقصوره وی لکه عصا

تشریح: د اصنافو تسعو نه اووم قسم دا دي چې حالت رفعي به يې تقدير د ضمې سره وي او حالت نصبي به يې په تقدير د فتحې سره وي او حالت جرې به يې په تقدير د کسرې سره وي او دا قسمه اعراب مختص دي په دوه شيانو پورې يو اسم مقصور او بل چې مضاف وي ياء د متکلم ته بغير د جمعې مذکر سالمې نه.

المقصور: مقصور ماخوذ د قصر نه دي او قصر بندش ته وايې نو گويا په ده باندې دريواړه حرکات بندوي يعني نه راځي پرې پس اسم مقصور هغه اسم دي چې ملحق وي په آخر ده پورې فقط الف نو گويا پدي سره احتراز راغی د الف ممدوده نه ځکه چې د هغې نه مابعد همزه وي لکه حمرآء او ممدوده ورته ځکه وايي چې په ده باندې مد کيږي. پس برابره خبره ده که الف مقصوره باقي وي او که حذف شوي وي خو اعراب به يې تقديري وي لکه مثالونه . هذا عصا رايت عصا. ومررت بعصا. (الف تري حذف شوي دي په تنوين)

سوال څه وجه ده چې په اسم مقصور باندي اعراب تقديري دي

جواب د اسم مقصور په آخر کې الف وي او په الف باندي حرکات ممنوع دي ځکه چې حرکت پرې راشي نو بيا تري همزه جوړيږي-

ترکیب: السابع مبتدا **ان** ناصبه مصدریه **یکون** فعل از افعال ناقصه **الرفع** معطوف علیه، **والنصب** معطوف اول **والجر** معطوف ثانی، معطوف سره د معطوفینو نه دا اسم دیکون شو، **باء** جاره، **التقدیر** مضاف **الضمة** مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مجرور شو د جار، جار سره د مجرور نه دا معطوف علیه شو، **بتقدیر الفتحة** دا معطوف اول **بتقدیر الکسرة** معطوف ثانی، معطوف سره د معطوفینو نه دا خبر دیکون شو، یکون سره د اسم او خبر نه دا جملهٔ اسمیه خبریه شوه، **واو** عاطفه **یختص** فعل فاعل **بالمقصور** جار مجرور دا متعلق شو یختص فعل پوري، یختص فعل فاعل او سره د متعلق نه دا جمله فعلیه خبریه شوه، **واو** عاطفه **هو** مبتدا **ما** موصوله **فی** جاره **آخر** مضاف د مضاف الیه. مضاف سره د مضاف الیه نه دا مجرور شو د جار، جار سره د مجرور نه دا خبر مقدم شو، **الف** موصوف **مقصورة** صفت، موصوف سره د صفت نه دا مبتدا مؤخره شوه، خبر مقدم سره مبتدا مؤخر نه دا صله د موصول، موصول سره د صله نه دا خبر مبتدا شو، مبتدا سره د خبر نه دا جمله اسمیه خبریه

Maktaba Tul Ishaat.com

شوه ک بمعنی مثل مضاف، عصاً مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا خبر شو دمبتدا محذوفه چې مثاله ده مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه

وَبِالْمُضَافِ إِلَىٰ يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ غَيْرَ جَمْعِ الْمُذَكَّرِ السَّالِمِ كَغُلَامِيْ تَقُوْلُ هٰذَا عَصَايَ وَغُلَامِيْ وَرَأَيْتُ عَصَايَ وَغُلَامِيْ وَمَرَرْتُ بِعَصَايَ وَغُلَامِيْ:

ترجمه او دا قسم اعراب خاص ده هغه اسم سره چه کوم مضاف وی یاء المتکلم ته او هغه به جمع مزکر سالم به نه وی لکه (غُلَامِيْ تَقُوْلُ هٰذَا عَصَايَ وَغُلَامِيْ وَرَأَيْتُ عَصَايَ وَغُلَامِيْ وَمَرَرْتُ بِعَصَايَ وَغُلَامِيْ)

تشریح دا عطف په بالمقصور باندي دي یعني هغه اعراب پدي پوری مختص دي خواه که اسم مفرد وي که جمع مکسره وي که جمع مؤنث سالمه وي لیکن جمع مذکر سالمه تري مثنی ده ځکه چې دهغی اعراب نوروي اوزرده چې رابه شي انشاء الله تعالی ددي اعراب تقدیری ځکه دي چې په دي اعراب لفظی متعذّر دي یعني اعراب لفظي پری ممنوع دي ځکه چې داکله یامتکلم ته مضاف شي نو یاء ماقبل کسره غواړي لکه غُلَامِي نو پس که پدي داخل شي اوپه یاء حرکات ثقیل شي نو بیا بل حرکات راځی اودالامحاله دي په کلام دعرب کې نو پس دغلامی دریواړه حالته به تقدیری وي په کسری سره او میم ته کسره دیادوجی نه ورکړی شوې ده نوځکه دغلامی آخر مستحق دکسری او ګرزیده

ترکیب: **واو** عاطفه **باء** جاره، **المضاف** صیغه داسم مفعول ضمیر پکښې ذوالحال، **الی** جاره، **یاء** مضاف **المتکلم** مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مجرور کیږي دجار، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو مضاف پوري، **غیر** مضاف **الجمع** مضاف الیه مضاف **المذکر** موصوف **السالم** صفت، موصوف سره دصفت نه دا مضاف الیه کیږي لپاره دمضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه دا حال کیږي د ذوالحال، حال سره د ذو الحال نه دا نائب فاعل کیږي دمضاف، مضاف اسم مفعول سره د نائب فاعل نه او سره د متعلق نه دا شبه جمله مجرور کیږي دجار، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو په المقصو ر پوري، المقصور اسم مفعول سره د نائب فاعل او سره د متعلق نه دا جمله فعلیه خبریه **کاف** په معنی د مثل مضاف سره، **غلام** مضاف **یاء** ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا بیا مضاف الیه کیږي دپاره د مثل مضاف، مضاف سره د مضاف الیه نه دا خبر کیږي د مبتدا محذوفه چې مثاله ده مبتدا سره د خبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه **تقول** فعل فاعل دا قول شو، **هذا** مبتدا **عصا** معطوف علیه، **واو** عاطفه **غلامی** معطوف، معطوف سره د معطوف علیه نه دا خبر د مبتدا شو، مبتدا سره د خبر نه دا جمله اسمیه خبریه معطوفة علیها شوه، **واو** عاطفه **رایت** فعل فاعل **عصاء** معطوف علیه،

واو عاطفه **غلامی** معطوف . معطوف سره د معطوف علیه نه دا مفعول به کیږي د رایت فعل، رایت فعل فاعل او سره د مفعول به نه دا جمله فعلیه معطوف اول **واو** عاطفه **مررت** فعل فاعل **باء** جاره، **عصاء** معطوف علیه **واو** عاطفه **غلامی** معطوف . معطوف سره د معطوف علیه نه دا مجرور کیږي د جار، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو مررت فعل پوري، مررت فعل فاعل او سره د متعلق نه دا معطوف ثاني شو . معطوف سره د معطوفینو نه دا مقوله شوه د قول، قول سره د مقولې نه دا جمله فعلیه قولیه شوه.

(۸) **اَلثَّامِنُ اَنْ یَّکُوْنَ الرَّفْعُ بِتَقْدِیْرِ الضَّمَّةِ وَالْجَرُّ بِتَقْدِیْرِ الْکَسْرَةِ وَالنَّصْبُ بِالْفَتْحَةِ لَفْظًا وَیَخْتَصُّ بِالْمَنْقُوْصِ وَهُوَ مَا فِیْ اٰخِرِهٖ یَاءٌ مَا قَبْلَهَا مَکْسُوْرٌ کَالْقَاضِیْ جَاءَنِی الْقَاضِیْ وَرَأَیْتُ الْقَاضِیَ وَمَرَرْتُ بِالْقَاضِیْ.**

ترجمه: دا د اعراب اتم نمبر قسم ده چه رفع به ئې په تقدیر د ضمې سره وی او جر په تقدیر د کسرې سره وی او نصب په فتحه لفظی سره وی او دا قسم اعراب خاص ده د اسم منقوص سره او اسم منقوص هغې ته وئیلې شی چه په آخر کښې یاء وی او ما قبل مکسوره وی لکه قاضی لکه ته او ائې جَاءَنِی الْقَاضِیْ وَرَأَیْتُ الْقَاضِیَ وَمَرَرْتُ بِالْقَاضِیْ.

تشریح: دا اصنافو تسعو نه اتم قسم دادي چې حالت رفعی بې په تقدیر د ضمې سره ده او حالت نصبی بې په فتحې لفظی سره ده او حالت جری بې په تقدیر د کسرې سره ده او دا مختص ده په اسم منقوص پورې او اسم منقوص هر هغه اسم ته ویلې شي چې ملحق وي په آخر د ده پورې یاء ماقبل مکسوره لکه قاضِی . رازِی عاصِی غزالی وغیره . حالت رفعی جاءنی القاضِی نصبی رایت القاضِیَ جری مررت بالقاضِی.

سوال: په دوه حالتونو کې تقدیری دي او په یو کې اعراب لفظی دي دا ولې.

جواب: دا هغه قسم دي چې اعراب لفظی پرې ثقیل دي یعنې ضمه په یا باندې ثقیله ده او کسره پرې هم ثقیله ده نو ځکه حالت رفعی او جری دواړه تقدیری دي او حالت نصبی پاتې شونو په دریواړو حرکاتو کې فتحه اَخَفُّ الحرکت دي نو ګویا فتحه په خپل ځای باقې پاتې شوه.

قانون: دا د اهل عرب قاعده ده چې کله په تلفظ کې ثقل راځي نو ثقل ترې اُو باسی.

ترکیب: **الثامن** مبتدا **ان** ناصبه مصدریه **یکون** فعل از افعال ناقصه **الرفع** معطوف علیه **والجر** معطوف اول **والنصب** معطوف ثانی . معطوف سره د معطوفینو نه دا اسم د یکون شو . **باء** جاره **تقدیر** مضاف **الضمة** مضاف الیه . مضاف سره د مضاف الیه نه دا مجرور شو د جار . جار سره د مجرور نه دا معطوف علیه، **باء** جاره، **تقدیر** مضاف **الکسرة** مضاف الیه . مضاف سره د مضاف الیه نه دا مجرور

Maktaba Tul Ishaat.com

شو دجار، جار سره دمجرور نه دا معطوف ثاني شو، معطوف عليه سره دمعطوفينو نه دا خبر ديكون شو. يكون سره دا اسم او سره دخبر نه دا بيا خبر كيږي دمبتدا مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه. **واو** عاطفه **يختص** فعل فاعل **باء** جاره **المنقوص** مجرور جار سره دمجرور نه دا متعلق شو يختص پوري، يختص فعل فاعل اوسره دمتعلق نه دا جمله فعليه خبريه شوه. **واو** عاطفه **هو** مبتدا **ما** موصوله **في** جاره **آخر** مضاف **ه** ضمير مضاف اليه. مضاف سره دمضاف اليه نه دا مجرور كيږي دجار، جار سره دمجرور نه دا خبر مقدم شو دمبتدا مؤخر لپاره، **ياء** موصوف **ما** موصوله **قبل** مضاف **ها** مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دامفعول فيه شو دثبت دپاره، **مكسور** فاعل دثبت ،ثبت فعل فاعل اوسره دمفعول فيه نه‌دا صله شوه دموصول، موصول سره دصله نه دا صفت شو دموصوف، موصوف سره دصفت نه دا مبتدا موخر شوه، مبتدا موخر سره دخبر مقدم نه دا جمله اسميه خبريه شوه، **كا** په معنى دمثل مضاف, **قاضي** مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا خبر شو دمبتدا محذوفه چي مثاله ده. مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه، **تقول** فعل فاعل دا قول شو، **جاء** فعل **نون** وقايه **ياء** **ضمير** دمتكلم مفعول به **القاضي** تقديراً فاعل، جاء فعل نون وقايه ياء ضمير دمتكلم مفعول به دا معطوف عليه شو **واو** عاطفه **رايت** فعل فاعل **القاضي** لفظاً مفعول به فعل فاعل اوسره دمفعول به نه دا معطوف اول شو **واو** عاطفه **مررت** فعل فاعل **بالقاضي** جار مجرور دا متعلق شو مررت پوري دا معطوف ثاني شو معطوف عليه سره دمعطوفينو نه دا مقوله شوه. قول سره دمقولي نه دا جمله فعليه قوليه شوه.

(۹) اَلتَّاسِعُ اَنْ يَكُوْنَ الرَّفْعُ بِتَقْدِيْرِ الْوَاوِ وَالنَّصْبُ وَالْجَرُّ بِالْيَاءِ لَفْظًا وَيَخْتَصُّ بِجَمْعِ الْمُذَكَّرِ السَّالِمِ مُضَافًا اِلٰى يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ تَقُوْلُ جَاءَنِىْ مُسْلِمِىَّ تَقْدِيْرُهٗ مُسْلِمُوْىَ اِجْتَمَعَتِ الْوَاوُ وَالْيَاءُ وَالْاُوْلٰى مِنْهُمَا سَاكِنَةٌ فَقُلِبَتِ الْوَاوُ يَاءً وَاُدْغِمَتِ الْيَاءُ فِى الْيَاءِ وَاُبْدِلَتِ الضَّمَّةُ بِالْكَسْرَةِ لِمُنَاسَبَةِ الْيَاءِ فَصَارَ مُسْلِمِىَّ وَرَاَيْتُ مُسْلِمِىَّ وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِىَّ.

ترجمه: نهم قسم اعراب دا دى چه رفع به ئي په تقدير دواو سره وى او نصب او جر به ئي په ياء لفظي سره وى او دا قسم اعراب جمع مزكر سالمى سره خاص ده چه كوم ياء متكلم طرف ته مضاف وى لكه ته اووائي جَاءَنِى مُسْلِمِىَّ چه په اصل كښ مُسْلِمُوْىَ وو واو او ياء په يو ځائي كښ جمع شو پدى دواړو كښ اول ساكن دى پس واو په ياء سره بدل شو او ياء په ياء كښ مدغم شه د ياء مناسبت دوجه نه د ميم ضمه مو په كسرى سره بدله كړه پس مُسْلِمِىَّ شو (وَرَاَيْتُ مُسْلِمِىَّ وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِىَّ)

تشریح: دا د اسمائې معربو آخری صنف دې يعنې د دې قسم حالت رفعی به په تقدير د واو سره وي او حالت نصبي او جری به يې په ياء ماقبل مکسور لفظي سره وي. او دا قسم مختص ده په جمع مذکر سالمي پورې په هغه وخت کې چې کله يې اضافت ياء متکلم ته اوشي. لکه جاء نِی مُسلِمِیَّ ورأیت مسلِمِیَّ ومررت بمسلِمِیَّ. خلاصه د عبارت دا ده چې حالت رفعی يې په تقدير د واو سره وی، په دې شان ده چې مُسلِمُونَ صيغه د جمع مذکر سالمی ده چې اضافت يې کله ياء متکلم ته اوشي نو آخری نون (نون د جمعی) تري حذف کيږي (قانون په اَعلَم کې تلاش کړه) نو مُسلِمُوي شو پس واو او ياء دواړه په يو کلمه کې جمع شو او واو ساکن دې او ياء متحرکه ده نو واو د ثقل د وجی نه په ياء بدل شو نو مُسلِمِيَ شو او س دوه حرفه متجانسين جمع شو اول ساکن او دويم متحرك او دا صرفی قانون دې چې ساکن به په متحرك کې مدغم کيږي نو پس ياء په ياء کې مُدغم شو نو مُسلِمِيَّ شو پس دا حالت رفعی دې په تقدير د واو سره يعنې واو په ياء بدل شو تو په حالت رفعی کې ابدال راغی او دا قانون دې په ابدال سره حرف د خپل حقيقت نه خارجي گی نو واو ځکه مقدر په تقدير سره دې حالت نصبي او جری. حالت نصبي او جری به په ياء ماقبل مکسور لفظي سره وي

ځکه چې د مُسلِمُونَ حالت نصبي او جری په ياء ماقبل مکسور (مُسلِمِینَ حالت نصبي او جری) دې چې کله يې اضافت ياء متکلم ته اوشي نو د جمعی نون به تري ساقط شي او ياء د متکلم به ورسره په آخر کې ذکر شي نو مُسلِمِيَ شو او س دوه حرفه متجانسين راغلو نو محکينبي ياء مو په آخری ياء کې مدغمه کړه يعنې فقط ادغام پکې اوشو نو مُسلِمِيَّ شو پس ياء په دواړو حالتونو (نصبي جری) کې برقراره پاتی نو ځکه ديته ياء لفظي اُوويلی شوه.

قانون: په ادغام سره حرف د خپل حقيقت نه نه خارجيږی پس حالت نصبي او جری په ياء لفظي سره دې.

ترکيب: **التاسع** مبتدا **ان** ناصبه مصدريه **يكون** فعل از افعال ناقصه **الرفع** معطوف عليه **والنصب** معطوف اول شو **والجر** معطوف ثاني، معطوف سره د معطوفينو نه دا اسم د يکون شو، **باء** جاره **تقدير** مضاف **الواو** مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه دا مجرور کيږي د جار. جار سره د مجرور نه دا معطوف عليه شو **با**ء جاره **الياء** ذو الحال **لفظاً** حال، حال سره د ذو الحال نه دا مجرور کيږي د جار، جار سره د مجرور نه دا معطوف شو د معطوف عليه د پاره، معطوف سره د معطوف عليه نه دا خبر د يکون، يکون سره د اسم او سره د خبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه. **واو** عاطفه **يختص** فعل فاعل **با**ء جاره **جمع** مضاف **المذكر** موصوف **السالم** صفت، موصوف سره د صفت نه دا مضاف اليه شو د مضاف

دپاره مضاف سره دمضاف اليه نه دا ذوالحال شو. **مضافاً** صيغه دا سم مفعول ضمير پکښې نائب فاعل **الى** جاره **ياء** مضاف **المتكلم** مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مجرور شو دجار، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو مضافاً پورې، مضافا صيغه دا سم مفعول سره دنائب فاعل اوسره دمتعلق نه دا شبه جمله حال شو د ذوالحال دپاره، حال سره د ذوالحال نه دا مجرور شو دجار، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو يختص فعل پورې. يختص فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا جمله فعليه خبريه شوه.

تقول فعل فاعل دا قول شو **جاء** فعل **نون** وقايه **ياء** **ضمير** متكلم مفعول به **مسلمى** تقديرا فاعل، جاء فعل فاعل او سره دمفعول به نه دا مقوله شوه دقول قول سره دمقولى نه دا جمله فعليه قوليه شوه. **تقديره** مضاف مضاف اليه دا مبتدا شوه **مسلموى** مضاف مضاف اليه دا خبر شو، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه **اجتمعت** فعل **الواو** معطوف عليه **واو** عاطفه **الياء** معطوف، معطوف سره دمعطوف عليه نه دا فاعل شو دفعل. فعل سره دفاعل نه دا جمله فعليه خبريه شوه، **والاولى** مبتدا **منهما** خبر مقدم **ساكنة** مبتدا موخر خبر مقدم سره دمبتدا موخر نه دا خبر دمبتدا شو، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه. **فقلبت** فعل **الواو** نائب فاعل **ياء** مفعول به. فعل سره دفاعل نه او سره دمفعول به نه دا جمله فعليه خبريه شوه. **وادغمت** فعل **اليا**ء نائب فاعل **فى** جار **الياء** مجرور، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو ادغمت پورې، ادغمت فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا جمله فعليه خبريه شوه، **وابدلت** فعل **الضمة** نائب فاعل **باء** جاره، **الكسرة** مجرور جار سره دمجرور نه دا متعلق شو ابدلت پورې، ابدلت فعل فاعل او سره دمتعلقينو نه دا جمله فعليه خبريه شوه **لام** جاره **مناسبة** مضاف **الياء** مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مجرور كيږي دجار، جارسره دمجرور نه دا متعلق ثاني شو تر ابدلت پورې، **فصار** فعل **مسلمى** تقديرآ فاعل، فعل سره دفاعل نه دا جمله فعليه خبريه شوه. **واو** عاطفه **رايت** فعل فاعل **مسلمى** مفعول به، فعل سره دفاعل نه او سره دمفعول به نه دا جمله فعليه خبريه شوه، **واو** عاطفه **مررت** فعل فاعل **باء** **مسلمى** مجرور، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو مررت فعل پورې، مررت فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا جمله فعليه خبريه شوه.

تقسيم دمعرب (۱) منصرف (۲) غيرمنصرف ته

فَصْلٌ اَلْاِسْمُ الْمُعْرَبُ عَلٰی نَوْعَیْنِ مُنْصَرِفٌ وَهُوَ مَا لَیْسَ فِیْهِ سَبَبَانِ اَوْ وَاحِدٌ یَقُوْمُ مَقَامَهُمَا مِنَ الْاَسْبَابِ التِّسْعَةِ کَزَیْدٍ وَمَرَرْتُ بِاَحْمَدَ.

ترجمه: اسم معرب په دو قسم ده اول قسم منصرف ده دا هر هغه اسم ده چه دی کښې دوه سببه او یا یو سبب چه قایم مقام د دوو سببو نو وی اسباب نهه دی

تشریح: دا دمقدمې څلورم فصل دي او پدې فصل کې مصنف" د اسم معرب تقسيم کوي چې اسم معرب په دوه قسمه دي یو منصرف او بل غير منصرف وجه دحصرېي داده. اسم معرب به خالی نه وي یا به پکې دوه سببه د اسباب منع صرف یا یو سبب قائم مقام د دوو سببونو راغلي وي یا به پکې نه وي راغلي که راغلی وي نو دیته غير منصرف وایي او که نوي راغلی نو دیته منصرف وایي۔

وَیُسَمّٰی الْاِسْمُ الْمُتَمَکِّنُ: دي اسم منصرف ته اسم متمکن هم وائی، دمنصرف دويم نوم متمکن دي او متمکن ورته ځکه وايي چه متمکن د باب تفعل نه ده اسم فاعل صيغه ده مصدرئی تمکن دي په معنی د ځائي نيونکي والا يعنی قوی. لهذا دا اسم دري واړه اعراب رفع نصب او جر او تنوين قبلوی لهذا دا قوی شو. او بعضو د متمکن معنی ځائي ورکولو سره کړي ده او تمکن په معنی د جائي دادن سره اخستلی ده حالانکه نعت معتبره تاج المصادر وغيره کښې د جائي دادن معنی تمکين ليکلی ده چه دا متعدی ده نه د تمکن معنی چه لازم ده.

سوال څه وجه کيدي شي چې منصرف مقدم دي په منصرف باندي حالانکه دواړه يو شان اقسام دمعرب دي

جواب ددي دپاره دوه وجې دي اوله وجه: منصرف اصل دي او دا قانون دي چې اصل په اسماؤکې انصراف دي بخلاف دغير انصراف نه او کوم شي چې اصل وي نو احتياج الی الغير نه وي يعني غير اصل ته محتاجه نوي او غير اصل احتياج الی الغير وي يعني غير ته محتاج وي نو پس دمنصرف هيڅ يو سبب ته ضرورت نشته نو ځکه اصل دي او غير منصرف محتاج دي سببينو ته نو دا غير اصل دي نو منصرف ځکه مقدم دي

دويمه وجه: دمنصرف تعريف عدمی دي او دغير منصرف تعريف وجودي دي او عدم مقدم وي په وجود باندي نو گويا د منصرف تقديم په دوه وجو سره راغی نو ځکه مقدم دي

ترکيب: فصل دا خبر دمبتدا، محذوفی ده هذا مبتدا، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه

شوه **الاسم** موصوف **المعرب** صفت، موصوف سره دصفت نه دا مبتدا شوه **علی** جار **نوعين** مبدل منه **منصرف** معطوف عليه، **او** عاطفه **غير منصرف** معطوف، معطوف سره دمعطوف عليه نه دا بدل شو دمبدل منه، بدل سره دمبدل منه نه دا مجرور شو دجار، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو ثابت پوري، ثابت صيغه داسم فاعل سره دفاعل او سره دمتعلق نه دا خبر شو دمبتدا، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه. **منصرف** دا خبر دمبتدا محذوفه شو چې **احدها** ده احدها مضاف سره دمضاف اليه نه دا مبتدا شوه، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه، **واو** عاطفه **هو**مبتدا **ما** موصوله **ليس** فعل از افعال ناقصه نه **فيه** جار مجرور دا خبر مقدم شو، **سببان** معطوف عليه **او** عاطفه **واحد** موصوف **يقوم** فعل فاعل **مقام** مضاف **ها** مضاف، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مفعول فيه شو ديقوم، يقوم فعل فاعل او سره دمفعول فيه نه دا جمله فعليه صفت شو دموصوف، موصوف سره دصفت نه دا معطوف شو دمعطوف عليه، دمعطوف سره دمعطوف عليه نه دا اسم دليس شو، ليس سره داسم او خبر نه دا صله شوه دموصول، موصول سره دصله نه دا خبر دمبتدا، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه. **من** جار **ه الاسباب** موصوف **التسعة** صفت، موصوف سره دصفت نه دا مجرور شو دجار، جار سره دمجرور نه دا بيان شو **واحد** دا ورته مبين شو، بيان سره دمبين نه دا مبتدا شوه **کا** په معنی دمثل مضاف سره، **زيد** مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا خبر شو دمبتدا محذوفه چې مثاله ده مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه خبر دمبتدا شو، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسميه خبريه شوه، **واو** عاطفه **مررت** فعل فاعل **باحمد** جار مجرور دا متعلق شو مررت پوري، مررت فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا جمله اسميه خبريه شوه.

وَحُكْمُهُ اَنْ يَدْخُلَهُ الْحَرَكَاتُ الثَّلٰثُ مَعَ التَّنْوِيْنِ تَقُوْلُ جَاءَنِیْ زَيْدٌ وَرَأَيْتُ زَيْدًا وَمَرَرْتُ بِزَيْدٍ.

ترجمه: حکم ددې دا دي چه پدې باندې حرکات ثلاثه مع التنوين پرې داخليږي لکه (جَاءَنِیْ زَيْدٌ وَرَأَيْتُ زَيْدًا وَمَرَرْتُ بِزَيْدٍ)

تشريح: حکم په معنی داثرمرتبه دي يعني دمنصرف اثرمرتبه دادي چې داخليږي په ده باندې دريواړه حرکات سره دتنوين اودوي په وجه منصرف متغير کيږي اومنصرف دصرف نه ماخوذدي او صرف په لغت کې تغيراوتبديل ته وايي نوپه منصرف کې هم تغيراخی بخلاف دغيرمنصرف نه.

ترکيب: **واو** عاطفه **حکم** مضاف ه ضمير مضاف اليه، مضاف سره دمضاف اليه نه دا مبتدا

شوه ان ناصبه مصدریه یدخل فعل ه ضمیر مفعول به الحرکات موصوف الثلاثة صفت، موصوف سره دصفت نه دا فاعل شو دفعل، مع مضاف التنوین مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه دا مفعول فیه شو دفعل یدخل دپاره، یدخل فعل فاعل مفعول به او سره دمفعول فیه نه دا خبر شو دمبتدا، مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه، تقول فعل فاعل دا قول شو، جاء فعل نون وقایه یاء ضمیر دمتکلم مفعول به، زیدٌ فاعل، فعل سره دفاعل او سره دمفعول به نه دا معطوف علیه شو، واو عاطفه رایت فعل فاعل زیداً مفعول به، فعل سره دفاعل او سره دمفعول به نه دا معطوف اول شو، واو عاطفه مررت فعل فاعل باء جاره زید مجرور، جار سره دمجرور نه دا متعلق شو مررت پوري، مررت فعل فاعل او سره دمتعلق نه دا معطوف ثاني شو معطوف سره دمعطوفینو نه دا مقوله شوه، قول سره دمقولي نه دا جمله فعلیه قولیه شوه، رایت فعل فاعل، فعل سره دفاعل نه او سره دمفعول به نه دا معطوف اول شو، واو عاطفه مررت فعل فاعل، بزید جار مجرور، دا متعلق شو مررت پوري، مررت فعل فاعل او سره دا متعلق نه دا معطوف ثاني شو معطوف سره دمعطوفینو نه دا مقوله شوه دقول، قول سره دمقولی نه دا جمله فعلیه خبریه شوه.

دمنصرف مثالونه: جاءني زیدٌ حالت رفعي، رایت زیداً حالت نصبي ومررت بزیدٍ حالت جري۔

وَغَيْرُ مُنْصَرِفٍ وَهُوَ مَا فِيهِ سَبَبَانِ أَوْ وَاحِدٌ مِنْهَا يَقُومُ مَقَامَهُمَا.

ترجمه غیر منصرف هغې ته ونیلی شي چه هغې کښې دوه سببه او یا یو سبب چه قائم مقام د دوو سببونو وي.

تشریح مصنف دمنصرف دتفصیل نه بعد دغیر منصرف تعریف کوي چې غیر منصرف هغه دي چې په ده کې دوه سببه یا یو سبب قائم مقام ددوه سببینو داسباب تسعونه راغلي وي چونکه په غیر منصرف کې اسباب تسعو ذکر او شونو ددي وجهې نه مصنف نهه اسباب په اجمال کې ذکر کوي یعني فقط اسماء ذکر کوي او ددې نه بعد به دیو یو تفصیل بیانيږي.

ترکیب: واو عاطفه غیر مضاف منصرف مضاف الیه، مضاف سره دمضاف الیه نه دا خبر شو دمبتدا محذوفه چې ثانیها ده مبتدا سره دخبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه واو عاطفه هو مبتدا ما موصوله فیه جار مجرور په اعتبار دمتعلق سره خبر مقدم شو سببان معطوف علیه، او عاطفه واحد ذوالحال منهما جار مجرور، جار سره دمجرور نه دا په اعتبار دمتعلق سره حال شو د ذوالحال، حال سره دو ذوالحال نه دا معطوف شو دمعطوف علیه، معطوف سره دمعطوف علیه نه دا مبتدا مؤخر شوه، خبر مقدم سره مبتدا مؤخر نه دا صله شوه دموصول، موصول سره دصلة نه دا خبر شو دمبتدا،

Maktaba Tul Ishaat.com

مبتدا سره د خبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه.

وَالْأَسْبَابُ التِّسْعَةُ وَهِيَ الْعَدْلُ وَالْوَصْفُ وَالتَّانِيثُ وَالْمَعْرِفَةُ وَالْعُجْمَةُ وَالْجَمْعُ وَالتَّرْكِيبُ وَالْأَلِفُ وَالنُّونُ الزَّائِدَتَانِ وَوَزْنُ الْفِعْلِ:

ترجمه: او هغه اسباب نهه دي (۱) عدل (۲) وصف (۳) تانیث (۴) معرفه (۵) عجمه (۶) جمع (۷) ترکیب (۸) الف و نون زائدتان (۹) و وزن الفعل.

تشریح: که چیري تقسیم د مرکب یا د کل دا جزاؤوي نو هلته به عطف مقدم وي په حکم باندي یعني اول به ټول اجزاء ذکرشي او حکم به پرې ورستو جاري شي د مثال په طور چایي مرکب دي د چینې، وچی چای شید و او اوبو نه او دا چای اجزاء دي نو په هرجزد چای (مرکب) حکم نشي لګیدي چي هر کله دا ټول جزیات یو کړی شي نو د چای حکم به پرې په آخره کي اولګی. نو دغه شان د اسباب تسعو حکم به په آخره کي لګی کچري داسی او ویلی شي چي اسباب تسعه عدل دي او وصف دي وغیره نو دا غلط دي بلکه اول به ټول جزیات ذکرشي نو حکم به بيا په آخره کي اولګی چي اسباب تسعه هغه عدل، وصف ... وزن فعل دي

اشعار

مَوَانِعُ الصَّرْفِ تِسْعٌ كُلَّ مَا اجْتَمَعَتْ ثِنْتَانِ مِنْهَا فَمَا لِلصَّرْفِ تَصْوِيبُ
عَدْلٌ وَ وَصْفٌ وَتَأنِيثٌ وَ مَعْرِفَةٌ وَعُجْمَةٌ ثُمَّ جَمْعٌ وَ ثُمَّ تَرْكِيبُ
وَالنُّونُ زَائِدَةٌ مِنْ قَبْلِهَا أَلِفٌ وَوَزْنُ الْفِعْلِ وَهٰذَا الْقَوْلُ تَقْرِيبُ

نوټ: اسباب تسعه، اسباب منع صرف، اسباب عدم انصراف، اسباب غیر منصرف یو الفاظ دي

ترکیب: واو عاطفه **الاسباب** موصوف **التسعة** صفت، موصوف سره د صفت نه دا مبتدا اول، **هی** مبتدا ثانی **العدل** معطوف علیه **والوصف** معطوف اول **والتانیث** معطوف ثانی، **والمعرفة** معطوف ثالث **والعجمة** معطوف رابع **والجمع** معطوف خامس **والترکیب** معطوف سادس واو عاطفه **الالف** معطوف علیه **والنون** معطوف، معطوف سره د معطوف علیه نه دا موصوف شو، **الزائدتان** صفت، موصوف سره د صفت نه دا معطوف سابع شو، واو عاطفه **وزن** مضاف **الفعل** مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا معطوف ثامن شو معطوف علیه سره د معطوفاتو نه دا خبر شو د مبتدا ثانی، مبتدا سره د خبر نه دا بیا خبر شو د مبتدا، مبتدا سره د خبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه

وَحُكْمُهُ أَنْ لَا يَدْخُلَهُ الْكَسْرَةُ وَالتَّنْوِينُ وَيَكُونُ فِي مَوْضِعِ الْجَرِّ مَفْتُوحًا أَبَدًا تَقُولُ جَاءَنِي أَحْمَدُ وَرَأَيْتُ أَحْمَدَ وَمَرَرْتُ بِأَحْمَدَ.

ترجمه: او حکم د دي دا دي چه پدي باندي کسره او تنوين نه راځي او د جر په ځائي به همیشه دا مفتوح وی لکه (جَاءَنِي أَحْمَدُ وَرَأَيْتُ أَحْمَدَ وَمَرَرْتُ بِأَحْمَدَ)

تشریح: اثر مرتبه دغیر منصرف دادي چي کسره او تنوين پری ممنوع دي ددي د پاره وجه داده چي غیر منصرف مشابه دفعل ده او په فعل باندي کسره او تنوين نه راځي ځکه چي کسره او تنوين دخواصو د اسم نه دي

اعتراضات په تعریف دغیر منصرف

سوال: دغیر منصرف دفعل سره څه مشابهت دي؟

جواب: غیر منصرف مشابه دفعل ده باعتبار دوجودیت دفرعینو (او فرع خلاف اصل ته ویلی شي) یعني ځنګه چي په فعل کي دوه فرعی موجود دي هم دغه شان دوه فرعی په غیر منصرف کي موجود دي په فعل کي فرعی دادي چي فعل محتاج وي فاعل ته او فاعل بي محتاج الیه وي نو په فعل کي احتیاج (ځکه هر محتاج فرعه د محتاج الیه دی) یوه فرع شوه او محتاج الیه (فاعل) په کي اصل دي بله فرع په کي داده چي هر فعل مشتق وي د مشتق منه نه نو مشتق فرع ده د مشتق منه او مشتق منه خلاف فرع ده یعني اصل دي پس په فعل کي دوه فرعی موجود دي یوه فرع د احتیاج او بله فرع په کي اشتقاق دي یعني مشتق کیدل. او په غیر منصرف کي فرعی دادي چي دوه سببونه یا علتونه په کي راځی د اسباب تسعو نه او هر سبب فرع ده نو ګویا په غیر منصرف کي دوه فرعی راجمع شوي لکه عدل فرع د معدول عنه ده او وصف فرع د موصوف ده وغیره نو غیر منصرف مشابه دفعل دي په وجود دفرعیتینو سره۔

سوال: هر کله چي غیر منصرف مشابه دفعل سره شو نو پکار ده چي غیر منصرف عامل او مبنی شي ځکه چي کوم شی د فعل سره مشابهت لری نو هغه شی به عمل هم کوي او مبنی به هم وي ځکه چي فعل عامل هم دي او مبنی هم دي نو پس فعل بي مشبه به دي او غیر منصرف بي مشبه دي حالانکه غیر منصرف نه عامل دي او نه مبنی دي څه وجه ده؟

جواب: دمشابهت دپاره دری درجی دي (۱) مشابهت اعلی (۲) مشابهت وسطی (۳) مشابهت ادنی

(۱) **مشابهت اعلی:** داهغه مشابهت دي چي یو اسم دفعل سره په اقتران دزماني او معنی

Maktaba Tul Ishaat.com

مصدری کې مشابه وي (مثلاً اسماء افعال)

(۲) **مشابهت وسطی**: داهغه مشابهت دي چې يو اسم دفعل سره صرف په معنی مصدری کې مشابه وي لکه اسم فاعل او اسم مفعول پدي دواړو کې اقتران بالزمان نشته او معنی مصدری په کې شته. ضَارِبٌ ضرب

(۳) **مشابهت ادنی**: داهغه مشابهت دي چې يو اسم دفعل سره په دغه دواړو امرينو کې مشابه نوي بلکه په نوروخصوصياتو کې مشابهت دفعل سره لری لکه غيرمنصرف چې مشابهت يې دفعل سره په وجود دفرعيتينو دي او په اقتران او معنی مصدری کې مشابه نه دي دفعل سره.

خلاصه: چې کوم اسم مشابهت دفعل سره اعلی وي نو دغه اسم به عامل هم وي او مبنی به هم وي او چې کوم مشابهت وسطی وي يعني فقط په معنی مصدری کې مشابه وي دفعل سره نو دغه اسم به عامل وي فقط او مبنی به نوي. او چې کوم مشابهت په ادنی درجی سره وي يعني نه په اقتران بالزّمان کې وي او نه په معنی مصدری کې وي بلکه په نوروخصوصياتو کې وي نو پس دغيرمنصرف مشابهت ادنی دي.

سوال: حکم دغيرمنصرف منقوض دي په لفظ دنُعمانٍ باندي. نعمان غيرمنصرف دي يو سبب په کې علميّت دي او بل سبب پکې الف و نون زائدتين دي او حُکم دغيرمنصرف پری منقوض ځکه دي چې کسره او تنوين پری راغلی دي پدي شعر دامام شافعیؒ کې مذکور دي.

اَعِدْ ذِكْرَ نُعْمَانٍ لَنَا اَنَّ ذِكْرَهُ هُوَ الْمِسْكُ مَا كَرَّرْتَه يَتَضَوَّعُ

او دغه شان حکم دغيرمنصرف منقوض دي په مَصَائِبٌ باندي حالانکه دا صيغه دمنتهی الجموع ده قائم مقام ددوه سببينو ده يعني غيرمنصرف ده او دغيرمنصرف حکم پری منقوض دي ځکه چې تنوين پری راغلی دي او تنوين او کسره په غيرمنصرف ممنوع دي. او لفظ دمَصَائِبٌ واضح مذکور دي په يو شعر کې او داهغه شعر دي چې دپيغمبر عليه السلام دوفات په وخت کې حضرت فاطمهؓ ويلی وو.

اشعارفاطمه اول بيت

صُبَّتْ عَلَيَّ مَصَائِبٌ لَوْاَنَّهَا صُبَّتْ عَلَى الْاَيَّامِ صِرْنَ لَيَالِيَا

ترجمه: راغلل په ما باندي مُصيبتونه کچري دغه مُصيبتونه په ورځو راغلی وي نوشپې به تري جوړی شوي وي.

دویم بیت

مَاذَاعَلٰی مَنْ شَمَّ تُرْبَةَ أَحْمَدٍ اَنْ لَّا یَشُمَّ مَدَ الزَّمَانِ غَوَالِیًا

او دغه شان لفظ د اَحْمَدٍ هم غیر منصرف دي حالانکه دلته پرې کسره راغلې ده نو ددې دریواړو الفاظو د اعراباتو څه وجه ده چې حکم د غیر منصرف پرې منقوض دي.

جواب دا دریواړه الفاظ په اشعاروکې مستعمل دي نو ددوي اعراب د ضرورت شعري د وجې نه مخالف راغلې دي یعنې د حفاظت د وزن او دقافیې د برابرتیاد پاره داسې کیدل جائز دي.

سوال د ضرورت شعري نه علاوه داسې یو لفظ دي په قرآن کې چې په هغه تنوین راغلی دي لکه سَلٰسِلاً وَاَغْلَالاً غیر منصرف دي صیغه د منتها الجموع ده قائم مقام د دوه سببونو ده.

جواب د غیر منصرف حکم دا دي چې کسره او تنوین به پرې نه راځي لیکن کله به پرې د مناسبت د وجې نه راغلي وي نو په سَلٰسِلاً باندې تنوین د مناسبت د غیر د وجې نه راغلی دي ځکه چې په اغلالاً هم تنوین راغلی دي

نوټ په سَلٰسِلاً باندې تنوین نشته لیکن بعض قاریان پرې تلفظ د تنوین کوي درس.

Maktaba Tul Ishaat.com

بیان دعَدَلْ

اَمَّا الْعَدْلُ فَهُوَ تَغَيُّرُ اللَّفْظِ مِنْ صِيْغَتِهِ الْاَصْلِيَّةِ اِلٰى صِيْغَةٍ اُخْرٰى تَحْقِيْقاً اَوْ تَقْدِيْراً.

ترجمه: هرچه عدل ده پس دا بدلیدل د اصل شکل دی بل شکل ته تحقیقاً وی او که تقدیراً وی

تشریح: هرکله چې مصنف فارغ شو د اجمال د اسباب تسعو نه پس شروع یې او کړه په تفصیل د اسبابو تسعو کښې

سوال: مصنف عدل ولې مقدم کړو په نورو اسبابو باندې ؟

جواب: ددې دپاره دوه وجې دي اوله وجه: عدل په اجمال کې مقدم وو نو پکار ده چې په تفصیل کې هم مقدم شي ددې دپاره چې تفصیل موافق د اجمال سره او ګرزي.

دویمه وجه: عدل بمنزله دمفرد ده او نور ټول اسباب بمنزله مرکب دي (یعني عدل مفید نه دي او نور اسباب مقید دي) او داضابطه ده چې مفرد مقدم وي په مرکب باندې نو چې کوم شي بمنزله دمفرد وي نو هغه به هم مقدم وي په بمنزله مرکب باندې نو عدل ګویا په دوه وجوهاتو سره مقدم دي.

فائده: عدل بمنزله مفرد ځکه دي چې عدل مشروط بشرط نه دي یعني دي بلاشرط تاثیر کولی شي بخلاف دنورو اسبابو نه یعني دنورو اسبابو تاثیر مع الشروط دي یعني بغیر دشروطو نه تاثیر نه شي کولی عدل په لغت کې په پنځو معنو سره مستعمل دي او دغه پنځه واړه معنی دتغیر دحروف جارو دوجې نه راځي پدې شان سره چې دعدل صله (جار مجرور) به کله الی وي کله به واو وي کله فی کله بَیْنَ او کله مِنْ (١) کچرې دعدل نه بعد الی راشي (یعني دعدل صله چې الی واقع شي) نو عدل به په معنی دمیلان کیدل مائله کیدل سره وي لکه مثال فُلَانٌ عَدَلَ اِلَيْهِ ای مَالَ اِلَيْهِ (بمعنی میلان)

(٢) دعدل صله چې کله عَنْ راشي نو عدل به په معنی داعراض سره وي لکه عرب مثال پیشکړي اَعْدَلَ عَنْهُ ای اَعْرَضَ عنه

(٣) دعدل صله چې کله فی راشي نو دعدل معنی به تصرف وي لکه زَيْدٌ عَدَلَ فِىْ مَالِهِ ای زيدٌ تَصَرَّفَ فِىْ مَالِهِ

(۴) دعدل صله چې مِنْ راشي نو معنی به یې بُعْد وي لکه عرب مثال پیش کوي عَدَلَ الْحَارُ مِنَ الْعَيْرِ (اسم جنس (اوښان)) ای بَعُدَ الحار الخ

(۵) دعدل صله چې بَیْنَ راشي نوبیابه دعدل معنی انصاف وي لکه عَدَلَ الْاَمِیْرُبَیْنَ زیدٍوعمرٍ ای انصاف الامیرالخ دا پنځمه معنی (انصاف) مشهوره ده.

اصطلاحي تعریف اما العدل الخ ماشرطیه ده اوفاجزائیه ده پس عدل خُروج دلفظ دي دخپلی اصلي صیغی نه بلی صیغی ته (خلاف القیاس مَعَ بَقَاءِ الْمَادَةِ الْاَصْلِیَّةِ خِلَافُ الْمُشْتَقَّاتِ برابره خبره ده که دغه خُروج دلفظ حقیقتاًوي اوکه (گویاعدل په دوه قسمه شو یو حقیقي اوبل تقدیری حقیقي دیته وایې چې معدول عنه حقیقتاًموجودوي لکه ثُلث ددي اصل موجوددي ثلاثة ثلاثة ده. عدل تقدیری دیته وائی چه معدول عنه ئې حقیقتاًموجود نوی یعنی تقدیراًوی لکه عُمراوزُفَرْ دَ دوی اصل عامرٌ اوزافرٌدي لیکن دافرض کړی شوي یعني حقیقتاًنه وي بلکه تقدیری وی) تقدیراًوي لکه مثال عُمَراصلي صیغه یې عامِرٌده اوبیاتري عُمَرُ جوړ شوي دي نو پس عامِرٌاصلي صیغه معدول عنه دي اوچې کوم لفظ تري جوړشوي ده عُمَرُدیته معدول وایې اودغه خُروج ته عدل وایې. په طوالت دتعریف سره دفع دیوځواعتراضاتو اوشوه اعتراضات دادي

اعتراض تعریف دعدل مانع نه دي دَدُخول دغیرنه ځکه چې داصادِردي په تولومشتقاتو باندي که ضَرَبَ اوضارِبٌ وغیره داخارج شوي دصیغی اصلي نه دي یعني دضَرْبٌ نه ددوي خروج شوي دي اوضربامشتق منه اصلي صیغه ده.اوضَرَبَ مشتق دي نو گویادامعدول شو اوضرباًیې معدول عنه دي اودا وسه پوری چادیته عدل نه دي وئیلی څه وجه کیدیشي.

جواب په صیغته کې هاضمیرعدل ته راجع دي یعني خُروج دیولفظ دخپلی اصلي صیغی نه بلی صیغی ته کیدل (یعني معدول اومعدول عنه به یوه صیغه وي) پس داتعریف مانع شودُخول دغیرنه ځکه چې مشتقات مشتق دي دمصادرونه اومصادرجُداصیغی دي اومشتقات جُداصیغی دي. که چیری دَضَارِبٌ خُروج دخپلی اصلي صیغی (ضارب) ته اوشي نوبیابه عدل ثابت شي حلانکه ضارِبٌ دَمصدر ضَرْبٌ نه خارج شوي نودیته خو عدل هیچری نه وئیلی کیږي.

اعتراض تعریف دعدل بیامانع ددُخول دغیرنه نه دي ځکه چې مُغیرات قیاسیه یامغیرات صرفیه (چې دصرفی قاعدي مطابق پکې تغیرراغلی وي) پکښی داخل شول لکه قَالَ اوبَاعَ چې ددوي اصلي مادي (صیغی) قَوَلَ اوبَیَعَ دي نو گویاداورله معدول عنه شو اوقال اوباع بې معدول شو اوخروج دقول اوبَیَعَ نه عدل شو.نودوی ته خوچاعدل نه دي وئیلی

جواب تغیردلفظ به خلاف القیاس وي یعني عدل لره دقاعدي دَصرفی قوانینو موافق اعتبارنشته اوقَالَ وبَاعَ دقاعدي موافق تبدیل شوي دي پس تعریف دعدل مانع دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

اعتراض: تعریف دعدل بیامانع نه دي دَدخول دغیرنه ځکه چې اسمايې محذُوفة الْاَعجاز په کې داخل شو. (اعجاز جمع دَعُجز ده او عجز لکۍ ته وايي نو داهغه اسماء دي چې آخری حرف تري حذف شوي وي او آخري حرف بمنزله دلکۍ وي) (مثلاً د غوا لکی وروسته وی) لفظ دیدٌ او دمٌ دا په اصل کې یَدَوٌ او دَمَوٌ وو آخری حرفونه تري خلاف القیاس حذف شوي دي یعني خروج دیدٌ ودمٌ خلاف القیاس شوي دي او اصلي صیغی یې موجود دي (یدوٌ دموٌ) نو تعریف دعدل پری صادق شو؟

جواب: خروج دلفظ دي دځېلې اصلي صیغی نه بلې صیغی ته مَعَ بَقَاءِ الْمَادَةِ الْاَصْلِيَّه یعني سره دبقی دحروف اصلیه نه یعني داصلي صیغی حروف اصلیه به باقي وي.

تحقیقاً او تقدیراً: دا دواړه منصوب بنابر خبریت دي او دا چې مفعول مطلق واقع شي نو لفظ دتغیر اللفظ به ترمخکې مقدّر وي یعني تغیر اللفظ تحقیقاً او تقدیراً. نو معنی به دا شي چې خروج دلفظ به یا حقیقي وي او یا به تقدیری وي نو ګویا عدل په دوه قسمه شو

عدل تحقیقي: داهغه عدل دي چې دلیل موجود وي په اصل باندي (معدول عنه) ماسوي دمنع صرف نه دیته عدل تحقیقي وايي.

عدل تقدیري: داهغه عدل دي چې دلیل موجود نه وي په اصل معدول عنه باندي ماسوي دمنع صرف نه.

تفصیل: کمه صیغه چې په کلام عرب کې غیر منصرفه وي نو دهغې دپاره به ماسوي ده منع صرف نه بل دلیل په اصل موجود وي لکه صیغه دثُلثُ په دي کې ماسوي دَمنع صرف نه دلیل ددي په اصل یعني معدول عنه باندي موجود دي چې ثَلٰثَةٌ ثَلٰثَةٌ دي (دا نه عدل حقیقي دي) او س خبری ته خیال کوه کچرته په کلام عرب کې صیغه دغیر منصرف پیدا کړي شی نو دغه صیغی ته به خیال کوی کچرته ماسوي دمنع یې په اصل باندي دلیل موجود نوي نو دغه دلیل به ورله فرضی اخستلي کیږي دپاره دقانونِ نحوي دمُحافظت. او دغه فرضی دلیل (په اصل باندي) به ورله اخستلي کیږي لکه مثال عُمَرُ په کلام عرب کې غیر منصرف دي په ده کې یو سبب موجود دي چې علمیت دي او بل سبب ورله عدل معلوم شو په دي شان سره چې عامرٌ دعُمَرُ دپاره معدول عنه فرض کړی شو او عمر ورله معدول شو او دعُمر خروج دعامرٌ نه تقدیری ثابت شو نو عُمَر او زُفَرُ دواړه عدل تقدیری دي.

وَلَا يَجْتَمِعُ مَعَ وَزْنِ الْفِعْلِ اَصْلاً وَيَجْتَمِعُ مَعَ الْعَلَمِيَّةِ كَعُمَرَ وَزُفَرَ وَمَعَ الْوَصْفِ كَثُلَاثَ

وَمَثْلَثَ وَاُخَرَ وَجُمَعَ:

ترجمه او عدل وزن فعل سره بالکل نه جمع کیږی او عدل جمع کیږی علمیت او وصف سره. علمیت مثال لکه عُمَرَ او زُفَرَ د وصف مثال لکه ثُلاثَ او مثلث او اُخَرَ او جُمَعَ

تشریح واو عطف دي په عدل باندي. او نه به جمع کیږي عدل د وزن الفعل سره. اصلاً په معنی بالکل یعني بالکل به نه جمع کیږي او وجه یې داده چې اوزان د عدل مخالف دي د فعل اوزانو نه (اوزان د فعل یو څو مشهور دي هغه دادي افضل بر وزن اکرم اَفْضَلَ لکه اَکْرِمُ ضُرِبَ. دَحْرَجَ تَدَحْرَجَ تَدَحْرَجَ وغیره) یعني په دواړو کې مُنافات دي. اوزان د عدل دادي

اوزان عدل را بتمامی تو ر شش شُمر   مَفْعَلُ وفُعَلُ مثالها مَثْلَثُ وعُمَرُ
فَعَلِ ست همچو اَمْسِ فُعَالَ است چون ثُلاثَ   دیگر فَعَالِ دان تو قَطامِ وفَعْلِ سَحَرْ

ویجتمع مع العلمیت کعُمَرُ وزُفَرُ: واو عطف دي په عدل باندي. او جمع کیږي عدل د علمیت سره او د وصف سره. ځکه چې د عدل د علمیت او وصف سره هیڅ منافات نشته وجه یې داده چې په عُمَرُ او زفر کې یو سبب علمیت دي او بل سبب په کې عدل تقدیری دي پدي شان سره چې د دواړو معدول عنه عامرٌ او زافرٌ دي او په معدول عنه باندي دلیل د منع صرف دادي چې عمر او زفر کله پیدا کړی شو په کلام عرب کې او نه وو په کې مګر سبب واحد چې علمیت دي او یو سبب نه کافي کیږي د غیر منصرف د پاره نو دوی (نحویان) د قانون نحوي د مُحافظت د پاره تقدیر د بل سبب او کړو او دغه تقدیر او فرضیت د نورو اسبابو نه نشي کیدی ځکه چې د نورو اسبابو د پاره خپل شروط دي مثلاً د تانیث د پاره تاء التانیث ده وغیره. او دغه تاء په عُمَر کې نشي راتلی. نو پس په عُمَر کې فقط عدل فرض کړی شو او عدل خروج نه وایې نو دي د پاره به اُوس معدول عنه عامِرٌ او زامِرٌ فرض کړی شي او دي فرضیت او تقدیریت نه دلیل د منع صرف وایې نو پس په عمر او زفر کې دوه دوه سببین را جمع شو یو یو په کې خپل وو (علمیت) او بل په کې عدل تقدیری شو.

ومع الوصف الخ: واو عطف دي په عدل باندي او عدل جمع کیږي د وصف سره ځکه چې منافات په کې نشته په ثلث او مثلث کې یو سبب وصف دي او بل سبب په کې عدل تحقیقي دي ځکه عدل تحقیقي دي چې دلیل پری ماسوي د منع صرف نه تکرار معنوي دي یعني د ثلث معنی دری دری ده او د مثلث معنی دوه دوه ده او د رُبع معنی څلور څلور ده او تکرار د معنی دلالت په تکرار د لفظ کوي نو دا معلومه شوه چې ثلث او مثلث دواړه معدول

دي دالفاظو مکرر ونه یعني ډثلث معدول عنه ثلاثه ثلاثه دي او دغه شان مثلث معدول عنه مثلثة مثلثة دي داورله په اصل باندي دلیل دمنع صرف موجودي نو پس داعدل تحقیقي دي.

احترازي نکته: که څوك داسوال او کړي چي دثلاث معنی دفقط دري او ګرزي او مثلث دهم فقط په دوو دلالت او کي څکه چي یو یو لفظ دي او دتکرار دپاره دوه چنده بیل لفظونه استعمالیږي ددي دپاره محکم او مضبوط دلیل په قرآن پاك کي موجود دي لکه الله پاك تمام اُمت ته خبرداری ورکوي.

فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ. پاره ۴ رکوع ۱-۱۲ سورة النساء

کچري دلته په معنی کي تکرار او نه کړي شي نو بیا په آیت کي خلل راځي یعني بغیر دتکرار نه په معنی داسي شي پس نکاح او کړه هغه چي طبیعت یي خوښه وي ستاسو (ټول اُمت ته اشاره ده) دښځو نه ددوه سره او دریو سره او دڅلورو سره داخو بالکل غلط ده څکه چي دټول امت ددوو ښځو سره نکاح نه کیږي. او داغلطي به په تکرار معنی سره لری کیږي چي دوه دوه او دري دري او څلور څلور نو پس معنی به صحیح شي. چي تاسو نکاح او کړی ددوو دوو سره الخ

وَأُخَرَ وَجُمَعَ: دادعدل تحقیقي او دوصف مثالونه دي تفصیل داُخَرُ لفظ داُخَرُ غیر منصرف دي څکه چي دوه سببین په کي راجمع دي یو سبب په کي وصف دي او بل سبب په کي عدل تحقیقي دي اُخَرُ عدل تحقیقي دي وجه یي داده چي داُخَرُ په معدول عنه باندي ماسوي دمنع صرف نه دلیل موجود دي هغه داچي اُخَرُ معدول دالاُخَرُ یا اٰخَرُ مِنْ نه دي او دلیل دمنع صرف یي دادي چي اُخَرُ جمع داُخری ده (په وزن دفُعْلی) او اُخری مؤنث داٰخَرُ دي اٰخَرُ صیغه دمذکر اسم تفصیل ده

قانون کلي: او داسم تفصیل داستعمالیدو دري طریقي دي (۱) دالف لام سره به مستعمل وي لکه اَلْاَفْضَلُ زَیْدٌ (۲) دمِنْ سره به مستعمل وي لکه اَضْرَبُ مِنْ عَمْرٍو (۳) داضافت سره به مستعمل وي لکه اَفْضَلُ الْقَوْمِ پس اسم تفصیل به مستعمل وي په یو طرق ثلاثو سره او دلته لفظ داُخَرُ یا اٰخَرُ (صیغه داسم تفصیل) نه ده مستعمل په یو د طرق ثلاثه سره نو پس معلومه شوه چي لفظ داُخَرُ معدول دي دالاُخَرُ یا داٰخَرُ مِنْ نه اُس یي دلیل دادي چي اُخَرُ صیغه داسم تفصیل ده او نه ده مستعمل په یو د طرقو ثلاثه سره لیکن داپه اصل کي مستعمل وو دمعرف باللام سره یا دمِنْ سره.

فَاِنْ قِیْلَ: تاسو خو په دوه طریقو باندي اکتفی او کړه او طریقه داضافت دِ ترك کړه.

قُلْنَا: لفظ داُخَرُ یا اُخَرُ په طرق ثلاثه کي داضافت نه نشي معدول کیدي څکه چي

اضافت به تري ساقطیږی (یعني مضاف الیه به یې حذف کیږي) او مضاف الیه چې کله ساقطیږی نو دي دپاره دري جبیري دي (۱) اضافت به یې د بل سره وی (۲) یا به مضاف مبنی برضمه وي لکه لفظ دبَعْدُ دوه مضاف الیه جملی ثلاثه (بسملة، والحمد، وتسلیمة) دي (۳) یا به دمضاف الیه په بدل کې تنوین عوضی راځی لکه

یَوْمَئِذٍ: داپه اصل کې یَوْمَ اِذَا کَانَ کَذَا ویَوْمَ مضاف اذ وکان کذا مضاف الیه پس مضاف الیه حذف شو او دهغه په عوض کې تنوین راغی نو یومَئِذٍ شو۔ پس په اُخَرُکې دادریوارِه جبیری نشته یعني نه یې اضافت د بل سره دي او نه په کې تنوین عوضی شته او نه مبنی برضمه ده پس داضافت نه معدول کیږي

جُمَعُ: داغیرمنصرف دي څکه چې دوه سببین په کښې جمع دي یو وصف ده او بل عدل تحقیقي ده او په جمع کې عدل تحقیقي څکه دي چې ددي په اصل باندي ماسوي دمنع صرف نه دلیل موجود دي لفظ د جُمَعُ معدول دي دجَمْعُ یاجُمَاعَی یادجَمْعَاوَات نه (بروزن فُعْلٌ، فَعلی، فعلاوات) دلیل پری دادي چې جُمَعُ جمع دجَمْعَاءُ ده (بروزن فعلاء) او جمعاء مؤنث دأجْمَعُ دي (بروزن افعل) او قانون دادي چې کوم صیغه دفعلاء په وزن راځی نو دوه احتماله دي یا به فعلاء صفتی وي (یعني صفت به واقع شوي وي او یابه اسمي وي (یعني په ذات به دلالت کوي) که صفتي وي دهغي جمع به په وزن دفُعْلٌ راځی لکه دحَمْرَاءُ جمع حُمْرٌ ده (برروزن فُعْلٌ) که اسمی وي نو دفعلاء جمع به په وزن فَعْلی یافعلاوات راځي لکه دصحراء جمع صحاري یاصحراوات ده نو پس جمعاء که چیرته صفتي شي نو په کارده چې جمع ئي جُمْعٌ په وزن دفُعْلٌ راشي او که چیرته اسمي شي نو پکارده چې جمع ئي جماعَی یاجَمْعَاوَات په وزن دفعَالی یافعلاوات راشي۔ پس لفظ دجُمَعُ په دي کې په یووزن هم نه دي راغلی نومعلومه شوه چې جُمَعُ معدول دي دجَمْعُ نه یادجُمَاعَی نه او یادجَمْعَاوَاتٍ نه یعني پدي دریوارو کې دیونه معدول دي.

وصف

(۲) **اَمَّا الْوَصْفُ فَلَا يُجَامِعُ مَعَ الْعَلَمِيَّةِ اَصْلًا وَشَرْطُهُ اَنْ يَّكُوْنَ وَصْفًا فِيْ اَصْلِ الْوَضْعِ فَاَسْوَدُ وَاَرْقَمُ غَيْرُ مُنْصَرِفٍ وَاِنْ صَارَا اِسْمَيْنِ لِلْحَيَّةِ لِاَصَالَتِهِمَا فِي الْوَصْفِيَّةِ.**

ترجمه: پس وصف د عالمیت سره بالکل نه جمع کیږی د لپاره شرط دا دی چه په اصل وضع کښ به دا وصف وی پس لفظ اسود او ارقم غیر منصرف دی اګرچه دا د ضار لپاره نومونه جوړ شوی دی،

Maktaba Tul Ishaat.com

ځکه چه د دی دواړو اصل وصفیت لپاره وو. او اربع په مررت بنسوة اربع کښ منصرف دی باوجود د دی نه چه دا پری مثال کښ صفت واقع شوی او وزن فعل هم دی ځکه چه وصفیت کښ اصل ندی

تشریح: دویم سبب داسباب تسعونه وصف دي اووصف مصنف په عدل پسی متصل ځکه ذکرکړوچې دااکثر د عدل سره جمع کیږي یعني دویم سبب په کې اکثروصف دي.

وصف په لغت او اصطلاح کښی

وصف په لغت: کې ستودن اوتعریف کولو ته وایي (ستودن کسی راگویند)

په اصطلاح کې: كَوْنُ الْاِسْمِ دَالٌّ عَلٰى ذَاتٍ مُبْهَمَةٍ مَاخُوْذَةٍ مَعَ بَعْضِ صِفَاتِهَا.

یعني وصف کیدل داسم دي چې دلالت اوکې په ذات مبهم باندي سره دبعضوصفتونو. لکه لفظ داَحْمَرُاواَسْوَدُ په ذات مبهم دلالت کوي یعني معین نه وي لکه احمرهرسورسړی ته وايي اودغه شان اسودهم هرتورسړی ته وايي. اوبعضی صفاتوسره هم مخصوص دي یعني سوروالی توروالی وصف دعلمیت سره نه جمع کیږي بالکلیه ځکه چې ددوی دیوبل سره منافات دي. منافات دادي چې وصف دلالت کوي په ذات مبهم باندي اوعلم دلالت کوي په ذات معین باندي اومبهم اومعین دواړه په یوه کلمه کې نشي جمع کیدي

وشرطه: اوشرط دتاثیردوصف دادی یعني هغه وصف چې دهغی په وجه کلمه غیرمنصرف گرزی نودهغه وصف دپاره شرط دتاثیردوصف دادي چې دغه وصف به په اصل وضع کې وي. پس خلاصه داشوه چې وصف په دوه قسمه دي یووصف اصلي یاوضعي اوبل وصف عارضي

(۱) **وصف اصلی یاوضعی**: داهغه وصف دي چې واضع وضع کړی وي دپاره دیوذات مبهم اوبرابره خبره ده که دغه وصف بیادیوذات معین دپاره گرزیدلی وي اوکه مبهم باقی پاتی شي لکه ضَارِبٌ اومَضْرُوْبٌ دادواړه ذات مبهمه دي یعني هرضارب تري مراددي اودغه شان لفظ داَحْمَرُهم ذات مبهم دي ځکه چې صفت دسوروالی په کوم سړی کې موجودي وي نوهغه ته اَحْمَرُوايي. اګرکه دیوخاص اومعین ذات دپاره اسم اوګرزي خوبیابه هم وصف اصلي یاوضعي وي.

(۲) **وصف عارضی**: داهغه وصف دي چې واضع اللغة وضع کړی دیوذات معین داسی دلپاره وي لیکن په استعمال کې دذات عارضی په وجه صفت ګرزیدلی وي لکه لفظ داَرْبَعٌ دي نوداپه اصل وضع کې خاص دځلورودپاره وضع شوي دي (مافوق الثلاثه ماتحت الخمسة) نويدي کې معنی وصفی نشته لیکن کله کله عارضی صفت واقع کیږي لکه مَرَرْتُ بِنِسْوَةٍ اَرْبَعٍ زه تیرشوم په

ښځوسره هسې ښځې چې څلوروي. پدې ترکیب کې اربع منصرف دي ولې چې دلته وصف عارضي دي ځکه چې اربع دعدد معین دپاره وضع کړی شوي دي اوتعین دوصف منافي دي اودصفت عارض دپاره وجه داده چې اربع په ترکیب کې صفت دي اونسوة موصوف دي اوقاعده داده چې صفت هغه پکاروي چې په موصوف باندې محمول شي

فإن قيل: چې دلته خوداسې نه ده ولې چې داربع په نسوة باندې حمل راشي نوبیابه دعدد او معدود یوکیدل لازم شي اودا باطل دي.

قلنا: لامحاله به لفظ موصوف محذوف شي نوتقدیر دعبارت به داسې شي چې ای مررت بنسوةٍ موصوفة باربع پس لفظ موصوف حذف شو اواربع قائم مقام دموصوف شونوپه دې اعتبارسره په اربع کې دوصف عارضي معنی پیداشوه داپرې دلیل شو ـ أس خیال کوه وصفین به دوه قسمه اوګرزیدل یووصف اصلي یاوضعي اوبل وصف عارضي اوپدې دواړوکې قوي سبب دغیرمنصرف دپاره وصف اصلیه وضعیه دي اوداقوي ځکه دي که چرته په خپل ابهام باقي پاتې شي نوبیابه هم تاثیرکوي په غیرمنصرف کې

فلاتضره غلبة الإسمية: ددې دپاره مثالونه لکه اسود. ارقم پدې دواړوکې وصف اصلي وضعي دي ځکه چې اسود تورته وائي اوارقم برګ ته وائي اودااوصاف دي أس خیال کوه فلاتضر الخ پدې دواړو اسمیت غالب شوي دي اوس اسود تورمارته وایې اوارقم برګ مارته وایې. اګرکه دواړه دافعل په طرزدي، پس معنی دتوروالي اوبرګوالي په کې باقي ده نوداځکه سبب قویه دي اودعدم انصراف دپاره هم قوي سبب په کاروي ځکه چې اصل په اسماء کښې انصراف دي اوداصل نه غیراصل ته اړول ډیر مشکل کاردي یعنې ډیرقوت غواړي نووصف اصلي یاوضعي هم ډیرقوي دي نوپه دې وجه مصنفؒ دوصف اصلي قید اولګو.

تانیث

(۳) اَمَّا التَّانِيْثُ بِالتَّاءِ فَشَرْطُهٗ اَنْ يَّكُوْنَ عَلَمًا كَطَلْحَةَ وَكَذٰلِكَ الْمَعْنَوِيُّ ثُمَّ الْمَعْنَوِيُّ اِنْ كَانَ ثُلَاثِيًّا سَاكِنَ الْاَوْسَطِ غَيْرَ اَعْجَمِيٍّ يَجُوْزُ صَرْفُهٗ وَتَرْكُهٗ لِاَجْلِ الْخِفَّةِ وَوُجُوْدِ السَّبَبَيْنِ كَهِنْدٍ وَلَا يَجِبُ مَنْعُهٗ كَزَيْنَبَ وَسَقَرَ وَمَاهَ وَجُوْرَ وَالتَّانِيْثُ بِالْاَلِفِ الْمَقْصُوْرَةِ كَحُبْلٰى وَالْمَمْدُوْدَةِ كَحَمْرَاءَ مُمْتَنِعٌ صَرْفُهُمَا اَلْبَتَّةَ لِاَنَّ الْاَلِفَ قَائِمٌ مَقَامَ السَّبَبَيْنِ اَلتَّانِيْثُ وَلُزُوْمُهٗ.

ترجمه بهر حال تانیث بالتاء پس دی لپاره شرط دا دی چه دا به علم وی لکه طلحة

او دغه رنګی تانیث معنوی هم بیا معنوی کچرته ثلاثی او ساکن الاوسط وی او عجمی نه وی بیا دی منصرف کیدل او نه منصرف کیدل دواړه جائز دی د وجه د خفت نه او دوه سببه موجود کیدلو د وجه نه لکه هندٌ، او کچرته ثلاثی ساکن الاوسط او غیر عجمی نه وی نو بیا غیر منصرف کیدل واجب دی لکه زَیْنَبَ وَ سَقَرَ او ماه وجور او تانیث په الف مقصوره سره لکه حبلی او په الف ممدوده سره لکه حمراء د دی دواړو منصرف کیدل ممتنع دی ځکه چه الف قائم مقام د سببینو ده اول تانیث او دویم لزوم تانیث

تشریح: دریم سبب د اسباب تسعونه تانیث دي او د تانیث نه مراد هغه تانیث ده چې حاصل شوي وي په تاء سره برابره خبره ده که دغه تاء لفظي وي او که تقدیري وي پدې سره احترازراغی دهغه تانیث نه چې حاصل شوي وي په کلمه کې د الف مقصور د او الف ممدوده د وجې نه.

فان قیل تاء تانیثي څه ته وایي ؟

قلنا تاء تانیثي عبارت ده دهغه تاء زائدي نه چې ملحق کیږي په آخر د اسم پوری او ماقبل تري مفتوح وي او دغه تاء په حالت دوقف کې په ه باندي بدلیږي لکه طلحةٌ په حالت دوقف کې طَلحَه ویلي شي په دغه تاء سره احترازراغلی د أختٌ او بنتٌ نه ځکه چې داهغه تاء نه ده چې ماقبل تري مفتوح وي او په حالت دوقف کې په ه بدلیږي او موثرد عدم انصراف دپاره هم هغه تاء تانیثي ده چې ماقبل مفتوح وي او په حالت دوقف کې په ه بدلیږي.

تانیث لفظي و معنوي

خلاصه د تاء تانیث دا شوه چې ګویا تانیث په دوه قسمه شو یو تانیث لفظي بل تانیث معنوي

تانیث لفظي: چې علامه د تانیث په کې ظاهره وي لکه په طلحةٌ کې تاء ظاهره ده.

تانیث معنوي: چې علامه د تانیث په کې مقدره وي لکه زینبُ کې تاء مقدره ده. پس دا دواړه د اسباب منع صرف دپاره موثردي او د تانیث لفظي او معنوي دواړو دپاره علمیت شرط دي البته د تانیث لفظي دپاره علمیت شرط دي وجوباً یعني عدم انصراف به بې واجب وي، او د تانیث معنوي دپاره علمیت شرط دي جوازاً یعني انصرف او عدم انصراف به بې دواړه جائزوي،

فان قیل د تانیث دپاره علمیت شرط ولي دي ؟

قلنا علمیت د تانیث لفظي دپاره ځکه شرط دي چې دغه اسم محفوظ او ګرزی د تغیر او تبدیل نه غالباً یا بقدر الامکان.

ضابطه په ټولو لغاتو کې اعلام د تغیر او تبدیل نه محفوظ وي بقدر لا مکان یا غالباً لکه لفظ د زید اسم دي او په هره ژبه کې لفظ د زید استعمالیږي یعني په عربی کښې زَید دي او په اردو کښې زید دي او په انګلش کې (zid) دي او په چینئ ژبه (≠ψ! F#) کې هم زید دي

وکذالك المعنوي ثم المعنوي: کذلك کښې کاف تشبیهي دي په معنی د مِثْل سره او په ذالك کې ضمیر تانیث لفظی ته اشاره ده نو معنی به داشي چې په شان د تانیث لفظي بانـدي تانیث معنوي هم دي یعني تانیث معنوي په اشتراك د علمیت کې د تانیث لفظی سره مشابه دي نو ځکه به غیر منصرف وي .لیکن په اشتراك د علمیت کې فرق فقط دومره دي چې په تانیث لفظی کې علمیت شرط الوجوب دي او په تانیث معنوي کې علمیت شرط الجواز دي.

فان قیل د تانیث معنوي دپاره علمیت شرط وجوبي څنګه کیدی شی؟

قُلنا: شرط دوجوب د تانیث معنوي دپاره دادي چې موجود شي په کې یو د امور ثلاثه نه امور ثلاثه دادي

(۱) رباعی (۲) متحرك الاوسط (۳) عجمي پس کچري په تانیث معنوي کې یو د دي دریو ارونه موجود وي نو بیا به تانیث معنوي دپاره هم علمیت شرط الوجوب شي یعنی که رباعي څلورحرفي وي یا ثلاثی وي خو متحرك الاوسط وي یا عجمي وي پس که یو د امور ثلاثه نه موجود شي نو بیا به تانیث معنوي عدم انصراف واجب وي او کچرته یو په کې هم موجود نوي نو بیا به جوازی وي یعني انصراف او عدم انصراف به یې دواړه جائزوي لکه مثال لفظ دهِنْدٌ رباعی هم نه دي ثلاثی دي خو متحرك الاوسط نه دي بلکه ساکن الاوسط دي او عجمي هم نه دي بلکه عربی لفظی دي او دوه سببین په کې راجمع دي یو علمیت دي او بل تانیث معنوي دي نو دهند انصراف او عدم انصراف دواړه جائزدي او ددواړو دپاره وجی دادي .که اسبابو ته او ګوری نو عدم انصراف یې جائز دي

لِاَجْلِ الخفة: دوجی دخفت او ضعف نه یعني دا دواړه اسباب خفیف دي پس که د اسبابو خفت ته او ګوری نو دا دعدم انصراف دپاره قوي نه دي نو منصرف کیدل یې هم جائزدي.

والامَنَعَهُ الخ: الاحرف استثناء دي یعني الامتوجه دي امور ثلاثو ته او منعهُ په معنی د منع صرف سره دي پس د عبارت معنی به داسی شي او کچرته موجود شي یو د امور ثلاثو نه نو دغه تانیث معنوي به غیر منصرف وي سره د شرط الوجوب نه او مصنف د دریو اړو امورو دپاره مثالونه ذکر کړي دي داول دپاره مثال لکه زینب رباعی دي او حرف رابع قائم مقام د تاء تانیثی لفظی دي

Maktaba Tul Ishaat.com

نو ددي عدم انصراف واجب دي دثاني امر دپاره مثال لکه سَقَر ددوزخ ديوي طبقې نوم دي پس داثلاثي کلمه ده خو متحرك الاوسط دوجې نه په دغه کلمه کې تقويت پيداشوي ده نوځکه عدم انصراف واجب دي او دَساکن الاوسط دَوجې نه په کلمه کې خفت راځي نو په دي صورت کې دواړه جائزدي که عدم انصراف وي او که انصراف وي نو ددي عدم انصراف واجب دي. اودثالث امر دپاره مثالونه مَاهٔ وجُورُ دادواړه دقبيلتينو نومونه دي اولفظ قبيله مؤنث ده نو ځکه تانيث معنوي ده اوامرثالث په کې موجوددي چې عجمه دي يعني عربي الفاظ نه دي نوځکه ددوي عدم انصراف جائزدي.

والتأنيث بألالف المقصورة......الخ: پدي عبارت کې مصنف هغه سبب ذکر کوي چې قائم مقام ددوه سببينو دي يعني په تماموا سبابو دمنع صرف کې فقط دوه سببه دي چې قائم مقام ددوه سببينو دي يو سبب صيغه دمنتهي الجموع ده بحث يې راتلونکي دي. اوبل سبب الفين علامات دتانيث دي او الفين دوه دي يو الف مقصوره دي لکه حبلی اوبل الف ممدوده لکه حمراء نوپس دالفين چې په کومو کلمو کې راغلي وي نو هغه به غير منصرف وي.

فان قيل دادواړه الفين علامات دتانيث دي اوتانيث ديو سبب قايم مقام دي څه وجه ده؟

قلنا: په الفينو کې دوه احتماله دي نو گوياداځکه قايم مقام ددوه سببينو دي اول احتمال دادي چې دادواړه الفين وضع شوي دپاره دتانيث دي اوتانيث يو مستقل سبب دي داسبابو دمنع صرف نه

دويم احتمال: دادي چې الفين لازم دي دکلمي سره پدي اعتبارچې کلمه بغيرددوي نه نشي مستعملي دی يعني که دوي ساقط شي نو کلمه پرې ناقصه کيږي لکه حبلی چې الف تري حذف شي نو حُبله نشي ويلی کيدي نو گويادويم احتمال پکې لزوم دکلمي سره بمنزله دتانيث اخرئ اوگرزيد. نوپس معلومه شوه چې داالفين په دوه احتمالينو يا سببينو دلالت کوي نو داځکه قائم مقام ددوه سببينو دي

الف مقصورة: مقصوره دقصرنه ماخوذ ده اوقصرمنعی ته وايي نو گوياپه ده اعراب منع دي.

الف ممدودة: ممدوده دامتدادنه ماخوذ ده او امتداد خکلوته وايي نو گوياپده سره امتداد الصّوت کيږي.

معرفه

(۴) أَمَّا الْمَعْرِفَةُ فَلَا يُعْتَبَرُ فِي مَنْعِ الصَّرْفِ مِنْهَا إِلَّا الْعَلَمِيَّةُ وَتَجْتَمِعُ مَعَ غَيْرِ الْوَصْفِ:

ترجمه: هرچه معرفه ده نو د دي په اقسامو کښې نه ده معتبر لپاره د سببيت د منع حرف

مگر علمیت معتبر ده. او دا علمیت هر سبب سره جمع کیږی علاوه د وصف نه.

تشریح څلورم سبب د اسبابو تسعو نه معرف ده.

معرف په لغت کې معلوم ول ته ویلی شي. معلوم ول دیو شي ته ویلي شي.

او په اصطلاح کې المعرفة ماوُضِعَ لِشَئٍ مَعین او ددي تضاد نکره ده (...... غیرمعین)

پس د کلام خلاصه دا ده چې معرفه په اُوه قسمه ده یعني ټول معارف اووه دي.

(۱) اعـلام (۲) مضـمرات (۳) اسـمائ اشـارات (۴) موصـولات (۵) معرفـه بـاللام (۶) معرفه باالنداء (۷) معرفه باالاضافت لفظ دمعرفي دي ټولوله شامل دي نوپس پدي کي فقط اعلام دعدم انصراف دپاره معتبردي اونور غیرمعتبردي ځکه چې مضمرات، اشارات او موصـولات دمبنیاتونـه دي او کـوم شـي چې مبنـی وي هغـه معتبرنشـي جوړیـدي دعدم انصراف دپاره اوددي نه علاوه معرفه باللام او معرفه بالاضافت ځکه نه دي معتبرچې ددوي په وجه غیرمنصرف منصرف گرزی او دابحث به دغیرمنصرف په آخرکي راشي.

اوباقي یو معرفه پاتي شوه چې معرفه بالنداء، ده داځکه نه ده معتبره چې پـه حکم دمعرفه باللام کې ده نوگوياد اهم معتبره نه ده دعدم انصراف دپاره.

ویجتمع مع غیرالوصف: معرفه یاعلمیت نه جمع کیږي دوصف سره ځکه چې ددوی په مابین کې منافات دي اودمنافاتو ذکرمخکې شوی دی بیاذکرکولو نه ضرورت نشته.

عُجْمَه

(۵) اَمَّا الْعُجْمَةُ فَشَرْطُهَا اَنْ تَكُوْنَ عَلَمًا فِي الْعُجْمَةِ وَزَائِدَةً عَلٰى ثَلٰثَةِ اَحْرُفٍ كَاِبْرَاهِيْمَ اَوْ ثُلَاثِيًّا مُتَحَرِّكَ الْاَوْسَطِ كَشَتَرَ فَلِجَامٌ مُنْصَرِفٌ لِعَدَمِ الْعَلَمِيَّةِ وَنُوْحٌ مُنْصَرِفٌ لِسُكُوْنِ الْاَوْسَطِ:

ترجمه هرچه عجمه ده پس عجمي لپاره شرط دا دی چه دا به په علم وی او دری حروفو نه به زيات وی لکه ابراهيم. يا به ثلاثي متحرك الاوسط وی لکه شَتَر پس لجَامٌ منصرف دی ځکه علميت په کښې موجود نه ده او نوح منصرف ده ځکه چه ساکن الاوسط ده

تشريح: پنځم سبب د اسبابو تسعونه عجمه ده

عجمه په لغت کښې لُکْنَت ته ويلی کيږي او لکنت سګين زبان ته ويلی کيږي په وخت دتکلم کښې يعني يو سړی چې خبرې کوي او کله کله په کښې بنديږی لکنت دېته وايي.

په اصطلاح کښې العجمة كون اللفظ وضعهٔ غير العرب: يعني عجمه هغه لفظ ته ويلي شي چې هغه جوړشوي وي ماسوی دعرب نه يعني انګلش، اردو، پښتو، چائنه، فارسي وغيره داټول عجمي دي

فشرطها الخ: شرط دتاثير دپاره دادي چې ان تكون علما الى اخره. پس خلاصه داده چې شرط دتاثير دعجمي دپاره دوه دي يو علميت او بل احد الامرين دي. اول شرط علميت دي برابره خبره ده که علميت حقيقي وي او که حکمي وي.

علميت حقيقي: علميت حقيقي هغه دي چې يو لفظ علم ګرزيدلی وي په نعت عجمي کښې اوبيا يې عرب نقل کړي خپل زبان ته په حال دعلميت کښې. يعني چې علميت په کښې باقي وي.

علميت حکمي: علميت حکمي هغه ده چې يو لفظ علم نه وي په نعت عجمي کښې اوبيا يې عرب نقل کړي دعلميت په شکل کښې لکه مثال په طور په نعت عربي کښې ګ نشته نو چې په کوم اسم کښې ګ راغلی وي (يعني عجمي اسم) نو چې عرب يې خپل زبان ته نقل کوي نو ګ اکثر په جيم بدلوي لکه نرګس دګل نوم دي او په زبان عرب کښې دغه اسم نَرْجَس اسم جنس (معين) ګرزيدلي ده.

فان قيل: شرط دتاثير دعجمي دپاره علميت ولي دي؟

قلنا: شرط دتاثير دعجمي دپاره ځکه دي چې عجمه محفوظ شي دتغير او تبدل نه او دعجمي دمحافظت دپاره موثر علميت دي او علميت موثر دعدم انصراف دپاره ځکه دي چې اعلام ټول محفوظ دي دتغير او تبديل نه

(۲) دویم شرط د تاثیر د عجمي لپاره احد الامرین دي یعني دوه امره دي او یو به په کې خامخا موجود یږي سره د علمیت (حقیقي او حکمي) امرین دا دي یا به زائد علی الثلاثه وي او یا به ثلاثي متحرك الاوسط وي . پس چې په عجمه کې یو سبب علمیت او بل د احد الامرین نه موجود شي نو دا به سبب قویه جوړیږي د عدم انصراف د پاره لکه مثال ابراهیم . د اغیر منصرف دی ځکه چې یو سبب په کې علمیت دي او بل په کې احد الامرین دي یعني زائد علی الثلاثه دي نو په ده به کسره او تنوین نه راځي . د امر ثاني د پاره مثال لکه شتر عجمه ده د یوې قلعه نوم دي یو سبب په کې بشرط العلمیت دي او بل احد الامرین دي یعني متحرك الاوسط دي .

فلجام منصرف لعدم العلمية ونوح منصرف لسكون الاوسط: فاء تفریحیه ده د اد شرط اول په عدم باندي تفریح دي یعني لجام په نعت عجم کې لگام وو پس دا منصرف دي ځکه چې علمیت په کې نشته اگرچې عجمه ده خو سبب د عدم انصراف نشي جوړیدي ځکه چې دا په نعت عجم کې د یو شي معین د پاره نه دی وضع شوي بلکه د هراس واگی ته لگام ویلی کیږي او د عربو په نزهم علم نه دي ځکه چې گاف په جیم بدل کړی دي نو لجام جوړ شوي دي او لجام هم د هراس واگی ته ویلی کیږي نو پس په لجام کې یو شرط موجود دي د امرینو نه چې زائد علی الثلاثه دي خو علمیت په کې نشته نو منصرف دی او دا ضابطه ده (په انتفاء د شرط سره انتفاء د مشروط لازمیږي)

نوح: په دي سره مصنف د شرط ثاني په عدم باندي تفریح کوي چې لفظ د نوحٌ منصرف دي اگرچې عجمه ده او شرط اول په کې هم موجود دي چې علمیت دي یعني د پیغمبر معین نوم دي لیکن احد الامرین په کې نشته نو د انتفاء د شرط ثاني په وجه انتفاء د مشروط راغلی ده نو ځکه منصرف دي د ټولو پیغمبرانو په اسماء کښې فقط شپږ اسماء منصرف دي او باقی ټول غیر منصرف دي یو شاعر د خیالاتو په اشعارو کې ترتیب وار ذکر کړی دي

شعر

گر همیخواهی که دانی نام هر پیغمبری تاکدام ست ای برادر نزد نحوي منصرف
صالحٌ ، وهودٌ ، ومحمدٌ ، باشعیبٌ ، ونوحٌ ، ولوطٌ منصرف دان ودیگر باقی همه لاینصرف

جمع

(۶) أَمَّا الْجَمْعُ فَشَرْطُهُ أَنْ يَكُوْنَ عَلٰى صِيْغَةِ مُنْتَهَى الْجُمُوْعِ وَهُوَ أَنْ يَكُوْنَ بَعْدَ أَلِفِ الْجَمْعِ حَرْفَانِ كَمَسَاجِدَ أَوْ حَرْفٌ مُشَدَّدٌ مِثْلُ دَوَابَّ أَوْ ثَلٰثَةُ أَحْرُفٍ أَوْسَطُهَا سَاكِنٌ غَيْرُ قَابِلٍ لِلْهَاءِ كَمَصَابِيْحَ فَصَيَاقِلَةٌ وَفَرَازِنَةٌ مُنْصَرِفٌ لِقَبُوْلِهِمَا الْهَاءَ وَهُوَ أَيْضًا قَائِمٌ مَقَامَ السَّبَبَيْنِ الْجَمْعِيَّةُ وَلُزُوْمُهَا وَامْتِنَاعُ أَنْ يُجْمَعَ مَرَّةً أُخْرٰى جَمْعَ التَّكْسِيْرِ فَكَأَنَّهُ جُمِعَ مَرَّتَيْنِ:

ترجمه: هرچه جمع ده پس دی لپاره شرط دا ده چه دا به په وزن د صیغې د منتهی الجموع وی او منتهی الجموع دیته وئیلې شی چه پس د الف د جمع نه دوه حرفان وی لکه مساجد یا یو حرف مشدد وی لکه دوَابّ یا دری حروف وی خو ساکن الاوسط وی او آخر کښې هاء نه قبلوی لکه مصابیح پس صَیَاقِلَةٌ او فرازِنَةٌ دواړه منصرف دی ځکه چه دا په آخر کښې هاء قبلوی او دا جمع دوو سببونو قائم مقام ده او جمع کیدل دویم لزوم د جمعیت دی. په دی جمع کښې دا خبره ممتنع ده چه دا د دویم ځل جمع شی په جمع تکسیر سره نو دا داسی ده لکه چه دوه ځله جمع شوی وی

تشریح: شپږم سبب د اسبابو د منع صرف نه جمع ده.

جمع په لغت کښې: جمع کول د شي نه ویلی کیږي

او په اصطلاح کښې: مادل علی احادٍ مقصودةٍ بحروف مفرده. (احاد جمع د احد ده په معنی مفرد یا یو) شرط د تاثیر د جمعي د پاره دادي چې ان یکون علی صیغة منتهی الجموع. یعني هغه جمع سبب دي د عدم انصواف د پاره چې هغه صیغه د منتهي الجموع وي

د منتهی الجموع لفظي تشریح: منتهٰی صیغه د اسم مفعول ده او د اد انتهاء نه ماخوذ ده او انتهاء په معنی آخری حد ته رسیدل دیو شي. او د منتهٰی اضافت جموع ته شوي ده. جموع د جمعي نه ماخوذ دي په معنی د جمع والی سره نو پس معنی به د صیغې د منتهی الجموع دا شي چې هغه جمع چې د هغې جمع والي انتهاء ته رسیدلی وي نو مطلب دا شو چې یو لفظ جمع شوي وي په یوه پیره یا دوه پیرې پدیشان سره چې بیائي جمع کیدل نه راځي په جمع تکسیر سره نو ګویا چې په دغه جمع کې جمعیت انتهاء ته رسیدلی وي.

د منتهی الجموع اصطلاحي تعریف: د منتهي الجموع اصطلاحي تعریف مصنف پخپله ذکر کړی دی یعني هغه صیغه چې د هغي اول او دویم حرف مفتوح وي او دریم حرف په کې الف وي او د الف نه بعد به په کې یا دوه حرفه وي چې اول به مکسور وي او یا به د الف نه ور ستو یو حرف

مشدَّدوي او یا به دالف نه ورستو دري حرفه وي چې اول به مکسوروي او دویم به ساکن وي (یعني اوسطها ساکن) مثالونه یې مصنف ؒ ذکر کړي دي مساجد دا جمع د مسجدؑ ده او تعریف د منتهی الجموع پرې صادق دي نو پس دا غیر منصرف دي ـ دوابّ دا جمع د دابةؑ ده او تعریف د منتهي الجموع پرې صادق ده نو پس دا غیر منصرف دي مصابیح دا جمع د مصباحؑ ده او تعریف د منتهي الجموع پرې صادق دي نو پس دا غیر منصرف دي.

فان قیل: د جموع معنی دا ده چې یو ه جمع بیا جمع شي نو د منتهی الجموع معنی دا شوه چې یو لفظ کم از کم دری پیرې جمع شوي وي او که جمع نعتا تري مراد واخلو نو بیا پکار ده چې کم از کم دوه پیرې جمع شوي وي نو پس لفظ د مساجد او مصابیح په یوه پیره جمع شوي دي آیا دا صیغه د منتهی الجموع نشي جوړېدي او تعریف پرې صادق دي نو څه وجه ده؟

(اعتراضات)

قلنا: د منتهی الجموع نه مراد عامه جمع ده که حقیقتاً وي او که حکماً وي لکه لفظ اکالبُ دا جمع د اکلبُ ده او اکلبُ جمع د کلبٌ ده او کلب سپی ته ویلی کیږي او دغه شان لفظ د آساورُ جمع د اسورة ده او اسورة جمع د سوار ده نو پس په اکالب او اساور کې تکرار د جمعی حقیقي دي او په مساجد او مصابیح کې تکرار د جمعی حکمی دي پدي شان سره چې دا په اوزان د منتهی الجموع باندي محمول کړی شوي وي.

فان قیل: لفظ د سراویل او سرابیل.

ټکری م دزړګی تا په تیروچوره کو بیلی کړی دو یتو په سیلاب کې خیال کوه چرته غوپه نشي

دا به په کافیه کې راشي او دلته څکه ترک کړی شۀ چې په دې کې تفصیل ډیر دي.

غیر قابل للها: د ها، نه مراد تاءِ مُدَوَّره ده یعني هغه تاء تانیثي چې هغه په حالت د وقف کې په ها بدلیږي نو مصنف څکه ها، ذکر کړه. پس د دې عبارت خلاصه دا ده چې صیغه د منتهي الجموع په دوه قسمه ده (۱) چې خالي وي د تاءِ مدوره نه (۲) چې تاءِ مدوره پورې ملحق شوي وي لکه حیاقلت او فرازنة نو ګویا د منتهی الجموع د پاره د تاثیر د عدم انصراف دا بل شرط شو چې تاءِ مدوره به په کې نوي راغلی نو پس دا به غیر منصرف ګرزي.

فصیاقلة: دا صیغه د منتهی الجموع ده لیکن دا نتفا، د شرط ثاني په وجه غیر منصرف نشي جوړېدي صیاقله د صیقلٌ جمع ده او صیقل ریګمال کولو نه ویلی شي - یو څیز مرل په ریګمال.

Maktaba Tul Ishaat.com

فرازنه: علی هذا القیاس فرازنه جمع دفرزین ده لودوته ویلی شي۔ (لډو) چکه

فان قیل: مصنفؒ صیغه دمنتهی الجموع مع التاء ولی ردکړه؟

قلنا دغه تاء مدوره په اکثروو ختونوکې په مفرداتوکې ملحقه کیږي لکه طوعیة اوکراهیة (په معنی دطاعت اوکراهت) دادواړه مفردات دي نوپه کومه صیغه دمنتهي الجموع کې چې تاء راغلي وي دَهغې مشابهت دمفرداتوسره راځی اودمشابهت دمفرداتو دوجی نه په صیغی دمنتهي الجموع کې معنی دجمعیت ضعیفه کیږي یعني جمعیت یې کمزوری کیږي اودعدم انصراف دپاره قوي اومضبوط اسباب درکاروي نومصنف ځکه اکتفی په منتهی الجموع بدون التاء باندي اوکړه ۔ لفظ دجمعی قائم مقام ددوه سبببنودي لکه څنګه چې په الفینو دتانیث کې یو سبب وضعیت دتانیث دي اوبل په کې لُزوم دکلمي دي نوګویا ایضاً یعني دغه شان جمع هم قائم مقام ددوه سبببنوګرزي یعني په جمع کې یوسبب نفس جمعیت دي اوبل په کې لُزومُ الجمعیت دي۔

نفس جمعیت: دنفس جمعیت نه مراددادي چې پخپله جمع ده یعني بذات خود جمع ده۔

لزوم الجمعیت: یعني جمع والی ورسره په هرحالت کې لازم دي (علی هذالقیاس الالفین) نوګویا په جمع کې دوه جمعي شوي نوداځکه قائم مقام دسبببنوده۔

بیان د ترکیب

(۷) اَمَّا التَّرْکِیْبُ فَشَرْطُهٗ اَنْ یَّکُوْنَ عَلَمًا بِلَا اِضَافَةٍ وَّلَا اِسْنَادٍ کَبَعْلَبَكَّ فَعَبْدُ اللّٰهِ مُنْصَرِفٌ وَمَعْدِیْکَرِبَ غَیْرُ مُنْصَرِفٍ وَشَابَ قَرْنَاهَا مَبْنِیٌّ۔

ترجمه: هرچه ترکیب ده پس د لپاره شرط دا دی چه دا به علم وی خو بغیر د اضافت نه او بغیر د اسناد نه لکه بعلبك پس عبدالله منصرف دی او معدیکرب غیر منصرف دی او شاب قرناها مبنی دی.

تشریح: اُووم سبب د اسبابودمنع صرف نه ترکیب دي۔

ترکیب په لغت کې: مرکب کولودیوشي ته وایي۔ په اردوکي یې لغوي معنی جوړناده

په اصطلاح کې: جعل الکلمتین اواکثرکلمة واحدةً یاجعل الکلمتین اواکثرکلمة بحیث یطلق علیه الاسم الواحد ګرزول ددوه کلمودي یادزیاتوپدي شان سره چې اطلاق یې په اسم واحد باندي کیږي۔ پس داتعریف چې په کوم اسم صادق وي هغه به معتبروي دعدم انصراف دپاره۔

فشرطه الخ: شرط دتاثیردترکیب دپاره دادي چې علم به وي ځکه چې اعلام محفوظ دي

دتغير او تبديل نه نوپس دتركيب دپاره دوه شرطه دي يو علميت اوبل بلا اضافة ولا اسناد .ددي عبارت خلاصه داده چې دتركيب شپږ اقسام دي.

نوپس دمركب په تولو اقسامو كې فقط يو قسم چې امتزاجي (اى مركب امتزاجي) دي، معتبردي دعدم انصراف دپاره اونورتول غير معتبردي . امتزاج په معنى داتصال سره ده، نوګويا داهغه مركب ده چې ګرزيدلي وي ددوه كلمونه بغير دربط دعطف نه لاجزء حرف يعني حرف به په كې جزء نوي لكه بصرى بدي كې اګرچې دوه كلمي دي ليكن اخرى جزء يا په كې حرف دي.

فان قيل مصنف اكتفى فقط په مركب امتزاجي اوكړه اونورئ ترك كړل څه وجه ده ؟

قلنا باقي پنځه مركبات غير معتبردي ځكه چې مركب اضافي دغيرمنصرف نه منصرف جوړوي نوداځكه ترك دي .اومركب توصيفي په حكم دمركب اضافي كې دي يعني په داوړوكې دويم جزء قيد داول دپاره اوديته مركب تقيدي هم وايي نوګويا داهم ترك دي يعني غيرمعتبردي .اوپه مركب اسنادي كې دوه احتماله دي يوداچې مركب اسنادي قبل العلميت وي اودويم داچې بعد العلميت وي اوهرچې بعد العلميت وي نودغه مبني وي اومبنيات معتبرنه دي دعدم انصراف دپاره نوګويامركب اسنادي هم غيرمعتبردي .مركب تعدادي اومركب صوتي دادواړه ځكه غيرمعتبردي چې دادواړه مبني دي اومبنيات دمنصرف اوغيرمنصرف مقابل دي يعني نه منصرف دي اونه غيرمنصرف دي.

فان قيل مصنفؒ فقط بلااضافة واسناد ذكركړى دي نودعبارت نه دامعلوميږى چې ددي نه علاوه

نوراقسام دمركباتومعتبردي دعدم انصراف دپاره ؟

قلنا كوم اقسام چې ترك شوي دي هغه مندرج دي په د مزكوره وو كبنې يعني په انتفاء دمركب اضافى كې انتفاء دمركب توصيفي راغله اوپه انتفاء دمركب اسنادي كښې انتفاء دتعدادي اوصوتي دواړوراغله نواعتراض دفع شو. مصنفؒ مثالونه ذكركوي لكه

بعلبك: داغيرمنصرف دي ځكه چې يوسبب په كې علميت دي اوبل په كې امتزاج دي تفصيل يې دادي چې بعل ديوبت نوم وواوبك دقرئي نوم وونودواړه يو علم اوګرزيد دقرئي دپاره.

فعبدالله: دامنصرف دي په انتفاء دشرط ثاني په وجه اګرچې علميت په كې موجوددي خواضافت په كې راغلى دي دعبداضافت الله ته شوي دي.دالله بنده.نوځكه منصرف دي.

معديكرب: داغيرمنصرف دي ځكه چې تركيب بلااضافت اواسناد په كې د سره دعلميت نه.

Maktaba Tul Ishaat.com

شاب قرناها: دامبنی دي يعني مقابل دانصراف او عدم انصراف دي ځکه چې دااسم بعدالعلميت دي پدي شان سره چې شاب صيغه دفعل ماضي ده په معنی سپين والي اوقرنان تثنيه دقرن ده اوقرن ښکر ته وايي پس دادواړه کلمتين علميت دهغه بوډئ ښځي دپاره ګرځيدلی دي چې دهغې دسردواړه جانبين سپين شوي وو. پس دامرکب اسنادي دي.

الف والنون زائدتان

(۸) أَمَّا الْأَلِفُ وَالنُّوْنُ الزَّائِدَتَانِ إِنْ كَانَتَا فِيْ اِسْمٍ فَشَرْطُهُ أَنْ يَّكُوْنَ عَلَمًا كَعِمْرَانَ وَعُثْمَانَ فَسَعْدَانُ اِسْمُ نَبْتٍ مُنْصَرِفٌ لِعَدَمِ الْعَلَمِيَّةِ وَإِنْ كَانَتَا فِيْ صِفَةٍ فَشَرْطُهُ أَنْ لَّا يَكُوْنَ مُؤَنَّثُهُ عَلٰى فُعْلَانَةٍ كَسَكْرَانَ فَنَدْمَانٌ مُنْصَرِفٌ لِوُجُوْدِ نَدْمَانَةٍ.

ترجمه: بهر حال الف او نون زائدتان کچرته دا دواړه په اسم کښې واقع شوی وی نو د لپاره شرط داده چه دا اسم به علم وی لکه عمران او عثمان پس سَعْدَانُ دا د واښو نوم ده منصرف ده دې وجه نه چه علميت نه دی او که چرته دا دواړه صفت واقع شی نو بیا د لپاره شرط داده چه دا به په وزن د فُعْلَانَةٌ به نه راځی لکه سَکْرَانُ پس نَدْمَانٌ منصرف دی ځکه چه د دی مونث په وزن د فعلانة باندی راځی.

تشريح: اتم سبب داسبابو دمنع صرف نه الف اونون زائدتين دي يعني داهغه الف اونون دي چې راځي دکلمي په آخرکې اوزائدوي په حروف اصليه باندي. نوپس دايو مستقل سبب دي دپاره دمنع صرف. اوپه سببيت ددي کې اختلاف دي اودوه قوله دي

يو قول: دادي. دوی وايي چې دا سبب دمنع صرف ځکه ده چې دازائدوي په حروف اصليه باندي نو ګويادا فرع او ګرزيده دحروف اصليه. لکه څنګه چې په نوروا سبابو کې فرعيت دي يعني تادتانيث دپاره فرعه ده وغيره وغيره. پس دا ځکه سبب دي.

دويم قول. دوی وايي چې دا الف اونون زائدتين مشابه د الفينو (الف مقصوره الف ممدوده) دتانيث دي نو دوجي دمشابهت نه داهم سبب اوګرزيد.

فان قيل: مشابهت ئې د الفينو سره څنګه دي؟

قلنا: مشابهت يې دادي چې څنګه الفين دتانيث دکلمي په آخرکې راځي دغه شان الف اونون زائدتين هم دکلمي په آخرکې راځي اوبله وجه يې داده چې په عدم انفکاک کې يعني څنګه چې الفين دکلمي نه جدا کيږي دغه شان الف اونون زائدتين هم نه جدا کيږي دکلمي نه. الف اونون

زائدتین ته الف اونون مضارعتین هم وایي یعني دوجي دمشابهت نه دالفینو سره. کچرته الف اونون زائدتین په آخرداسم کې راشي نودهغي دتاثیردپاره شرط دادي چې علم به وي یعني بشرط العلمیت به وي.

فان قیل علمیت ورله ولې شرط دي ؟

قلنا: ځکه چې داالف اونون زائدوي په کلمه کې اوکوم شې چې زائدوي هغه محل دتنزل وي یعني تغیراوتبدیل په کې واقع کیدي شي اودتغیرنه دساتلودپاره علمیت شرط اوګرزید ځکه لِأَنَّ الْعَلَمَ محفوظٌ مِنَ التَّغْيِيرِ

فـان قیل فشرطه کې هُضمیرالف اونون ته راجع دي اودراجع اومرجع په مینځ کې مطابقت نشته ځکه چې هُضمیرمفردمذکرته کیږي اوالف اونون تثنیه ده یعني دوه څیزونه دي.

قلنا: جواب چې داهغه اسم ته راجع دي چې په کوم اسم کې الف اونون زائدتین راغلی وي. اواسم مفرد دي پس معنی به یې داشي چې شرط دتاثیردهغه اسم دپاره دادي چې الف اونون په کې زائدراغلی وي

دویم جواب: مطابقت دراجع اومرجع په مینځ کې شته خوبعد التاویل. یعني باعتبارِ أنّهُ سَبَبٌ واحِدٌ یعني الف اونون زائدتین سبب ته راجع دي اوسبب هم مفرددي اومذکردي نومعنی به یې داشي چې شرط دتاثیر دسبب ددغه الف اونون زائدینو دادي چې بشرط العلمیت به وي

فسعدان: فاتفریعیه ده پس سعدان منصرف ده ځکه چې داسم جنس ده دیوبوټي نوم دي په صحرا کښې پیدا کیږي یعني علمیت په کې نشته اګرکه الف اونون زائدتین په کښې راغلي دي. که چیرته الف اونون زائدتین په اسم صفت کې راغلي وي نودهغې دتاثیردپاره شرط دادي چې مؤنث بـه یې د فعلانة په وزن نـه وي لکـه لفظ دسکران غیرمنصرف دي ځکه چې مؤنث یې په وزن دفعلی دي (سکری) نه دفعلانة په وزن.

فان قیل: شرط دعدم فعلانةٌ داسم صفت دپاره ولې دي ؟

قلنا داځکه چې الف اونون زائدتین ملحق کیږي په آخردکلمې کې اودامشابهت دالفینو دتانیث سره ساتي اوهرکله چې تاء تانیثي داسم صفت په مؤنث کې داخله شي نودغه مشابهت به ضعیف شي لهٰذا انتفاء دفعلانة شرط ځکه دي چې مشابهت یې ضعیف نشي.

سکران:(دنشې حالت) داغیرمنصرف دي ځکه چې یوسبب په کې الف ونون زائدتین دي اوبل په کې انتفاء دفعلانة ده یعني دسکران مؤنث په وزن فعلی دي چې سکرای دي

Maktaba Tul Ishaat.com

ندمان (ندمان دوست ته وايي): دا منصرف دي ځکه چې مؤنث يې په وزن دفعلانة دي چې ندمانة دي په عدم فعلانة کې اختلاف دي بعض وايي چې اسم صفت مع الالف والنون زائدتان به په هغه وخت غير منصرف وي چې مؤنث يې دفعلانة په وزن نه وي راغلی او بعض وايي چې په هغه وخت به غير منصرف وي چې مؤنث يې دفعلی په وزن وي .نو پس لفظ دسکران ددواړو مذهبينو په نزد باندي غير منصرف دي او لفظ دعدنان هم ددواړو په نزد منصرف دي .ليکن اختلاف په رحمان کې دي نو څوک چې انتفاء دفعلانة کوي نو دهغو په نزد غير منصرف دي ځکه چې مؤنث يې دفعلانة وزن نشته او څوک چې انتفاء دفعلی کوي نو دهغو په نزد منصرف دي ځکه چې مؤنث يې بالکل نشته (بلکه دا د الله صفتي نوم اسم مبالغه ده)

وزن الفعل

(۹) اَمَّا وَزْنُ الْفِعْلِ فَشَرْطُه اَنْ يَّخْتَصَّ بِالْفِعْلِ وَلَا يُوْجَدُ فِی الْاِسْمِ اِلَّا مَنْقُوْلًا عَنِ الْفِعْلِ كَشَمَّرَ وَضُرِبَ وَاِنْ لَّمْ يَخْتَصَّ بِهٖ فَيَجِبُ اَنْ يَّكُوْنَ فِیْ اَوَّلِهٖ اِحْدٰی حُرُوْفِ الْمُضَارِعَةِ وَلَا يَدْخُلُهُ الْهَاءُ كَاَحْمَدَ وَيَشْكُرَ وَتَغْلِبَ وَنَرْجِسَ فَيَعْمَلٌ مُنْصَرِفٌ لِقُبُوْلِهَا الْهَاءَ كَقَوْلِهِمْ نَاقَةٌ يَعْمَلَةٌ.

ترجمه: هر چه وزن فعل دی د لپاره شرط دا دی چه دا به خاص وی فعل سره او اسم کښې به موجود نه وی اسم کښې به موجود وی په هغه وخت چکله د فعل نه منتقل شوی وی لکه شَمَّرَ وَضُرِبَ کچرته فعل پورې خاص نه وی نو بیا واجبه ده چه د دی په اول کښې به د حروف مضارعتنو نه به یو حرف راغلی وی او هاء به ورباندی نه داخلیږی لکه اَحْمَدَ وَيَشْكُرَ وَتَغْلِبَ وَنَرْجِسَ- پس يَعْمَلٌ منصرف دی ځکه چه هاء قبلوی لکه په دي قول کښې نَاقَةٌ يَعْمَلَةٌ.

تشریح: نهم سبب دا سبابو د منع صرف نه وزن فعل دي او ددي نه مراد هغه وزن دي چې کوم مختص وي په افعالو پورې او په اسماؤ کې نه موجود دیږي مگر بعد النقل. (چې په اصل وضع کې مختص وي په فعل پورې او بيا نقل شي اسم ته)، اوزان په دري قسمه دي - (دفعل اوزان په صفحه ۴۸ ملاحظه دي)

(۱) هغه وزنونه چې هغه مختص وي په افعالو پوري-

(۲) داسې وزنونه چې هغه مختص وي په اسماؤ پوري-

(۳) داسې وزنونه چې هغه مشترک وي په مابين داسم او فعل دواړو کې-

دلته مراد هغه وزن دي چې مختص بالفعل وي نو دا به مؤثر د منع صرف د پاره گرزي-

فان قیل اختصاص بالفعل شرط ولې دي ؟ اختصاص بالاسم ولې نه شرط کیږي ؟

قلنا اختصاص بالفعل شرط ځکه دي چې تمام اسباب فرعي دي مثلاً تانیث هم فرع دمزکرده اودغه شان جمع فرع دتثني ده اومعرفه فرع دنکرې ده وغیره پس وزن الفعل هم فرع پکار ده نواختصاص بالفعل فرع ده داختصاص بالاسم پدې شان سره چې اسم اصل (اسم اصل دي یعني مستقل فی المعنی ده یعني په کلام کې فعل اوحرف ته محتاج نه دي . اوفعل فرع ده ځکه چې مستقل فی المعنی نه ده په خلاف داسم نه) دي اوفعل فرع ده نوګویا اوزان دفعل هم فرع دي داوزانو داسم نه پس دنورو اسبابو په شان وزن الفعل فرع ده دوزن الاسم.

ولایوجد فی الاسم الامنقولاعن الفعل کشمّروضُرِبَ: خلاصه دعبارت دا ده چې دغه وزن به په اسم کې موجود یږي لیکن په اصل وضع کې به دغه وزن مختص په فعل پورې وي . اوبیابه نقل شوي اسم ته وي یعني بعد النقل یوجد فی الاسم . نوګویا وزن الفعل په دوه قسمه شو

(۱) هغه چې مختص بالفعل وي .

(۲) هغه چې مختص بالاسم وي بعد النقل . لکه مثال شَمّرَ دا په اصل کې فعل دي صیغه دفعل ماضي معروف دباب تفعیل ده په معنی دامن پچیدن .

اعتراضات په تعریف دجمعي

یعني لِمَنْ راغونډول (جنګ ته تیاري کړې ده هغه یو کس) بعد النقل دا داَس نوم ګرزیدلی دي اودهغه اس نوم دي کوم چې دحجاج بن یوسف وو . پس دا غیر منصرف دي .

ضُرِبَ: دا صیغه دفعل ماضي مجهول ده لیکن دفعلیت نه اسمیت ته نقل شوي ده یعني دا دهغه چا نوم ګرزیدلی ده چې وهل یې خوړلي وي . نوضُرِبَ ورته خلق وایي پس دا هم غیر منصرف دي یو سبب په کې وزن الفعل دي اوبل علمیت دي . اوکچرته مختص ته شي په فعل پورې نوبیا دهغې دتاثیر دپاره شرط دا دي چې په اول کې یې دحروفو مضارعتینو نه یو راشي اوحروف مضارعتین دادي (اتین) . وجه یې دا ده چې اتین دخواصو دفعل مضارع نه دي پس چې کوم لفظ مشتمل وي په یو داتین نوګویا هغه په مشابه دفعل اوګرزي اوورسره به داشرط هم وي چې په آخر کې یې تاء مدوره نه وي (مابحال الوقف جعل الهاء) یعني چې په حالت دوقف کې په هاء بدلیږي .

فان قیل: تاء مدوره ولې ممنوعه ده په هغه وزن فعل چې مشتمل په یو داتین (حروف

Maktaba Tul Ishaat.com

مضارعت ا. ت. ی. ن مجموعه اتین وي؟

قلنا دغه قسم تاء پري ممنوعه ځکه ده چې تاء خاصه داسم ده نو بیا به جانب داسمیت راجع شي دجانب دفعلیت نه او چې اسمیت ته راجع شي نو بیا به دغه کلمه غیر منصرف وي ځکه چې اسم اصل دي او اصل په اسماؤکې انصراف دي. پس مصنف ځکه ولایدخل الهاء.

فان قیل ولایدخله الهاء. ددي نه دامعلومیږي چې هاء بې په آخرکې نوي

قلنا داپه اعتبار دمَایَئُوْلُ اِلَیْهِ سره مجازاً لکه مثال طالب ته خلق مولوي صاحب وائي نو په اعتبار دمایئول الیه سره مجاز اُځکه چې دي لاعالم نه دي بلکه چې کله فارغ شي نو بیا به مولوي صاحب شي نو دغه شان دهاء نه مراد هغه تاء ده چې کله پري وقف اوشي نو هله به هاء شي.

امثله: اَحْمَدَ. یَشْکُرَ. تَغْلِبَ. نَرْجِسَ: دا ټول غیر منصرف دي ځکه چې په اول کې یې اتین راغلي دي او دا څلور واړه اعلام دي دسړو او مصنف څلور مثالونه ځکه ذکر کړي دي چې اتین هم څلوردي، پس په نرجس باندي **سوال** دي چې عرب خود دي په آخرکې تاء مدوره وایي یعني نرجس وایي **جواب** دادی چې کله پري تاء داخله شي نو په هغه وخت کې اسم جنس وي.

فیعمل الخ: داغیرمنصرف دي ځکه چې یعمل قابل دتاء دي لکه عرب قوي اوښي ته ناقة یعملة وایي پس کچرته یعمل دیو سړي نوم او ګرزي پشان د نرجس نو بیا به غیر منصرف وي.

وَاعْلَمْ اَنَّ كُلَّ مَاشُرِطَ فِيْهِ الْعَلَمِيَّةُ وَهُوَ الْمُؤَنَّثُ بِالتَّاءِ وَالْمَعْنَوِيُّ وَالْعُجْمَةُ وَالتَّرْكِيْبُ وَالْاِسْمُ الَّذِيْ فِيْهِ الْاَلِفُ وَالنُّوْنُ الزَّائِدَتَانِ اَوْلَمْ يُشْتَرَطْ فِيْهِ ذٰلِكَ وَلٰكِنْ اِجْتَمَعَ مَعَ سَبَبٍ وَاحِدٍ فَقَطْ وَهُوَ الْعَلَمُ الْمَعْدُوْلُ وَوَزْنُ الْفِعْلِ اِذَانُكِّرَ صُرِفَ اَمَّافِي الْقِسْمِ الْاَوَّلِ فَلِبَقَاءِ الْاِسْمِ بِلَاسَبَبٍ وَاَمَّا فِي الثَّانِيْ فَلِبَقَائِهِ عَلٰى سَبَبٍ وَاحِدٍ تَقُوْلُ جَاءَنِيْ طَلْحَةُ وَطَلْحَةٌ اٰخَرُ وَقَامَ عُمَرُ وَعُمَرٌ اٰخَرُ وَضَرَبَ اَحْمَدُ وَاَحْمَدٌ اٰخَرُ وَكُلُّ مَالَايَنْصَرِفُ اِذَا اُضِيْفَ اَوْ دَخَلَهُ اللَّامُ دَخَلَهُ الْكَسْرَةُ نَحْوُ مَرَرْتُ بِاَحْمَدِكُمْ وَبِالْاَحْمَدِ.

ترجمه: پوهه شه چه هر هغه غیر منصرف چه په کښې علمیت شرط وی او دا اسم عبارت ده له مؤنث بالتاء، نه اوله مؤنث معنوی، او عجمه اوله ترکیب نه او د هغه اسم نه چه په کښې الف او نون زائد تان وی او هغه غیر منصرف چه په کښې علمیت شرط شوي نه وی خو لیکن جمع شوي وی د یو سبب سره فقط او غیر منصرف عبارت ده د هغه اسم نه چه په کښې عدل وی او هغه علم نه چه په کښې وزن فعل وی نو چکله غیر منصرف کښې

علمیت شرط ده او یا په کښې د بل سبب سره جمع شوی ده نکره کړي شی نو منصرف کیږي
هرچه قسم اول د منصرف والی ده نو داد دی وجه نه چه بلا سبب پاتي کیږي چه نکره کړي
شی او هرچه منصرف والی د دویم قسم ده نو داد دی وجه باقی پاتي کیږي چه سبب واحد
ده لکه ته اووائی جاء نی طلحة و طلحة اٰخر وقام عمر و عمر اٰخر و ضرب احمد و احمدٌ اٰخر
هر هغه اسم چه منصرف نه وی چه کله مضاف شی او یا ورباندي الف لام داخل شی نو بیا
به ورباندي کسره داخلیږی لکه مررت باحمد کم و بالاحمد

تشریح: پدي علم کي دغیر منصرف نه دمنصرف جوړولو طریقه اوضابطه بیانیږي.
خلاصه دعبارت داده چي په ټولو اسبابو دمنع صرف کي بعض اسباب داسی دي چي
علمیت په کي راغلی وي اودعلمیت دراتلو دوه حیثیتونه دي (۱) یو داچي علمیت په کي
شرط دتاثیر دعدم انصراف وي اودویم سبب په کي هم کرزي یعني جمع کیږي (یعني علمیت
ورسره جمع کیږي) هم (۲) دویم داچي علمیت په کي بغیر دشرط تاثیرنه جمع کیږي. یعني
دویم سبب وي فقط پس چي کوم علمیت شرط دتاثیروي نو هغه اسباب څلور دي (۱) تانیث
لفظي ومعنوي (۲) عجمه (۳) ترکیب (۴) الف اونون زائدتین. اوکوم علمیت چي شرط
تاثیر دپاره نه وي بلکه هسي جمع کیږي دبل سبب سره نو هغه دوه دي فقط یو عدل دي او بل
وزن الفعل دي. پس زده کړه داخبره چي دکوموا اسبابو سره علمیت شرط دي نو دهغي
دمنصرف جوړولو طریقه داده چي دهغي نه نکره جوړه کړي شي نو پس منصرف به اوګرزي.

فان قیل: په نکري سره انصراف ولي موجود یږي؟

قلنا: داځکه چي په کوم سبب کي علمیت شرط وي سره دسببیت (یعني په جمع کیږي
ورسره اوشرط دتاثیرهم وي) نه نو پس دغه علمیت منتفي شي دنکري په وجه یعني غیرمعین
شي اوهرکله چي علمیت منتفي شي نو یو سبب تري ختم شوچي علمیت وو اوس خبري ته خیال
کوه داعلمیت شرط دتاثیر وو دباقي سبب لپاره نوهرکله چي عملیت منتفي شو نو په انتفاء
دشرط سره انتفاء دمشروط راځي نودغه سبب بلاسبب پاتي شو نوځکه منصرف اوګرزید-یعني
دواړه سببین په کي دنکري دوجي نه ختم شو- اودکوموسببونو سره چي علمیت شرط نه وي
مګرسبب وي نودنکري په وجه به فقط علمیت غورزیږی پس چي علمیت تري لاړشي نو یو سبب
به باقي شي اویو سبب نه کافي کیږي دعدم انصراف دپاره. نوځکه به منصرف وګرزي.-ددي
ورستوي زده کړه داخبره چي دنکري دجوړولو دوه طریقي دي

Maktaba Tul Ishaat.com

(۱) یوه ضابطه داده چې د علمیت نه به تعبیر د جماعت په هر یو فرد او ګرزي پدي شان سره لکه زید یو ذات معین (معرفه) دي او پارتی (جماعت) د زید مشتمله ده په افرادو پسی چې د هر فرد نه تعبیر په زید سره او کړي شي نو زید او س غیر معین شو ځکه دلالت په ټولو افرادو باندي کوي. یعني نکره شوه.

(۲) دویمه ضابطه داده چې علمیت عبارت او ګرزي د وصف نه او داسي وصف چې شامل وي افرادولره لکه مثال لِکُلِّ فرعونٍ موسی د هر یو فرعون د پاره موسی دي. پس چې د فرعون نه تعبیر په مُبْطِلٌ سره او کړي شي او د موسی نه تعبیر په مُحِقٌ سره او کړي شي او او ویلی شي چې. لِکُلِّ مبطل محق. د هر یو ته ونکې د پاره حق پرست شته. پس ځکه منصرف دي چې کسره بې قبوله کړي ده دوچي د عام والي نه. مصنفؒ د عبارت په آخر کې د عدم انصراف نه د انصراف د وه طریقي نوري بیانی.

(۱) یو داده چې اضافت بې او کړي شي لکه مررت بِاَحْمَدِ کُمْ د احمد اضافت کوم ته شوي دي او کسره بې قبوله کړي ده.

(۲) دویمه دا چې کله په غیر منصرف لام التعریف داخل شي لکه بالاحمدِ

فان قیل د اضافت او لام التعریف په داخلیدو سره کسره ولي قبلوي؟

قلنا په غیر منصرف باندي کسره او تنوین ممنوع وو ځکه چې دي مشابه د فعل وو او په فعل هم ممنوع وو پس چې کله پري الف لام داخل شو یا اضافت بل ته او شو نو جانب د اسمیت په کې راجح شو د جانب د فعلیت نه ځکه چې اضافت او لام التعریف د اسم خواص دي پس جانب د فعلیت په کې ضعیف شو او ضعیف فرع د قوي ده نو ګویا اسمیت ته راجع شو او س به پري کسره او تنوین راځي اګر که سببین په کې موجود وي.

فان قیل چې سببین په کې موجود وي نو بیا خو پکار ده چې غیر منصرف وي؟

قلنا ستا خبره صحیح ده چې سببین په کې موجود دي لیکن د اضافت او لام دوچي نه په سببیتو پرده راغله او سببین په کې ګویا پټ شو.

اَلْمَقْصَدُ الْاَوَّلُ فِی الْمَرْفُوْعَات

اَلْاَسْمَاءُ الْمَرْفُوْعَاتُ ثَمَانِيَةُ اَقْسَامٍ اَلْفَاعِلُ وَمَفْعُوْلُ مَالَمْ يُسَمَّ فَاعِلُهٗ وَالْمُبْتَدَأُ وَالْخَبَرُ وَخَبَرُ اِنَّ وَاَخَوَاتِهَا وَاسْمُ كَانَ وَاَخَوَاتِهَا وَاسْمُ مَا وَلَا الْمُشَبَّهَتَيْنِ بِلَيْسَ وَخَبَرُ لَا الَّتِيْ لِنَفْيِ الْجِنْسِ:

ترجمه: د مرفوعاتو اته اقسام دی (۸) قسمه دی (۱) فاعل (۲) مفعول مالم یسم فاعله (۳) مبتداء (۴) خبر (۵) انّ او ددی د اخواتو چه کوم خبروی (۲) انّ او ددی د اخواتو اسم (۷) ما ولا چه کوم د لیس سره مشابه وی د هغی اسم (۸) او د هغی لا خبر چه کوم جنس نفی دپاره راځی

تشریح: هرکله چې مصنفؒ فارغ شو دمقدمې نه نو شروع یې اوکړه په مقاصدو ثلاثوکې. اول مقصد په مرفوعاتو کې دویم په منصوباتو کې او دریم په مجروراتو کې.

ترکیب المقصد موصوف الاول یې صفت موصوف سره دصفت نه مبتداء في جار المرفوعات مجرور جار سره د مجرور نه دا متعلّق شو په ثابتٌ مقدر پورې ثابت سره خپل متعلّق نه خبر شو مبتدا مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

فان قیل دمقاصدو په بیان کې مصنفؒ بحث دمرفوعاتو ولې مقدم کړو په د نورو باندې؟

قلنا داځکه چې مرفوعات په نسبت دمنصوباتو او مجروراتو باندې اصل دي او داصلیت دپاره یې دوه وجې دي (۱) یو داچې مرفوعات ټول په ضمې سره دي او ضمه قوي ترحرکت دي په نسبت دفتحې او کسرې سره. (۲) بله داچې ټول مرفوعات یا فاعل وي او یا غالباً مسند الیه وي په کلام کې یعني مرفوعات عمده في الکلام وي او منصوبات او مجرورات فضله في الکلام وي نو پس ددوه وجوهاتو په بناء سره بیان دمرفوعاتو مقدم دي په د نورو باندې.

فان قیل په المقصد کې دوه احتماله دي او دواړه غیرصحیح دي یو احتمال دادي که المقصد صیغه دظرف شي نو ظرف په دوه قسمه دي یو ظرف مکان دي او بل ظرف زمان دي نو معنی به یې داشي چې دا به زمان یا مکان دمرفوعاتو دقصد شي نو دا معنی باطله ده یعني غیرصحیح ده.

دویم احتمال دادي چې المقصد صیغه دمصدر میمي شي نو معنی به یې داشي چې قصد د مرفوعاتو دادی نو داهم غیرصحیح ده یعني غلط ده؟

قلنا القصد په معنی دمفعول به سره او تقدیر دعبارت داسې دي چې المقصود الاول (ثابت) في المرفوعات پس چې کومه صیغه دظرف او مصدر میمي سره غیرصحیح وي نو هغه صیغه به په معنی دمفعول به سره ګرزي او ددي دپاره په عربوکې ډیر نظائر موجود دي لکه دظرف دپاره مثال

Maktaba Tul Ishaat.com

مشربٌ عذبٌ دلته معنی په ظرف سره غیرصحیح ده نو مشرب په معنی دمشروبٌ سره مستعمليږي او دمصدر میمي دپاره مثال لکه هذاضرب الامیردلته ضرب په معنی دمضروبٌ سره تعبیرکړي شوي دي پس دیته نظائر دلغت عربي وايي۔

فان قيل: مرفوعات صیغه دجمعي مؤنث سالمي ده او مفرديې مرفوع ده مذکرده نوپکار ده چې دمرفوعات په ځای مرفوعون یامرفوعین راغلی وي ؟

قلنا: اول جواب دادي چې دیته جمع شاذه وايي لکه سُنُون جمع دسَنَةٌ ده نوپکار ده چې دسنته جمع په الف او تا سره راغلي وي نوپس دیته جمع شاذه وايي ۔یعني شاذده (شاذه دیته وايي چې دقاعدي خلاف وي)

تفصيلي جواب: المرفوعات جمع جائزه ده ځکه چې مرفوع غیرذي عقل دي او داضابطه ده چې دغیر ذي عقل جمع په الف او تاء سره جائزه ده دوجي دمشابهت دمؤنث سره یعني مؤنثات په نسبت دذکورو ناقص العقل والدین دي نونحویان عدیم العقل قیاس کوي په ناقص العقل باندي نوځکه مرفوعات جمع مؤنث سالمه ذکرشوي ده۔

فان قيل: تقسیم فرع دَ تعریف ده نو مصنفؒ له پکاروو چې اول یې دمرفوعٌ تعریف ذکرکړی وی ځکه چې معرفت دیوشي باندي بیان دیوشي موقوف وي ۔(ضابطه په تحریرکولوکي التهٔ لیکلی شوي ده اودلته صحیح ذکرده یعني بیان دیوشي موقوف وي په معرفت دیوشي باندي)

قلنا: په تعریف نه راوړلو سره مصنفؒ دمبتدئینو رعایت کړی دي ځکه چې مبتدیان دجزئیاتو طرف ته نظرکوي نه دکلیاتو طرف ته یعني دمبتدي فهم کمزوری وي او حصول دجزی اسان وي په فهم کې په نسبت دکلي، اوتعریف دمعقولاتونه دي نوځکه مصنفؒ تعریف دمرفوع ذکرنه کړو۔تعریف دمرفوع په کافیه کې داسي مذکوردي المرفوع کلّ اسم مشتمل علم الفاعلية.

الفاعلية: یعني هرهغه اسم ته ويلي کیږي چې مشتمل وي په علامي دفاعلیت باندي۔

فان قيل: الاسماء المرفوعة: اسماء جمع داسم ده او مرفوعٌ واحد ده نو په صفت او موصوف کې مطابقت نشته ؟

قلنا: په المرفوعة کې ضمیراسماء ته مسند دي او هرکله چې صفت مشتقه دغیرجمعي طرف ته مسند وي نوپه دې صورت کې واحد او جمع راوړل دواړه جائزدي لکه عرب مثال پیش کوي لکه الایام الخاليات والخالية۔ (دصفت مشتقه حکم دافعالو مانندوي)

د فاعل تعريف

فَصْلٌ: اَلْفَاعِلُ كُلُّ اِسْمٍ قَبْلَهُ فِعْلٌ اَوْصِفَةٌ اُسْنِدَ اِلَيْهِ عَلٰى مَعْنٰى اَنَّهُ قَامَ بِهِ لَا وَقَعَ عَلَيْهِ نَحْوُ قَامَ زَيْدٌ وَزَيْدٌ ضَارِبٌ اَبُوْهُ عَمْرًا وَمَا ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا.

ترجمه: فاعل هغه اسم ده چه د هغی نه مخکښې فعل يا داسی صفت وی چه اسم طرف ته نې اسناد شوی وی په داسی طريقې سره چه دا فعل يا صفت دی سره قائم وی نه په ده باندی واقع وی لکه (قَامَ زَيْدٌ وَزَيْدٌ ضَارِبٌ اَبُوْهُ عَمْرًا وَمَا ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا)

تشريح: هر کله چې مصنفؒ فارغ شو د اجمال د مرفوعاتو نه نو شروع يې په تفصيل د هر واحد سره اوکړه. مرفوعات مصنفؒ اته (۸) ذکر کړيدي او د هغي نه اول قسم فاعل ده.

(۱) **اسم فاعل**: فان قيل: مصنفؒ فاعل ولې مقدم کړی دي په نورو اقسامو باندي؟

قلنا: د اسم فاعل د تقديم دپاره وجه داده چې فاعل جزء د جملې فعليې ده او جمله فعليه اصل ده په نسبت سره جملې اسميې ته چې کله جمله فعليه اصل شوه نو جزء د جملې فعليې هم اصل شو نو اسم فاعل ځکه مقدم دي په نورو باندي. او د جملې فعليې د اصالت دپاره وجه داده چې په جملې فعليې سره مقصود حاصليږي او مقصود د جملې نه اخبار ورکول دي د هغه کار نه چې په يوه زمانه کې واقع شوي وي نو د يته مقصد د جملې وايې. **په فاعل او اسم فاعل کې فرق**: په مابين د دوي کې فرق په يو نکتې سره دي هغه دا چې فاعل جامد وي او اسم فاعل مشتقي وي لکه د فاعل مثال زيدٌ او د اسم فاعل مثال ضاربٌ پس زده کړه دا خبره چې فاعل په لغت کې کارکننده ته وايې او په اصطلاح کې فاعل (شبه فعل د يته وايې چې فعل وي ليکن مشابه وي په عمل کې د فعل سره او مصنفؒ تري تعبير په صفت سره کړی دي) هر هغه اسم دي برابره خبره ده که حقيقتاً وي او که تقديراً وي مخکې ددې نه فعل يا شبه فعل وي چې هغه مسند شوي وي په اسناد ايجابي يا سلبي سره په دي شان سره چې دغه فعل يا شبه فعل قائم وي په معنی کې د دغه فاعل سره او واقع نه وي لکه قام زيدٌ مثال د فعل دي زيد ضارب ابوه عمراً د امثال د شبه فعل دي پس زيد مبتداء او ضارب شبه فعل دي ابوه فاعل دي او عمراً يې مفعول به دي. ضَرَبَ زيد عمراً د امثال د ايجابي دي او ماضرب زيد عمراً د امثال د سلبي دي يعني زيد د ماضرب دپاره فاعل دي.

فان قيل: د تعريف نه دا معلوميږي چې فاعل به هميشه اسم وي پس په مثال مذکور کې

خو اسم نه دي بلکه فعل دي لکه اعجبني ان يضرب زيد۔ اعجبني فعل دي او ان يضرب زيد يې فاعل دي پس تعريف منقوض دي په مثال مذکور باندي.

قلنا: زمونږ مراد عام دي که حقيقتاً وي او که تقديراً وي (يعني تاويلاً) پس مثال مذکور کې ان يضرب راغلی ده ليکن دا تاويلاً دي په دي شان سره چې د يضرب مصدر ضربٌ دي چې کله پري ان داخل شو نو بيا په معنی د مصدر سره او ګرزيد او مصدر نو ي مګر اسم وي (اسم مشتقي)

فان قيل: په اسند کې ضمير مفرد دي او دا راجع ده فعل او شبه فعل ته (صفة) يعني مثنی ته راجع دي پس د راجع او مرجع په مينځ کې مطابقت نشته؟ پکار ده چې اسندويلی شوي وي.

قلنا: دلته ضمير واحد دي ليکن په تاويل او په اعتبار د کل واحدٍ واحدٍ سره دي پس معنی به د عبارت داشي چې اسناد يې شوي وي د هر واحد فعل نه په اسناد ايجابي يا سلبي سره ۔ په لاوقع عليه سره احتراز راغلی د صفت مشبه نه او د اسم تفصيل وغيره نه ۔ يعني په دي سره احتراز راغلی د مفعول به نه ځکه چې په اسم فاعل پوري فعل قائم وي او واقع شوي وي په مفعول به باندي.

وَكُلُّ فِعْلٍ لَابُدَّ لَهُ مِنْ فَاعِلٍ مَرْفُوْعٍ مُظْهَرٍ كَذَهَبَ زَيْدٌ اَوْ مُضْمَرٍ بَارِزٍ كَضَرَبْتُ زَيْدًا اَوْ مُسْتَتِرٍ كَزَيْدٌ ذَهَبَ وَاِنْ كَانَ الْفِعْلُ مُتَعَدِّيًا كَانَ لَهُ مَفْعُوْلٌ بِهِ اَيْضًا نَحْوُ ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا.

ترجمه: هر فعل لپاره ضروري وي فاعل داسې فاعل چه هغه به ظاهر وي لکه ذَهَبَ زَيْدٌ يا به ضمير بارز وي لکه ضَرَبْتُ زَيْدًا يا به ئې ضمير مستتر وي لکه زَيْدٌ ذَهَبَ کچرته فعل متعدی وی نو د لپاره به مفعول به وی لکه ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا.

تشريح: او هر فعل لره لابُدي ده د فاعل نه يعني بغير د فعل نه فاعل نشي موجود کيدي برابره خبره ده که دغه فاعل اسم ظاهر وي او که اسم ضمير وي او بيا برابره خبره ده که دغه ضمير بارز وي او که مستتر وي د دي د پاره وجه دا ده چې په اصل کې افعال اعراض (اعراض د عرض جمع ده او عرض د يته وايي لکه مثلاً چونه عرض دي او د دي د پاره مقام به ضروري وي يعني ديوال) دي او د هر عرض د پاره مقام په پکار وي نو ګويا فاعل مقام به د فعل عرض يا حد د پاره دي . نو فاعل ځکه ضروري وي د فعل د پاره . د الفاعل کل اسم نه تعبير په دي سره ده که فعل لازمي وي او که متعدي وي (وان کان الفعل متعديا) يعني په هر واحد د دي دواړو کې به ورسره فاعل ضروري وي البته فرق په دواړو کې دومره ده چې فعل لازمي تماميږي په فاعل فقط او نوي ضرورت ورته د مفعول به ۔ او فعل متعدي په عکس دي چې نه تماميږي بغير د مفعول به نه نو پس د فعل متعدي سره مفعول به ضروري شو سره د فاعل نه.

وَإِنْ كَانَ الْفَاعِلُ مُظْهَرًا وُحِّدَ الْفِعْلُ أَبَدًا نَحْوُ ضَرَبَ زَيْدٌ وَضَرَبَ الزَّيْدَانِ وَضَرَبَ الزَّيْدُوْنَ وَإِنْ كَانَ مُضْمَرًا وُحِّدَ لِلْوَاحِدِ نَحْوُ زَيْدٌ ضَرَبَ وَثُنِّيَ لِلْمُثَنّٰى نَحْوُ الزَّيْدَانِ ضَرَبَا وَجُمِعَ لِلْجَمْعِ نَحْوُ الزَّيْدُوْنَ ضَرَبُوْا

ترجمه: کچرته فاعل اسم ظاهر وی نو فعل به همیشه واحد راوړلې شی لکه ضَرَبَ زَيْدٌ او ضَرَبَ الزَّيْدَانِ او ضَرَبَ الزَّيْدُوْنَ کچرته فاعل مضمر وی نو بیا به فعل واحد راوړلې شی که فاعل واحد وی او که فاعل تثنیه وی نو فعل به هم تثنیه راوړلې شی او کچرته فاعل جمع وو نو فعل به هم جمع راوړلې شی د ټولو مثالونه لکه زَيْدٌ ضَرَبَ او اَلزَّيْدَانِ ضَرَبَا او اَلزَّيْدُوْنَ ضَرَبُوْا.

تشریح: ددې قاعدې مفهوم داسی دې چې فاعل په دوه قسمه راتلی شي یعني کله اسم ظاهروي او کله اسم ضمیروي پس چې کله فاعل اسم ظاهروي نو دهغه فاعل فعل به همیشه واحد ذکر کولی شي یعني برابره خبره ده که دغه فاعل اسم ظاهر واحدوي او که تثنیه وي او که جمع وي نو فعل به یې واحدوي لکه امثله دادي دواحد مثال ضَرَبَ زَيْدٌ دمثنی مثال ضرب الزیدان دجمعي مثال ضَرَبَ الزیدون. او که فاعل اسم ضمیروي نو فعل به دفاعل موافق راځي لکه مثالونه یې دادي. وحد للواحد نحو زید ضرب: او فعل (دفعل نه مراد هغه فعل دي چې منسوب وي دغه فاعل ته) به ذکر کولی شي واحد دهغه فاعل دپاره چې اسم ضمیر واحد وي.

وثُنّي للمثنی نو الزیدان ضربا   وجمع للجمع نحو الزیدون ضربوا

فان قیل څه وجه ده چې فاعل اسم ظاهروي نو فعل به یې همیشه واحد ذکر کیږي.

قلنا یو وجه داده چې دَ فعل تثنیه والی او جمع والي ته حاجت نشته ځکه چې فعل واحد تثنیه او جمع راځي نو داددي وجه چې تعین دفاعل اوشي چې واحددي که تثنیه ده او که جمع ده. کله چې فاعل اسم ظاهروي نو پدې وجه دفاعل تثنیت او جمعیت ته حاجت نشته ځکه چې ظاهروي دویمه وجه داده چې په وخت دتثنیت او جمعیت کې به لازمیږي تکرار دفاعل په بناء دضمائرو مستترو سره لکه ضربوا زیدون پدې مثال کې زیدون فاعل اسم ظاهر دي لیکن په ضربو کې هم فاعل مستتر دي چې ضمیر دهُم دي نو پس تکرار لازم شو دفاعلینو او دا باطل دي نو ځکه به دفاعل اسم ظاهر فعل همیشه واحد راځي. هغه فعل چې منسوب وي فاعل ته.

وَإِنْ كَانَ الْفَاعِلُ مُؤَنَّثًا حَقِيْقِيًّا وَهُوَ مَا بِإِزَائِهِ ذَكَرٌ مِّنَ الْحَيْوَانِ أُنِّثَ الْفِعْلُ أَبَدًا إِنْ لَمْ تَفْصِلْ بَيْنَ الْفِعْلِ وَالْفَاعِلِ نَحْوُ قَامَتْ هِنْدٌ وَإِنْ فَصَلْتَ فَلَكَ الْخِيَارُ فِي التَّذْكِيْرِ وَالتَّأْنِيْثِ نَحْوُ ضَرَبَ الْيَوْمَ هِنْدٌ وَإِنْ شِئْتَ قُلْتَ ضَرَبَتِ الْيَوْمَ هِنْدٌ وَكَذٰلِكَ فِي الْمُؤَنَّثِ الْغَيْرِ الْحَقِيْقِيِّ نَحْوُ طَلَعَتِ الشَّمْسُ وَإِنْ شِئْتَ قُلْتَ طَلَعَ الشَّمْسُ هٰذَا إِذَا كَانَ الْفِعْلُ مُسْنَدًا إِلَى الْمُظْهَرِ وَإِنْ كَانَ مُسْنَدًا إِلَى الْمُضْمَرِ أُنِّثَ

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلشَّمْسُ طَلَعَتْ.

ترجمه: کچرته فاعل مونث حقیقی وی او مونث حقیقی هغې ته وئیلی شی چه په خپله هم حیوان وی خو په مقابله کښې مزکر حیوان وی نو فعل به همیشه مونث راوړلی شی، کچرته د فعل او فاعل په مینځ څه شی فاصل نه وی لکه قَامَتْ هِنْدٌ. کچرته فعل او فاعل په مینځ کښې فاصل وو بیا تا ته اختیار دی چه فعل مذکر راوړې او که مونث لکه ضَرَبَ الْیَوْمَ هِنْدٌ کچرته ستا خوخه وی ضَرَبَتِ الْیَوْمَ هِنْدٌ هم وئیلی شی، همدغه رنګی په مونث غیر حقیقی کښې هم وی لکه طَلَعَتِ الشَّمْسُ هم وئیلی شی او طَلَعَ الشَّمْسُ هم وئیلی شی، دا په هغه وخت کښې چه کله د فعل اسناد اسم ظاهر طرف ته شوی وی او کچرته د فعل اسناد ضمیر طرف ته شوی وی نو بیا به فعل همیشه مونث راوړلی شی لکه اَلشَّمْسُ طَلَعَتْ.

تشریح: دا یوه بله قاعده ده پس مفهوم بې دادې چې کله فاعل اسم ظاهر مؤنث وي نو دا به خالي نه وي یا به دغه فاعل اسم ظاهر مؤنث حقیقي (مؤنث حقیقي دیته وایې چې په مقابله د دغه مؤنث کې مذکر حیوان موجود وي لکه هند اورجل) وي یا به غیر حقیقي. پس چې هر کله فاعل اسم ظاهر مؤنث حقیقي وي نو بیا به خالي نه وي یا به د فعل او فاعل په مابین کې فاصل وي یا به نوي پس که په مابین د دواړو کې فاصل نه وي نو فعل به بې همیشه مؤنث ذکر کولی شي لکه ضَرَبَ هِنْدٌ. هند مؤنث حقیقي دي او فاعل دي او مخکې ترې فعل مؤنث ذکر شوي دي. او که د دواړو په مابین کې فاصل وي نو بیا په کې اختیار دي که فعل مذکر ذکر کړی شي یا مؤنث لکه ضرب الیوم هند. ضرب مذکر دي او یوم په کې فاصل دي او دا سې هم جائز ده ضربت الیوم هند. پس که فاعل اسم ظاهر مؤنث غیر حقیقي وي نو بیا په کې اختیار دي که فعل بې مذکر ذکر کړی شي او که مؤنث لکه طلعت الشمس یا طلع الشمس. شمس مؤنث غیر حقیقي دي. که فاعل اسم ضمیر وي نو بیا به فعل همیشه مؤنث ذکر کولی شي لکه الشمس طلعت. الشمس مبتداء ده او په طلعت کې تاء ضمیر د مؤنث دي. د تانیث د فعل د پاره دري شرطه دي

(۱) یو دا چې فاعل مؤنث حقیقي وي چې د انسانانو نه وي نو فعل به بې مؤنث وي همیشه

(۲) یو دا چې د فعل او فاعل په مابین کې فاصله نه وي نو فعل به بې همیشه مؤنث راځي

(۳) یو دا چې فاعل متصرف وي نو فعل به بې همیشه مؤنث راځي پس کچرته جامد وي نو بیا تانیث د فعل لازم نه ده لکه نِعْمَ دا جامد دي نو پس نعمة هند واجب نه ده بلکه جوازي ده که نعم هند او وېلی شي نو هم صحیح دي.

وَجَمْعُ التَّكْسِيْرِ كَالْمُؤَنَّثِ الْغَيْرِ الْحَقِيْقِيِّ تَقُوْلُ قَامَ الرِّجَالُ وَاِنْ شِئْتَ قُلْتَ قَامَتِ الرِّجَالُ وَالرِّجَالُ قَامَتْ وَيَجُوْزُ فِيْهِ اَلرِّجَالُ قَامُوْا.

ترجمه او جمع تكسير په شان د مونث غير حقيقي دي په حكم كښې كه ته قَامَ الرِّجَالُ او كه قَامَتِ الرِّجَالُ او كه اَلرِّجَالُ قَامَتْ او اَلرِّجَالُ قَامُوْ وائي، نو ټول صحيح دي

تشريح ددي قاعدي خلاصه داده چې دجمعي مكسري حكم او طريقه په تذكير او تانيث كې پشان دمؤنث غير حقيقي ده يعني كه فاعل دفعل جمع مكسره واقع شي نو دفعل تذكير او تانيث دواړه جائز دي لكه قام الرجال او قامت الرجال هم صحيح دي ددي دپاره وجه داده چې يو لفظ ظاهر د رجال مذكر دي نو فعل به ورله هم مذكر ذكر شي لكه قام الرجال او بل دا چې درجال نه تعبير په جُماعةٌ سره او كړې شي نو بيا به فعل مؤنث ذكر كولى شي لكه قامت الرجال پس خلاصه دا شوه چې تذكير دفعل پدي صورت كې په اعتبار دلفظ ظاهر سره ده او تانيث دفعل په اعتبار دلفظ تاويلى سره دي .په جمع تكسير سره احتراز راغى دجمعي مذكر سالمي نه ځكه چې دهغې فعل به مذكر وي فقط لكه قامو مُسْلِمُون.

فان قيل ددي دپاره څه وجه ده چې فقط مذكر به ذكر كيږي ؟

قلنا دا ځكه چې دجمعي مذكر سالمي نه تعبير په لفظ دجماعةٌ سره نه كيږي يعني تاويل ځكه نه قبلوي چې په هغې خپل حيثيت نه موجودي او ظاهر ده چې واو نون او يا او نون دي په آخر ددغه جمع كې الرجال قامت پدي باندي **سوال** دي چې په قامت كې هِيَ راجع دي رجال ته نو دراجع او مرجع په مينځ كې مطابقت نشته ځكه چې ضمير مؤنث دي او رجال مذكر دي.

جواب دادي چې دراجع او مرجع په مينځ كې مطابقت بعد التاويل دي يعني چې كله درجال نه تعبير په جماعةٌ سره او كړې شي نو بيا به مطابقت صحيح شي ويجوز فيه الرجل قامو- رجال مبتدا قامو فعل او ضمير دهُمْ په كې فاعل دي چې راجع دي الرجال ته پس دا جائز دي او واجب نه دي ځكه چې په رجال كې دواړه احتماله موجود دي (ظاهري او تاويلي)

القواعد الفاعل

وَيَجِبُ تَقْدِيْمُ الْفَاعِلِ عَلَى الْمَفْعُوْلِ اِذَا كَانَا مَقْصُوْرَيْنِ وَخِفْتَ اللَّبْسَ نَحْوُ ضَرَبَ مُوْسٰى عِيْسٰى:

ترجمه او فاعل په مفعول باندي مقدم كول واجب دي چه كله دا فاعل هم اسم مقصور وى او دا مفعول هم اسم مقصور وى او حذف د التباس د فاعل وى لكه ضَرَبَ مُوْسٰى عِيْسٰى

تشريح ددي قاعدي خلاصه داده چې تقديم دفاعل په مفعول باندي واجب دي په هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

صورت کې چې قرینه (لفظیه ، معنویه) موجوده نه وي په فاعلیت دَ فاعل باندي او په مفعولیت دمفعول باندي نو په دي صورت کي چې کوم مقدم وي هغه به فاعل واجب وي.

فان قيل: قرينه څه ته وایې؟

قلنا: قرينه په دوه قسمه ده (۱) قرينه لفظيه عبارت دي د اعراب لفظي نه هر کله چه په یو اسم باندي اعراب لفظي جاري وي نو دهغي نه دا معلوميږي چې مرفوع وي نو هغه به فاعل وي او منصوب وي نو هغه مفعول به وي لکه زيدٌ عمراً . زيد مرفوع دي نو دا فاعل واقع شوي دي او عمراً منصوب دي او نصب علامت د مفعول به دي . (۲) قرينه معنويه عبارت دي د هغه شي نه چې دلالت په تعين د مراد لفظ باندي کوي مثال ضَرَبَ موسٰى عيسٰى پدي مثال کې چې مقدم وي هغه به فاعل وي او فاعليت به يې واجب وي ځکه چې قرينه موجوده نه ده او دواړه مقصورين دي او اسمين دي او ذكرين دي نو په دي صورت کې تقديم دفاعل واجب دي چې موسٰى دي او عيسٰى به مفعول به شي چې كله په تعين دفاعليت او مفعوليت باندي قرينه موجوده شي نو بيا تقديم دفاعل په مفعول به باندي واجب نه ده بلکه جائز دي لکه ضرب موسٰى عيسٰى الظَّرِيْفُ . پدي صورت کې تقديم د مفعول به هم جائز دي ځکه چې قرينه موجوده شوه چې الظريف دي **قاعده خارجي** : چه كله فعل مؤنث واقع شي او بعد تري لفظ د مذكر وي او مذكر نه بعد لفظ د مؤنث وي نو بيا هم تاخير دفاعل جائز دي لکه ضَرَبَت موسٰى حُبلٰى . حبلى فاعل دي.

وَيَجُوْزُ تَقْدِيْمُ الْمَفْعُوْلِ عَلَى الْفَاعِلِ:

ترجمه: او جائز دی مقدم کول د مفعول په فاعل باندي

تشريح: او جائز دی مقدم کول د مفعول په فاعل باندي پدي صورت کې قرينه موجوده ده په تعين دفاعل باندي لکه اکل الكمثرى يحيى اكل فعل دي كمثرى امرود ته وايي او يحيى اسم دي . نو مفعول به مقدم دي جوازاً او فاعل مؤخر دي جوازاً . ضَرَبَ عمراً زيدٌ . دلته قرينه لفظيه موجوده ده عمراً مفعول به مقدم ده په قريني سره او فاعل مؤخر ده

وَيَجُوْزُ حَذْفُ الْفِعْلِ حَيْثُ كَانَتْ قَرِيْنَةٌ نَحْوُ زَيْدٌ فِيْ جَوَابِ مَنْ قَالَ مَنْ ضَرَبَ:

ترجمه : او فعل حذف کول جائز دی چه کله قرينه موجوده وی لکه زَيْدٌ د هغه سړی جواب کښی چه کوم سړی او وائی مَنْ ضَرَبَ (چا او وهلی) (كانت په معنى د وجد سره دي ۱۲)

تشريح: د دي قاعدي خلاصه دا ده چي كله دفاعل نه فعل حذف کیږي او دفعل نه

مراد عامل رافعه دي برابره خبره ده که فعل وي او که شبه فعل وي . او دفعل حذف په دوه قسمه دي (۱) حذف جوازي (۲) حذف وجوبي (۱) حذف جوازي په هغه صورت کې دي چې کله قرینه موجوده وي په حذف دفعل باندي.

حذف وجوبي په هغه صورت کې ده چې کله قرینه هم موجوده وي او نائب ددغه فعل (قائم مقام) هم موجود وي دجوازي دپاره مثال لکه سائل تپوس او کړي چې مَنْ ضَرَبَ نو پدي کې مطلب دسائل داوي چې فاعل دضَرَبَ او ښایه نو جواب مخاطب فقط په زیدٌ سره او کړي . او فعل دضَرَبَ تري حذف شي جوازاً او پدي باندي قرینه او علامه سوال دَسائل دي چې تپوس یې دضَرَبَ دفاعل کړي دي نو جواب په طریقه دقرینې سره ورکړی شو چې زید وهل کړي دي دوجوبي دپاره مثال لکه ایت قرآني دي وان احدمن المشركين استجارك ددي ایت تقدیر داسي دي وان استجارك احدمن المشركين نو اول استجارك فعل عامل رافعه تري حذف شوي دي په حذف وجوبي سره یعني دا حذف واجب دي په دلیل قویه سره چې ان شرطیه دي او اَحَد اسم دي او ان نه داخلیږي مګر په فعل نو معلومه شوه چې فعل تري حذف شوي دي یعني مقدر دي وجوباً نو دلته قرینه موجوده ده چې آخري فعل استجارك دي یعني قائم مقام او نائب ددي دفعل مقدر دپاره

وَكَذَا يَجُوْزُ حَذْفُ الْفِعْلِ وَالْفَاعِلِ مَعًا كَنَعَمْ فِيْ جَوَابِ مَنْ قَالَ اَقَامَ زَيْدٌ:

ترجمه: همدغه رنګې فعل او فاعل دواړه په یو ځائي حذف کول جائز دی لکه نَعَمْ دهغه کس په جواب کښ او وائی اَقَامَ زَيْدٌ (آیا زید ولاړ دی).

تشریح: دا یوه بله قاعده ده پدي کې حذف دفاعل او فعل دواړو جائز دي لکه سائل تپوس او کړی چی اقام زید نو مخاطب جواب فقط په نَعَمْ سره ورکړي او جمله فعلیه ترینه تول حذف شي په حذف جوازي سره او داځکه چې دلته قرینه موجوده ده چې سوال دسائل دي یعني سائل دزید دقامت تپوس کوي نو مخاطب به یا جواب فقط په نَعَمْ سره کوي یا په (نفي) لَا سره نو جواب مطابق دَسوال دي

وَقَدْ يُحْذَفُ الْفَاعِلُ وَيُقَامُ الْمَفْعُوْلُ مَقَامَهٗ اِذَا كَانَ الْفِعْلُ مَجْهُوْلٌ نَحْوُ ضُرِبَ زَيْدٌ وَهُوَ الْقِسْمُ الثَّانِيْ مِنَ الْمَرْفُوْعَاتِ:

ترجمه. او په بعضو مواضعو کښې په فاعل حذف کیږی او قائمیږی به مفعول په مقام دفاعل باندي په هغه وخت کې چه کله دا فعل مجهول وی لکه ضُرِبَ زیدٌ او دی ته قسم

ثاني د مرفوعاتو ونیلی شی .

تشريح: خلاصه داده چې هرکله فعل متعدي مجهول کړی شي نو فاعل به حذف شي اومفعول به قائم مقام دفاعل اوګرزي اوداقسم مفعول مسمیٰ کړی شوي دي په مفعول مالم يسم فاعله باندي (لم يسمّ په معنی دلم یذکرسره دي) پس دمفعول مالم يسمّ فاعله معنی داشوه چې هغه مفعول چې دهغه فاعل نه وي ذکرشوي لکه ضَرَبَ زيدٌ عمراً ؛ وهلی دي زيدعمرله) پس پدي مثال کې ضَرَبَ فعل متعدي معروف دي اوزيدٌ يې فاعل دي اوعمراً يې مفعول به دي طريقه يې داده چې ضَرَبَ فعل مجهول شي اوزيدتري حذف شي نوضُرِبَ عمراً به شي .(وهلی شويدي عمر)

وهوالقسم الثاني من المرفوعات: يعني هغه مفعول چې هغه نائب فاعل وي دفاعلِ محذوفه نوداد مرفوعاتودويم قسم دي چې مسمّیٰ دي په مفعول مالم يسم فاعله باندي

بحث دتنازع

فَصْلٌ : اِذَاتَنَازَعَ الْفِعْلَانِ فِیْ اِسْمٍ ظَاهِرٍ بَعْدَهُمَا اَیْ اَرَادَكُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الْفِعْلَيْنِ اَنْ يَعْمَلَ فِیْ ذٰلِكَ الْاِسْمِ فَهٰذَا اِنَّمَا يَكُوْنُ عَلٰی اَرْبَعَةِ اَقْسَامٍ:

ترجمه : هرکله چې تنازع د فعلین راشي په اسم ظاهرکښي ورسته لدي نه چې هرکله اراده وکې هریوفعل دفعلانونه چې عمل اوکي په دغه اسم کې پس داتنازع دفعلانوپه څلورقسمه ده.

تشريح: بحث دفاعل شروع دي اوفاعل دوه حيثيتونه لري يوداچې په هغي کښي دافعالوتنازع نه وي شوي اودويم داچې په هغي کې دافعالوتنازع شوي وي دفصل نه مخکې بيان داووچې دافعالوتنازع په کې نه وه شوي نومصنفؒ دتنازع دپاره جدافصل راوړو

فان قيل بحث دتنازع پدي مقام کې مناسب نه دي ځکه چې بحث دفاعل شروع دي اومصنفؒ بحث دتنازع دافعالوراوړو نوداخبره مناسبه نه ده ددي مقام سره ؟

قلنا دتنازع دفعلينونه بحث مختص دي په فاعل پوري پدي شان سره چې کله فعلين تنازع کوي نودغه تنازع دوجې دفاعل واحدنه راغلی وي اوبغيردفاعل (اسم ظاهربعدهما) نه فعلين تنازع نشي کولی.

فان قيل دتنازع نسبت فعلانوته غيرصحيح دي ځکه چې تنازع يوفعل دي چې صادريږي دذوي الروحونه (دتنازع معنی پخپله داده چې دوه کسان يادیرکسان جګړه اوکي) اوفعلان ذوي

الروح نه دي بلکه الفاظ المعنی دي.

قلنا نسبت د تنازع فعلانو ته شوي مجازاً ځکه چې د تنازع په حقیقت کې د فاعل او متکلم نه جوړیږي یعني فعلان غیر ذوي الروح دي او طاقت د دې خبرې نه لري چې جګړه اوکې مګر متکلم او فاعل نو دیته نسبت مجازي وایې. د عبارت خلاصه داده چې کله په یوه جمله یا کلام کې دوه عامله راشي او دهغې بعد یو اسم ظاهر وي پس د غه اسم ظاهر په معمول ګرزي د پاره د عاملانو او هر عامل د اتقاضا کوي چې د غه اسم ظاهر ځما معمول جوړ شوي

فان قیل فعلان تثنیه ده او تثنیه دلالت فقط په دوه باندې کوي نو د عبارت نه دا معلومیږي چې تنازع به فقط په دوه فعلینو (عاملینو) کې کیږي نو دا عبارت منقوض دي په اللهم صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ کَمَا صَلَّیْتَ وَسَلَّمْتَ وَبَارَکْتَ وَرَحِمْتَ علی ابراهیم:

په مذکوره درود شریف کې پنځه عاملان ذکر دي ما قبل د اسم ظاهر نه چې ابراهیم دي یعني پنځه عاملان د یو معمول د پاره ګرزیدلي دي.

قلنا تنازع په ډیرو افعالو کې هم راتلی شي لیکن د مصنف د عبارت مطلب دا دي چې کم از کم به دوه عاملین وي او زیات چې څومره کیدي شي. نو پس فعلان تصریح ده په عدد اقل باندې.

فان قیل د عبارت نه دا معلومیږي چې تنازع به فقط په افعالو کې وي نو ډیر داسي دي چې تنازع په اسماء کښې هم راغلی ده لکه مُعْطِي وَمُکْرِمٌ عمر أمعطی یو اسم فاعل دي او مکرمٌ بل اسم فاعل دي او عمراً اسم ظاهر دي پس تنازع په اسمینو کې راغله یعني معطي تقاضا کوي چې عمر ځما معمول شوي او مکرم هم د غه شان.

قلنا ذکر د فعلان دي او مراد تری نه عاملان دي یعني هر عامل ته شامله ده بغیر د مصادرونه.

فان قیل مصنف له پکار وو چې عاملان یې ذکر کړي وي؟

قلنا مصنف اکتفیٰ په اصل باندې کړیده او فعل اصل دي فی المعنی په اسم ظاهر سره احتراز راغی د اسم ضمیر نه ځکه چې اسم ضمیر په دوه قسمه دي یو ضمیر متصل دي او بل ضمیر منفصل دي نو ضمیر متصل عامل دهغه چا دي چې متصل وي په چاپوري او ضمیر منفصل قیاس او محمول دي په ضمیر متصل باندې نو ګویا دا دواړه مستثنی دي بقول مصنف په بعدهما سره احتراز راغی دهغه صورتونو نه چې اسم ظاهریه کې مقدم وي یا متوسط وي. د فعل نه مراد عام دي که فعل متعدی وي که فعل لازمي وي او که متعدي د یو مفعول طرف ته وي یا د ډیرو خواه که فعل تعجب وي یا نه په تعجب او متعدي الی ثلثه مفاعیل کې بعضو اختلاف کړی دي وایې چې په فعل تعجب کې تصرف ډیر کم کیږي او متعدي الی ثلثه مفاعیل د عرب و نه نقل نه دي تر او سه پوري.

Maktaba Tul Ishaat.com

دتنازع متجانسين متخالفين صورتونه

اَلْاَوَّلُ اَنْ يَتَنَازَعَا فِي الْفَاعِلِيَّةِ فَقَطْ نَحْوُ ضَرَبَنِيْ وَاَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ اَلثَّانِيْ اَنْ يَتَنَازَعَا فِي الْمَفْعُوْلِيَّةِ فَقَطْ نَحْوُ ضَرَبْتُ وَاَكْرَمْتُ زَيْدًا اَلثَّالِثُ اَنْ يَتَنَازَعَا فِي الْفَاعِلِيَّةِ وَالْمَفْعُوْلِيَّةِ وَيَقْتَضِي الْاَوَّلُ الْفَاعِلَ وَالثَّانِيْ اَلْمَفْعُوْلَ نَحْوُ ضَرَبَنِيْ وَاَكْرَمْتُ زَيْدًا اَلرَّابِعُ عَكْسُهُ نَحْوُ ضَرَبْتُ وَاَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ:

ترجمه: اول دادی چه دواړه فعله خپل خان لپاره د فاعل تقاضا کوی لکه ضَرَبَنِيْ وَ اَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ، دوم داد چه دواړه فعله د مفعول تقاضا کوی لکه ضَرَبْتُ وَ اَكْرَمْتُ زَيْدًا، دریم داد چه دواړه فعله په فاعلیت او مفعولیت کښ تنازع کوی اول فعل د فاعل او دویم فعل د مفعول تقاضا کوی لکه ضَرَبَنِيْ وَ اَكْرَمْتُ زَيْدًا. څلورم قسم ددی برعکس دی لکه ضَرَبْتُ وَ اَكْرَمَنِيْ زَيْدًا

تشریح: تنازع دفعلینو په څلورو صورتونو کې منحصره ده اول دواړه صورته مسمی دي په متوافقین باندي اوباقي دواړه مسمی دي په متخالفین باندي. دمتوافقین صورتونه دادي چې اول قسم موافق وي په اقتضاء دفاعلیت کې اودویم قسم چې موافق وي (دواړه فعلان) په اقتضاء دمفعولیت کې پس دمتوافقین خلاصه دا شوه چې په اول قسم کې دواړه فعلین تقاضاء دفاعلیت د اسم ظاهر کوي. اوپه دویم قسم کې دواړه فعلین تقاضا د مفعولیت داسم ظاهر کوي. مثالونه. ضربني واکرمني زیداً ضربني او اکرمني دواړه متنازعین فعلیت دي او دواړه تقاضا دفاعلیت دزید کوي دثاني مثال ضربت واکرمت زیداً. دادواړه تقاضاء دمفعولیت دزید کوي اوفاعلین په کې ضمائر مستتره دي

دمتخالفین صورتونه دادي په تنازع دفعلینو کې دریم صورت دادی چې اول فعل په کې تقاضا دفاعلیت داسم ظاهر کوي اوفعل ثاني په کې تقاضا دمفعولیت کوي (یعني مخالف دي نودا ځکه مسمی دي په متخالفین باندي) اوڅلورم صورت دادي چې فعل اول په کې مقتضی دمفعولیت داسم ظاهروي اوثاني په کې دفاعلیت مقتضی وي. داول دپاره مثال لکه ضربني واکرمت زیداً په ضربني کې ضمیر دمتکلم مفعول به دي نو دي مقتضی دفاعلیت او اکرمت دمفعولیت مقتضی دي دثاني دپاره مثال په عکس داول لکه ضربت واکرمني زیداً. اول تقاضا دمفعولیت کوي اوفاعل یې ضمیر دومستتر دي پس ددي شکل نه دتنازع صورتونه واضحه معلومیږي.

تنازع دفعلینو

- متوافقین
  - چې دواړه فعلین تقاضا د فاعلیت د اسم ظاهر کوي لکه ضربني واکرمني زیداً
  - تقاضا د مفعولیت
- متخالفین
  - فعل اول تقاضا د فاعل او ثاني تقاضا د مفعول کوي لکه ضربت واکرمت زیداً
  - په عکس د دې مثال لکه ضربت واکرمني زیداً لکه ضربني واکرمت زیداً

اوس مسئله داده چې په تنازع دفعلینو کې اسم ظاهر د چا د پاره معمول ګرزي نو دا بحث مصنفؒ په اعلم کې بیانوي.

وَاعْلَمْ اَنَّ فِيْ جَمِيْعِ هٰذِهِ الْاَقْسَامِ يَجُوْزُ اِعْمَالُ الْفِعْلِ الْاَوَّلِ وَاِعْمَالُ الْفِعْلِ الثَّانِيْ خِلَافًا لِلْفَرَّاءِ فِي الصُّوْرَةِ الْاُوْلٰى وَالثَّالِثِ اِنْ اُعْمِلَ الثَّانِيْ وَدَلِيْلُهٗ لُزُوْمُ اَحَدِ الْاَمْرَيْنِ اِمَّا حَذْفُ الْفَاعِلِ اَوِ الْاِضْمَارِ قَبْلَ الذِّكْرِ وَكِلَاهُمَا مَحْظُوْرَانِ.

ترجمه: پوئی شه چه مزکوره تمام قسمونو کښ اول فعل ته عمل ورکول او دویم فعل ته عمل ورکول جائز دی، په اول او دریم صورت کښ د فراء نحوی اختلاف دي چه پدي دواړو صورتونو کښ به عمل فعل ثانی لره ورکول کیږی د دوی دلیل دادي چه فعل ثانی ته عمل ورکولو سره لزومیت د احد الامرین راځی یا حذف د فاعل راځی او یا اضمار قبل الذکر به راځی او دا دواړه صورتونه ناجائز دی.

تشریح: عمل د تنازع دفعلانو په دوه قسمه دي یو عمل جوازی دي او بل عمل مختاری دي پس عمل جوازی دیته وایي چې په تنازع دفعلینو کې فعل اول جوړشي عامل د پاره د اسم ظاهر او یا فعل ثاني عامل او ګرزي د پاره د اسم ظاهر یعني دا دواړه جائزدي عند العلماء نو پس په جواز د دواړو فعلانو باندي ټول علماء متفق دي چې هر یو عامل جائزدي لیکن په عمل جوازي کې امام فراء مولوي صاحب خلاف دي د متفقینو نه چې په صورت اول او ثالث کې به فعل اول عامل ګرزي وجوباً (وجوباً معنی داده چې فقط فراء واجب ګرزولی دي په خلاف د نورو علماؤ نه مګر جائزدي) او په دویم او څلورم صورت کې دواړه عامل یعنی که

هریو فعل عامل اوګرزي) جوړیدل جائز دي.

دلائل دفراء فراء په صورت اول او ثالث کې ترجیح ورکړیده فعل اول ته ځکه چې په صورت اول کې اول فعل تقاضاء دفاعلیت داسم ظاهر کوي او دغه شان په صورت ثالث کې هم فعل اول مقتضی دفاعلیت دي نو ځکه به فعل اول عامل وي په دغه دوه صورتونو کې او فرض که فعل ثاني ته په دغه صورتونو کې عمل ورکړی شي نو بیا به احد الامرین لازمیږي یو دا چې دفعل اول دپاره به فاعل محذوف اوګڼلی شي او بل دا چې په فعل اول کې ضمیر فاعل شي او راجع کړی شي اسم ظاهر ته نو دغه به فاعل اوګرزي دپاره دفعل اول پس دا دواړه غیر صحیح دي ځکه اول صورت یعني فاعل محذوف اوګرزي نو بیا ورله نائب فاعل پکار دي لکه په مفعول مالم یسم فاعله چې دي نو حذف دفاعل بغیر دنائب فاعل نه غیر صحیح دي او که صورت ثاني یعني ضمیر فاعل اوګرزي دفعل اول دپاره نو دا اضمار قبل الذکر اغی یعني ضمیر راجع کول شو مخکې دمرجع نه نو دا هم غیر صحیح دي نو معلومه شوه چې په صورت اول او ثالث کې به فعل عامل ګرزي (عند الفراء) دپاره داسم ظاهر که په صورت ثاني کې اضمار قبل الذکر اشي نو دا صحیح دي صرف لفظاً لا رتبتاً او دا جائز دي او که په صورت رابع کې د فعل اول دپاره مفعول حذف شي نو دا هم صحیح دي ځکه چې فعل اول تقاضا د مفعولیت داسم ظاهر کوي نو که مفعول حذف او ګڼړل شي خیر دی

وَهٰذَا فِي الْجَوَازِ وَأَمَّا الْاِخْتِيَارُ فَفِيْهِ خِلَافُ الْبَصْرِيِّيْنَ فَإِنَّهُمْ يَخْتَارُوْنَ إِعْمَالَ الْفِعْلِ الثَّانِيْ اِعْتِبَارًا لِلْقُرْبِ وَالْجِوَارِ وَالْكُوْفِيُّوْنَ يَخْتَارُوْنَ إِعْمَالَ الْفِعْلِ الْأَوَّلِ مُرَاعَاةً لِلتَّقْدِيْمِ وَلِاسْتِحْقَاقِ فَإِنْ أَعْمَلْتَ الثَّانِيْ فَانْظُرْ إِنْ كَانَ الْفِعْلُ الْأَوَّلُ يَقْتَضِي الْفَاعِلَ أَضْمَرْتَهُ فِي الْأَوَّلِ كَمَا تَقُوْلُ فِي الْمُتَوَافِقَيْنِ ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ وَضَرَبَانِيْ وَأَكْرَمَنِي الزَّيْدَانِ وَضَرَبُوْنِيْ وَأَكْرَمَنِي الزَّيْدُوْنَ وَفِي الْمُتَخَالِفَيْنِ ضَرَبَنِيْ وَأَكْرَمْتُ زَيْدًا وَضَرَبَانِيْ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدَيْنِ وَضَرَبُوْنِيْ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدِيْنَ:

ترجمه: او د اختلاف په جواز کښ دی بهر حال اختلاف د بصریونو او د کوفیونو په اختیار کښ دی بصریان فعل ثانی ته عمل ورکول اختیاره وی دوجه د قرب او جوار نه او کوفیان فعل اول ته عمل ورکول اختیار کړی دوی د تقدیم او د استحقاق رعایت کړی دی، پس کچرته عمل په فعل ثانی کښ وکړی بیا به کتل غواړی چه اولنی فعل د فاعل تقاضا کوی او که، که تقاضا کوی بیا به فاعل ضمیر راوړی لکه په متوافقینو کښ یعنی دواړه د فاعل تقاضا کوی

مثال: (ضَرَبَنِيْ وَاَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ، ضَرَبَانِيْ وَاَكْرَمَنِيْ الزَّيْدَانِ وَضَرَبُوْنِيْ وَاَكْرَمَنِيْ الزَّيْدُوْنَ) همدغه رنګې په متخالفینو کښې یعنې اولنی فعل د فاعل تقاضا کوی او دویم فعل د مفعول تقاضا کوی مثال: (ضَرَبَنِيْ وَاَكْرَمْتُ زَيْدًا وَضَرَبَانِيْ وَاَكْرَمْتُ الزَّيْدَيْنِ وَضَرَبُوْنِيْ وَاَكْرَمْتُ الزَّيْدِيْنَ)

تشریح: خلاصه دا شوه چې خلاف په افضلیت کې دی مذهب د بصریانو دادی چې عمل د فعل ثاني بهتر دی

اول دلیل: عمل د فعل ثاني افضل او بهتر دی د قرب د جواز دوجې نه یعنې فعل ثاني قریب او ګاونډي دی، اسم ظاهر ته نو یدی اعتبار سره بهتر دی.

دویم دلیل: کچري عمل فعل اول ته ورکړو نو بیا به په مابین د عامل او معمول کې اتصال پاتې نشي او اتصال اصل دی په مابین د عامل او معمول کې او اتصال نه راځی مګر په فعل ثاني سره اسم ظاهر ته.

دریم دلیل: مذهب زمونږه (یعنې د بصریینو) متفق د قرآن پاک سره دی لکه آیت شریف **اٰتُوْنِيْٓ اُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا**

قطراً: اتونی یو فعل دی او افرغ فعل ثاني دی او قطراً تنازع علیه دی او س خیال کوه دواړه فعلین تقاضا د فاعلیت د اسم ظاهر کوي یعني په فعل اول کې تقاضا د فاعلیت ده او په فعل ثاني (افرغ) کې ضمیر د متکلم فاعل دی او تقاضا د مفعولیت کوي نو پس کچري فعل اولی بهتر وي نو یکاره چې دلته فعل اولی عامل ګرزیدلی وي نو پس عمل د فعل ثاني افضل دی په حواله قرآني سره.

مذهب د کوفیینو اول دلیل: عمل د فعل اول ځکه بهتر دی چې دا مقدم دی او کوم شي چې مقدم وي هغه مستحق وي د عمل د پاره یعنې فعل اول اسبق الطالب دی یعنې تقاضایې مقدمه ده. نو ځکه افضل دی د فعل ثاني نه.

دویم دلیل: کچري عمل د افضلیت فعل ثاني ته ورکړی شي نو په اول کې به ضمیر فاعل کیږي او دا اضمار قبل الذکر دی نو ځکه عمل د فعل اول افضل دی د فعل ثاني نه.

فَاِنْ اَعْمَلْتَ الثَّانِيَ فَانْظُرْ الخ: که د بصریینو مذهب ته ترجیح ورکړی شي نو فعل اول ته به خیال اوکې کچري فعل اول تقاضا د فاعلیت کوي نو بیا به ثاني ته خیال اوکې کچري فعل ثاني تقاضا د مفعولیت کوي نو مفعول به غواړي او س تنازع واقع شوه په دواړو فعلینو کې ځکه چې فعل اول تقاضا د فاعل کوي او فعل ثاني تقاضا د مفعول کوي پس دا تنازع یعنې جګړه د فعلینو ختمول غواړي نو د تنازع د قطعې د پاره دري طُرُق دي.

(۱) یوه طریقه دا چې فعل اول د پاره فاعل ذکر شي مستقلاً

(۲) دویم طریقه دا ده چې د فعل اول د پاره فاعل محذوف او مقدر او ګنړلی شي

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳) اضمار قبل المذکر دي يعني په فعل اول کې به ضمير مستتره او ګڼړلی شي پس په دري طرقو سره به تنازع د فعلانو ختميږي او س طريقه اوله غير صحيح ده ځکه چې لازميږي د فاعل ځکه چې يو فاعل بې مستقلاً ذکر شي او بل فاعل بې اسم ظاهر او ګرزي نو پدي وجه دا شنيع ده او دويمه طريقه يعني حذف د عمده بغير د قائم مقام نه خلاف قانون دي يا بغير د سد مسد (سد مسد قائم مقام ته و ئيل کيږي) نه خلاف قانون دي او طريقه ثالثه پاتي شوه يعني اضمار قبل الذکر نو په فعل اول کې به ضمير مستتره راشي او هغه به راجع شي اسم ظاهر ته نو فعل اول د پاره به فاعل محذوف نه شي او د فعل ثاني د پاره به فاعل اسم ظاهر او ګرزي. او اضمار قبل الذکر في العمده دي ناجائز نه دي ځکه چې په ډېرو مقاماتو او مواضعو کې راتلی شي مثلاً په افعال مدح وذم کې راتلی شي او دغه په ضمير الشان کې هم جائز دي.

وَاِنْ كَانَ الْفِعْلُ الْاَوَّلُ يَقْتَضِي الْمَفْعُوْلَ وَلَمْ يَكُنِ الْفِعْلَانِ مِنْ اَفْعَالِ الْقُلُوْبِ حَذَفْتَ الْمَفْعُوْلَ مِنَ الْفِعْلِ الْاَوَّلِ كَمَا تَقُوْلُ فِي الْمُتَوَافِقَيْنِ ضَرَبْتُ وَاَكْرَمْتُ زَيْدًا وَضَرَبْتُ اَكْرَمْتُ الزَّيْدَيْنِ. وَضَرَبْتُ وَاَكْرَمْتُ الزَّيْدِيْنَ وَفِي الْمُتَخَالِفَيْنِ ضَرَبْتُ وَاَكْرَمَنِي زَيْدٌ وَضَرَبْتُ وَاَكْرَمَنِي الزَّيْدَانِ وَضَرَبْتُ وَاَكْرَمَنِي الزَّيْدُوْنَ وَاِنْ كَانَ الْفِعْلَانِ مِنْ اَفْعَالِ الْقُلُوْبِ يَجِبُ اِظْهَارُ الْمَفْعُوْلِ لِلْفِعْلِ الْاَوَّلِ كَمَا تَقُوْلُ حَسِبَنِيْ مُنْطَلِقًا وَحَسِبْتُ زَيْدًا مُنْطَلِقًا اِذْ لَا يَجُوْزُ حَذْفُ الْمَفْعُوْلِ مِنْ اَفْعَالِ الْقُلُوْبِ وَاِضْمَارُ الْمَفْعُوْلِ قَبْلَ الذِّكْرِ هٰذَا هُوَ مَذْهَبُ الْبَصْرِيِّيْنَ.

ترجمه: کچرته اول فعل د مفعول تقاضا کوی او دواړه فعل د افعال قلوبو نه دی، نو مفعول به حذف کړل د فعل اول نه، لکه د متوافقينو مثال (ضَرَبْتُ وَاَكْرَمْتُ زَيْدًا وَضَرَبْتُ اَكْرَمْتُ الزَّيْدَيْنِ وَ ضَرَبْتُ وَاَكْرَمْتُ الزَّيْدِيْنَ)، او متخالفينو مثال (ضَرَبْتُ وَاَكْرَمَنِي زَيْدٌ وَضَرَبْتُ وَاَكْرَمَنِي الزَّيْدَانِ وَ ضَرَبْتُ وَاَكْرَمَنِي الزَّيْدُوْنَ)، کچرته دواړه فعل د افعال قلوبو نه وو نو اول فعل لپاره مفعول ظاهره ول واجب دی لکه (حَسِبَنِيْ مُنْطَلِقًا وَحَسِبْتُ زَيْدًا مُنْطَلِقًا) ځکه چه د افعال قلوبو نه مفعول حذف کول او اضمار قبل الذکر راوړل نا جائز دی دا مذهب د بصريين دي

تشريح: په مخکې عبارت کې فعل اول تقاضا د فاعليت کوله او پدي عبارت کې فعل اول تقاضا د مفعوليت کوي پس دا فعلان به خالي نه وي يا به دواړه د افعال قلوبو نه وي يا به نه وي پس دوه احتماله شو کچرته دا افعال قلوبو نه نه وي او حال داوي چې فعل اول تقاضا د مفعول به دا اسم

ظاهر کوي نوپه دي صورت کښې د تنازع د قطعي د پاره طرق ثلاثه دي

(۱) په فعل اول کښې چې ضمیر د مفعول به او منلی شي

(۲) چې د اول د پاره مفعول به مستقلاً ذکر شي

(۳) حذف د مفعول به د فعل اول د پاره اولي دواړه طریقي غیر صحیح دي ځکه که ضمیر د مفعول به او منلی شي نو لازمیږي اضمار في الفضله او که ذکر د مفعول به راشي نو لازمیږي تکرار د مفعولینو. د ریمه طریقه صحیح کیدي شي یعني حذف د مفعول به لکه ضربت واکرمت زیداً دا په اصل کښې ضربت زیداً واکرمت زیدا وو پس د فعل اول نه مفعول به حذف شو نو تنازع قطع شوه.

کچرې دواړه فعلان د افعال قلوبو نه وي او فعل اول تقاضا د مفعول به د اسم ظاهر کوي نو په دي صورت کښې هم دغه طرق ثلاثه دي چې کوم ذکر شو۔ فرق په کښې فقط دومره دي چې په دي صورت کښې اول او دریمه طریقه متعیننی نه دي ځکه کچرې حذف په کښې لازم کړی شي نو افعال د افعال قلوبو نه دي او دا قانون دي چې فعل د افعال قلوبو نه وي او حذف د یو د مفعولینو د افعال قلوبو نه ناجائز دي ځکه چې دا پشان دیوي کلمي کیږي. اضمار هم نشي متعین کیدي ځکه لازمیږي اضمار في الفضله فقط ذکر د مفعول به متعین شو یعني د فعل اول د پاره به مستقلاً مفعول به متعین کیږي لکه حسبني منطلقا وحسبت زیداً منطلقا. په دي مثال کښې فعل اول حسبني دي او فعل ثاني په کښې حسبت دي دا دواړه فعلین متنازعین دي او منطلقا متنازع فیه اسم ظاهر دي. حسبني تقاضا د مفعول ثاني کوي یو مفعول په کښې موجود دي او حسبت زیدا هم تقاضا د مفعول ثاني کوي پس د فعل اول د پاره منطلقا مستقل ذکر شو.

تر دي ځای پورې مذهب د بصریینو وو۔

مذهب د کوفینو

وَاَمَّا اِنْ اَعْمَلْتَ الْفِعْلَ الْاَوَّلَ عَلٰى مَذْهَبِ الْكُوْفِيِّيْنَ فَانْظُرْ اِنْ كَانَ الْفِعْلُ الثَّانِيْ يَقْتَضِي الْفَاعِلَ اَضْمَرْتَ الْفَاعِلَ فِي الْفِعْلِ الثَّانِيْ كَمَا تَقُوْلُ فِي الْمُتَوَافِقَيْنِ ضَرَبَنِيْ وَاَكْرَمَنِيْ زَيْدٌ وَضَرَبَنِيْ وَاَكْرَمَانِي الزَّيْدَانِ وَضَرَبَنِيْ وَاَكْرَمُوْنِي الزَّيْدُوْنَ وَ فِي الْمُتَخَالِفَيْنِ ضَرَبْتُ وَاَكْرَمَنِيْ زَيْدًا وَضَرَبْتُ وَاَكْرَمَانِي الزَّيْدَيْنِ وَضَرَبْتُ وَاَكْرَمُوْنِي الزَّيْدِيْنَ وجب الاظهار.

ترجمه: بهر حال کچرته د کوفیانو په مذهب باندي عمل وکړو یعني اول فعل ته عمل

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکړو، بیا به وګورو دویم فعل ته کچرته دی د فاعل تقاضا کوی نو بیا به دویم فعل کښې فاعل د ضمیر به راوړو لکه ته اووائې په متوافقینو کښې (ضَرَبَنِي وَأَكْرَمَنِي زَيْدٌ) او (ضَرَبَنِي وَأَكْرَمَانِي الزَّيْدَانِ) او (ضَرَبَنِي وَأَكْرَمُونِي الزَّيْدُونَ) او په متخالفینو کښې ته اووائې لکه (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمَنِي زَيْدًا) او (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمَانِي الزَّيْدَيْنِ وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمُونِي الزَّيْدِيْنَ)

وَإِنْ كَانَ الْفِعْلُ الثَّانِي يَقْتَضِي الْمَفْعُوْلَ وَلَمْ يَكُنِ الْفِعْلَانِ مِنْ أَفْعَالِ الْقُلُوْبِ جَازَ فِيْهِ الْوَجْهَانِ حَذْفُ الْمَفْعُوْلِ وَالْإِضْمَارُ وَالثَّانِي هُوَ الْمُخْتَارُ لِيَكُوْنَ الْمَلْفُوْظُ مُطَابِقًا لِلْمُرَادِ أَمَّا الْحَذْفُ فَكَمَا تَقُوْلُ فِي الْمُتَوَافِقَيْنِ ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ زَيْدًا وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدَيْنِ وَ ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدِيْنَ وَفِي الْمُتَخَالِفَيْنِ ضَرَبَنِي وَأَكْرَمْتُ زَيْدٌ وَضَرَبَنِي وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدَانِ وَضَرَبَنِي وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدُوْنَ وَأَمَّا الْإِضْمَارُ فَكَمَا تَقُوْلُ فِي الْمُتَوَافِقَيْنِ ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُهُ زَيْدًا وَ ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُهُمَا الزَّيْدَيْنِ وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُهُمُ الزَّيْدِيْنَ وَفِي الْمُتَخَالِفَيْنِ ضَرَبَنِي وَأَكْرَمْتُهُ زَيْدٌ وَضَرَبَنِي وَأَكْرَمْتُهُمَا الزَّيْدَانِ وَضَرَبَنِي وَأَكْرَمْتُهُمُ الزَّيْدُوْنَ.

ترجمه: کچرته فعل ثانی تقاضا کوی د مفعول او دواړه فعله د افعال قلوبو نه وی پدې کښې بیا دوه وجې جائز دی (۱) د مفعول حذف کول (۲) ضمیر راوړل او دویم صورت راوړل ښه خبره ده د دپاره چه ملفوظ مطابق راشی مراد سره. د حذف مثال په متوافقینو کښې لکه (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ زَيْدًا وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدَيْنِ وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدِيْنَ) او په متخالفینو کښې مثال لکه (ضَرَبَنِي وَأَكْرَمْتُ زَيْدٌ وَضَرَبَنِي وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدَانِ وَضَرَبَنِي وَأَكْرَمْتُ الزَّيْدُوْنَ) د ضمیر راوړلو مثال لکه په متوافقینو کښې (ضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُهُ زَيْدًا وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُهُمَا الزَّيْدَيْنِ وَضَرَبْتُ وَأَكْرَمْتُهُمُ الزَّيْدِيْنَ) په متخالفینو کښې مثال لکه (ضَرَبَنِي وَأَكْرَمْتُهُ زَيْدٌ وَضَرَبَنِي وَأَكْرَمْتُهُمَا الزَّيْدَانِ وَضَرَبَنِي وَأَكْرَمْتُهُمُ الزَّيْدُوْنَ)

وَأَمَّا إِذَا كَانَ الْفِعْلَانِ مِنْ أَفْعَالِ الْقُلُوْبِ فَلَا بُدَّ مِنْ إِظْهَارِ الْمَفْعُوْلِ كَمَا تَقُوْلُ حَسِبَنِي وَحَسِبْتُهُمَا مُنْطَلِقَيْنِ الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا وَذٰلِكَ لِأَنَّ حَسِبَنِي وَحَسِبْتُهُمَا تَنَازَعَا فِي مُنْطَلِقًا وَأَعْمَلْتَ الْأَوَّلَ وَهُوَ حَسِبَنِي وَأَظْهَرْتَ الْمَفْعُوْلَ فِي الثَّانِي فَإِنْ حَذَفْتَ مُنْطَلِقَيْنِ وَقُلْتَ حَسِبَنِي وَحَسِبْتُهُمَا الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا يَلْزَمُ الْإِقْتِصَارُ عَلٰى أَحَدِ الْمَفْعُوْلَيْنِ فِي أَفْعَالِ الْقُلُوْبِ وَهُوَ غَيْرُ جَائِزٍ وَإِنْ أَضْمَرْتَ فَلَا يَخْلُوْ مِنْ أَنْ تُضْمِرَ مُفْرَدًا وَتَقُوْلَ حَسِبَنِي وَحَسِبْتُهُمَا إِيَّاهُ الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا وَحِيْنَئِذٍ لَا يَكُوْنُ الْمَفْعُوْلُ الثَّانِي مُطَابِقًا لِلْمَفْعُوْلِ الْأَوَّلِ وَهُوَ هُمَا

فِيْ قَوْلِكَ حَسِبْتُهُمَا وَلَا يَجُوْزُ ذٰلِكَ أَوْ أَنْ تُضْمِرَ مُثَنًّى وَتَقُوْلَ حَسِبَنِيْ وَحَسِبْتُهُمَا إِيَّاهُمَا الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا وَحِيْنَئِذٍ يَلْزَمُ عَوْدُ الضَّمِيْرِ الْمُثَنّٰى إِلَى اللَّفْظِ الْمُفْرَدِ وَهُوَ مُنْطَلِقًا الَّذِيْ وَقَعَ فِيْهِ التَّنَازُعُ وَهٰذَا أَيْضًا لَا يَجُوْزُ وَإِذَا لَمْ يَجُزِ الْحَذْفُ وَالْإِضْمَارُ كَمَا عَرَفْتَ وَجَبَ الْإِظْهَارُ.

ترجمه: بهر حال چکله دوه فعله د افعال قلوب نه وی نو بیا مفعول ظاهرول ضروری دی لکه ته اووائې (حَسِبَنِيْ وَحَسِبْتُهُمَا مُنْطَلِقَيْنِ الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا)، دا ځکه چه فعل (حَسِبَنِيْ وَحَسِبْتُهُمَا) دی دواړو په (مُنْطَلِقًا) کښې نزاع کړی او تا په اول کښې عمل اوکړو چه حسبنی دی او دویم مفعول ظاهر کړو، او کچرته تا منطلقین حذف کړو او اودونیلي چه (حَسِبَنِيْ وَحَسِبْتُهُمَا مُنْطَلِقَيْنِ الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا) نو بیا به افعال قلوبو کښې دوو مفعول کښې په یو باندې به اقتصار لازم شی او دا نا جائز دی کچرته ته ضمیر رواړی نو دی نه به خالی نه وی چه مفرد به ئی راوړی اووائې چه (حَسِبَنِيْ وَحَسِبْتُهُمَا) ایاه (الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا) نو پدې صورت کښې دویم مفعول دی اول مفعول په شان رانشی او اول مفعول هما ستا په حسبتهم قول کښې او دا ناجائز ندی یا به ته د تثنیه ضمیر به راوړی اووائې به چه (حَسِبَنِيْ وَحَسِبْتُهُمَا إِيَّاهُمَا الزَّيْدَانِ مُنْطَلِقًا) نو پدې صورت کښې به د تثنیه ضمیر مرجع به مفرد راشی چه هغه منطلقا ده چه پدې کښې تنازع واقع شوی او د هم جائز نده ،لهذا چکله حذف کول او ضمیر راوړل جائز نه دی نو ظاهرول ئې واجب دی

تشریح: هر کله چې مصنفؒ فارغ شو د بصریینو نه نو شروع یې په مذهب د کوفیینو اوکړه کوفیین وایې چې عمل د فعل اول بهتر دي د فعل ثاني نه هر کله چې عمل فعل اول کوي نو فعل ثاني ته به اوګوري یا به تقاضا د فاعلیت کوي یا به تقاضا د مفعولیت کوي کچرې فعل ثاني تقاضا د فاعلیت د اسم ظاهر کوي نو پدې صورت کې هم درې طریقې دي د قطعی د تنازع د پاره (۱) ذکر د فاعل (۲) حذف د فاعل د فعل ثاني نه (۳) اضمار د فاعل پدې طرق ثلاثه سره به تنازع ختمیږي پس اولی دواړه طریقې متعین نه دي ځکه چې په ذکر د فاعل سره لازمیږي تکرار او حذف د فاعل بغیر د سد مسد نه هم غیر صحیح دي فقط اضمار د فاعل صحیح کیږي چې په فعل ثاني کې ضمیر مستتر فاعل شي او راجع وي اسم ظاهر ته نو قطع د تنازع به راشي په مابین د فعلانو کې۔

فان قیل: اضمار قبل الذکر مخکې د مرجع نه راغی او دا غیر صحیح دي ؟

قلنا: دا اضمار قبل الذکر لفظاً دي لا رتبتاً یعني اسم ظاهر چې مابعد واقع دي هغه د فعل اول د پاره معمول ګرزیدلی دي نو مرتبه یې په فعل ثاني باندې مقدمه ده نو دا اضمار قبل الذکر لفظاً دي

Maktaba Tul Ishaat.com

لارتبـتـاً -داطریقـه دمتوافقینـوده کچـري فعـل اول تقاضـادمفعولیت کـوي اوفعـل ثـاني تقاضادفاعلیت کوي اوس کچري فعل ثاني مقتضی دمفعولیت وي نونظربه اوکې کچري فعلان دافعال قلوبونـه نـه وي نودتنازع دقطعی دپاره مذکوره طرق ثلاثـه دي اودلته ماسوي داظهارنـه دواړه طریقي متعین دي پس ذکریااظهارځکه ناجائزدي چې لازمیږي تکرارباقي دواړه جائزدي حذف ځکه جائزدي چې دافعلان افعال قلوبونه دي او اضمارځکه جائزدي چې دااضمارقبل الذکرلفظاً دي لارتبتاً البته بقول مصنفؒ اضماربهتردي دحذف نه وجه یې داده چې ضمیرمطابق اوګرزي دمراداومقصوددمتکلم نه اوضمیرعبارت دي دمرجع نه چې اسم ظاهردي کچري فعلان دافعال قلوبووي نوپدي صورت کې فقط ذکراواظهاردمفعول به متعین دي اوباقي دواړه طریقي غیرمتعین دي حذف ځکه نشي کیدي چې لازمیږي حذف یو دمفعولینو د افعال قلوبونه اودانا جائزدي ځکه چې داپه شان دیوکلمي دي او اضمارځکه نشي متعین کیدي چې داضمیربه خالي نه وي یابه دمفردضمیروي یابه دمثنی وي کچري ضمیردمفردراجع کړی شي نودراجع اومرجع په مابین کې به مطابقت راشي لیکن په افعالودافعال قلوبوکې به مطابقت نه وي اوکچري ضمیردمثنی راجع کړی شي نوبیابه دافعالومطابقت راشي لکین دراجع اومرجع په مابین کې به مطابقت پاتي نشي (اوضمیردجمعی خوپه طریقه اولی سره غیرصحیح دي) لکه مثال حَسِبَنِي وحَسِبْتُهُمَا منطلقین زیدان منطلقاپدي مثال کې اولني دواړه فعلین متنازعین دي اوآخري منطلقاپه کې متنازع فیه دي حسبني فعل اول مقتضی دمفعول ثاني دي اومفعول اول په کې ضمیردیاء متکلم دي دغه شان حسبتماهم دمفعول ثاني مقتضی دي اومفعول اول په کې هما دي الزیدان دحسبني دپاره فاعل دي اوپه مذهب دکوفیینوباندي دفعل اول دپاره منطلقامفعول ثاني شو اودحسبتهمادپاره بي مستقلاً ذکرکړوچې منطلقین دي-

اوس مثال ته خیال کوه کچري منطلقین تري حذف شي نوبلزم الاقتصار (اکتفی) علی احد المفعولین فی افعال القلوب وهو غیرجائزاوکچري اضماریه کې متعین نشي نوبیابه مفرددوي یامثنی کچري ضمیردمفردپه کې متعین شي اوداسي اووائی حسبني وحسبتماایاه الزیدان منطلقا -پدي صورت کې دراجع اومرجع په مابین کې مطابقت شته لیکن دفعل اول دفعل ثاني سره مطابقت نشته ځکه چې حسبني مفرددي اوحسبتهماتثنیه ده اوضمیردایاه هم مفرددي پس دا ناجائز دي او کچري ضمیردمثنی متعین کړی شي اوداسي اووائي چې حسبني وحسبتهما ایاهما الزیدان منطلقا پدي صورت دافعال مطابقت شته لیکن دراجع اومرجع په مابین

کې مطابقت نشته یعني ضمیر د مثنی راجع دي منطلقانه او دا واحد دي او دا هم ناجائز دي پس چې
تا دا خبره معلومه کړه نو فقط اظهار متعین شو یعني منطلقین ورله مستقلاً ذکر شو ورسته
د حسبتهمانه پس ذکر د مفعول په دې صورت کې واجب دي

مفعول مالم یسمّ فاعله

مَفْعُوْلُ مَالَمْ یُسَمَّ فَاعِلُه وَهُوَ کُلُّ مَفْعُوْلٍ حُذِفَ فَاعِلُه وَاُقِیْمَ هُوَ مَقَامَه نَحْوُ
ضُرِبَ زَیْدٌ وَحُکْمُه فِیْ تَوْحِیْدِ فِعْلِه وَتَثْنِیَتِه وَجَمْعِه وَتَذْکِیْرِه وَتَاْنِیْثِه عَلٰی قِیَاسِ مَا
عَرَفْتَ فِی الْفَاعِلِ:

ترجمه مفعول مالم یسم فاعله هغه مفعول ده چه فاعل د دی به حذف کړی شوی
وی او مفعول به د فاعل په ځائي قائم کړي شوي وی لکه ضُرِبَ زَیْدٌ او حکم دا دي چه فعل
واحد راوړل تثنیه راوړل جمع راوړل مذکر راوړل او مونث راوړل لجمعه به قیاس کړی په
هغې باندې چه کوم تا د فاعل په بحث کښې پیژندلی

تشریح هر کله چې مصنفؒ فارغ شو د مرفوعاتو د قسم اول نه پس شروع یې او کړه په
قسم ثاني کې چې هغه مفعول مالم یسم فاعله دي او دیته نائب فاعل هم وایي

لفظي تشریح لفظ د ما موصوله ده په معنی د لفظ" سره ده او لم یسم په معنی د لم
یذکر سره دي او په فاعله کې ه ضمیر مفعول ته راجع دي پس معنی یې مجموعه دا شوه
یعني دویم قسم د مرفوعاتو نه مفعول د هغه لفظ دي (برابره خبره ده که د غه لفظ صراحتاً
وي او که تاویلاً وي) چې د هغې فاعل ذکر نه وي په کلام کې.

اصطلاحي تعریف دا هر هغه مفعول به ده چې حذف شوي وي فاعل د ده نه او قائم شوي وي
دا مفعول په ځایې د فاعل یعني قائم مقام گرزیدلی وي د فاعل په اسناد د فعل کې او په اعراب د رفع
کې سره د تغیر د فعل معروف نه فعل مجهول ته.

فان قیل په فاعله کې ه ضمیر مفعول ته راجع دي او دا غیر صحیح دي ځکه چې فاعل په
حقیقت کې د فعل د پاره وي نه د مفعول د پاره؟

قلنا ه ضمیر مفعول ته راجع دي د ادنی ملابست د وجې نه یعني کله چې فعل
صادر د فاعل انه/پس واقع شي په مفعول به باندې نو دیته ادنی ملابست وایي.

فان قیل په لم یسم فاعله او حذف فاعله کې تقابل دی ځکه چې لم یسمی دلالت کوي په

نشوالی دیوشي باندي اوحذف دلالت کوي په قبل الوجود دیوشي باندي یاداسي اووایه چې حذف فرع دوجود دشي ده نوپه دواړو عبارتونوکې تضاددي ؟.

قلنا: لم یسم په معنی دلم یذکر سره دي یعنی موجود به وي لیکن ذکرشوی به نوي مثال لکه ضُرِبَ زَیدٌ ضُرِبَ صیغه فعل ماضی مجهول غائب ده اوزید ته مفعول مالم یسم فاعله دضُرِبَ وایي اوداپه اصل کې ضَرَبْتُ زیداً ووپس فاعل تري حذف شو (چې ت ضمیردمتکلم دي) اوزید مفعول قائم مقام دفاعل اوګرزیدپه اسناددفعل کې اوپه اعراب درفعي کې سره دتغیردفعل معروف نه فعل مجهول ته نوضُرِبَ زیدٌ شي (زیدوهلی شوي دي)

وحکمه فی توحید...الخ: اوحکم دمفعول مالم یسم فاعله دفعل دپاره په واحدتثنیه اوجمع اوتذکیراوتانیث کې پشان داسم فاعل ده کوم چې مذکوردي په قسم اول کې پس کوم قواعد او ضوابط چې دفاعل دي هغه به دنائب فاعل وي ځکه چې دي نائب دي نوځه حکم چې دفاعل وي هغه به دنائب فاعل وي۔

المبتداء والخبر

(۳) اَلْمُبْتَدَأُ وَالْخَبَرُ هُمَا اِسْمَانِ مُجَرَّدَانِ عَنِ الْعَوَامِلِ اللَّفْظِیَّةِ اَحَدُهُمَا مُسْنَدٌ اِلَیْهِ وَیُسَمَّی الْمُبْتَدَاءُ وَالثَّانِیْ مُسْنَدٌ بِهٖ وَیُسَمَّی الْخَبَرُ نَحْوُ زَیْدٌ قَائِمٌ وَالْعَامِلُ فِیْهِمَا مَعْنَوِیٌّ وَهُوَ الْاِبْتِدَاءُ......

ترجمه: مبتدا او خبر دواړه داسې اسمونه چه عوامل لفظیه نه به خالي وي پدې کښې یو مسند الیه ده د ته مبتداء نوم ئې کیخودلو، او دویم مسند ده دیته خبر نوم ئې کیخودلو لکه زَیْدٌ قَائِمٌ او عامل پدې دواړو کښې معنوی ده چه هغه ابتداء ده.

تشریح: چې کله مصنفؒ فارغ شودقسم ثاني دمرفوعاتونه نوشروع یې اوکړه په قسم ثالث اورابع باندي پس دریم قسم دمرفوعاتونه مبتداء ده اوقسم رابع خبرده پدې فصل کې دمبتداء اوخبردقواعدو اواحکامو بحث کیږي۔

فان قیل: مبتداء اوخبردواړه مستقل قسمونه دي دمرفوعاتونه پکار ده چې مصنف دواړه په جداجدا فصلونوکې ذکرکړي دی اوپه بعضو کتابونوکې هم جداجدا فصلونوکې ذکردي مثلاً په کافیه وغیره کې ؟

قلنا: ددې دپاره دوه وجې دي اوله وجه۔ مبتداء اوخبردواړه دیوبل سره لازم اوملزوم دي یعني چې په کومه جمله کې مبتداء وي نوخبربه ورسره لازم وي اوکه خبروي نومبتداء به ورسره

لازمه وي پس د تلازم او دلزوم دوجي نه دواړه په یو فصل کې مصنف ذکر کړي دي دویمه وجه دواړه مشترك دي په عامل کې یعني په عامل کې دواړو معنوي دي په تمام عربي کې دد ربو خیزونو عامل معنوي دي (۱) مضارع (۲) مبتداء (۳) خبر- یو شاعر په خپلو خیالاتو کې ظاهر کړیدي

شعر

عامل فعل مضارع معنوي باشد بدان همچنین معنی بود عامل تعین در مبتدا

عامل لفظی مَا يُدْرَكُ بِالْقَلْبِ وَيُتَلَفَّظُ بِهِ: چې ادراك يې په عقل كيدى شي او تلفظ پري هم كيدي شي

عامل معنوي: مَا يُدْرَكُ بِالْقَلْبِ وَلَا يُتَلَفَّظُ بِهِ: چې ادراك يې په عقل كيږي او تلفظ پري نشي كيدي

تعریف دمبتداء او خبر: دا دوه اسمان دي (برابره خبره ده که حقیقتاً وي او که حکماً یا تاویلاً) داسي اسماء چې خالي دي د عوامل لفظیونه او داسي اسماء چې دي و اسم اسنادیل اسم ته شوي وي پس چې کوم اسم ته اسناد شوي وي دغه اسم لره مسمی دي په مسند الیه سره او ده ته مبتداء هم وایي.او چې د کوم اسم اسنادبل ته شوي وي دغه اسم مسمی دي په مسندبه سره او ده ته خبر هم وایي لکه زید قائم.زید مبتداء مسند الیه دي او قائمٌ یې خبر مسند به دي

فان قیل: د هما اسماء نه دا معلومیږي چې دواړه به اسماء وي پس دا تعریف منقوض دي په دي آیت باندي. وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَّكُمْ. دلته تصوموا مبتدا واقع شوي دي حالانکه دا فعل دي او دغه شان خبر هم جامع بافراده نه دي ځکه چې زید ضَرَبَ تري خارج شو یعني ضرب خبر واقع شوي ده حالانکه فعل دي.

قلنا: زمونږ مراد عام دي که اسماء حقیقتاً وي لکه زید قائمٌ او که تاویلاً وي پس ان تصوموا په معنی صیامکم سره دي او دا ضابطه ده چې ان مصدریه په مضارع داخل شي نو معنی به یې په مصدر سره وي او مصدر هم اسم دي او دغه شان ضَرَبَ (ضرب په معنی دضرباً سره دي) دي اګرچې ان مصدریه پري نه دي داخل لیکن هر هغه فعل چې خبر واقع شوي وي هغه به په معنی د مصدر سره وي پس خلاصه دا شوه چې ان تصوموا او ضَرَبَ اسماء دي بعد تاویلاً په ترکیب د مبتداء او خبر کې.

فان قیل: په مجردان باندي سوال دي چې مجرد د تجرید نه ماخوذ ده او تجرید په معنی د خالي کولو سره دي.نو د مجردان معنی به دا شي چې خالي کړی شوي وي د عوامل لفظیونه او دا ضابطه ده خالي کول دیو شي فرع د وجود دیو شي ده نو دا معلومیږي چې مخکې پرې عوامل لفظیه داخل وو مګر بیا خالي

Maktaba Tul Ishaat.com

کړی شو. حالانکه تراوسه پوري په مبتداء او خبرباندي عوامل لفظيه نه دي موندلي شوي.

قلنا: دلته تجريد په معنى مجازي کې مستعمل دي چې عدم دي يعني تشوالى ديوشي ترابتداء نه نو معنى به يې داشي چې نه وي راغلى پدي کې عوامل لفظيه. دتجريد مجازي دپاره يو مثال. معقوله سبحان الذى اصغر البعوض يعني بعوض (مچهر) ماشې دکبرنه خالي دي اوس ددي دامطلب نه دي چې مخکې په جسامت کې دهاتي(فيل) غوندي وو بيايې تجريد اوشو

فان قيل: لفظ دعوامل جمع ده او دجمعي اطلاق کم ازکم په دريو باندي کيږي نو دعبارت مطلب به داشي چې خالي وي ددريو عواملو لفظيو نه او که دوه عوامل په کې راغلي وي نو خيردي ؟

قلنا: په العوامل باندي الف لام جنسي داخل دي پس چې الف لام جنسي په صيغى دجمعى داخل شي نو دهغي جمعيت قطع کوي او جنس تري مرادوي او دجنس اطلاق په يو باندي هم کيږي او په زيا تو باندي هم کيږي.

والعامل فيهما معنوي وهو الابتداء: په مبتداء او خبردواړو کې عامل معنوي ابتداء ده او پدي عامل معنوي کې مذاهب ثلاثه دي.

(۱) جمهور علماء نحو وايي چې عامل دمبتداء او خبردواړو معنوي دي

(۲) بعضى نحويان وايي چې عامل دمبتداء معنوي دي او عامل دخبر مبتداء ده يعني په خبر کې عمل مبتداء کوي.

(۳) ديگر علماء نحو وايي چې مبتدا عامل ده دخبر او خبر عامل ده دمبتداء يعني دواړه په يو بل کې عمل کوي. پدي کې مختاره مذهب دجمهور دي نو مصنف هم ترجيح ورکړه اولني مذهب ته چې عامل ددواړو معنوي دي چې ابتداء ده.

فان قيل: هرکله چې عامل معنوي ابتداء شوه نو تعريف دعامل معنوي منقوض ده په ابتداء ځکه چې ابتداء خو لفظ ده او تلفظ پري کيږي نو څه وجه ده ددي دپاره.

قلنا: دعامل معنوي معنى داده چې خالي کيدل دي عواملو لفظيو نه پس ابتداء خالي ده دعواملو لفظيو نه يعني داخالي کيدل يوه قرينه ده دعامل معنوي

وَاَصْلُ الْمُبْتَدَاِ اَنْ يَّكُوْنَ مَعْرِفَةً وَاَصْلُ الْخَبَرِ اَنْ يَّكُوْنَ نَكِرَةً وَالنَّكِرَةُ اِذَا وُصِفَتْ جَازَ اَنْ تَقَعَ مُبْتَدَاً نَحْوُ قَوْلِهِ تَعَالٰى وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ:

ترجمه: اصل په مبتدا کښې داده چه دا به معرفه وي او اصل په خبر داده چه دا به نکره وي چکله د نکرې صفت راوړلی شي نو مبتدا جوړول ئې جائز دي لکه د الله تعالی دا قول وَلَعَبۡدٌ مُّؤۡمِنٌ خَيۡرٌ مِّن مُّشۡرِكٍ.

تشریح: اصل په معنی د راجح سره دي یا په معنی داولی سره دي په دې عبارت کې دوه راجحه دي یعني اصله یو اصل راجح دمبتدا سره دي او بل دخبر سره. دمبتداء سره قاعده متعلقه داده چې مبتداء به معرفه وي او دخبر سره قاعده متعلقه داده چې خبر به نکره وي دنحویانو په اصطلاح کې داسې ذکر کیږي چې اصل په مبتداء کې تعریف دي او اصل په خبر کې تنکیر دي دمبتداء دتعریف دپاره وجه داده چې مبتدا محکوم علیه وي یعني حکم پرې لګولی شي او حکم لګول دافرع دتعریف دیوشي ده او دخبر دنکارت دپاره وجه داده چې خبر حکم دي چې ثابتیږي دپاره دمبتداء برابره خبره ده که دغه خبر نکره وي او که معرفه وي اوس خیال کوه خبر اسم دي او اصل په اسماء کې تنکیر دي نو خبر خپل اصل ته راجع شو نو څکه نحویان وایي چې اصل په خبر کې تنکیر دي.

فان قیل: مبتداء هم اسم دي نو هلته خو د اصل نه خلاف کړې شوي دي.

قلنا: هلته عذر موجود دي چې مبتداء محکوم علیه وي او دحکم ثابتولو دپاره تعریف دیوشي ضروري وي نو مبتدا څکه معرفه ده.

فان قیل: دعبارت نه خو دامعلومیږي چې مبتدا به دائماً ابداً معرفه وي او کله کله مبتدا نکره هم واقع کیږي

قلنا: مصنف جواب په خپله کړي چې نکره کله موصوفه وي په یو صفت سره نو داجائزه ده په مبتداء سره یعني هغه نکره صحیح نه ده چې مطلق نکره وي او مصنف مثال ذکر کړي دي آیت قرآني ولعبد مومن خیر من مشرك عبد نکره موصوفه ده (او لام په کې ابتدائیه تاکیدیه دي) او عبد مبتداء واقع شوي دي او ددي دپاره وجه داده چې نکره موصوفه قریبه ده معرفی ته او دا قانون دي چې قریب لره حکم دعین دشي وي نو ګویا نکره په حکم دمعرفی کې شوه

فان قیل: نکره موصوفه څنګه قریبه ده معرفي ته.

قلنا: نکره موصوفه قریبه ده معرفی ته په دې شان سره چې په معرفه کې شرکاء نه وي او په نکره کې شرکاء ډیروي پس چې کومه نکره موصوفه شي په یو صفت سره نو تقلیل په کې واقع کیږي دشرکاء نه او تقلیل دشرکاؤ په نکیره کې تقریب الی المعرفه ده لکه لفظ والعبد مخکې شامل وو مسلم، مشرك، کافر، فاجر، فاسق، هندو وغیرو ته چې کله یې صفت دمومن

ذکرشونو تقلیل په کې راغی دشرکاونه فقط مسلمان غلام ترې مراددې پس عبد موصوف شو په وصف دمومن سره نونکره موصوفه قریبه شوه معرفی ته لکه په حکم دمعرفي کې شوه نوځکه جائزه ده په مبتداء سره۔

وَكَذَا إِذَا تُخُصِّصَتْ بِوَجْهٍ آخَرَ نَحْوُ أَرَجُلٌ فِي الدَّارِ أَمْ امْرَأَةٌ وَمَا أَحَدٌ خَيْرٌ مِّنْكَ وَشَرٌّ أَهَرَّ ذَانَابٍ وَفِي الدَّارِ رَجُلٌ وَسَلَامٌ عَلَيْكَ:

ترجمه: همدغه رنګی چه کله نکره مخصصه کړی شی بلی وجه سره (رَجُلٌ فِي الدَّارِ أَمْ امْرَأَةٌ وَمَا أَحَدٌ خَيْرٌ مِّنْكَ وَشَرٌّ أَهَرَّ ذَانَابٍ وَفِي الدَّارِ رَجُلٌ وَسَلَامٌ عَلَيْكَ)

تشریح: وکذا اذا اشاره ده مخکینی عبارت ته یعني څنګه چې نکره موصوفه بابتداء جائزه ده دغه شان چې دکومي نکري تخصیص په یوي بلي وجي سره اوکړی شي نو داهم مبتداء واقع کیدي شي اودیته نکره مخصصه وایي اودتخصیص دنکري دپاره پنځه وجي دي پس چې کله دنکري تخصیص اوکړی شي په وجوه خمسو سره نو دانکره بابتداء جائزه ده

اوله وجه: چې تخصیص اوکړی شي دنکري په یوي بلي وجي سره یعني مطلب دادي چې څنګه مخکې دنکري موصوفی دپاره دقرابت وجه وه نودلته هم دغه سی وجه ده چې نکره مخصصه قریبه ده معرفی ته یعني چې تخصیص یې اوشي نوتقلیل په کې دشرکاؤ راځي نوځکه قریبه ده معرفی ته اوقریب لره حکم دعین شي وي پس بوجه اخرنه مراددادي چې تخصیص یې دبلي وجي نه راغلی وي اویوه وجه دنکري موصوفی دپاره ذکرشوه پس دامثال دمخصصی دي أرَجُلٌ فی الدار ام امراة . همزه استفهامیه ده رجل نکره ده فی الدار جار مجرور خبر دي اَمْ عطف دي یعني امراة عطف دي په رجل باندي نورجل اوامراة دواړه نکری مخصصی دي اودتخصیص دپاره یې وجه داده چې همزه استفهامیه دام سره متصل راغلی وي نوپدي صورت کې به دنکري تخصیص کړی شوي وي اودام معنی داده چې دي راځی دتعین داحد الامرین دپاره یعني سائل چې کله په سوال کې ام ذکرکړي په مابین ددوو لفظونو کې (لکه مثال مذکور) نووجود داحد الامرین به ضرور سائل ته معلوم وي یعني په وجود درجل یادمرأ به دي عالم وي خوتپوس به فقط دتعین داحد الامرین کوي چې ماته دااوخایه چې سړی دي اوکه ښځه (سره دوجود دیوته) پس علم دمتکلم حاصل دي په وجود داحد الامرین باندي نو دادنکري دتخصیص وجه ده خلاصه داشوه په ارجل فی الدار ام امرة کې رجل اومرأنکری مخصصی دي دعلم دمتکلم وجي نه

دویمه وجه **وَمَا أَحَدٌ خَيْرٌ مِّنْكَ** مانافیه دي احد مبتداء نکره مخصصه ده او خیرمنك یې خبردي ددي تخصیص وجه داده چې مخکې تري حرف نفي واقع شوي دي او دا قانون دي چې نکره واقع شي بعد د نفي نه نو هغه نکره مفید د عموم د پاره وي نو معنی به د مثال داشي چې هیڅ یو کس نشته ستانه افضل . دلته احد نکره ده او مفید د عموم د پاره ده نو تخصیص د نکري په اعتبار د عمومیت سره اوګرزید.

فان قیل: تخصیص د نکري ثابت شو په عموم سره او تخصیص او عموم دواړه مقابل دي او تضاد دي په کې.

قلنا: د تخصیص دوه معنی دي (۱) یو تخصیص په معنی د تفرّد (انفرادیت ۲۱) سره دي (۲) بل تخصیص په معنی د قِلتُ الشُیُوعِ (شیوع د شائع نه ماخوذ ده ۲۱) سره دي د شیوع نه مراد د عموم واخله نو دلته تخصیص د عموم دوجي نه راغلي دي لکه احد خیرمنك په دې کې د متکلم مطلب داوي چې بهتروالي د مخاطب د پاره ثابت شي او د نورو ټولو نه نفي شي نو پس بهتروالي د ټول مخلوق نه منتفي دي او ثابت دي مِنكَ لره نو بهتروالي اول ټولو لره شامل وو په لفظ د مِنكَ سره په کې تخصیص راغی خلاصه دا شوه چې مخکې خیریت شائع وو یعني ټولو ته شامل وو په لفظ مِنكَ سره مخصوص شو پس دا تخصیص دي په معنی د قلت اشیوع سره په معنی د تفرد سره.

دریمه وجه **وشَرٌّ أَهَرَّ ذَانَابٍ**: شرٌّ نکره مخصصه مبتداء ده اهرذاناب ورله خبردي ددي نکري د تخصیص د پاره دوه وجې دي اوله وجه: دا عبارت په اصل کې اهرذاناب شرٌّ وو. اُهَرَّ صیغه د فعل ماضی معروف ده او ضمیر د رو فاعل او ذاناب یې مفعول به ده او شرٌّ بدل دي د ضمیر د اُهَرَّ نه او ضمیر یې مبدل منه دي بیا لفظ د شرٌّ مقدم کړی شو د پاره د تخصیص او دا قانون دي چې تقدیم ماحقه تاخیر مفید د تخصیص د پاره وي نو ځکه شر نکره مخصصه مبتداء واقع شوي ده.

دویمه وجه: په شرٌّ باندي تنوین دي او دغه تنوین د تعظیم د پاره دي په دي شان سره چې **شرٌّ عظیمٌ اُهَرَّ ذَانَابٍ** شر په معنی د مصیبت عظیم سره دي او اُهَرَّ په معنی د دارو (داري مخکښنی غاغونه چې غټ غټ وي لکه د غشو ۲۱) سره دي او مراد تري سپی دي یعني د سپی هم داړي وي او داهر مصدر اهر یُهِرُّ اهرارٌ په معنی غپیدل پس د عبارت معنی به داشي چې یو مصیبت عظیم راغی او وبې غپو سپي لره . دا دلیل دي په تعظیم د تنوین د شرٌّ باندي او کچري تنوین د تعظیم د پاره نوي نو بیا خو په عام شرباندي سپی انګواري نکوي او دا یو عظیم خبر دي چې په

لويي مصيبت واقع كيدلو باندي سپي چغي وهي (خلاف شرع) پس خلاصه دا شوه چي تنوين دتخصيص دپاره دي په شرٌ كې نو ځكه شر نكره مخصصه مبتداء واقع ده.

خلورمه وجه: دفي الدار رَجُلٌ. في الدار جار مجرور دا خبر مقدم دي او رجل نكره مخصصه مبتداء مؤخره ده دلته په رجل نكره كې تخصيص راغلي په نسبت دعلم دمخاطب نه پدي شان سره چې متكلم فقط في الدار ذكر كړي نو مخاطب ته دا پته اولګي چې ددي بعد به داسي لفظ ذكركوي چې داستقراء في الدار صلاحيت په كې وي نو ګويا په رجل كې ايك ګنه تخصيص راغى چې صلاحيت دكوريه كې موجود دي نو ځكه درجل مبتدا واقع كيدل صحيح ده چې خبر ظرف وي او مقدم وي په نكري باندي نو دنكري تخصيص په اعتبار دتقديم دخبر سره دي او دا تقديم دخبر ځكه جائز دي چې متكلم في الدار ذكر كړي الخ (چې مذكور دي).

پنځمه وجه: وَسَلَامٌ عَلَيْكَ: سلامٌ مبتداء ده عليك خبر دي سلام نكره مخصصه ده او تخصيص يې په دي اعتبار سره دي چې دا په اصل كې سَلَّمْتُ سلاماً عليكَ وو. سلام مفعول مطلق دسلمت دپاره دي او سلمت فعل فاعل دي نسبت يې عليكَ ته شوي دي پس سلمت دتخفيف دپاره حذف شو او سلاماً مبتدا واقع شوه سره دمرفوع كيدلو نه ځكه چې مبتدا مرفوع وي. نو ګويا دا په اصل كې جمله فعليه وه او بعد دتخفيف نه تري جمله اسميه جوړه شوه.

فان قيل: جمله اسميه تري ولي جوړه شوه؟

قلنا: دجملې فعليې نه متجاوز جملې اسميې ته ځكه راغى چې جمله فعليه دلالت په تجدّد باندي كوي او جمله اسميه دلالت په دوام او استمرار باندي كوي نو په سلام كې نسبت متكلم ته راغلى دي نو ددي تخصيص دوجى نه سلام مبتدا (نكره مخصصه) واقع شوي دي.

وَاِنْ كَانَ اَحَدُ الْاِسْمَيْنِ مَعْرِفَةً وَّالْاٰخَرُ نَكِرَةً فَاجْعَلِ الْمَعْرِفَةَ مُبْتَدَاً وَّالنَّكِرَةَ خَبَرًا اَلْبَتَّةَ كَمَا مَرَّ وَاِنْ كَانَا مَعْرِفَتَيْنِ فَاجْعَلْ اَيَّهُمَا شِئْتَ مُبْتَدَاً وَّالْاٰخَرَ خَبَرًا نَحْوُ اللّٰهُ اِلٰهُنَا وَمُحَمَّدٌ نَّبِيُّنَا وَاٰدَمُ اَبُوْنَا

ترجمه عبارت: كچرې په دوه اسمونو كې يو معرفه او بل نكره نو معرفه به مبتدا او ګرزي او نكره به خبر لكه مخكې مثالونه چې ذكر شوي دي او كچرې دواړه اسماء معرفې وي نو تا سوته اختيار دي چې په دواړو كې هر يو مبتداء جوړ كړي (په هغه وخت كې چې جمله خبريه جوړوي) او دويم خبر جوړ كړي لكه الله الهنا ـ محمد نبينا وادم ابونا وغيره. پس كچرې الله الهنا دغه شان ذكر كړي څوك نو بيا دا قاعده ده چې كوم مقدم وي هغه به مبتداء جوړ كړي او چې كوم موخروي هغه به خبر جوړ كړي.

وَقَدْ يَكُوْنُ الْخَبَرُ جُمْلَةً اِسْمِيَّةً نَحْوُ زَيْدٌ اَبُوْهُ قَائِمٌ اَوْ فِعْلِيَّةً نَحْوُ زَيْدٌ قَامَ اَبُوْهُ اَوْ شَرْطِيَّةً نَحْوُ زَيْدٌ اِنْ جَاءَنِيْ فَاَكْرَمْتُهٗ اَوْ ظَرْفِيَّةً نَحْوُ زَيْدٌ خَلْفَكَ وَعَمْرٌو فِي الدَّارِ

ترجمه: کله به خبر جمله اسميه وی لکه (زَيْدٌ قَائِمٌ اَبُوْهُ) يا به جمله فعليه وی لکه (زَيْدٌ قَامَ اَبُوْهُ) يا به جمع شرطيه وی (زَيْدٌ اِنْ جَاءَنِيْ فَاَكْرَمْتُهٗ) او يا به ظرفيه وی لکه (زَيْدٌ خَلْفَكَ وَعَمْرٌو فِي الدَّارِ)

تشريح: قد چې په ماضی داخل شې نو په معنی د تقليل سره يعني کله کله خبر جمله هم واقع کيدلي شي د دې عبارت مطلب دا دي چې مخکې يو قانون ذکر شو هغه دا چې خبر دې مفرد وي يعني دا اصح خبره ده براې افراد د خبر د پاره او پدې عبارت کې مصنف هغه مواضع ذکر کوي چې خبر کله کله جمله هم واقع کيدې شي برابره خبره ده که دغه جمله فعليه وي او که اسميه وي او که شرطيه وي او که ظرفيه وي پس د خبر د پاره دوه مواضع شو يو د افراد او بل جمله واقع کيدل پدې کې راجع افراد دي ځکه چې افراد اصل دي او اصليت يې په دې بناء سره دي چې خبر کله مفرد واقع شي نو پدې صورت کې حاجت نه وي عائد ته (يعني اې رابط) او چې خبر کله جمله واقع شي نو پدې صورت کې عائد ته حاجت وي نو ظاهره خبره ده چې په صورت د افراد کې احتياج نشته او دا قانون دي چې عدم احتياج اصل دي په نسبت سره احتياج ته نو ځکه مصنفؒ دا او وئيل چې اصل او راجحه خبره داده چې خبر دې مفرد وي او کله کله به جمله هم واقع وي. او دهرې جملې د پاره مثال مستقل مذکور في الهداية النحو دي۔

بيان د ظرف

وَالظَّرْفُ مُتَعَلِّقٌ بِجُمْلَةٍ عِنْدَ الْاَكْثَرِ وَهِيَ اِسْتَقَرَّ مَثَلًا تَقُوْلُ زَيْدٌ فِي الدَّارِ تَقْدِيْرُهٗ زَيْدٌ اِسْتَقَرَّ فِي الدَّارِ

ترجمه: ظرف به د اکثر علماء نحو په نزد پاندې دا به د جملې سره متعلق وی چه هغه اِسْتَقَرَّ دي لکه (زَيْدٌ فِي الدَّارِ) چه په اصل کښ (زَيْدٌ اِسْتَقَرَّ فِي الدَّارِ)

تشريح: د دې عبارت نه وړاندې جمله ظرفيه ذکر شوه نو مصنفؒ نه ظرف ياد شو او دا يوه مشهوره معقوله ده چې (خبره د خبرې نه معلوميږي) پدې عبارت مصنف د جار مجرور د متعلق بحث کوي پس دغه جار مجرور ته ظرف وايې خلاصه داده

چې ظرف په دوه قسمه دي يو حقيقي بل مجازي۔

ظرف حقيقي په دوه قسمه دي يو ظرف مکان دي او بل ظرف زمان

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه شان ظرف مجازي هم په دوه قسمه دي يو ظرف مستقر دي او بل ظرف لغو دي تفصيل يې په اوله صفحه دبسم الله کې مذکور دي دلته مصنف ته مختاره او غوره مذهب دبصريينو دي يعني متعلق دظرف مستقر به فعل وي يا دافعال عامه نه يا دافعال خاصو نه او فعل ځکه اولی دي چې داقانون دي چې هر متعلق به عامل وي په خپل متعلق کې اواصل په عمل کې فعل دي .نو ځکه دبصريينو مذهب قوي دي . **وهي استقر**: داپه اکثرو مواضعو کې واقع کيږي لکه زيد في الدار زيد مبتدا، في الدار جار مجرور متعلق شو په ظرف مستقر يوري متعلق سره دخپل متعلق نه داخبر شو دپاره دمبتداء تقديري داسي دي زيد استقر في الدار .دزيد دپاره ځايي داستقرار په کور کې دي.

وَلَابُدَّ فِي الْجُمْلَةِ مِنْ ضَمِيْرٍ يَعُوْدُ إِلَى الْمُبْتَدَاءِ كَالْهَاءِ فِيْ مَا مَرَّ وَيَجُوْزُ حَذْفُهُ عِنْدَ وُجُوْدِ قَرِيْنَةٍ نَحْوُ اَلسَّمْنُ مَنَوَانِ بِدِرْهَمٍ وَالْبُرُّ اَلْكُرُّ بِسِتِّيْنَ دِرْهَمًا وَقَدْ يَتَقَدَّمُ الْخَبَرُ عَلَى الْمُبْتَدَا نَحْوُ فِي الدَّارِ زَيْدٌ وَيَجُوْزُ لِلْمُبْتَدَا الْوَاحِدِ اَخْبَارٌ كَثِيْرَةٌ نَحْوُ زَيْدٌ عَالِمٌ فَاضِلٌ عَاقِلٌ.

ترجمه: جمله کښ ضمير راوړل ضروری دی هغه به متکلم طرف ته به راجع وی لکه هاء په تيرشوی مثالونو کښ او جمله کښ هم دغه ضمير حذف کول ئې جائز دی چکله قرينه موجود وی لکه اَلسَّمْنُ مَنَوَانِ بِدِرْهَمٍ او کله به خبر په مبتدا باندې مقدم کولي شی لکه فِي الدَّارِ زَيْدٌ يو مبتدا لپاره ډير اخبار راوړل جائز دی لکه (زَيْدٌ عَالِمٌ فَاضِلٌ عَاقِلٌ).

تشريح: ددې عبارت تفصيل دادي چې کله خبر جمله واقع شي نو پدې صورت کې به عائد ته حاجت وي ځکه چې دمبتداء او خبر په مينځ کې ارتباط او تړون ضروري وي اُس خبري ته خيال کوه چې کله خبر جمله واقع شي نو دغه جملي دمبتدا، سره هيڅ قسمه ربط نوي ځکه چې جمله مستقله للبحثها او مربوطه بغيرها وي يعني جمله په خپلو رکنينو او جزء ينو دکلام باندي مستقله او تامه وي نو ځکه بې دبل يو شي سره ارتباط او تړون ته ضرورت نوي نو اوس پکار ده چې دمبتداء او خبر په ما بين کې ربط راشي نو پس دمبتدا او خبر په مابين کې چې کوم عائد (رابط) ده هغه په څلور قسمه دي .(۱) عائد کله کله ضمير واقع کيږي لکه مثال مذکور زيد ابوه قائمٌ - زيد مبتداء، ده ابوه قائم ورله جمله خبر واقع شوی ده او هاضمير په کې عائد (رابط) دي چې راجع وي زيد ته نو په دغه ضمير سره دمبتداء او خبر ارتباط راغی (۲) عائد کله کله الف لام واقع کيږي - لکه نعم الرجل زيد .نعم فعل دي رجل يې فاعل فعل سره دفاعل نه داجمله خبر مقدم دي

اوزید مبتداء مؤخره ده پدي کي الف لام عائد دي په ارتباط دمبتداء، او خبر سره (۳) دریم عائد وضع داسم ظاهر ده په ځاي داسم ضمیر لکه آیت شریف کي ﴿الْحَاقَّةُ مَا الْحَاقَّةُ﴾ الحاقة مبتداء ده ما الحاقة خبر پس په الحاقة کي الف لام عائد نه ده بلکه عائد په کي وضع داسم ظاهر ده چي په اصل کي الحاقة ماهي وه او په اصليت ددي دليل قانون دنحوي دي چي يو لفظ کله په اسم ظاهر سره ذکر شي نو بيا به ورته ضمير راجع کيږي نو ځکه هي ضمير الحاقة ته راجع دي پس ضمير دهي تري حذف شو او وضع داسم ظاهر ورله عائد جوړ شو چي ما الحاقة دي (۴) څلورم قسم عائد جمله تفسير واقع کيدل دي دپاره دمبدا لکه قل هو الله احد هو مبتداء ده او الله احد ورله جمله تفسير واقع شوي ده يعني هغه ذات چي الله احد دي او ديته ضمير الشان هم وايي.

ويجوز حذفه عند وجود قرينة: دعائد ضمير جائز ده چي کله قرينه موجوده وي لکه السمن (غوړي) منوان بدرهم. السمن مبتداء ده منوان مبتداء ثاني بدرهم يي خبر مبتداء ثاني سره دخبر نه داجمله خبر شو دپاره دمبتداء دا په اصل کي السمن منوان منه بدرهم. منه راجع دي السمن ته پس داحذف جائز دي بل مثال لکه البر الکر بستين. البر مبتداء الکر مبتداء ثاني سره دخبر نه جمله خبر شو دپاره دمبتداء اول وهذا القياس.

وقد يتقدم الخبر على المبتداء نحو في الدار زيد: قد په صيغي دفعل ماضي داخل ده په معنى دتقليل سره ده يعني کله کله خبر مقدم وي په مبتداء پدي عبارت کي دمصنفؒ مطلب دادي چي اصل په مبتداء کي تقديم دي او اصل په خبر کي تاخير دي ځکه چي مبتداء ذات دي او خبر وصف دي او ذات مقدم وي په وصف باندي نو ځکه اصل په مبتدا کي تقديم دي او په خبر کي تاخير دي ليکن کله کله مبتداء هم مؤخره کيدي شي او کله کله خبر هم مقدم کيدي شي تقديم دخبر په هغه مقاماتو کي راځي چي کله خبر ظرف واقع شوي وي لکه في الدار زيد. في الدار ظرف واقع شوي دي او خبر مقدم دي او زيد مبتداء مؤخره ده (داهغه صورت دي چي مخاطب ته پدي کي وجود علم دمبتداء مؤخري وي).

ويجوز للمبتداء الواحد اخبار كثيرة نحو زيد عالم فاضل عاقل: دامسئله ده چي ديوي مبتداء دپاره ډير اخباره کيدل جائز دي لکه مثال مذکور چي زيد په کي مبتداء ده او عالم فاضل عاقل ورله اخبار ثلاثه ذکر شوي دي برابره خبره ده که دا اخبارونه په واو عطف سره وي او که نه وي پس تعدد داخبارو په دوه قسمه دي (۱) يو تعدد جوازي دي (۲) بل تعدد وجوبي دي پس تعدد جوازي په هغه وخت کي دي چي کله ديو خبر معنى بغير ذکر کولو دنورونه معلوميږي نو يدي صورت کي

Maktaba Tul Ishaat.com

جائز دي حذف دنورو اخبارونو لکه مثال مذکورچې فقط زید عالم اوویلی شي نود اجائز ده او تعدد وجوبي په خلاف د دي ده چې کله دیو خبرمعنی بغیرد ذکرکولو دنورو اخبارونو نه معلومیږي لکه مثال الابلق اسود وابیض. ابلق برگ ته وایې چې مرکب وي دتور او سپین نه نودلته ذکردخبر دیگر جواب دي ځکه چې ابلق فقط په اسود نه تماميږي او نه په ابیض تماميږي.

واعلم ان لهم قسما اخر من المبتداء ليس مسند اليه وهو صفة وقعت بعد حرف النفي نحو ما قائم زيد او بعد حرف الاستفهام نحو اقائم زيد بشرط ان ترفع تلك الصفة اسما ظاهرا نحو ما قائم الزيدان واقائم الزيدان بخلاف ما قائمان الزيدان.

ترجمه: پوئي شه چه د نحویانو په نزد بل قسم مبتدا هم شته چه هغه به مسند اليه نه وی هغه به صیغه د صفت وی چه د حرف نفی نه پس به واقع وی لکه قائم زید یا به د حرف استفهام نه پس وی اقائم زید پدي شرط سره چه دا صیغه د صفت به اسم ظاهر ته رفع ورکوی لکه ماقائم الزیدان او اقائم الزیدان په خلاف د ماقائمان الزیدان.

تشريح: خلاصه داده چې نحاتو مبتداء په دووقسمونو کې منقسمه کړیده یوقسم مبتداء هغه ده چې مسند اليه واقع وي په کلام کې اوبل قسم مبتداء هغه ده چې هغه مسند اليه نوي بلکه مسند وي اسم ظاهرته کوم چې قائم مقام دخبروي لیکن داخبره یاد ساته چې خالي کیدل دعوامل لفظيونه په دواړوکې شرط دي پس هرکله چې شيخ فارغ شو دقسم اول دمبتداء نه نوشروع يې اوکړه په قسم ثاني دمبتدا باندي .شيخ فرمايې چې قسم اول دمبتداء هغه ده چې کوم ماسبق تیرشو او قسم ثاني دمبتداء دنحاتو دادي چې په دي باندي تمامو نحاتو بنابرضرورت اقرار کړی دي يعني هرکله چې پدي قسم مبتداء کې داعراب دابتداء نه بغیرځه وجه نه وه موجوده نومجبوراً دوی داقسم مبتداء په مبتداء ثاني سره اوگرزوله تعريف دقسم ثاني دمبتداء: داهغه صیغه دصفت (مرادتري مشتقی یاقائم مقام دمشتقي دي) چې واقع وي پس دحرف نفي نه یاواقع وي پس دحرف استفهام نه پدي شرطه چې دغه صیغه دصفت به عمل په اسم ظاهرکې کوي صیغه دصفت مشتقي لکه قائم-ناصر-قائل-کاتب وغیره اوقائم مقام دمشتقي دپاره مثال چې یای نسبتی بې په آخرکې راغلی وي لکه مثلاً ماقائم زید ماحرف نفي ده قائم شبه فعل ده اوعامل دي دزید دپاره چې اسم ظاهر ده اورفع بې لري کړیده اسم ظاهر نه پس قائم سره دخپلو شروطو نه مبتداء ثاني ده اوزیدقائم مقام دخبرواقع شوي دي.

فان قيل په اسماً ظاهراً سره احترازراغی دضمائرونه حالانکه داقانون منقوض ده په دي

آیت باندي أَرَاغِبٌ أَنْتَ عَنْ آلِهَتِي يَاإِبْرَاهِيمُ پدي کي راغب قسم ثاني دمبتداء دي اوعمل يي په انت ضمير کي کړی ده اوداسم ظاهرنه ده نوځه وجه کيدي شي.

قلنا داسم ظاهرنه مرادعام دي که حقيقتاً وي اوکه حکماً پس انت ضميربارزدي اوضميربارزپه حکم داسم ظاهرکي دي نوپه اسماً ظاهراً سره احترازراغي دضمائرومستقرونه فقط.

ماقائم الزيدان. قائم قسم ثاني دمبتداده چي واقع ده بعدد حرف نفي نه اوعمل يي په اسم ظاهرکي کړيدي چي الزيدان قائم مقام دخبردي اوقائم مبتدا، ثاني ځکه ده چي واحد ذکرشوي ده چي اسناد يي اسم ظاهرته شوي دي اوداقانون دي چي هرکله اسنادفعل اسم ظاهرته اوشي نودغه فعل ياشبه فعل به همېشه واحد ذکرکولی شي.

بخلاف ماقائمان الزيدان: په خلاف ددي نه يعني قائمان خبرمقدم دي الزيدان مبتداء مؤخره ده.

تفصيل - صيغه دصفت اواسم ظاهرچي کله دواړه مفردوي نوپه دي صورت کي دوه امره جائزدي يوداچي صيغه دصفت مبتداء وي اواسم ظاهريي فاعل وي بل امرداچي اسم ظاهر مبتدا، موخره وي اوصيغه دصفت خبرمقدم وي پس په دي وخت کي به په صيغی دصفت کي يوضميروي چي راجع به وي داسم ظاهرطرف ته اوس دلته دمطابقت اومخالفت دري صورته جوړيږي

(۱) يوداچي مطابقت په افرادکي وي يعني چي صيغه دصفت اواسم ظاهردواړه مفردوي لکه ماقائم زيد پدي صورت کي دواړه امره جائزدي يعني زيدمبتداء مؤخراوقائم خبرمقدم ياقائم مبتداء اوزيديي فاعل

(۲) دويم صورت داچي داسم ظاهراوصفت مطابقت په تثنيه اوجمع کي وي لکه ماقائمان الزَّيدَان اوماقائمون الزيدون پدي صورت داسم ظاهرمبتدا، کيدل واجب دي اوصيغه دصفت به خبرمقدم وي ورنه اضمارقبل الذکربه لازميږي چي باطل ده.

(۳) دريم صورت داچي مخالفت په افراد تثنيه اوجمع کي وي يعني چي صفت مفردوي اواسم ظاهرتثنيه وي ياجمع وي لکه اقائم الزيدان يااقائم الزيدون نوپدي صورت کي به صفت يقيناً مبتدا (قسم ثاني دمبتدا) وي ورنه ضميربه د تثنيی ياجمع طرف ته راجع شي اوداهم باطل دي نومصنفؒ ځکه بخلاف ماقائمان الزيدان ذکرکړو.

Maktaba Tul Ishaat.com

خبران واخوتها

(۵) فَصْلٌ: خَبَرُ إِنَّ وَأَخَوَاتِهَا وَهِيَ أَنَّ وَكَأَنَّ وَلٰكِنَّ وَلَيْتَ وَلَعَلَّ فَهٰذِهِ الْحُرُوْفُ تَدْخُلُ عَلَى الْمُبْتَدَأِ وَالْخَبَرِ فَتَنْصِبُ الْمُبْتَدَأَ وَيُسَمّٰى اِسْمَ إِنَّ وَتَرْفَعُ الْخَبَرَ وَيُسَمّٰى خَبَرَ إِنَّ فَخَبَرُ إِنَّ هُوَ الْمُسْنَدُ بَعْدَ دُخُوْلِهَا نَحْوُ إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ وَحُكْمُهُ فِيْ كَوْنِهِ مُفْرَدًا أَوْ جُمْلَةً أَوْ مَعْرِفَةً أَوْ نَكِرَةً كَحُكْمِ خَبَرِ الْمُبْتَدَأِ وَلَا يَجُوْزُ تَقْدِيْمُ أَخْبَارِهَا عَلَى أَسْمَائِهَا إِلَّا إِذَا كَانَ ظَرْفًا نَحْوُ إِنَّ فِي الدَّارِ زَيْدًا لِمَجَالِ التَّوَسُّعِ فِي الظُّرُوْفِ.

ترجمه: خبر دانّ سره دَخپلو اخواتو نه چې انّ كانّ ليت لكن لعل دي پس دا حروف داخليږي په مبتدا او خبر باندې . مبتدا ته به نصب ورکوي او هغې ته اسم دانّ ويلى شي او خبر ته به رفع ورکوي او دېته به خبر دانّ ويلى شي پس خبر دانّ به مسند وي پس د دخول دانّ نه لكه ان زيداً قائم او حکم دخبر دانّ په انفرادیت مفرد ، جمله او معرفه . اونکره والى کښې . پشان دحکم دمبتداء دخبر کې ده او جائز نه دي تقدیم دخبر دانّ په اسماء دانّ باندې مگر په هغه وخت کې جائز دي چې کله خبر دانّ ظرف واقع شي لکه ان فى الدار زيداً قائم او محاله داده چې په ظروفو کې توسّع ده.

التشريح: پنځم قسم دمرفوعاتو نه خبر دحروف مشبه بالفعل دې او حروف مشبه بالفعل شپږ دي لکه په شعر کې

إنّ بانّ كانّ ليت لكنّ لعلّ ناصب اسمند ورافع در خبر ضد ما ولا

مدخول د دي حروفو مبتداء ، او خبر دي مبتدا ته به نصب ورکوي او خبر ته به رفع ورکوي يعنې دا حروف ناصب الاسم اورافع الخبر دي پس خبر يې ځکه مقدم کړو چې دابحث دمرفوعاتو دي او مبتدا منصوبه ده نو هغه به په بحث دمنصوباتو کې راځي انشاء الله تعالى دي حروفو ته مشبه بالفعل ځکه وايي چې دا مشابه دي دفعل متعدي سره لفظاً او معناً . لفظاً داسي دي يعني ځنګه چې فعل ثلاثي او رباعي وي دغه شان دا حروف هم ثلاثي او رباعي دي پس انّ او ليت ثلاثي دي او كانّ او لعلّ رباعي دي او لكنّ خماسي ده چې مشابه ده په حرف زائد د فعل سره . مشابهت معنوي يې دادي چې د دي حروفو معنى بذات خود افعال دي يعني انّ په معنى د تحقّق سره دي او كانّ په معنى تشبّهٔ سره ده او لكن په معنى داستدراك سره ده او ليت په معنى تمنّيتُ سره دي او لعلّ په معنى د ترجيتُ سره دي پس دا تولي معاني افعال دي نو ځکه مسمّى دي په حروف مشبه بالفعل سره البته فرق يې فقط په عمل کې دي په دې

شان سره چې فعل خپل مابعد فاعل ته رفع ورکوي او مفعول ته به نصب ورکوي او دا حروف په عکس ددې دي يعني فاعل ته نصب او مفعول ته به رفع ورکوي. لکه مثال اِنّ زيداً قائمٌ زيد مبتدا دي چې مسمی کړلی شوي ده په اسم دانّ سره او قائمٌ يې خبر ده چې مسمّی دي په خبر دانّ سره. پس ان سره دخپل اسم نه او سره دخپل خبر نه جمله اسميه خبريه شوه.

فان قيل مصنف اِنّ مقدم کړه په خپلو اخواتو باندې پکاره ده چې لکن وغيره واخواتهايې ويلي وي؟

قلنا اِنّ چونکه کثير الاستعمال دي نو گويا دا په حکم داصل کې دي او اصل مقدم وي په فرع باندې

فان قيل اخوات جمع داخ ده او دذوی الروح دپاره مستعمليږي حالانکه دا حروف دي نه ذوي الروح

قلنا: دلته ترې مراد امثال او اشباه دانّ دي او يادا او وايه چې دا خو دي حروف ليکن ملفوظ دذوي الروحو دپاره دي نو لفظ داخوات مصنفؒ مجازاً ذکر کړی دي.

ولايجوز تقديم اخبارها الخ په دې عبارت سره مصنف دفع د **سوال** مقدر کړيده هغه دا چې خبر دانّ بالکل پشان دخبر دمبتدا دي نو پکار ده چې تقديم دخبر دانّ جائز او گرزي نو شيخ **جواب** ورکوي چې خبر دانّ نه مقدم کيږي په اسماء باندې ځکه چې ددې حروفو عمل ضعيف دي او دفعل عمل قوي دي نو کچرې خبر دان مقدم شي په اسم دمبتدا باندې نو مشابهت به راشي دقوي او دضعف او دا باطل دي. البته که خبر دان ظرف واقع شي نو بيا جائز دي تقديم دخبر دانّ په مبتدا دانّ باندې او دا ځکه چې په ظروفو کې توسع ده يعني وسعت او کشادگي ده په ظروفو کې يعني دا مقدم هم کيدي شي او مؤخرهم او په ظروفو کې وسعت په دې بنا، سره دي چې هرفعل به دظرف نه خالي نه وي (مکان او زمان) نو گويا بغير دظروفو نه هيڅ يو فعل نشي موجود يدي نو ځکه ظروف په حثيث دمحار مودي نو مقدم هم کيدي شي او مؤخرهم کيدي شي کچرې حروف مشبه بالفعل اول ته رفع ورکي او دويم ته نصب نو بيا به مساوات راشي داصل سره (چې فعل دي) دغير اصل (چې حروف مشبه بالفعل) سره او دا باطل دي نو په عمل کې بې فقط دغه فرق دي چې دا حروف ناصب الاسم دي او رافع الخبر دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

اسم کان واخواتها

(۶) فَصْلٌ: اِسْمُ كَانَ وَاَخَوَاتِهَا وَهِيَ صَارَ وَاَصْبَحَ وَاَمْسٰى وَاَضْحٰى وَظَلَّ وَبَاتَ وَرَاحَ وَاٰضَ وَعَادَ وَغَدَا وَمَازَالَ وَمَابَرِحَ وَمَافَتِئَ وَمَاانْفَكَّ وَمَادَامَ وَلَيْسَ فَهٰذِهِ الْاَفْعَالُ تَدْخُلُ اَيْضًا عَلَى الْمُبْتَدَأِ وَالْخَبَرِ فَتَرْفَعُ الْمُبْتَدَأَ وَيُسَمّٰى اِسْمَ كَانَ وَتَنْصِبُ الْخَبَرَ وَيُسَمّٰى خَبَرَ كَانَ فَاسْمُ كَانَ هُوَ الْمُسْنَدُ اِلَيْهِ بَعْدَ دُخُوْلِهَا نَحْوُ كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا وَيَجُوْزُ فِي الْكُلِّ تَقْدِيْمُ اَخْبَارِهَا عَلٰى اَسْمَائِهَا نَحْوُ كَانَ قَائِمًا زَيْدٌ وَعَلٰى نَفْسِ الْاَفْعَالِ اَيْضًا فِي التِّسْعَةِ الْاُوَلِ نَحْوُ قَائِمًا كَانَ زَيْدٌ وَلَا يَجُوْزُ ذٰلِكَ فِيْ مَا فِيْ اَوَّلِهِ مَا فَلَا يُقَالُ قَائِمًا مَازَالَ زَيْدٌ وَفِيْ لَيْسَ خِلَافٌ وَبَاقِي الْكَلَامِ فِيْ هٰذِهِ الْاَفْعَالِ يَجِيْءُ فِي الْقِسْمِ الثَّانِيْ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى

ترجمه: شپږم قسم د مرفوعاتو نه اسم د افعال ناقصه دي چه هغه صار اصبح امسٰی واضحی، ظل، بات وراح، اض، عاد، غدا، مازال مابرح مافتی، ما انفك، مادام لیس، پس دا افعال داخلیږي هم دغه شان په مبتدا او خبر باندي پس مبتداء ته به رفع ورکوی او دا مسمٰی کولی شی په اسم دکان سره او خبر ته به نصب ورکوي چې مسمّٰی دي خبر دکان سره پس اسم دکان به مسند الیه وي ورسته د داخلیدلو د افعال ناقصه نه لکه کان زید قائما. او جائزده په ټولو افعال ناقصه کي تقدیم د خبر په مبتدا باندي لکه کان قائمازید. او د خبر مقدم کول په نفس افعالو هم جائز دي په والی نهه (۹) کې لکه قائماکان زیدا و جائز نه ده مقدم کول د خبر په هغه افعالو چې په اول کي يې لفظ ما راغلی وي پس داسي نه ویلي کیږي قائما مازال زیدا و په لیس کي اختلاف دي او باقي تفصیل به د ددي افعالو په قسم ثاني (بحث د فعل) راشي ان شاء الله تعالی

تشریح: افعال ناقصه ټول اولس دي لیکن د کثرت استعمال دوجي نه په بعضو مواضعو کي دیارلس مذکور دي لکه په دي اشعارو کي ذکر شوي دي فقط دیارلس.

نوع عاشر سیزده فعلند کایشان ناقصند رافع اسمند وناصب درخبر جون ماولا
کان صار اصبح واضحی ظل بات مافتئ مادام ما انفك لیس باشد ازقفا
مابرح مازال افعالی کذینها مشتقند هرکجابینی همین حکم ست در جمله وا

فان قیل: مصنف علیه الرحمت اکتفی فقط په کان باندي اوکړه نو د دي دپاره څه وجه کیدي شي؟
قلنا: نسبت د اسم کان ته ښکه شوي دي چې کان کثیر الاستعمال نو ګویا د اصلیت او کثرت استعمال دوجي نه ذکر شو، دي افعالو ته افعال ناقصه ښکه وایي چې دا فقط په اسم نه تمامیږي

بلکه خبرهم غواړي نو ګویانقصان په کي شته .په بعد دخولهاسره تري تمام مسندات خارج شول او دخبر دکان بحث به په منصوباتو کي راځي انشاء الله

قواعد: تقديم دخبر دکان جائزدي په مبتدا باندي پدي شرط چي اعراب ددواړو لفظي وي يا داسي قرائن وغيره موجود وي چي په هغي سره تميز دمبتدا او خبر کيږي کچري اعراب ددواړو تقديري وي نو بيا تقديم دخبر ناجائزدي ځکه چي پدي صورت کي التباس لازميږي يعني دمبتدا او دخبر تميز نه کيږي لکه ماکان موسی عيسی کان فعل ناقص دي او بعد تري دوه اسمين واقع شوي دي په اعراب تقديري سره اوس دا نه معلوميږي چي مبتدا يعني اسم دکان کوم يودي او خبر دکان کوم يو دي پس پدي صورت کي چي کوم اسم مقدم وي هغه به مبتدا وي وعلی النفس الافعال دا عطف دي په علی اسمائها باندي يعني ځکه چي تقديم داخبار جائزدي په خپلو اسماء باندي دغه شان تقديم داخبار جائزدي په نفس افعالو باندي يعني اخبار دکان بذات نفس په افعالو هم مقدم کيدي شي لکه قائماً کان زيدٌ او دا تقديم فقط په هغه افعالو ناقصه باندي جائزدي چي حرف مابي په اول کي نه وي چي هغه يولس دي (او مصنف لفظ دتسعة ذکر کړي ده نو دا د کاتب نه غلطي ممکنه ده) پس دا يولس افعال بدوني ما په هرصورت کي عمل کولی شي که مقدم وی او که مؤخروی يا که مرتب وي او که غيرمرتب وي .او په افعال مع ماکي باندي تقديم داخبارو ځکه ناجائزدي چي صرف ما پري داخل دی او دا پنځه افعال دي پس په مادام کي مامصدريه دي او دا قانون دي چي مامصدريه حرف موصول دي او په موصولاتو باندي خپله صله نه شي مقدم کيدي او په بقيه څلورو افعالو کي ما نافيه دي او مانافيه تقاضا د صدارت دکلام کوي ځکه چي مادبو کارنه نفي راولي او دنفي خبرو رکول د اول نه پکاروي وفي ليس خلاف په ليس کي اختلاف دي جمهورنحويان وايي چي تقديم دخبر جائزدي په ليس باندي او کوفيين وايي چي جائزنه دي .پس فتوي دجمهورو په مذهب ده

اسم ما ولا المشبهتين

(۷) **فَصْلٌ**: اِسْمُ مَا وَلَا الْمُشَبَّهَتَيْنِ بِلَيْسَ وَهُوَ الْمُسْنَدُ اِلَيْهِ بَعْدَ دُخُوْلِهَا نَحْوُ مَا زَيْدٌ قَائِمًا وَلَا رَجُلٌ اَفْضَلَ مِنْكَ وَيَخْتَصُّ لَا بِالنَّكِرَةِ وَيَعُمُّ مَا بِالْمَعْرِفَةِ وَالنَّكِرَةِ.

ترجمه: هغه ما او لا چه مشابه وی د ليس سره د دی اسم به مسند اليه وی روسته د داخليدلو د دی دواړو نه (ما - لا) لکه (مَا زَيْدٌ قَائِمًا وَلَا رَجُلٌ اَفْضَلَ مِنْكَ) لا خاص ده نکروی سره او

Maktaba Tul Ishaat.com

ما په نکرې او معرفې دواړو کښې عام ده.

تشريح: اووم قسم دمرفوعاتونه اسم دماولادي هغه ماولاچې مشابه دي دليس سره اودادواړه حرفونه مشابه دي دليس سره په دوه ځيزونوکښې (۱) په نفي کښې چې ليس هم دنفي دپاره راځي اوماولاهم دنفي دپاره راځي (۲) په دخول کښې په مبتدااوخبرباندي يعني مدخول ددواړويوشان دي پس په دوه وجوهاتوسره ماولامشابه دي دليس سره. پس عمل بې دليس پشان اوګرزبديعني مبتداته رفع ورکوي اوخبرته نصب ورکوي پس مبتداته اسم دماولاوايي اوخبرته خبردماولاوايي نوپه دي فصل بحث دااسم دماولادي ځکه چې دابحث دمرفوعاتودي پس په عمل کولودماولاکښې اختلاف دي حجازيين وايي چې دادواړه عمل کولې شي بله فرقه وايي چې ماولاعمل نشي کولي. خلاصه يې داده چې د حجازيين مذهب راجح دي.

ويختص لابالنكرةالخ: فرق ثابت دي په ماولاکښې بعددعمل نه اوبغيره مدخول اوبغيردنفي نه.دافرق په مابين دماولاکښې ثابت دي اودافرق په دريووجوهاتوسره دي.

(۱) اول فرق دادي چې حرف لامختص دي په نکري پوري اوحرف ماعام دي په نکري اومعرفي دواړوپوري يعني په لاکښې خصوص دي اوپه ماکښې عموم دي

(۲) دويم فرق دادي چې لاراځي دپاره دنفي مطلق يعني په ټولوزمانوکښې نفي راولي لکه لارَجُلٌ افضل منك هيڅ يوسړې ستانه بهترنشته نودمتکلم مطلب داوي چې ستانه په يوه زمانه کښې هم څوك بهترنشته

(۳) دريم فرق دادي چې ماپه خبرد لاداخليدي شي ليکن لاپه خبردمانشي داخليدي پس په دي اعتبارسره مشابهت دمازيات دي په نسبت دلاسره. يعني دمامشابهت دليس سره تام دي ځکه چې ليس دزمانه حالي ته نفي راولي فقط اوماهم دزمانه حالي نه نفي راولي لکه ليس زيدقائماً .مازيدقائماًيعني زيدفي الحال ولاړنه دي .اوليس په نکره اومعرفه دواړوداخليږي نودغه شان ماهم په دواړوداخليږي.

فان قيل: لاولې دنکري سره مختص دي؟

قلنا: داځکه چې لادنکري سره زيات مناسبت لري پدي شان سره چې لادنفي مطلقي دپاره راځي يعني په معنى کښې بې ابهام وي اوپه نکره کښې هم ابهام دي.

فان قيل: دبعددخولهانه دامعلوميږي چې ماولابه دواړه په يووقت داخليږي؟

قلنا: دلته په عبارت کښې مضاف محذوف دي اوتقديريې دادي بعددخول احدها.

(خبر لالنفي الجنس) (مفعول مطلق)

(۸) فَصْلٌ: خَبَرُ لَا النَّفْيِ الْجِنْسِ وَهُوَ الْمُسْنَدُ بَعْدَ دُخُوْلِهَا نَحْوُ لَا رَجُلَ قَائِمًا.

ترجمه خبر د هغه لا چه کو جنس حکم نه یا صفت نه نفي لپاره راغلی وی خکه چه پدي مثال کښ لکه (لَارَجُلَ قَائِمٌ) کښ چه نفي راغلي ده هغه د جنس رجل نه راغلی ده نه نفس جنس رجل نه راغلی ده

تشريح اتم قسم د مرفوعاتو نه لالنفي الجنس دي خلاصه داده چي لا په دوه قسمه دي يولايې مذکوره او بله هغه لاچې نفي راولي دصفت دجنس نه لکه لازيد قائمٌ .يعني دزيدودريدل ثابت نه دي بلکه جنس يې ثابت دي پس داقسم لاهم عامل دي چي داخليږي په مبتداء اوخبرباندي نوپس اسم دلاء نفي جنس په اکثرومواضعوکي منصوب وي نوبحث به يې په منصوباتوکي راشي اوخبريې مرفوع دي نودلته ذکرشولکه لازيداًقائمٌ .پس دلادداخليدونه پس قائم مسند شوزيدته اوپه دي بناسره مرفوع شواولاسره دابتدائيت نه عامل شودپاره دخبر .نوعمل يې په کي هم درفعي اوکړو.

Maktaba Tul Ishaat.com

المقصد الثاني فى المنصوبات

اَلْاَسْمَاءُ الْمَنْصُوْبَةُ اِثْنَا عَشَرَ قِسْمًا اَلْمَفْعُوْلُ الْمُطْلَقُ وَبِهٖ وَفِيْهِ وَلَهٗ وَمَعَهٗ وَالْحَالُ وَالتَّمِيْزُ وَالْمُسْتَثْنٰى وَ اِسْمُ اِنَّ وَاَخَوَاتِهَا وَخَبَرُ كَانَ وَاَخَوَاتِهَا وَالْمَنْصُوْبُ بِلَا الَّتِىْ لِنَفْىِ الْجِنْسِ وَخَبَرُ مَا وَلَا الْمُشَبَّهَتَيْنِ بِلَيْسَ.

ترجمه: مقصد ثاني په مرفاعاتو کښ دی د اسما، منصوبه دولس اقسام دی (۱) المفعول المطلق (۲) به (۳) فیه (۴) وله (۵) معه (۶) حال (۷) تمیز (۸) مستثنی (۹) اسم د انّ اواخوات د دی (۱۰) خبر دکان او اخواتو د دی (۱۱) او هغه اسم چه کوم د لا، نفي جنس دوجه نه منصوب وی (۱۲) خبر دما ولا چه کوم مشابه وی د لیس سره

تشریح: تعریف دمنصوب دا دی اَلْمَنْصُوْبُ مُشْتَمِلٌ عَلٰى عَلَمِ الْمَفْعُوْلِيَّةِ

فان قیل بحث دمنصوباتو په بحث دمجروراتو ولې مقدم کړی شوی دی

قلنا بحث دمنصوباتو مقدم دي په دريو وجوهاتو سره اوله وجه منصوبات مشتمل دي په حركاتوخفيفه سره اوحركت خفيفه مقصود دي دويم وجه منصوبات تقريباً دولس دي اومجرورات فقط يو دي دريمه وجه دامعمولات دفعل دي اومجرورات معمولات دحروفو دي اوفعل اصل دي په نسبت سره حروفوته .مصنفؒ مخكښې اجمال ذكركوي اوبيا دهريو تفصيل ذكركوي. اولو پنځوته مفاعل خمسه وايي.

د مفعول مطلق تعريف

فَصْلٌ: اَلْمَفْعُوْلُ الْمُطْلَقُ وَهُوَ مَصْدَرٌ بِمَعْنٰى فِعْلٍ مَذْكُوْرٍ قَبْلَهٗ وَيُذْكَرُ لِلتَّاكِيْدِ كَضَرَبْتُ ضَرْبًا.

ترجمه مفعول مطلق دا هغه مصدر دی او د هغه فعل په معنی باندي وی چه کوم د نه مخکښې ذکر وی او دا د تاکید لپاره ذکر کیږی لکه ضَرَبْتُ ضَرْبًا

تشریح اول قسم دمنصوباتو نه مفعول مطلق دي او داځكه مقدم دي چې په تمامومفاعيلوكې مفعول مطلق اصل دي يعني حقيقتاً دا مفعول مطلق دي بله وجه دا ده چې دي مقيدنه دي په قيد د به . معه . له . فيه سره يعني دامفعول مقيدنه دي په قيودا تو سره اووجه تسميه يې هم دغه ده چې دي مقيدندي بلكه مطلق دي

تعريف دمفعول مطلق دا دي مفعول مطلق مصدر دي (برابره خبره ده كه دامصدر اصالةً

وي او که نیابتاً وي او بیا برابره خبره ده که دا مصدر حقیقتاً وي او که حکماً وي). چې په معنی دفعل وي (برابره خبره ده که دغه فعل صراحتاً وي او که شبه فعل وي) چې ذکروي مخکې دمفعول مطلق نه (برابره خبره ده که دغه ذکر دفعل حقیقتاً وي او که تقدیراً پس خلاصه دا شوه چې مفعول مطلق عبارت ده دمصدر نه او دا مصدر چې دده نه مخکې فعل ذکروي او په معنی کې دواړه یوشان وي . او خبري ته خیال کوه په هر فعل اصطلاحي کې وي نسبت الی الفاعل ، او اقتران بالزمان یعني فعل اصطلاحي مرکب وي نو مفعول مطلق جز دفعل اصطلاحي او ګرزیده او دیته جزدکلیت وایې یعني فعل کل او مرکب دي او مصدر، مفعول مطلق ، جزدي دکل مثلاً ضربت ضرباً پس ضرباً مفعول مطلق دي چې مصدر دي او قبله تري فعل دي . په تعریف دمفعول مطلق کې تعمیمات دفعیه دا عتراضاتو ده او هغه اعتراضات دا دي .

فان قيل تعریف دمفعول مطلق منقوض دي په خیرَ مقدمٍ باندې دا مفعول مطلق دي حالانکه دا مصدر نه دي بلکه صیغه دا سم تفضیل ده

قلنا ددي جواب مونږه په تعميم سره کړیدي دا اګرچې مصدر (مصدر اصلي ۱۳) نه دي البته لفظ دخیر نائب ګرزیدلی دي یعنې دا په اصل کې قدوما خیر مقدمٍ وو .قدوما مصدر دي او خیر ورله صفت ګرزیدلی دي نو مصدر بیا حذف شو او خیر يې نائب او ګرزید نو مونږ په تعمیم کې داویلي دي که مصدر اصالةً وي او که نیابتاً .

فان قيل : تعريف منقوض دي په دي آيت باندې اَهْلَكَهُ اللهُ وَيْحًا ، وَيْحاً مفعول مطلق واقع شوي دي حالانکه دا مصدر نه دي ځکه چې دمصدر نه مشتقات جوړیږي او دويحا نه لا تراوسه پوري څه نه دي جوړ شوي

قلنا دا اګرچې مصدر حقیقي نه دي لیکن مونږه جواب په تعمیم سره کړیدي که حقیقتاً وي او که حکماً وي نو دا مصدر حکمي دي یعني احکام پري دمصدر جاري کیږي نو ځکه دا مفعول مطلق واقع دي

فان قيل : دتعریف نه دا معلومیږي چې مفعول مطلق هغه مصدر دي چې مخکې تري فعل وي او په زيدٌ ضارب ضرباً او زيد مضروب ضرباً کې ضرباً مفعول مطلق دي او مخکې تري افعال نشته بلکې په دواړو ترکیبونو کې تري مخکې اسم فاعل او اسم مفعول دي

قلنا مراد دفعل نه عام دي که دغه فعل صراحتاً وي او که شبه فعل وي یعني هر مشتق فعل تري مراد دي . نو ضارب او مضروب شبه افعال دي . نو ځکه پري تعریف صادق دي .

فان قيل تعريف منقوض دي په دي آيت باندې فَضَرْبَ الرِّقَابِ مضاف مضاف اليه دي مضاف سره د مضاف اليه نه دا مفعول مطلق دی حالانکه مخکې تري فعل نشته

قلنا فعل مذكور قبله عام دي كه حقيقتاً وي او كه تقديراً وي پس تقدير ددي دا دي فَضَرْبُ ضربا الرقاب نو دا په تقدير د فعل مذكور قبله سره مفعول مطلق دي

وَيُذْكَرُ لِلتَّاكِيدِ كَضَرَبْتُ ضَرْبًا اَوْلِبَيَانِ النَّوْعِ نَحْوُ جَلَسْتُ جِلْسَةَ الْقَارِيْ اَوْلِبَيَانِ الْعَدَدِ كَجَلَسْتُ جَلْسَةً اَوْجَلْسَتَيْنِ اَوْجَلَسَاتٍ وَقَدْ يَكُوْنُ مِنْ غَيْرِلَفْظِ الْفِعْلِ الْمَذْكُوْرِ نَحْوُ قَعَدْتُ جُلُوْسًا وَاَنْبَتَ نَبَاتًا وَقَدْ يُحْذَفُ فِعْلُهٗ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ جَوَازًا كَقَوْلِكَ لِلْقَادِمِ خَيْرَمَقْدَمٍ اَيْ قَدِمْتَ قُدُوْمًا خَيْرَمَقْدَمٍ وَوُجُوْبًا سِمَاعًا نَحْوُ سَقْيًا وَشُكْرًا وَحَمْدًا وَرَعْيًا اَيْ سَقَاكَ اللّٰهُ سَقْيًا وَشَكَرْتُكَ شُكْرًا وَحَمِدْتُكَ حَمْدًا وَرَعَاكَ اللّٰهُ رَعْيًا.

ترجمه او مفعول مطلق د تاكيد لپاره ذكر كولى شي لكه ضَرَبْتُ ضَرْبًا يا نوع بيانولو لپاره راځي لكه جَلَسْتُ جِلْسَةَ الْقَارِيْ يا عدد بيانولو لپاره راځي لكه جَلَسْتُ جَلْسَةً اَوْجَلْسَتَيْنِ اَوْيا جَلَسَاتٍ او كله به مفعول مطلق د فعل مذكور لفظ نه علاوه بل لفظ سره راځي لكه قَعَدْتُ جُلُوْسًا وَاَنْبَتَ نَبَاتًا، او كله به فعل د قرينې موجود والي دوجه نه به حذف كيږي جوازاً لكه ستا دا قول راتلونكي كس ته قَدِمْتَ قُدُوْمًا خَيْرَمَقْدَمٍ د اد وجوباً مثال وو، د سماعاً مثال لكه سَقْيًا وَشُكْرًا وَحَمْدًا وَرَعْيًا اَيْ سَقَاكَ اللّٰهُ سَقْيًا وَشَكَرْتُكَ شُكْرًا وَحَمِدْتُكَ حَمْدًا وَرَعَاكَ اللّٰهُ رَعْيًا

تشريح: مصنفؒ د تعريف د مفعول مطلق نه بعد اقسام د مفعول مطلق بيانوي چې مشتمل دي په اقسامو ثلاثه باندي.

(۱) - هغه مفعول مطلق چې د تاكيد د معنى د پاره ذكر كيږي او دا هغه مفعول مطلق دي چې د فعل مذكور قبله سره يې معنى يو شان وي او څه زيادت به په كې نوي لكه ضربت ضرباً معنى د دواړو يو شان ده (۲) - دويم قسم هغه مفعول مطلق دي چې د بيان د يو نوعي يا د بيان د يو قسم يا د بيان د يو كيفيت د پاره راځي او دا هغه مفعول مطلق دي چې معنى او مفهوم دده زيات وي په نسبت سره فعل مذكور قبله ته لكه مثال جلست جِلسة القاري . جلست فعل فاعل او جلسته القاري ورله مفعول مطلق دي دا په داسي طريقې سره دي چې پدي كې بيان د يو نوعى دي يعني د يو قسم كيناستل نو معنى د مفعول مطلق زياته ده په نسبت سره جلست نه د قاري نه مراد متعلم دي په نزد د معلم باندي څكه چې طالب د استاذ په شان كيناستل كوي نو دا يو قسم دي

(۳) - دريم قسم هغه مفعول مطلق دي چې د بيان د عدد د معنى د پاره راځي يعني د يو كار كرته بيانيږي چې يا به يو كرته وي يا به دوه كرته وي يا به ډير كرته وي لكه امثله جلست

جلستاً ما کینا ستل او کړو به پیره، یعني یو کرت، جلست جلستین په دوه کرته او جلست جلسات په ډیر کرته نو پدې کې اعداد ذکر اتو ذکر دي.

وقد يكون من غير لفظ الفعل: ددې مطلب دادې چې مخکې داخبره ذکر شوې ده چې د مفعول مطلق او فعل مذکور قبله معنی به یو وي او لفظ د دواړو به هم یو شان وي نو دا قول راجح او اصل دي لیکن کله کله مفعول مطلق د فعل مذکور قبله نه مغائر وي یعني بدل وي نو دغه قسم ته مفعول مطلق من غیر لفظه وایي مغائرت د مفعول مطلق په دوه قسمه دي کله کله (دا قاموس د مفعول مطلق نه بعد مصنف د مفعول مطلق احکام بیانیږي) مغائرت في المادة وي یعني د حروف اصلیه په لحاظ سره به مغائر وي لکه قعدت جلوساً دا مغائرت في المادة دي او کله کله مغائر في الباب وي یعني بابونه د دواړو جدا جدا وي لکه أَنْبَتَ نباتاً. حروف اصلي د دواړو یو شان دي لیکن بابونه یې جدا جدا دي انبت باب افعال نه د فعل ماضي صیغه ده او دا باب د مزیدونه دي او نبات د باب نَصَرَ يَنْصُرُ نه دي چې مجرد دي

وقد يحذف فعله لقيام قرينة الخ: په بعضو مواضعو کې د مفعول مطلق نه فعل قبله حذف کیږي (**نوټ**) د فعل مذکور قبله نوم به عامل ناصب د مفعول مطلق شي، نو پس حذف د عامل ناصبه په دوه قسمه دي یو جوازي ده او بل وجوبي ده او حذف وجوبي بیا په دوه قسمه دي یو حذف وجوبي سماعي او بل حذف وجوبي قیاسي دي. د سماعي نه مراد دادي چې دغه حذف عامل ناصب د عرب نه اوریدلی شوي وي او د قیاسي نه مراد چې قاعدي مطابق حذف شوي وي. په کتاب کې فقط دوه قسمه حذف ذکر دي د پاره د رعایت د مبتدئینو. حذف جوازي په هغه صورت کې دي چې قرینه موجوده شي په حذف د فاعل باندي لکه مثال کقولك لکه چې ته او وي هغه چاته چې د سفر نه واپس راشي کورته چې خَيْرَ مَقْدَمٍ بخیر راغلی پس دا فقط مفعول مطلق دي او عامل ناصب تري حذف شوي دي جوازاً په وجود د قرائینو او علاماتو سره چې هغه قرائن راتلل د قادم دي یعني دا یه اصل کې قدمت قدوماً خیر مقدم وو. قدوماً موصوف خیر مقدم صفت د حذف وجوبي سماعي مثال لکه مذکور في الکتاب دي مثلاً رعیاً أي رعاك الله رعیاً. رعاك الله مضاف الیه ده چې عامل ناصب گرزیدلی دي او مفعول مطلق ته یې نصب ورکړی دی دا سماعاً حذف دي وجوباً د حذف وجوبي قیاسي د پاره

مفعول به

فَصْلٌ: اَلْمَفْعُوْلُ بِهٖ وَهُوَاسْمُ مَا وَقَعَ عَلَيْهِ فِعْلُ الْفَاعِلِ كَضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرواً.

ترجمه: مفعول به دا هغه اسم ده چه چا باندي د فاعل فعل واقع شی لکه ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا

تشریح: دویم قسم د منصوباتو نه مفعول به ده او تعریف د مفعول به دادي. دا نوم د هغه شي دي چي واقع شوي وي په دغه شي باندي فعل د فاعل. د وقع نه مراد تعلق د فعل دي يعني چي تعلق د فعل د فاعل د دغه شي سره وي برابره خبره ده که دغه تعلق د فعل بطريق الاثبات وي او که بطريق النفي وي لکه ضرب زيدٌ عمراً ضرب فعل مثبت دي زيد يي فاعل دي او عمرواً يي مفعول دے چي منصوب دے او ضَرَبَ ورله عامل ناصب دي دا مثال د اثبات دي او د النفي دپاره تري مخکي مانافيه راوره. وقع په معنی د تعلق سره دي يعني پدي سره مونږه دفعه د سوال اوکړه او هغه سوال دادي

فان قيل مفعول به نوم د هغه شي دي چي په هغه باندي فعل د فاعل واقع شوي وي پس دا تعریف منقوض دي په اِيَّاكَ نَعْبُدُ. نعبد فعل فاعل او اياك ورله مفعول به ده نو پس په الله پاك باندي عبادت نشي واقع کیدي يا شَكَرْتُ اللهَ نو شکر هم په الله پاك نشي واقع کیدی.

قلنا چي ذکر د وقع دي او مراد ترينه تعلق د فعل دي نو په الله پوري د عبادت او شکر تعلق راغلی دي.

وَقَدْ يَتَقَدَّمُ عَلَى الْفَاعِلِ كَضَرَبَ عَمْراً زَيْدٌ.

ترجمه: او کله به مفعول به په فاعل باندي مقدم وی لکه ضَرَبَ عَمْراً زَيْدٌ

تشریح مصنف چي کله د تعريف نه فارغ شه نو شروع یې په احکامو د مفعول به اوکړه.

قاعده. کله کله تقديم د مفعول به په فاعل باندي جائز وي پدي شرط سره چي قرينه (لفظيه او معنويه) موجوده وي په تقديم د مفعول به په فاعل باندي لکه ضرب عمراً زيدٌ نه وي نو بيا قاعده ده چي کوم مقدم وي هغه به فاعل وي او مؤخر به مفعول به وي.

مختلف مقامات د حذف د عامل ناصبه د مفعول به نه

وَقَدْ يُحْذَفُ فِعْلُهُ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ جَوَازاً نَحْوُ زَيْداً فِي جَوَابِ مَنْ قَالَ مَنْ اَضْرِبُ وَوُجُوْباً فِي اَرْبَعَةِ مَوَاضِعَ اَلْاَوَّلُ سِمَاعِيٌّ نَحْوُ امْرَأً وَنَفْسَهُ وَانْتَهُوْا خَيْراً لَكُمْ وَاَهْلاً وَسَهْلاً.

ترجمه: او کله به فعل حذف کیږی د قرینی موجود والی د وجه نه جوازاً لکه زيداً د هغه

سړی په جواب کښې اووائي چه پو ښتنه وکړی چه مَنْ أَضْرِبُ (څوك اووهم) او وجوباً به حذف کیږی څلور ځایونو باندي پدي کښې اول سماعی دي لکه اِمْرَأً وَنَفْسَه وَانْتَهُوا خَيْرًا لَكُمْ وَاَهْلاً وَسَهْلاً

تشریح او کله کله فعل (عامل ناصبه) حذف کولی شي دمفعول به نه په هغه وخت کې چې کله قرائن موجودوي اوداحذف په دوه قسمه دي (۱) یو حذف جوازي اوبل (۲) حذف وجوبي دي حذف وجوبي بیاپه دوه قسمه دي یو سماعي اوبل قیاسي دي پس حذف جوازي په هغه صورت کې چې کله قرینه حالیه (حالیه دیته وایې چې دحالت اوکیفیت نه دامعلومیږی چې داشی مفعول به ده ۱۲) (۲) مقالیه دیته وایې چې دقول نه معلومیږی یاد الفاظو نه معلومیږی ۱۲) یامقالیه موجوده شي لکه مثال دقرینې حالیې دپاره دادي چې یو سړی دحج دپاره احرام اختیار کړی اوروانیږي پس څوك ورته داأووایې چې مَكَّةَ اَیْ تُرِیْدُ مَكَّةَ یَاتَذْهَبُ مَكَّةَ پس عامل ناصب تري حذف شوي دي جوازاً په وجود قرینې حالی چې تلل دي مکې ته دقرینې مقالیې دپاره مثال لکه څوك داالفاظ تکلم کړي چې مَنْ أَضْرِبُ یعني زه څوك اووهم اوته ورته په جواب کې فقط زیداً ذکر کړی یعني اِیْ اِضْرِبْ زَیْدًا پس پدي کې قرینه مقالیه ده چې قول دمخاطب دي چې وهل به چاباندي واقع کړي نو فقط زیداً منصوب مفعول به ذکر کړی شي دحذف وجوبي دپاره څلور مواضع دي مذکور فی الکتاب یو په کې حذف وجوبی سماعی دي اودري مواضع په کې دقیاسي دپاره دي دسماعي دپاره مثال لکه اِمْرَأً وَنَفْسَه واو په معنی دمع سره دي اواصل یې دادي اُتْرُكْ اِمْرَأً وَنَفْسَه پس عامل ناصب تري حذف ده وجوباً په طریقې دسماع سره دعربو نه بل مثال لکه وَانْتَهُوا خَيْرًا لَكُمْ تقدیر یې دادي وَانْتَهُوا عَنِ التَّثْلِيثِ وَاقْصُدُوا خَيْرًا لَكُمْ داهم حذف دسماع سره تعلق لري اودغه شان اَهْلاً وَسَهْلاً اَیْ اَتَیْتَ اَهْلاً وَ وَطِئْتَ سَهْلاً پس ددواړو نه عاملین ناصبین حذف شوي دي په حذف وجوبی قیاسی سره.

وَالْبَوَاقِي قِيَاسِيَّةٌ اَلثَّانِي اَلتَّحْذِيْرُ وَهُوَ مَعْمُوْلٌ بِتَقْدِيْرِ اِتَّقِ تَحْذِيْرًا مِمَّا بَعْدَهُ نَحْوُ اِيَّاكَ وَالْاَسَدَ اَصْلُهُ اِتَّقِكَ وَالْاَسَدَ اَوْذُكِرَ الْمُحَذَّرُ مِنْهُ مُكَرَّرًا نَحْوُ الطَّرِيْقَ اَلطَّرِيْقَ:

ترجمه: او باقی قیاسی دی دویم تحذیر ده او دا معمول دي چه اِتَّقِ تَحْذِيْرًا سره به ډاره ولي کیږی به ډاره ول د سړي د خپل مابعد نه لکه اِيَّاكَ وَالْاَسَدَ چه په اصل کښې اِتَّقِكَ وَالْاَسَدَ (ځان پیچ کړه د زمری نه او زمری د ځان نه بچ کړه) یا محذر منه تکراراً ذکر شي لکه (اَلطَّرِيْقَ اَلطَّرِيْقَ).

تشریح: دویم هغه ځای دي چې په هغې کې دمفعول به نه عامل ناصبه حذف کیږي په حذف وجوبی قیاسی سره نو هغه موضع التحذیر دي دتحذیر دوه معنی دي یوه معنی لغوي اوبله

معنی اصطلاحي ده پس تحذیر مصدر دباب تفعیل دي حَذَّرَ يُحَذِّرُ تَحْذِيْراً په معنی داریدل

په اصطلاح (عام اصطلاح کښ داتعریف البته علم النحو کښ دا تعریف اصطلاحي ذکرده) کې تخويف الشئ عن الشئ اوتبعيدهُ عَنْهُ مثلاً زيد ديوال ته ولاړ دي اوته ورته اووايې چې لرې شه ديوال راغورزيږي تخويف اوتبعيد ديته وايي په اصطلاح دنحو کې داهغه معمول دي داتّق يادمثل داتّقِ مقدر دپاره دېرولو دمخاطب دمابعد لفظ نه پس دامعمول په اصل کې مفعول به وي اواتق یامثل داتق ورله عامل ناصبه وي ليکن دامقام دېرې مقام وي نوپدي مقام کې لفظ مختصرذکرکول پکاروي نوځکه تري عامل ناصبه حذف شي دپاره داختصار دکلام . اوفقط محذرمنه اومفعول به باقي پاتي شي اونور ترکيبات به تري هم حذف کيږي دپاره داختصار ليکن زمونږ بحث فقط په عامل ناصبه کې شروع دي نوځکه اتق لفظ ته مونږه ترجيح ورکړه . که څوک داپوښتنه اوکړي چې داحذف څنګه قیاسي دي نومونږ به ورته داُوايو چې دايوه قاعده شوه چې کوم مقام دتحذير اودتخويف وي هلته به حذف واجب وي پس دايو قسم قياس شو دپاره دحذف وجوبي . مثال . اِيَّاكَ وَالْاَسَدَ اياك منصوب تقديراً مفعول به ده . والاسدَ محذرمنه ده پس ددي عامل ناصب چې اتقِ دي حذف شويدي دپاره داختصار داپه اصل کې اِتَّقِ نَفْسَكَ مِنَ الْاَسَدِ مِنْ نَفْسِكَ اتق (فعل فاعل) عامل ناصب دي اونفسكَ مفعول به ده (نفسك مضاف مضاف اليه دي اوداقانون دي چې اعراب په مضاف جاري کيږي اومضاف نَفْسَ دي چې منصوب دي) اسد محذرمنه دي اوولاسدَ عطف دي په اوله جمله باندي په اوله جمله کې من الاسد جارمجرور دي اوپه دويمه جمله کې من نفسك هم جارمجرور دي نوپس من نفسك حذف شو دپاره داختصار اوپس يو اسد هم حذف شونو اتق نفسكَ والاسدَ پاتي شو اواتق نفسك په اصل کې اتقكَ وو اوس خيال کوه په اتقك کې ضمير دفاعل هم مخاطب ته راجع دي اوضمير دانت هم مخاطب ته راجع دي اوداقانون دي چې کله دوه ضميرين متصل راجع شي نوپدي کې انفصال پکاروي پس لفظ دنفس يې په مابين کې دپاره دانفصال راغی نواتق نفسكَ تري جوړ شو ددي نه بعد لفظ داتق حذف شو دپاره داختصار نوفقط نفسك والاسد پاتي شو اونفس ته حاجت نشته نوفقط كَ والاسدَ پاتي شو اوکه ضمير متصل وو په نفس پوري اونفس تري حذف شونو اوس دكَ په ځای ضمير منفصل پکار دي چې اياكَ دپاره دواحد مذکرمخاطب استعماليږي نواياك والاسدَ پاتي شو .

اوذكر المحذرمنه مكرراً نحو الطريق الطريق: اوپه بعض مقاماتو کې محذرمنه مکرر هم ذکرکولی شي لکه مثال په طوريو طالب دريل ګاډي په پټړئ ناست وي اوته ورته داالفاظ استعمال کې

چې القطارَ القطارَ یعنی ریل دي ریل دي پس ددي عامل ناصب حذف شوي دي په حذف وجوبي قیاسي سره چې هغه لفظ داتق یا مثل داتق دي یعني دا په اصل کې بَعْدَ الْبِئْرِ جَاءَ القطار لیکن دا مقام دتحذیر دي نو ځکه القطار القطار کافي دي او دغه شان الطریق الطریق ددي نه هم عامل ناصبه حذف شوېدي.

على شريطة التفسير

اَلثَّالِثُ مَا أُضْمِرَ عَامِلُه عَلٰى شَرِيْطَةِ التَّفْسِيْرِ وَهُوَ كُلُّ اِسْمٍ بَعْدَهٗ فِعْلٌ اَوْ شِبْهُهٗ يَشْتَغِلُ ذٰلِكَ الْفِعْلُ عَنْ ذٰلِكَ الْاِسْمِ بِضَمِيْرِهٖ وَمُتَعَلِّقِهٖ بِحَيْثُ لَوْ سُلِّطَ عَلَيْهِ هُوَ اَوْ مُنَاسِبُهٗ لَنَصَبَهٗ نَحْوُ زَيْدًا ضَرَبْتُهٗ فَاِنَّ زَيْدًا مَنْصُوْبٌ بِفِعْلٍ مَحْذُوْفٍ مُضْمَرٍ وَهُوَ ضَرَبْتُ يُفَسِّرُهُ الْفِعْلُ الْمَذْكُوْرُ بَعْدَهٗ وَهُوَ ضَرَبْتُهٗ وَلِهٰذَا الْبَابِ فُرُوْعٌ كَثِيْرَةٌ:

ترجمه: دریم قسم (مَا أُضْمِرَ عَامِلُه) دي پدي شرط سره چه د دي به تې تفسیر کړي وي (مَا أُضْمِرَ عَامِلُهٗ) د هغه اسم دي چه دي نه بعد به فعل یا شبه فعل راغلی وی او دی فعل به د دی اسم نه اعراض کړي وی ضمیر یا متعلق کښې به مشغول وی پداسې طریقې سره چه دا فعل یا مناسب یدي مسلط کړي شي نوي دیته نصب ورکړی لکه زَيْدًا ضَرَبْتُهٗ په تحقیق سره زید منصوب دی داسی فعل د وجه نه چه کوم محذوف او مقدر دي چه هغه ضَرَبْتُ دي ددی فعل تفسیر کوی هغه فعل چه کوم مذکور دی دوی نه بعد، او هغه ضَرَبْتُهٗ دي او دي باب لپاره ډیر مسائل دی.

تشریح: دریم قسم موضع دهغه مواضعونه چې حذف کیږي په هغې کې عامل ناصب دمفعول به نه په حذف وجوبي قیاسي سره هغه داده ما اضمر عامله علی شریطة التفسیر ما په معنی دمفعول به سره دي یعني هغه ځائ دمفعول به چې مقدر کړي شوي وي عامل ناصبه ددغه مفعول به نه په شرط دتفسیر ددغه عامل ناصبه سره په مابعد کې پس دا یوه وجه او علت دي دپاره دحذف دعامل ناصب په ما اضمر عامله کې عامل ناصبه ځکه مقدروي چې مابعد کښې یې تفسیر موجود دي یعني عامل ناصبه محذوفه مُفسَّروي او مابعد ورله مفسِّروي پس کچرته مقدرنه کړی شي عامل ناصبه نو بیا به په مابین دمفسَّر او دمفسِّر کې اجتماع لازمه شي او دا شنیعه ده په کلام عرب کې یعني بد ګڼلی شي په عربو کې پس ددا سی مقام تعریف دادي چې مذکور في الکتاب دي یعني داهر هغه نوم دمفعول به دي چې دده نه بعد فعل وي یا شبه فعل وي او دغه فعل یا شبه فعل نه فارغ وی دعمل دمفعول به نه او مشغول به وي په عمل دمتعلق دمفعول به باندي یا په ضمیر دمابعد باندي پدي شان سره

کچري دغه فعل یاشبه فعل مُسلط (داخل) کړی شي په دغه مفعول باندي نونصب به ورته ورکي ځکه چي فعل مفعول به ته نصب ورکوي دغه فعل یاشبه فعل به دعمل دمفعول به نه فارغ ځکه وي چي په فعل کي به ضمیروي یابه متعلق دمفعول وي اوددوی تعلق به دعامل ناصبه مقدر سره وي پس داهغه مقام شوچي عامل ناصبه یه کي حذف کیږي په حذف وجوبی قیاسی سره ځکه چي مابعدتري مفسّرواقع شوي دي قیوذات دتعریف (وهو کل اسم. داسم نه مرادمفعول به ده البته تعبیریي په اسم سره ځکه کړی دي چي شامل اومتناول شي مفعولٌ به اومفعول فیه دواړوته متعلقه ددي نه مرادد مفعول متعلق دي لکه مثلاً دآقادپاره متعلق غلام دي یادوالددپاره متعلق ولددي وغیره. **هواومناسبه**. دغه فعل یامناسب ددغه فعل برابره خبره ده که مناسب بالترادف وي اوکه مناسب الزوم وي پس مناسبت ترادف دیته وایي چي ددغه فعل اودمناسب فعل معنی یوه وي. اومناسب بالزوم دیته وایي چي ددغه فعل سره مناسب فعل لازم وي لکه مثال په طوردضرب سره اهانت اوتوهین مناسب بالزوم دي لنصبه. نصب به ورکوي مفعول به ته یعني داخبره به واضحه شي چي آیاداعامل ناصب محذوف دي اوکه نه ددي مقام دپاره مصنف فقط یو مثال ذکرکړی دي چي مختص دي په فعل پوري لکه زیداً ضربتُه دي یعني هغه مفعول به ده چي عامل ناصب تري حذف شي وجوباًقیاساً اودلیل پري دادي چي ضربت باندي مسلط شي نونصب به ورکوي مفعول به ته چي زیداً دي پس ضربت اوس دعمل دزیدنه فارغ دي اوکه مسلط شي په زیدباندي بغیردضمیرنه اوبغیردمتعلق دمفعول به نه نونصب به ورکوي لکه ضربت زیداً پس معلومه شوه چي داپه اصل کي ضربت زیداً ضربته وو پس عامل ناصبه تري حذف شوځکه چي اجتماع راغله دمفسّراودمفسَّراوداشنیعه ده په کلام عرب کي نوزیداً ضربته پاتي شو ددي مقام دپاره ډیرفروع دي لیکن طول دي په هغی کي نوپه طریقی دطوالت سره ماترک کړه پس نورمثالونه دادي مثال اول زیداً ضربت غلامه. زید مفعول به ده اوعامل تري حذف شوي دي چي اهنتُ فعل لازم دي دضربتُ سره ضربت فعل دي اوغلامه متعلق دمفعول به دي دامثال دمفعول به دّ متعلق ده اودفعل لازم دپاره هم دي چي اهنت دي یعني داپه اصل کي اهنت زیداً ضربت غلامه وو پس عامل ناصبه تري حذف شو دوجي دتفسیر دمابعدنه دویم مثال چي فعل مناسب بالترادف پري مسلط کړي شي لکه زیداً مررت به مررت فعل دي چي مشغول دي په به کي پس مرورتیریدلوته وائي اوددي سره مناسب بالترادف لفظ دجاوزت دي اصل عبارت دادي

جاوزت زيداً امررت به پس فعل مناسب بالترادف تري حذف شو دوجي دتفسير دمابعدنه چي مررتُ دي پس دامثالونه دفعل دپاره ذكرشوچي مابعد د اسم (مفعول به) نه واقع دي (يعني ضربت ومررت)، دامثال شبه فعل دپاره دي زيداً اناضاربه. پدي كي ضاربه شبه فعل دي چي فارغ دعمل د اسم نه او مشغول دي په ضميرباندي پس دغه فرد شبه فعل پري مسلط كړى شي نونصب به وركوي لكه اناضاربه زيداً اناضاربه پس شبه فعل تري حذف شو على شرط التفسير دامثال ددي دپاره چي دغه شبه فعل عمل په متعلّق دمفعول به كوي لكه زيدا انت غلامه ضارب پس ضارب عمل په غلامه كي كړيدي چي دغه غلامه متعلّق د اسم دي يعني دزيد متعلّق دي پس چي خود ضارب (شبه فعل) پري مسلط كړى شي نونصب به وركوي زيداً ته چي اصل يي دادي ضارب زيدا انت غلامه ضارب پس شبه فعل حُذف على شرط التفسير.

بحث دمناديٰ

اَلرَّابِعُ اَلْمُنَادٰى وَهُوَاسْمٌ مَدْعُوٌّ بِحَرْفِ النِّدَاءِ لَفْظًا نَحْوُيَاعَبْدَ اللهِ اَىْ اَدْعُوْعَبْدَ اللّٰهِ وَحَرْفُ النِّدَاءِ قَائِمٌ مَقَامَ اَدْعُوْحُرُوْفُ النِّدَاءِ خَمْسٌ يَاوَاَيَاوَهَيَاوَاَىْ وَالْهَمْزَةُ الْمَفْتُوْحَةُ:

ترجمه: څلورم قسم منادى ده او منادى هغه اسم ده چه حرف نداء سره راوبللى شى لفظاً لكه يا عبد الله يعنى اَدْعُوْعَبْدَ اللّٰهِ او حروف نداء د اَدْعُوْ قائم مقام دي حروف نداء پنځه دى يَاوَاَيَاوَهَيَاوَاَىْ وَالْهَمْزَةُ الْمَفْتُوحَه

تشريح: الرابع صفت دي دموصوف مقدردپاره .تقديردعبارت دادي الموضع الرابع پس څلورمه موضع دحذف دعامل ناصبه منادىٰ ده .دامنادي په حقيقت مفعول به ده اوتعريف دمنادىٰ مصنف كړيدي چي يواسم په حروف نداء سره مدعو (رابلونكي) كړى شي اوحروف نداء پنځه دي چي ذكردي في العبارت پس ددغو حروفونه چي هريو په كوم اسم داخل شي هغه اسم ته منادىٰ وايي اوپه بعضو كتابونوكي دمنادىٰ تعريف داسي دي هومطلوبٌ اقبالهُ يعني ددي مطلب هم دغه دي چي يواسم مدعوكړى شي پس ددغه مدعوشوي اسم نه به عامل ناصبه حذف كيږي په حذف وجوبى قياسى سره په لفظا كي دوه احتماله دي يو داچي تميزواقع شي دحرف نداء دپاره نومعنى به يي داشي چي حرف نداء لفظاً وي اوكه تقديراً دلفظاً نداء .دپاره مثال لكه ياعبد الله اودحرف ندا تقديري دپاره مثال لكه يوسف اعرض عن هذا چي په اصل كي يايوسف الخ ووپس حرف ندا حذف شوه براۓ علت. بل احتمال دادي چي لفظاً متعلق دمدعوسره شي نومعنى به يي داشي چي برابره خبره ده كه منادىٰ لفظاً وي اوكه تقديراً وي دلفظاً دپاره مثال لكه يازيدِ د تقديراً دپاره

مثال لکه اَلَایَسْجُدُوا .په اصل کې یاقوم السجدوا و خلاصه دا شوه چې یاعبد الله په اصل ادعو عبد الله وو بیا ادعو (فعل فاعل) حذف شو د پاره د اختصار دا ځکه چې دا مقام د مخاطب د متوجه کولو د پاره دي نو ځکه دوئ تعبیر په حرف ندا سره او کړو او عبد الله مفعول به دي چې عامل ناصب تري حذف شوي وجوباً قیاساً .منادي د جنس په لحاظ سره په دوه قسمه ده یوه منادي حقیقي ده بله منادي حکمی ده. تعریفونه یې دا دي

منادي حقیقتاً: منادي حقیقي دېته وایې چې صلاحیت د نداء په کې موجود وي یعني مثلاً ذوي العقول وغیره یا بعضې حیوانات هم په کې شامل دي چې مدعو کیږي.

منادي حکماً: دېته وایې چې صلاحیت د ندا په کې موجود نوي لکه په قرآن پاک کې اسماء وغیره راغلي دي. پس دا قسمه منادي حکمی ده ځکه چې حکم پرې د ندا لګیدلی دي.

وَقَدْ يُحْذَفُ حَرْفُ النِّدَاءِ لَفْظًا نَحْوُ يُوسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا.

ترجمه: او کله به حرف نداء حزف کیږي لکه یوسف اعرض هذا.

تشریح: حذف حرف نداء په دوه قسمه ده یو حذف بغیر العوض ده او بل حذف مع العوض ده. د اول د پاره مثال لکه یوسف اعرض عن هذا .حرف ندا تري حذف شوي دي او هیڅ عوض یې نشته .د دویم د پاره مثال لکه اَللّٰهُمَّ دا په اصل کې یاالله وو پس یا تري حذف شوي ده او په عوض کې میم مشدد په آخر کې راغلی دي نو اَللّٰهُمَّ تري جوړ شو دېته حذف مع العوض وایې.

اقسام د منادی

وَاعْلَمْ اَنَّ الْمُنَادٰى عَلٰى اَقْسَامٍ فَاِنْ كَانَ مُفْرَدًا مَعْرِفَةً يُبْنٰى عَلٰى عَلَامَةِ الرَّفْعِ كَالضَّمَّةِ وَنَحْوِهَا نَحْوُ يَا زَيْدُ وَيَا رَجُلُ وَيَا زَيْدَانِ وَيَا زَيْدُوْنَ وَيُخْفَضُ بِلَامِ الْاِسْتِغَاثَةِ نَحْوُ يَا لَزَيْدٍ وَيُفْتَحُ بِاِلْحَاقِ اَلِفِهَا نَحْوُ يَا زَيْدَاهُ وَيُنْصَبُ اِنْ كَانَ مُضَافًا نَحْوُ يَا عَبْدَ اللّٰهِ اَوْ مُشَابِهًا لِلْمُضَافِ نَحْوُ يَا طَالِعًا جَبَلًا اَوْ نَكِرَةً غَيْرَ مُعَيَّنَةٍ كَقَوْلِ الْاَعْمٰى يَا رَجُلًا خُذْ بِيَدِيْ وَ اِنْ كَانَ مُعَرَّفًا بِاللَّامِ قِيْلَ يَا اَيُّهَا الرَّجُلُ وَيَا اَيَّتُهَا الْمَرْاَةُ:

ترجمه: پوئي شه چه منادی په څو قسمه ده کچرته منادی مفرد معرفه وی نو مبنی کولي به شی په هغه حرکت او حرف باندي چه هغه علامه د رفع وی په وخت د اعراب کښ لکه ضمه او په مثل د دی ضمې چه هغه الف واو و یاء دي مثال د ضمې لکه یَازَیْدُ وَیَارَجُلُ مثال د الف لکه وَیَا

زَیْدَانِ مثال د واو لکه وَیَازَیْدُوْنَ او مبنی کولی به شی په لام د استغاثی سره لکه یَالَزَیْدٍ دا منادی به مبنی کولی شی په وخت د الحاق د الف استغاثی سره لکه (یَازَیْدَاهُ) او دا منادی به منصوب کولی شی چکله مضاف وی لکه (عَبْدَاللهِ) او یا مشابه وی د مضاف سره لکه یَاطَالِعًا جَبَلًا او یا نکره غیر معینه وی لکه قول داعمی چه هغه اووائی یَارَجُلًا خُذْ بِیَدِیْ چکله منادی معرف باللام وی نو بیا به د حرف نداء او منادی په مینځ کښ فاصل راوړی لکه یَاأَیُّهَا الرَّجُلُ وَیَاأَیَّتُهَا الْمَرْأَةُ

تشریح ددي علم خلاصه داده چي منادي' په څو قسمه ده یو قسم داچي کله کله منادی' مفرده معرفه وي برابره خبره ده که قبل النداء معرفه وي او که بعد النداء معرفه وي او نه به وي دامضاف یامشابه د مضاف سره بلکه وي به تثنیه او جمع او حکم یې دادي چي دا قسم منادی به مبني وي په علامي درفعي سره یا په مثل درفعي سره مثلاً درفعي مثال لکه یازید' یارجل' د مثل درفعي مثال لکه یازیدونَ ویازیدانِ وغیره. دویم قسم منادی مستغاثه ده د مستغاثي معنی داده چي چاته د طلب د مدد د پاره اواز اوکړي شي او دا په دوه قسمه ده یو ه منادی' لام الاستغاثه ده او بله الف الاستغاثه ده فرق په دواړوکي دادي چي لام د استغاثی په اول کي راځي لکه یالزید او الف به د استغاثی په آخرکي وي او بعد به تري ه، وي حکم یې دادي چي لام الاستغاثه به مبنی په کسري سره وي خکه چي لام یې داخل دي او دغه لام په حقیقت لام جاره دي او الف الاستغاثه به مبنی وي په فتحي سره لکه یازیداه او داخکه په فتحي سره دي چي الف په کي واقع دي داستغاثی او الف تقاضا د فتحي کوي نو خکه په فتحي سره دي یادا او وایه چي دامبتداء الصوت د پاره په فتحي سره دي.

فان قیل منادی مفرده معرفه مبنی په ضمي سره ولي ده؟

قلنا داخکه مبني ده چي دامشابه ده د مبني الاصل سره په دي شان چي دامنادی' واقع ده په مقام د کاف خطابي ضمیري باندي لکه مثلاً ادعوك ای یازید بس داکاف مشابه دي د کاف صرفي سره چي مبني الاصل دي.

فان قیل اصل په بناکي سکون دي پکار ده چي منادی مفرده معرفه هم ساکن کړي شي؟

قلنا بناء اصلي په سکون سره دي او بناء عارضي په حرکت سره وي بناء اصلي فقط ددی (جمله حروف امر حاضر معروف ماضی) پس دادبناء عارضي دوجی نه مبنی په ضمي سره شو

فان قیل مبنی په فتحي یا کسری سره ولي نه کیږي؟

قلنا مبنی په فتحی سره خکه نشي کیدي چي التباس لازم نه شي د عمل دلازیداً سره او په کسري سره خکه نشي کیدي چي بیا به التباس راشي د منادی' یاء ضمیری د متکلم مضاف الیه سره

Maktaba Tul Ishaat.com

يعني چې کله تري حذف شي نوپه کسري سره پاتي شي.

فان قيل: په يالزيدا کې لام جاره داخل دي پکار ده چې منادى لام المستغاثه هم مجرور کړي شي؟

قلنا: مجرور ځکه نشي کيدي چې فرق راشي په مابين دمستغاث او مستغاث له کې لکه يالزيد اللقوم. دلته قوم مستغاث له دي مجرور دي او که لزيد هم مجرور شي نو بيا به التباس لازم شي مستغاث ديته وايي چې چاله مدد اوکړي شي پس معنى دا شوه چې اى زيده مدد دقوم اوکړه. او مستغاث ديته وايي چې دچا نه طلب دمدد اوکړي شي نو دلته زيد مستغاث دي.

وينصب ان كان مضافا نحو يا عبد الله: خلاصه ،خلاصه داده چې دوه قسمه دَ منادي مبنى دي يوه منادي مفرده معرفه او بله منادي استغاثه او بقيه کله په ضمى سره کله په فتحى سره کله په کسرى سره ۱۲، داده چې دمنادى دري اقسام به منصوب وي يوه هغه منادى چې اضافت يې شوي وي لکه يا عبد الله دويم قسم دا چې مشابه وي دمضاف سره لکه ياطالعاً جبلاً اى ختونکيه غر ته پس طالعاً مشابه دمضاف سره دي دريم قسم دا چې منادى نکره غير معينه وي لکه کقول الاعمى يارجلا خذ بيدي. چې شمکور سړى دا او وايي چې اى سړيه څملاس اونيسه پس دا نکره غير معينه منادى ده.

وان كان معرفا باللام قيل يا ايها الرجل ويا ايتها المرءة: دا قاعده ده چې کله منادي معرف باللام وي نو دحرف ندا او منادى په مابين کې فاصله ضروري وي سره دلحاظ ساتلو دمذکر او مؤنث نه چې ايها او ايتها دي او دا فاصله ځکه ضروري ده چې فرق راشي په مابين دندا تعريفى او الف لام تعريفى کې.

وَيَجُوْزُ تَرْخِيْمُ الْمُنَادٰى وَهُوَ حَذْفٌ فِيْ اٰخِرِهٖ لِلتَّخْفِيْفِ كَمَا تَقُوْلُ فِيْ مَالِكٍ يَا مَالُ وَفِيْ مَنْصُوْرٍ يَا مَنْصُ وَفِيْ عُثْمَانَ يَا عُثْمُ وَيَجُوْزُ فِيْ اٰخِرِ الْمُنَادٰى الْمُرَخَّمِ الضَّمُّ وَالْحَرَكَةُ الْاَصْلِيَّةُ كَمَا تَقُوْلُ فِيْ يَا حَارِثُ يَا حَارُ وَيَا حَارِ

ترجمه: او جائز ده ترخيم په منادى کښې (تعريف د ترخيم) او هغه حذف کول د آخرى حرف دى لکه ته اووائې چه يا مالك يا مال او منصور کښې يامنص او په عثمان کښې يا عثم، او منادى مرخم په آخر کښې ضمه او حرکت اصليه دواړه جائز دى لکه ته اووائې يا حارث کښې يا حار او يا حار.

تشريح: ترخيم په لغت کې (دباب تفعيل صيغه رَخَمَ يُرَخِّمُ ترخيم) په معنى نرم کيدل، آسان کيدل پس درحم او رخم يو معنى ده نرم والى په اصطلاح کې دا حذف دهغه حروفو دي چې آخر دمنادى کې واقع وي دپاره دتخفيف بغير دقاعدي نه حذف کيږي پس ترخيم هم

دمنادیٰ دلوازماتونه دي او دا په نظم او نثر کې هم جائز دي لپاره د تخفیف پس که منادیٰ مرکب وي نو دویم جزء به تري تام حذف کیږي لکه مثلاً یابعلبك ای یابعل فقط یابعل پاتي شو برائ تخفیف کچري منادیٰ مفرده وي او په آخر کې یې دوه حرفه زائدوي نو دا دواړه به حذف کیږي ځکه چې دواړه په حکم دیو سبب کې دي لکه یاعثمان پدي کې الف او نون زائدتین دي چې سبب واحد دي دغیر منصرف دپاره . پس دا به دواړه حذف کیږي برائ تخفیف یاعثم ویلی کیږي کچري منادیٰ مفرده وي او په آخر کې یې حرف صحیح وي او ماقبل تر حرف مده زائده وي پس دغه دواړه به حذف کیږي لکه منصور ای یامنص او کچري داسی نه وي نو بیا به تري فقط آخري حرف حذف کیږي لکه یاحارث ای یاحارُ.

قاعده ویجوز الخ : او جائز دي حرکت مختلف په آخر د منادي مرخمی باندي لکه یاحارُ یا یاحارِ هم جائز ده

وَاعْلَمْ اَنَّ یَا مِنْ حُرُوْفِ النِّدَاءِ قَدْ تُسْتَعْمَلُ فِی الْمَنْدُوْبِ اَیْضًا وَهُوَ الْمُتَفَجَّعُ عَلَیْهِ بِیَا اَوْ کَمَا یُقَالُ یَا زَیْدَاهُ وَوَا زَیْدَاهُ فَوَا مُخْتَصَّةٌ بِالْمَنْدُوْبِ وَیَا مُشْتَرَکَةٌ بَیْنَ النِّدَاءِ وَالْمَنْدُوْبِ وَحُکْمُهُ فِی الْاَعْرَابِ وَالْبِنَاءِ مِثْلُ حُکْمِ الْمُنَادٰی:

ترجمه: پوئي شه چه حروف نداء نه یاء کله په مندوب کښ هم استعمالیږی او مندوب هغی ته وئیلی شی چه چا باندي په یاء ذریعی سره یا وا ذریعی سره اظهار د غم وکړي شی لکه (یَا زَیْدَاهُ وَوَا زَیْدَاهُ)، پس وا مندوب سره خاص ده او یاء مندوب او نداء په درمیان کښ مشترك ده او حکم د دي په معرب او مبني والی کښ په شان د منادیٰ ده

تشریح پدي واعلم کې مصنفؒ دمندوب مسائل ذکر کوي .

مندوب په لغت او اصطلاح کښی

مندوب په لغت کې صیغه د اسم مفعول ده او دا ندُبه نه ماخوذ ده او ندبه په مړي باندي ژړا کول لره وایې یعني دمړي خصلتونه او محاسن ذکر کول او په هغه ژړیدل.

په اصطلاح کې مندوب هغه شي ته وایې چې دهغه په وجه باندي اظهار د غم او د درد کیږي او دا مندوب په دوه قسمه دي

(۱) یو قسم هغه مندوب ده چې دیو شيء عدم کیدو په وجه یو سړی ژړا کوي لکه مړی او شي مثلاً زید مړشي او خلق ورته ندا کوي چې یا زیداه

(۲) دویم قسم هغه مندوب دي چې دیوشي دموجود یدو په وجه یوسړي نداکوي لکه مثلاً یو مصیبت او افسوس وحسرت نازل شي او څوك ورته نداء اوکړي چې یامصیبته یاغمه.
پس مندوب دي دواړوته شامل دي اومندوب ته ندا په دوه حرفونوسره کیږي په یاسره او په واسره لکه یازیداه وازیداه. دیته مندوب وایي اوګویاداامناسب دمنادیٰ سره ده نومصنف ځکه دلته ذکرکړي دي اودمندوب علامت دادي چې مخکې به تري حرف ندا به (یااووا)وي اوپه آخرکې به یې (الف) او(ه) وي بغیردحرکاتونه په المتفجع کې الف لام په معنی دالذي سره اومتفجع په معنی چې اظهار کیدي شي ددردمندګۍ علی ددغه (مندوب) په وجه باندې په علیه کې هاضمیردعلت دپاره ده فوامختصة باالمندوب ویامشترکة بین النداء والمندوب واحرف ندائیه مختص دي په مندوب پوري اوحرف یامشترکه دي په مابین دمنادیٰ اومندوب البته یاپه منادیٰ کې کثرت استعمال دي. یاپه مندوب کې دکثرت او اصالت دوجې نه راځي ځکه چې یاپه ټولوندائیوکې اصل ده

وَحُكْمُهٗ: قواعددمندوب په اعراب اوبناء کې پشان داحکامودمنادي دي یعني کله مبنی وي په ضمې سره کله به معرب وي وغیر هماته.

مفعول فيه یاظرف

فَصْلٌ: اَلْمَفْعُوْلُ فِيْهِ هُوَاسْمٌ مَاوَقَعَ فِعْلُ الْفَاعِلِ فِيْهِ مِنَ الزَّمَانِ وَالْمَكَانِ وَيُسَمّٰى ظَرْفًاوَظُرُوْفُ الزَّمَانِ عَلٰى قِسْمَيْنِ مُبْهَمٌ وَهُوَمَالَايَكُوْنُ لَهٗ حَدٌّمُعَيَّنٌ كَدَهْرٍ وَحِيْنٍ وَمَحْدُوْدٍوَهُوَمَايَكُوْنُ لَهٗ حَدٌّمُعَيَّنٌ كَيَوْمٍ وَشَهْرٍوَسَنَةٍوَكُلُّهَامَنْصُوْبٌ بِتَقْدِيْرِفِيْ تَقُوْلُ صُمْتُ دَهْرًاوَسَافَرْتُ شَهْرًااَيْ فِيْ دَهْرٍوَشَهْرٍوَظُرُوْفُ الْمَكَانِ كَذٰلِكَ مُبْهَمٌ وَهُوَمَنْصُوْبٌ اَيْضًا بِتَقْدِيْرِفِيْ نَحْوُجَلَسْتُ خَلْفَكَ وَاَمَامَكَ وَمَحْدُوْدٌوَهُوَمَالَايَكُوْنُ مَنْصُوْبًابِتَقْدِيْرِفِيْ بَلْ لَابُدَّمِنْ ذِكْرِفِيْ فِيْهِ نَحْوُجَلَسْتُ فِي الدَّارِوَفِي السُّوْقِ وَفِي الْمَسْجِدِ.

ترجمه: مفعول فيه هغه اسم ده چه چا کښ د فاعل فعل واقع شوی وی په زمان او مکان کښ او دیته نوم ظروف ایخودلي شی او ظروف زمان په دوه قسمه دی اول مبهم ده او مبهم هغه اسم ظرف ده چه د هغې لپاره څه حد نه وی مقرر لکه دهر (زمانه) او حین (وخت) دوم محدود او محدود هغه اسم ظرف دی چه د دې لپاره څه حد معین وی لکه یوم او لیلة او شهر

او سنة پدې کښې به هر یو په تقدیرد فی سره به منصوب وی لکه ته اووائې (صُمْتُ دَهْرًا وَسَافَرْتُ شَهْرًا) یعنی (فِیْ دَهْرٍ وَشَهْرٍ) او ظروف مکان به هم دغه رنګی مبهم وی او هغه به هم په تقدیرد فی سره به منصوب وی لکه (جَلَسْتُ خَلْفَكَ وَاَمَامَكَ) او محدود به په تقدیر د فی سره منصوب نه وی بلکه فی ذکر کول ضروری دی لکه (جَلَسْتُ فِی الدَّارِ وَفِی السُّوْقِ وَفِی الْمَسْجِدِ).

تشریح: دریم قسم دمنصوباتو نه مفعول فیه ده دالمفعول فیه لفظی تشریح داده ال په معنی دَ الذی سره او مفعول په معنی دفُعِلَ یا یُفْعَلُ سره ده (ماضی مضارع مجهولین) معنی به یې داشي چې الذی فُعِلَ فِیْهِ یا یُفْعَلُ فیه داهغه شي دي چې یو کار په کې کیدي شي یاشوي وي په اصطلاح کې یې تعریف واضح دي پس دامفعول فیه نوم دهغه شي دي چې واقع شوي وي فعل دفاعل په دغه شي کې اودغه شي ته ظرف هم وایې برابره خبره ده که واقع دفعل دفاعل په زمانه کې وي اوکه په مکان کې وي اول ته ظرف زمان وایې اوثاني ته ظرف مکان وایې

نوټ: دفعل نه مراد لغوي فعل یامعنی مصدری یاحدثی دي من الزمان بیان دماوقع دپاره دي. ظرف په دوه قسمه دي (۱) ظرف زمان (۲) ظرف مکان هر واحد د دوارو نه په دوه دوه قسمه دي ظروف زمانیه: داپه دوه قسمه دي (۱) ظرف زمان مبهم (۲) ظرف زمان محدود ظروف مکانیه: داپه دوه قسمه دي (۱) ظرف مکان مبهم (۲) ظرف مکان محدود.

(۱) **ظرف زمان مبهم**: داهغه ظرف ته وایې چې دهغي دپاره حدمعین دزماني نه وي لکه دَهر (مطلق زمانه) یاحین وغیره

(۲) **ظرف زمان محدود**: داهغه ظرف دي چې دهغي دپاره حدمعین دزمانی وي لکه لیل. نهار میاشت وغیره.

(۳) **ظرف مکان مبهم**: داهغه ظرف دي چې دهغي دپاره حدمعین دځای نه وي لکه خلف (شاته حصه) اَمام وغیره

(۴) **ظرف مکان محدود**: داهغه ظرف دي چې دهغي دپاره حدمعین دځای وي لکه دار. مسجد سوق وغیره.

احکام: ظرف زمان مبهم، ظرف زمان محدود او ظرف مکان مبهم به منصوب وي په تقدیردفي سره یعني فی ظرفیه به په کې مقدره وي اوبعددهغي نه به دادریواړه ظروف منصوب وي. فقط یو قسم چې ظرف مکان محدوددي په دي یو قسم کې به فی ظرفیه ذکر کول ضروري وي اودي به مجروروي ځکه چې فی حرف جر په کې ذکروي امثله مذکور فی الکتاب واضح دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

الفرق: بين المقدرِوالمحذوف: مقدر دیته وایې چې اثریې په لفظ کې باقي وي محذوف دیته وایې چې اثریې په لفظ کې باقي نوي.

ظرف زمان مبهم ومحدود دان   قابل نصبند بتقدير في
لیکن مکانی که معین بود   نیست دروچاره ازین تحریرفي

دا قسمه ظروف په تقدیرد فی سره منصوب وی ددي دپاره وجه داده

قاعده نحوي: هرکله چې جُزء دفعل اصطلاجي ذکرشي بعددفعل نه نودغه جزء دفعل اصطلاحي به منصوب وي بلاواسطه پس ددي قاعدي مطابق مفعول مطلق هم منصوب ده ځکه مفعول مطلق مصدردي په معنی دحدث سره اوداجزء دي دفعل اصطلاحي نه اودفعل اصطلاحي ددي جزئین دي یومعنی حدثی یامصدری بل نسبت الی الفاعل دریم اقتران بالزمان اُس زده کړه داخبره چې ظرف زمان مبهم ځکه منصوب دي چې زمانه مبهمه هم دفعل اصطلاحي مستقل جُزء دي اوقسم ثاني دظرف زمان معین (محدود) ځکه منصوب دي چې داقیاس په زمانه مبهمه باندي دي داګرچې دفعل اصطلاحي جزء نه دي لیکن زمانه په دواړوکې مشترکه ده البته په اوصافوکې یې فرق دي یعني یوه مبهمه ده اوبله معینه ده پس دا به هم منصوب وي. دَریم قسم چې ظرف مکان مبهم ده داقیاس دي په وجه داشتراك دذات نه یعني زمانه مبهمه اومکان مبهم پس داځکه منصوب دي.

څلورم قسم ځکه منصوب نه ګرزي چې یوخوپدې صورت کې فی جاره ذکروي اوبله وجه داده چې په هیڅ صورت کې دفعل اصطلاحي جزء نه ګرزي اونه قیاس کیږي په نوروباندي ځکه چې دامعین اومحدوددي.

مفعول له

فَصْلٌ: اَلْمَفْعُوْلُ لَهُ هُوَاسْمٌ مَالِاَجْلِهٖ يَقَعُ الْفِعْلُ الْمَذْكُوْرُقَبْلَهُ وَيُنْصَبُ بِتَقْدِيْرِاللَّامِ نَحْوُضَرَبْتُهٗ تَاْدِيْبًا اَیْ لِلتَّادِيْبِ وَقَعَدْتُ عَنِ الْحَرْبِ جُبْنًا اَیْ لِلْجُبْنِ وَعِنْدَ الزَّجَّاجِ هُوَمَصْدَرٌ تَقْدِيْرُهٗ اَدَّبْتُهٗ تَاْدِيْبًا وَجَبُنْتُ جُبْنًا.

ترجمه: څلورم قسم د منصوباتونه مفعول له ده، مفعول له دا هغه اسم ده چه دده د وجه نه واقع کیږی فعل مذکور مخکښی د ده نه دا فعل چه کوم د فعل نه مخکښی ذکر شوی واقع شوي وی او هغه به لام تقدیری سره منصوب وی لکه (ضَرَبْتُهٗ تَاْدِيْبًا) یعنی (لِلتَّادِيْبِ وَقَعَدْتُ عَنِ الْحَرْبِ جُبْنًا اَیْ

لِلْجُبْنِ، او په نزد د زجاج دا مصدر دی اصل ئې (اَدَّبْتُهٗ تَاْدِیْبًا وَجَبُنْتُ جُبْنًا)

تشریح : لفظی تشریح یې داده چې الف لام په معنی د الذی سره ده او مفعول په معنی د فُعِلَ یا یُفْعَلُ سره دي او په له کې لام لِاَجْلِیَه دي . پس تقدیریې داسی دي المفعول له ای الذی فُعِلَ یا یفعل لاجله یعني مفعول له نوم دهغه شي دي چې دهغه دوجی نه ذکرشوي وي فعل دفاعل مخکې دده نه برابره خبره ده که دغه فعل مذکورقبله حقیقتاً وي اوکه حکماً. مثال لکه څوك تپوس اوکړي چې لِمَاضَرَبْتَ.

په جواب کې فقط تادیباً ذکرشي ای ضربته تادیباً پس ضربته فعل فاعل او تادیباً مفعول له دي یعني فعل مذکورقبله دوجی د تادیب نه واقع شوي دي مالاجله په دوه معنو سره دي یوه معنی داده چې دوجی دوجود دمفعول له نه فعل دفاعل قبله ذکرشوي وي دویمه معنی داده چې دوجی دحصول دده نه فعل دفاعل واقع شوي وي پس مقصد دواړو دي یعني دمثال مذکورمطابق ضرب دوجود دتادیب دپاره واقع دي یادحصول دتادیب دوجی نه واقع دي شرط دمفعول له دپاره دادي چې منصوب وي بعد دلام اجلیه نه په تقدیردلام سره ای لام جاره .لکه ضربته تادیباً ای للتادیب دامثال دحصول دمفعول له دپاره دي اودوجود دمفعول له دپاره مثال لکه قعدت عن الحرب جُبْناً قعدت فعل فاعل الحرب متعلق به فعل فاعل مفعول به ده او جُبْناً مفعول له دي ای لِلْجُبْنِ . دادوجود مثال دي دامذهب دجمهورو دي جمهوروایي چې مفعول مستقل قسم ده دمنصوباتو او زجاج دي ته وایي چې دامفعول مطلق من غیر لفظه دي او تقدیریې دادي ای ادبتهٗ تادیباً وجبنتُ جُبْناً خلاصه مختاره مذهب دجمهورو ده څکه چې دزجاج صاحب په مذهب باندي په کلام کې تاویل لازمیږي یعني داتکلفات کثیره دي پس دامذهب ضعیف دي

مفعول معه

فَصْلٌ : اَلْمَفْعُوْلُ مَعَهٗ هُوَمَا یُذْکَرُ بَعْدَ الْوَاوِ بِمَعْنٰی مَعَ لِمُصَاحَبَةِ مَعْمُوْلِ الْفِعْلِ نَحْوُجَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتُ وَجِئْتُ اَنَا وَزَیْدًا اَیْ مَعَ الْجُبَّاتِ وَمَعَ زَیْدٍ.

ترجمه: مفعول معه هغه اسم ده چه وروسته لواو نه ذکروی او دغه واو به په معنی د مع سره وی او ذکر کول به لپاره د ملګرتیا د دی مفعول معه وی لکه جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتُ وَجِئْتُ اَنَا وَ زَیْدًا یعنی مَعَ الْجُبَّاتِ وَمَعَ زَیْدٍ

تشریح پنځم قسم دمنصوباتو نه مفعول معه دي لفظي تشریح یې په مخکینو باندي قیاس

Maktaba Tul Ishaat.com

کړه. تعریف د مفعول معه دا دي دا نوم د هغه شي دي چې ذکروي پس د واو (په واو بمعنی مع سره احتراز راغے د واو عاطفه او د واو قسميه وغيره نه يعني د هر غير واو نه ۱۲) نه چې د غه واو په معنی د مع سره وي او وي دا مفعول معهٔ مصاحب د معمول د فعل برابره خبره ده که د غه معمول د فعل فاعل وي او که مفعول به وي لکه مثال د پاره د فاعل. جاء البرد والجبات اى مع الجبات. راغله يخنی سره د جوغو. جاء فعل دي البرد فاعل يعني معمول د فعل دي او والجبات هغه اسم دي چې واقع دي بعد الواو بمعنی مع پس دا مفعول معهٔ دي چې مصاحبت او مشارکت يې د البرد سره دي چې کوم فاعل يعني معمول د جاء دي د مصاحبت معنی دا ده چې مشارکت د مفعول معه دي د معمول د فعل سره په اتحاد د زمان او مکان سره يعني د دواړو زمانه او مکان به يو وي کفك زيداً درهماً اى مع زيداً کفى فعل دي او ك ضمير د مفعول به دي او زيداً درهماً مفعول معه دي دا مثال د مصاحب د مفعول به دي.

فَإِنْ كَانَ الْفِعْلُ لَفْظًا وَجَازَ الْعَطْفُ يَجُوْزُ فِيْهِ الْوَجْهَانِ النَّصْبُ وَالْعَطْفُ وَالرَّفْعُ نَحْوُ جِئْتُ أَنَا وَزَيْدٌ أَوْزَيْدًا وَإِنْ لَّمْ يَجُزِ الْعَطْفُ تَعَيَّنَ النَّصْبُ نَحْوُ جِئْتُ وَزَيْدًا:

ترجمه کچرته فعل لفظاً ذکر وي او عطف جائز وي نو پدي کښې دوه وجه جائز دي نصب او رفع لکه جئت انا و زيداً او زيدٌ کچرته عطف جائز نه وي نو بيا نصب متعين ده لکه جئت و زيداً

تشريح د مفعول معه نه مخکې چې کوم فعل ذکروي د غه فعل به خالي نه وي يا به لفظي وي يا به معنوي وي او بيا په هر واحد کې دوه احتماله دي پس که چيرې فعل لفظي وي نو يا به عطف د مابعد د واو نه جائز وي په ماقبل د واو باندي يا به جائز نه وي کچرې عطف د مابعد جائز وي په ماقبل باندي نو پدي صورت کې دوه وجهان جائز دي په اعراباتو کې يو نصب بناء بر مفعوليت او بل رفع بناء بر عطف يعني مفعول معه منصوب او مرفوع دواړه جائز دي دويم احتمال که چيرې پدي صورت کې عطف جائز نه وي نو بيا فقط يو وجه جائز ده چې منصوب به وي بناء بر مفعول معه ځکه چې عطف جائز نه دي نو بله هيڅ چاره نشته لکه مثال د اولنی احتمال د پاره انا و زيداً او زيدٌ. جئتُ فعل تُ ضمير د متکلم فاعل انا ضمير منفصل د اتاکيد دي دتُ ضمير متصل د پاره او زيد مفعول معه دي پس زيداً بنا بر مفعول معه منصوب هم کيدي شي او بنا بر عطف مرفوع هم کيدي شي يعني زيدٌ هم جائز دي او دا عطف جائز دي په جواز د قانون نحوي سره او قانون دا دي چې کله کله د ضمير متصل تاکيد په ضمير منفصل سره او شي نو د هغی عطف جائز وي د بعد الواو په قبل الواو باندي. مثال د دويم احتمال د پاره لکه جئتُ وزيداً پدي صورت کې عطف جائز دي پس د لته فقط تعين د نصب متعين دي.

وَإِنْ كَانَ الْفِعْلُ مَعْنًى وَجَازَ الْعَطْفُ تَعَيَّنَ الْعَطْفُ نَحْوُ مَا لِزَيْدٍ وَعَمْرٍو وَإِنْ لَمْ يَجُزِ الْعَطْفُ تَعَيَّنَ النَّصْبُ نَحْوُ مَا لَكَ وَزَيْدًا وَمَا شَأْنُكَ وَعَمْرًا لِأَنَّ الْمَعْنَى مَا تَصْنَعُ:

ترجمه کچرته فعل معنوی وی او عطف جائز وی نو بیا عطف متعین ده کچرته عطف جائز نه وی نو نصب متعین ده لکه (مَالَكَ وَزَيْدًا وَمَا شَأْنُكَ وَعَمْرًا) ځکه چه معنی د دی ما تصنع ده.

تشریح زده کړه اخبره چې احتمالات مذکوره په فعل معنوي (فعل معنوي دیته وایې چې مستنبط وي دلفظ نه) کې هم دغه شان دي چې یا به عطف جائزوي یا به نوي پس کچري عطف جائزوي نو پدي صورت کې به اعراب دمعطوف موافق دمعطوف علیه سره لکه مالزید وعمرٍو ما استفهامیه ده او فعل یې معنوي دي او عمر مفعول معه دي یعني بعد الواو واقع دي اُس په زید باندي لام حرف جر داخل دي نو مجرور دي پس بعد الواو به هم مجرور گرزي او که مخکې منصوب وي نو بعد الواو به هم منصوب وي او که مرفوع وي نو مرفوع به وي مابعد د دي دپاره وجه داده که چیری قبل الواو مجرور وي په حرف جر سره او بعد الواو منصوب کړی شي بناء بر مفعول معه نو بیا به دغه مفعول معه بوجه کړی شي په وجی دیګری سره او فعل چونکه معنوي دي نو پدي صورت کې ثِقل خلاف اولی دي یعني داسي طریقه عرب نه خوخوي او کچري عطف جائز نه وي نو پدي صورت کې به فقط نصب متعین وي بنا بر مفعول معه لکه مَالَكَ وزیداً دلته فعل معنوي دي او عطف د زید په ك باندي غیرصحیح دي او دا قانون دي چې کله عطف اوکړی شي په ضمیر مجروره باندي نو لابدي وي په کې داعادي د جار نه پس کچري زید عطف شي په ماقبل نو پکار ده چې په زید هم لام جاره داخل وي او مجرور گرزیدلی وي یعني مَالَكَ ولِزيدٍ نو معلومه شوه چې دلته اعاده د جار نه ده شوي نو منصوب دي بناء بر مفعول معهُ. ماشَانُكَ وعُمراً دلته هم عطف غیرصحیح دي ځکه چې شان بعد الواو زید ته معاد شوي نه دي نو دا هم منصوب دي بنا بر مفعول معهُ **لان المعنى ماتصنَعُ:** مصنف پدي سره تصریح د فعل معنوي کړیده چې په مَالِزيدٍ وعمرٍو کښ مالزید په معنی د ماتصنع یا مایَصنَعُ سره ای ماتصنع وعمرٍو وغیره هذا القیاس.

الحال

فَصْلٌ: اَلْحَالُ لَفْظٌ يَدُلُّ عَلَى بَيَانِ هَيْئَةِ الْفَاعِلِ أَوِ الْمَفْعُولِ بِهِ أَوْ كِلَيْهِمَا نَحْوُ جَاءَنِي زَيْدٌ رَاكِبًا وَضَرَبْتُ زَيْدًا مَشْدُودًا وَلَقِيتُ عَمْرًا رَاكِبَيْنِ:

ترجمه: حال داسې لفظ ده چه په هيئت د فاعل يا مفعول يا د دواړو باندې دلالت کوي لکه (جَاءَنِیْ زَيْدٌ رَاكِباً وَضَرَبْتُ زَيْداً مَشْدُوْداً وَلَقِيْتُ عَمْراً رَاكِبَيْنِ).

تشريح: شپږم قسم د منصوباتونه حال ده يعني منصوبات ټول دولس دي پدې کې اولنی پنځه قسمه اصل دي او علاوه ازين ملحقات دي پس مصنفؒ چې کله فارغ شو د اصل نه نو شروع يې اوکړه په ملحقاتو باندې.

حال په لغت کې صفت او حالت ته وايې.

په اصطلاح کې تعريف داهغه لفظ ته وايې چې دلالت کوي په حالت د فاعل يا مفعول به يا د دواړو (يو وخت) پس دغه شي ته حال وايې يعني حالت د فاعل او مفعول به بيانې.

فان قيل: مصنفؒ په تعريف د حال کې الحال لفظ ذکر کړی دي په مخکينو اقسامو کې اسم ذکر شوي دي لِمَ

قلنا داځکه چې حال کله مفرد واقع کيږي او کله جمله لکه جاءني زيد راکباً د مفرد مثال دي او جاءني زيد وغلامه راکباً د جملې مثال دي پس په لفظ سره حال دواړو ته شامل شو په بيان هيئة الفاعل الخ سره احترازراغی د هغه لفظ نه چې حال د فاعل او مفعول به نه بيانوي پس ددې نه نحويان يوه قاعده مستنبط کوي چې کله حال واقع کيږي نو يا به د فاعل نه واقع کيږي او يا به د مفعول به نه البته بعضو کتابونو داجزئي ليکلې ده چې کله کله حال د مضاف اليه نه هم واقع کيږي هغه مضاف اليه چې هغه د فاعل يا د مفعول به د پاره وي لکه مثال مضاف اليه چې واقع ده د ملت نه چې ملت مضاف مفعول به دي امثله د کتاب جاءني زيدا راکباً جاء فعل في مفعول به دي او زيد ذالحال دي او راکباً حال واقع شوي ده د زيد نه پس ذالحال سره د حال نه فاعل شو لپاره د فعل، فعل سره د فاعل او مفعول به نه جمله فعليه خبريه. دا مثال د پاره د فاعل وو. ضربت زيداً مشدوداً ضربت فعل فاعل زيداً مفعول به او مشدوداً حال دي دا مثال د مفعول به دي لقيت عمرواً راکبينِ ملاقات اوکه ما او عمر په داسې حال کې چې سواره وو مونږ لقيت فعل فاعل عمروا مفعول به ذالحال او راکبين حال دي.

وَقَدْ يَكُوْنُ الْفَاعِلُ مَعْنَوِيًّا نَحْوُ زَيْدٌ فِي الدَّارِ قَائِمًا لِأَنَّ مَعْنَاهُ زَيْدٌ اِسْتَقَرَّ فِي الدَّارِ قَائِمًا وَكَذَا الْمَفْعُوْلُ بِهٖ نَحْوُ هٰذَا زَيْدٌ قَائِمًا فَإِنَّ مَعْنَاهُ اَلْمُشَارُ إِلَيْهِ قَائِمًا هُوَ زَيْدٌ.

ترجمه: او کله به فاعل معنوي وي لکه (زَيْدٌ فِي الدَّارِ قَائِمًا) ځکه چه د دې جملې معنی

(زَیْدٌ اِسْتَقَرَّ فِی الدَّارِ قَائِمًا) او همدغه رنګي مفعول به هم ده لکه (هٰذَا زَیْدٌ قَائِمًا) ددې جملې معنی (اَلْمُشَارُ اِلَیْهِ قَائِمًا هُوَ زَیْدٌ).

تشریح: دا قاعده چې په امثله مذکوروکې فاعل او مفعول به لفظاً ده او کله کله حال واقع کیږي د فاعل معنوي او مفعول به معنوي نه. زده کړه دا خبره چې فاعل معنوي هرهغه شي ته ویلی کیږي چې دهغی فعل معنوي وي او مفعول به معنوي هم هغه شي دي چې فعل یې معنوي وي پس مثال دفاعل معنوي دپاره دادي زید فی الدار قائماً قائماً. حال دي بنا برحالیت او زید یې ذالحال دي پس زید فاعل دي او فعل دده معنوي دي یعني شان سره چې فی الدار جار مجرور دي او دا اکثریه فعل پوري متعلق کیږي او هغه فعل معنوي دي ای زید استقر فی الدار قائماً پس دا استقر مستنبط دي د جاء مجرورنه نوګویا دا په حقیقت کې د زید دپاره فعل معنوي ثابت شو او فعل معنوي دیته وایي چې مستنبط وي د لفظ نه پس د فی الدار نه چې کوم لفظ مستنبط دي هغه د فاعل دپاره فعل معنوي ده. او دغه شان مفعول به هم قیاس کړه لکه مثال هذا زیدٌ قائماً هذا اشاره ده او زید مفعول به دي ذوالحال واقع شوي دي او قائماً حال دي پس د مفعول به فعل معنوي دي پدي شان سره چې په هذا کې د تنبیهیه ده پس د په معنی د اُنَبِّهُ سره ده او ذا په معنی د اُشِیرُ سره دي پس تقدیر به یې داشي چې اُنبّهُ اُشیرُ زید اقائماً انبهُ او اشیر دواړه فعلونه دي نوګویا دغه په حقیقت کې د مفعول به دپاره فعل معنوي دي.

وَالْعَامِلُ فِی الْحَالِ فِعْلٌ اَوْ مَعْنٰی فِعْلٍ وَالْحَالُ نَکِرَةٌ اَبَدًا وَذُو الْحَالِ مَعْرِفَةٌ غَالِبًا کَمَا رَاَیْتَ فِی الْاَمْثِلَةِ الْمَذْکُوْرَةِ فَاِنْ کَانَ ذُو الْحَالِ نَکِرَةً یَجِبُ تَقْدِیْمُ الْحَالِ عَلَیْهِ نَحْوُ جَاءَنِیْ رَاکِبًا رَجُلٌ لِئَلَّا تَلْتَبِسَ بِالصِّفَةِ فِیْ حَالَةِ النَّصْبِ فِیْ مِثْلِ قَوْلِكَ رَاَیْتُ رَجُلًا رَاکِبًا.

ترجمه: حال کښې عامل فعل وي یا معنی د فعل وي او حال همیشه نکره وي او ذوالحال اکثر معرفه وي لکه تا به مذکور مثالونو کښې ولیدل. کچرته ذوالحال نکره وي نو بیا پدي باندي حال مقدم کول واجب دي لکه (جَاءَنِیْ رَاکِبًا رَجُلٌ) د وجه نه چه په حالت د نصب کښې د حال صفت سره التباس راشی لکه ستا دا قول چه (رَاَیْتُ رَجُلًا رَاکِبًا).

تشریح: د حال عامل به یا فعل لفظي وي او یا به معنوي پس کچري عامل یې لفظاً یعني صراحتاً وي نو دا به عمل په ذوالحال او حال دواړو کې کوي او کچري عامل یې معنوي وي نو بیا به په دواړو کې عمل فعل معنوي ده. بله قاعده دا ده چې حال به همیشه لپاره نکره وي او ذوالحال به

Maktaba Tul Ishaat.com

غالباً معرفه وي يعني په اکثرو حالتو کې به معرفه وي ددې دپاره وجه دا ده حال به ځکه نکره وي چې حال خبر دې دپاره دذوالحال يعني دا يو حکم دې داحکام دذوالحال نه او حکم او خبريه تنکير سره حاصليږي او اصل په اسماء کې تنکير دې پس حال به هميشه نکره وي او ذوالحال به غالباً معرفه وي دا ځکه چې ذوالحال په حقيقت کې محکوم عليه ده دپاره دحال نو ګويا دا په حکم دمبتداء کې دې او په مبتداء کې اصل تعريف ده او کله کله به نکره هم وي پس دا حکم دذوالحال دې په مذکوره مثالونو کې حال نکره ده او ذوالحال معرفه پس په ذوالحال کې اصل تعريف دې او کچرې ذوالحال هم نکره واقع شي نو په دې صورت کې تقديم دحال په ذوالحال باندې واجب ده او دا تقديم دحال ځکه واجب دې او کچرې حال مقدم نه کړی شي نو بيا به التباس لازم شي په مابين دحال او صفت کې په حالت نصبي کې فقط پس دالتباس ددفع کولو دپاره به حال مقدم شي په ذوالحال باندې او دصفت نه به التباس قطع شي ځکه چې صفت په موصوف مقدم نه وي دغه شان به په حالت رفعي او جری کې هم حال مقدم کيږي وجوباً اګرچې پدې صورتونو کې التباس نه راځي ليکن دادواړه قياس دي په حالت نصبي باندې لکه مثال دحالت رفعي دپاره جاءنی رجلٌ راکباً پس حال به مقدم کيږي په ذوالحال باندې ای جاءنی راکباً رجلٌ مثال دحالت نصبي لکه رايت رجلاً راکباً پس پدې صورت کې التباس لازم شو ځکه چې اعراب يو شان دي او دواړه نکرې دي نو داسې به رايت راکباً رجلاً مثال دحالت جري مررت برجلٍ راکباً ای مررت راکباً برجل.

وَقَدْ تَكُوْنُ الْحَالُ جُمْلَةً خَبَرِيَّةً نَحْوُ جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَغُلَامُهُ رَاكِبٌ اَوْيَرْكَبُ غُلَامُهُ وَمِثَالُ مَاكَانَ عَامِلُهَا مَعْنَى الْفِعْلِ نَحْوُ هٰذَا زَيْدٌ قَائِمًا مَعْنَاهُ اُنَبِّهُ وَاُشِيْرُ:

ترجمه: او کله به حال جمله خبريه وی لکه (جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَغُلَامُهُ رَاكِبٌ يا يَرْكَبُ غُلَامُهُ) او د هغی حال مثال چه په کښ عامل معنوی فعل وی لکه (هٰذَا زَيْدٌ قَائِمًا) د دې معنی (اُنَبِّهُ وَاُشِيْرُ) ده

تشريح: دا بله قاعده ده. او حال کله کله جمله هم واقع کيدې شي برابره خبره ده که دغه جمله اسميه وي او که فعليه وي لکه مثال دجملې اسمي دادې جاءنی زيد و غلامه راکب. جاء فعل نی مفعول به زيد يې فاعل غلامه مبتداء فعل سره دفاعل او مفعول نه خبر شو دپاره دمبتداء. مبتداء سره دخبر نه دا ذوالحال شو او راکب يې حال دې پس حال سره دذوالحال نه جمله اسميه خبريه شوه. دجملې فعلي مثال لکه جاءنی زيد يرکب غلامه ترکيب هذا القياس.

وَقَدْ يُحْذَفُ الْعَامِلُ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ كَمَا تَقُوْلُ لِلْمُسَافِرِ سَالِمًا غَانِمًا اَیْ تَرْجِعُ سَالِمًا غَانِمًا:

ترجمه: او بعض وختونه کښی به عامل حذف کيږی چکله قرينه موجود وی لکه ته يو

مسافر ته اووائي (سَالِمًا غَانِمًا) يعنی (تَرْجِعُ سَالِمًا غَانِمًا) (ته سلامتيا سره کامياب واپس راشه).

تشريح دا بله قاعده ده يعني کله کله حذف کولی شي عامل دحال نه پدي شرط سره چي قرائن موجودوي لکه مثال يو مسافر راشي بيا واپس روان شي اوته ورته اووائي چي سالماً غانماً ته دي واپس شي په داسې حالت کي چي سالم هم وي اوغانم هم وي پس ددي ترجعُ عامل حذف شوي دي اى ترجع سالماً غانماً او قرينه حاليه موجوده ده چي رجوع اوواپس کيدل دمسافردي او دقريني مقاليه مثال لکه څوك تپوس اوکړي چي کيف جئتك په جواب کي فقط راکبا ذکرشي يعني جواب دسوال موافق دي.

اووم قسم دمنصوباتونه تميزدي

فَصْلٌ: اَلتَّمِيْزُ هُوَ نَكِرَةٌ تُذْكَرُ بَعْدَ مِقْدَارٍ مِنْ عَدَدٍ اَوْكَيْلٍ اَوْ وَزْنٍ اَوْمَسَاحَةٍ اَوْغَيْرِ ذٰلِكَ مِمَّا فِيْهِ اِبْهَامٌ تَرْفَعُ ذٰلِكَ الْاِبْهَامَ نَحْوُ عِنْدِيْ عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا وَقَفِيْزَانِ بُرًّا وَمَنَوَانِ سَمْنًا وَجَرِيْبَانِ قُطْنًا وَعَلَى التَّمْرَةِ مِثْلُهَا زُبْدًا:

ترجمه: تميز هغه اسم نکره ده چه ذکر کولی شی روسته د مقدار نه يعنی عدد يا کيل يا وزن يا مساحت يا د نه علاوه چه کوم شی کښ ابهام وی دفع کړی لکه (عِنْدِيْ عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا) يا (قَفِيْزَانِ بُرًّا) يا (مَنَوَانِ سَمْنًا) يا (جَرِيْبَانِ قُطْنًا وَعَلَى التَّمْرَةِ مِثْلُهَا زُبْدًا).

تشريح: اووم قسم دمنصوباتونه تميزدي . تميزپه لغت کي تفسيراوتبيُّن ته وايې دداواروِمعنی وضاحت دي په اصطلاح دنحوي کي داهغه اسم نکره ده چي ذکرکيدي شي پس دمقدر نه دپاره دازالې (ارتفاع . پورته کول) ددغه ابهام پس تميزمقصداوفائده داده چي رفع دابهام راولی دمقدارمبهم نه برابره خبره ده که مقدارمبهم وي اوکه غيرمقدارمبهم وي البته په تعريف دتميزکي اکتفی فقط په مقدارسره شوي ده داځکه چي تميزدمقاديروته کثيرواقع کيږي اودغير مقادير څيزونونه قليل واقع کيږي.

شعر

مقادير همه پنج است بشناس عدد و وزن و کيل و مقياس

دوضاحت دپاره مثال لکه عندي عشرون خماسره شل دي پس په عشرون کي ابهام دي ددغه اسم مبهم نه بعدچي نکره واقع شي درفعي دابهام لکه مثلاً درهماً ورسره ذکرشي نوپس دغه

درهماته تميزوايې اوعشرون ته مميزوايې په تعريف کې لفظ دمقدارراغلی دي مقدار صيغه داسم آله کبرئ ده په وزن د مِضرابٌ باندي اومقدارپه معنی مايعرف به شئ (چې اندازه ديوشي پري معلوميږي) پس مقدارکله په اعدادوکې واقع کيږې اوکله په مکيلاتوکې راځي اوکله په موزوناتوکې راځي اوکله په مساحاتو (پيمائش مثلاً فټ ـ گزوغيره) کې راځي لکه مثالونه ترتيب واردي دعدد دپاره مثال لکه عندي عشرون درهماً عندي خبرمقدم دي عشرون مميزدي اودرهماً ورله تميزدي مميزسره دتميزنه مبتدا يې مؤخره مبتدا سره دخبرنه جمله اسميه مُميزه ده دکيل (پيمانی) دپاره مثال لکه عندي قفيزان بُراًخماسره دوه کيلو غنم دي ترکيب علی هذالقياس دوزن مثال لکه عندي منوانِ سمناً څماسره دوه منه غوړي دي ترکيب ايضاً وجريبان قطناًدوه جريبه پُمبه ای مالوچ ترکيب ايضاًمثال دغيرذالکَ دپاره لکه علی التمرة مثلهازبَداً په کهجوره باندي په مثل دهغی زګ دي دي قسم ابهام ته مقياس وايې يعني قياس په اندازي سره ديوشي دپاره۔

وجه‌نصب: دتميزدپاره عامل ناصبه اسم تام دي هغه اسم تام چې دتميزنه مخکې واقع شوي وي مثلاً عشرون قفيزان ـ جريبان وغيره ديته اسم تام وايې داسم تام تعريف دادي هغه اسم ته وايې چې دي په داسی يوحالت باندي مشتمل وي چې په دغه حالت کې دده اضافت ممتنع وي اواضافت دامتناع دپاره دري اشياء دي يوتنوين دي اودويم قائم مقام دتنوين دي مثلاً نون دتثنی اوجمعی اودريم اضافت دي يعني چې يوخل يې اضافت شوي ليکن ثانياً به يې اضافت ممتنع وي پس يودثلاثونه چې په کوم اسم کې موجودوي هغه اسم ته اسم تام وايې اوداسم داتمام دپاره دغه دري څيزونه دي لکه خاتمٌ په تنوين سره تام شوي دي اواضافت يې په وخت دتنوين کې ممتنع دي دويم مثال لکه منوان داد نون نه پس تميزچې کله واقع شي بعدداسم تام نه نودغه تميزبه منصوب وي بنابرمفعوليت مجازاً پدي شان سره چې اسم تام مشتمل دي په دوه څيزونوباندي يونفس اسم دي اوبل اتمام داسم دي نوپس نفس اسم ياخوداسم بمنزله دفعل دي اواتمام داسم بمنزله دفاعل اوتميزواقع دي بعدداسم تام نه په دريم ځائ کې نوګوياتميزبمنزله مفعول به دي اومفعول به منصوب وي نوتميزبه څکه منصوب وي چې ګويادي مشابه دي داصل سره چې مفعول به ده اوداصل شي دپاره چې څه حکم وي هغه به دمشابه شي دپاره وي۔

اشعار

پس بدان اکنون که باشد اسم تام ازچارچيز اولاً تنوين که اورا لفظ ياتقديرجا

نیز نون تثنیه پس نون جمع وشبه وي در اضافت نیز باشد اسم تام ای مُقتدا
دریکې زین اسم تام ابهام وضعي هست اگر بهر رفعش می کند ناچار تمیز اقتضا

وَقَدْ يَكُوْنُ عَنْ غَيْرِ مِقْدَارٍ نَحْوُ هٰذَا خَاتَمٌ حَدِيْدًا أَوْ سِوَارٌ ذَهَبًا وَفِيْهِ الْخَفْضُ أَكْثَرُ وَقَدْ يَقَعُ بَعْدَ الْجُمْلَةِ لِرَفْعِ الْإِبْهَامِ عَنْ نِسْبَتِهَا نَحْوُ طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا أَوْ عِلْمًا أَوْ أَبًا:

ترجمه او کله به تمیز د غیر مقدار نه وی لکه (هٰذَا خَاتَمٌ حَدِيْدًا أَوْ سِوَارٌ ذَهَبًا) پدې کښې اکثر کسره راځی او تمیز کله د جملې نه پس واقع کیږی د جملې نسبت نه ابهام لرې کولو لپاره لکه (طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا أَوْ عِلْمًا أَوْ أَبًا)

تشریح: تر او سه پورې بحث د هغه تمیز وو چې د مقدار نه بعد ذکرشوي وو او په عبارت کې د هغه تمیز بحث دې چې کله کله تمیز د غیر مقدار نه بعد واقع کیږي پس کوم تمیز چې د مقدار نه بعد ذکرکوي هغه به همیشه منصوب وي او د غیر مقدار نه بعد چې کوم تمیز وي دې به اکثراو غالبًا مجرور وي بنابر اضافت یعنې ممیز به مضاف وي او تمیز به مضاف الیه وي او مضاف الیه مجرور وي گویا د دواړو تمیزونو په مابین کې فرق دې په دوه وجهینو سره یوه وجه داده چې مذکوره تمیز کثرت الاستعمال دې او دا تمیز قلیل الاستعمال دې او دویمه وجه د اعراب ده چې ذکرشوه. د غیر مقدار د پاره مثال لکه هذا خاتم حدیدًا. هذا مبتداء خاتم ممیز حدیدًا یې تمیز ممیز سره د تمیز نه خبر د پاره د مبتدا. پس خاتمٌ غیر مقدار دې په معنی گوتې (انگوټی) د حدیدًا نه قبل په خاتمٌ ابهام وو یعنې گوتې خو د هر څه نه جوړیدې شې مثلاً د سرو ده یا د سپینو ده یا د زیړو ده نو حدیدًا ورله تمیز واقع شو چې د اُسپنې جوړه ده د غه شان د امثال هم دې هذا سوار ذهبًا ترکیب علی هذا القیاس سوار بنگړي ته وایې جمع یې أساوِرُ ده. پس زده کړه د اخبره چې کله په دې دواړو مثالونو کې اضافت راشي نو تمیز به مجرور بنابر اضافت شي لکه مثلاً هذا خاتمُ حدیدٍ یا هذا سوارُ ذهبٍ پس ترکیب به یې مضاف مضاف الیه سره کیږي پس. د دې د مجرور کیدو د اکثریت وجه داده چې مقصد په کې حاصلیږي سره د تخفیف نه یعنې په وخت د اضافت کې به تنوین حذف شي او مقصد د ابهام به هم حاصل شي سره د تخفیف نه ځکه مصنف وفیه الخفض اکثر ذکر کړیدي.

وقد یقع بعد الجملة لرفع الابهام عن نسبتها نحو طاب زید نفساً أو علماً أو أباً: دا مسئله ده چې کله کله تمیز بعد د جملې نه هم واقع کیږي یعنې په جمله کې چې کوم نسبت شوي وي د خبر نه مبتدا ته

نو په دغه نسبت کې به ابهام وي پس تمیز به د دغه ابهام د ازالې د پاره ذکر کیږي او دیته عن الجملة وایې لکه د دي د پاره مثال طاب زیدٌ. طاب فعل ماضی ده زید یې فاعل دي فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه پس په دي کې ابهام دي په دي شان سره چې د طاب نسبت زید ته شوي دي نو په نسبت کې ابهام دي چې زید خه دي نو دا پته نه لګي چې صحت یې خه دي که په علم کې خه دي که په میلمستوب کې خه دي پس نفساً تمیز د ابهام د رفعې د پاره ذکر شو چې زید د نفس په اعتبار سره خه دي علماً او اباً هم تمیزین دي.

المثنٰی

فَصْلٌ: اَلْمُسْتَثْنٰى لَفْظٌ يُذْكَرُ بَعْدَ اِلَّا وَاَخَوَاتِهَا لِيُعْلَمَ اَنَّهُ لَا يُنْسَبُ اِلَيْهِ مَا نُسِبَ اِلٰى مَا قَبْلَهَا وَهُوَ عَلٰى قِسْمَيْنِ مُتَّصِلٌ وَهُوَ مَا اُخْرِجَ عَنْ مُتَعَدِّدٍ بِاِلَّا وَاَخَوَاتِهَا نَحْوُ جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا اَوْ مُنْقَطِعٌ وَهُوَ الْمَذْكُوْرُ بَعْدَ اِلَّا وَاَخَوَاتِهَا غَيْرُ مُخْرَجٍ عَنْ مُتَعَدِّدٍ لِعَدَمِ دُخُوْلِهٖ فِي الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ نَحْوُ جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا:

ترجمه: مستثنی هغه لفظ ده چه ذکر کیږی پس د الا او اخواتو ددی نه د دپاره چه معلومه شي چه د طرف ته منسوب نه دی هغه اشیاء چه کوم ما قبل ددی ته منسوب دی او دا په دوه قسمه ده اول متصل او متصل هغه مستثنی ده چه کوم د متعدد نه خارج کړي شوی وی چه کوم د الا او اخواتو د دي نه پس مذکور وی مګر د متعدد نه خارج نه وی په مستثنی منه کښې د نه داخلیدلو دوجه نه لکه (جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا)

تشریح: اتم قسم د مرفوعاتو نه مستثنی ده دا د استثنا نه ماخوذ دي په لغت کې معنی ته وایې او په اصطلاح کې مستثنی هغه لفظ دي چې ذکر کیدي شي پس د حروفو استثنائیو نه د دي د پاره چې معلومه شي داخبره چې دي لفظ ته منسوب نه دي هغه حکم چې کوم حکم منسوب دي ماقبل ته او ماقبل ته مستثنی منه وایې. د معنی لغوي او اصطلاحي په مابین کې مناسبت دا دی چې کوم د مستثنی منه د پاره ثابت وي هغه حکم به د مستثنی نه منع وي پس کچري حکم د مستثنی منه د پاره په طور د ثبوت سره وي نو دغه حکم به د مستثنی د پاره په طور د منفي سره وي او چې کوم حکم د مستثنی منه د پاره په طور د منفي سره د غه حکم به د مستثنی د پاره په طور د ثبوت سره وي لکه امثله د دواړو صورتونو د پاره بالوضاحت ذکر کوم لکه جاءني القوم الازیداً په دي کې قوم ته حکم د راتلو ثابت دي او بعد الا چې مستثنی زید دي د غه حکم د راتلو د زید نه

منفي دي دويم مثال لكه ماجاءني القوم الازيداً دقوم نه حكم منفي دي اودزيد دپاره ثابت دي خلاصه دا شوه كچري حكم دمستثنى منه اجاباً وي نو حكم دمستثنى به سلباً وي اودويم صورت په عكس ددي دتعريف نه بعد دمستثنى تقسيم كوي چې المستثنى على قسمين (۱) مستثنى متصله (۲) مستثنى منفصله يا منقطعه وجه دهريو داده چې دا مستثنى به خالي نوي يا به مستثنى په مستثنى منه كې داخله نوي پدي شان سره چې په حروفو استثنائيه سره دهغى اخراج شوي وي يا به مستثنى په مستثنى منه كې داخله وي نو البته هسې به ذكروي بعد دالا واخوات نه دپاره دخروج (وحكمه اجاباً وسلباً) يا ددخول او بيا برابره خبره ده كه مستثنى دجنس دمستثنى منه نه وي اوكه نوي لكه مثال په طور جاءني القوم الازيداً دا مثال د اول قسم دپاره دي يعني زيد دالانه مخكې په قوم كې داخل وو مگر بعد الامستثنى شو اودا خبره ضروري نه ده چې زيد دقوم دجنس نه خامخا اوگرزي بلكه داهم كيدي شي چې زيد دبل كلى وي او په دغه قوم كې اسم دزيد نه وي پس داصورت ددويم قسم مستثنى دپاره هم كيدي شي ياجاءني القوم الاحماراً پدي مثال كې حمار په قوم كې داخل هم نه دي اودقوم دجنس نه هم نه دي خلاصه فرق په دواړو كې دادي - په مستثنى متصله كې دخول دمستثنى په مستثنى منه كې يقيني وي او په مستثنى منفصله كې دخول دمستثنى په مستثنى منه كې غيريقيني مثلاً زيد په دخول كې يقيني دي اوحمار غيريقيني دي.

اعراب دمثنى

وَاعْلَمْ أَنَّ إِعْرَابَ الْمُسْتَثْنٰى عَلٰى أَرْبَعَةِ أَقْسَامٍ فَإِنْ كَانَ مُتَّصِلًا وَقَعَ بَعْدَ إِلَّا فِيْ كَلَامٍ مُوْجَبٍ أَوْ مُنْقَطِعًا كَمَا مَرَّ أَوْ مُقَدَّمًا عَلَى الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ نَحْوُ مَا جَاءَنِيْ إِلَّا زَيْدًا أَحَدٌ أَوْ كَانَ بَعْدَ خَلَا وَعَدَا عِنْدَ الْأَكْثَرِ وَبَعْدَ مَا خَلَا وَمَا عَدَا وَلَيْسَ وَلَا يَكُوْنُ نَحْوُ جَاءَنِي الْقَوْمُ خَلَا زَيْدًا الخ كَانَ مَنْصُوْبًا:

ترجمه پوئې شه چه اعراب د مستثنى په څلور قسمه ده كچرته مستثنى متصل وى دا به واقع كيږى پس د الا نه په كلام موجب كښ يا به منقطع وى لكه تيرشو يا به مقدم وى په مستثنى منه باندي لكه (مَاجَاءَنِيْ إِلَّا زَيْدًا أَحَدٌ) او د اكثرو په نزد دا به واقع كيږى پس د (خَلَا وَعَدَا) او (مَاخَلَا وَمَاعَدَا) او لَيْسَ او لَا يَكُوْنُ لكه (جَاءَنِي الْقَوْمُ خَلَا زَيْدًا) الخ دا به منصوب وى

تشريح: پدي وعلم كې مصنفؒ دمستثنى اعراب ذكركوي پدي واعلم كې دا عراب په بناء سره دمستثنى څلورنوعي دي اجمالاً او بيا په هره نوعه كې نور اقسام دي پس په اوله نوعه كې شپږ

Maktaba Tul Ishaat.com

اقسام د مستثنٰی منصوب دي اوله نوعه اول پیجندل ضروري دي د کلام موجب او غیر موجب پس کلام موجب دیته وایې چې نفي نهی او استفهام وغیره په کې نه وي راغلی او کلام غیر موجب دیته وایې چې دغه په کې راغلی وي.

(١) هغه مستثنٰی چې متصله وي او واقع وي بعد د اِلّا نه فقط په کلام موجب کې پس دا قسم مستثنٰی به منصوبه وي.

(٢) هغه مستثنٰی چې منفصله وي او واقع وي بعد د اِلّا نه فقط په کلام موجب کې پس دا قسم مستثنٰی به منصوبه وي.

(٣) هغه مستثنٰی چې مقدمه وي په مستثنٰی منه باندي واقع وي پس د الّا نه فقط په کلام موجب کې پس دا قسم مستثنٰی به منصوبه وي.

(۴) هغه مستثنٰی چې واقع وي بعد د خلا او عدا نه په کلام موجب کې پس دا قسم به منصوبه وي د اکثرو نحاتو په مذهب.

(۵) هغه مستثنٰی چې واقع وي بعد د ماخلا، ماعدا، لیس او لایکون په کلام موجب کې پس دا قسم به منصوب وي. دا د مستثنٰی اوله نوعه ده په اعتبار د اعراب سره او دا شپږ صورتونه دي پس اولني دري اقسام ځکه منصوب دي چې په دغه دریو صورتونو کې مستثنٰی مشابه ده د مفعول به سره ای منصوبٌ بنابر تشبیه بالمفعول به څلورم صورت چې بعد د خلا و عدا واقع وي دا به منصوبه وي بنابر مفعولیت د اکثرو په نزد باندې ځکه چې په خلا او عدا باندي ماٰمصدریه داخلیږي او ماٰمصدریه داخلیږي په افعالو د فعل ماضی باندي نو خلا او عدا هم افعال دي او دا دي مابعد فاعل دي او مستثنٰی ورله مفعول به ده او مفعول به منصوب وي بنابر مفعولیت په پنځم صورت کې به مستثنٰی منصوب وي د ټولو نحویانو په نزدیک.

(٦) په شپږم صورت کې په مستثنٰی منصوبه وي بنابر خبریت دا ځکه چې لیس او لایکون افعال ناقصه دي او ضمائر یې کښې اسماء دي پس دغه اسماء به سره د دخېلو افعالو نه مبتدا او گرزي او مستثنٰی به خبر شي او خبر منصوب وي بنابر خبریت.

وَاِنْ كَانَ بَعْدَ اِلَّا فِيْ كَلَامٍ غَيْرِ مُوْجَبٍ وَهُوَ كُلُّ كَلَامٍ يَكُوْنُ فِيْهِ نَفْيٌ وَ نَهْيٌ وَاسْتِفْهَامٌ وَالْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ مَذْكُوْرٌ يَجُوْزُ فِيْهِ الْوَجْهَانِ اَلنَّصْبُ وَالْبَدَلُ عَمَّا قَبْلَهَا نَحْوُ مَا جَاءَنِيْ اَحَدٌ اِلَّا زَيْدًا وَاِلَّا زَيْدٌ:

ترجمه: کچرته مستثنٰی پس د الا نه وی په کلام غیر موجب کښ (دا هر هغه کلام دی چه

پدي کښې نفي نهي استفهام وي) او مستثنى منه مذکور وي نو جائز دي پدي کښې دوه وجهې
پدي کښې نصب او بل د الا نه ما قبل بدل لکه (مَا جَاءَنِي اَحَدٌ اِلَّا زَيْدًا وَاِلَّا زَيْدٌ).

تشريح: دا د اعراب د مستثنى دويمه نوعه ده. چې کله مستثنى واقع وي پس د الا نه فقط او مستثنى منه مذکور وي نو پدي صورت دوه وجهان جائز دي يو نصب بنا بر استثنائيت يا تشبيه بالمفعول به بله وجه چې مستثنى بدل واقع وي د مستثنى منه نه پس مرفوعه به وي لکه مثال ماجاءني الازيداً او الازيدٌ هم جائز دي بنا بر بدليت.

وَاِنْ كَانَ مُفَرَّغًا بِاَنْ يَّكُوْنَ بَعْدَ اِلَّا فِيْ كَلَامٍ غَيْرِ مُوْجَبٍ وَالْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ غَيْرُ مَذْكُوْرٍ كَانَ اِعْرَابُهٗ بِحَسَبِ الْعَوَامِلِ تَقُوْلُ مَا جَاءَنِيْ اِلَّا زَيْدٌ وَمَا رَاَيْتُ اِلَّا زَيْدًا وَمَا مَرَرْتُ اِلَّا بِزَيْدٍ:

ترجمه: کچرته مستثنى مفرغ وي د الا نه پس په کلام غير موجب کښې وي او مستثنى منه مذکور نه وي نو د دي اعراب به د عواملو مطابق وي لکه ته اووائې (مَا جَاءَنِيْ اِلَّا زَيْدٌ وَمَا رَاَيْتُ اِلَّا زَيْدًا وَمَا مَرَرْتُ اِلَّا بِزَيْدٍ).

تشريح: دا د اعراب د مستثنى دريمه نوعه ده. چې کله مستثنى واقع وي پس د الا نه فقط په کلام غير موجب کې چې دغه مستثنى مفرغه وي نو په دي صورت کې به اعراب د مستثنى حسب عوامل وي لکه ماجاءني الازيدٌ ومارايت الازيداً او مامررت الابزيدٍ مستثنى مفرغه ديته وايي چې مستثنى منه محذوفه وي او عامل د عمل د مستثنى منه نه فارغ وي مستثنى ته پس کچري عامل رافعه وي نو مستثنى به مرفوعه او که عامل ناصب وي نو مستثنى به منصوبه وي او که عامل جاره وي نو مستثنى به مجروره وي. يعني د عواملو مطابق به پري اعراب راځي.

وَاِنْ كَانَ بَعْدَ غَيْرٍ وَسِوٰى وَسَوَاءٍ وَحَاشَا عِنْدَ الْاَكْثَرِ كَانَ مَجْرُوْرًا نَحْوُ جَاءَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ وَسِوٰى زَيْدٍ وَسَوَاءَ زَيْدٍ وَحَاشَا زَيْدٍ:

ترجمه: کچرته مستثنى بغير د سوى سواء او حاشا نه واقع شي نو هغه به مجرور وي لکه (جَاءَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ) او (سِوٰى زَيْدٍ وَسَوَاءَ زَيْدٍ وَحَاشَا زَيْدٍ).

تشريح: څلورم قسم د مستثنى د اعراب دادي چې کله مستثنى واقع وي، پس د غير، سواى، سوىٰ او حاشا نه دا به مجروره وي عند الاکثر. او وجه يې داده چې دا حروف مضاف کيږي مابعد ته چې مستثنى ده پس مستثنى منه به ورله مضاف اليه شي او کله مضاف اليه مجرور عند الاکثر نه مراد دادي چې غير، سوى، سواء او حاشا حروف جاره دي او بعض وايي

چې حاشا بعد تري مستثنی وي دا به منصوبه وي ځکه چې دوی حاشا د خلا او عدا د قبیلی نه گرزولی دي او دا افعال دي.

وَاعْلَمْ اَنَّ اِعْرَابَ غَيْرٍ كَاِعْرَابِ الْمُسْتَثْنٰى بِاِلَّا تَقُوْلُ جَاءَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ وَغَيْرَ حِمَارٍ وَمَا جَاءَنِيْ غَيْرَ زَيْدٍ نِ الْقَوْمُ وَمَا جَاءَنِيْ اَحَدٌ غَيْرُ زَيْدٍ وَغَيْرَ زَيْدٍ وَمَا جَاءَنِيْ غَيْرُ زَيْدٍ وَمَا رَأَيْتُ غَيْرَ زَيْدٍ وَمَا مَرَرْتُ بِغَيْرِ زَيْدٍ:

ترجمه: پوئي شه چه اعراب د غیر په شان د اعراب د الا دي لکه ته او وائی (جَاءَنِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ وَغَيْرَ حِمَارٍ وَمَا جَاءَنِيْ غَيْرَ زَيْدٍ نِ الْقَوْمُ وَمَا جَاءَنِيْ اَحَدٌ غَيْرُ زَيْدٍ وَغَيْرَ زَيْدٍ وَمَا جَاءَنِيْ غَيْرُ زَيْدٍ وَمَا رَأَيْتُ غَيْرَ زَيْدٍ وَمَا مَرَرْتُ بِغَيْرِ زَيْدٍ)

تشریح: پدي واعلم کې مصنفؒ د غَیْرُ اعراب ذکر کوي ځکه چې لفظ د غیر اسم دي یعني اعراب پرې ظاهریږي او علاوه از ین باندي اعراب نه ځکاره کیږي په مخکینی واعلم کې د غیر د مستثنی اعراب ذکر شو او اوس پخپله اعراب ذکر کیږي پس چې مستثنی بعد الا نه واقع وي برابره خبره ده که متصله وي او که منقطعه وي او که صورت د تقدیم د مستثنی په مستثنی منه باندي وي په کلام موجب کې نو هغه مستثنی به منصوبه وي پس غیر به هم د غه شان منصوب وي او کچري مستثنی بعد الا په کلام غیر موجب کې واقع وي نو د هغې چې څنگه اعراب وي هغه به د غیر هم وي. (ای وجهان) کچري مستثنی مفرغه وي نو د غیر اعراب به هم علی حسب العوامل وي خلاصه دا شوه چې څنگه د مستثنی د اعرابو خلور صورتونه دي هم د غه شان د غیرُ د اعرابو خلور اقسام جوړیږي او دا لفظ د غیرُ به سره د خپل مضاف الیه نه مستثنی گرزي.

وَاعْلَمْ اَنَّ لَفْظَةَ غَيْرٍ مَوْضُوْعَةٌ لِلصِّفَةِ وَقَدْ تُسْتَعْمَلُ لِلْاِسْتِثْنَاءِ كَمَا اَنَّ لَفْظَةَ اِلَّا مَوْضُوْعَةٌ لِلْاِسْتِثْنَاءِ وَقَدْ تُسْتَعْمَلُ لِلصِّفَةِ كَمَا فِيْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى لَوْ كَانَ فِيْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا اَيْ غَيْرُ اللّٰهِ وَكَذٰلِكَ قَوْلُكَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ:

ترجمه: پوئي شه چه لفظ د غیر صفت لپاره وضع کړي شوي ده او کله استثناء لپاره هم استعمالیږی، څرنگه چه لفظ د الا په اصل کښ استثناء لپاره وضع کړي شوي هم د غه رنگی کله صفت لپاره هم استعمالیږی لکه د الله تعالی دا قول (لَوْ كَانَ فِيْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا) یعنی غیر الله هم د غه رنگی ستا دا قول (لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ) هم دي

تشریح: پدي واعلم کې مصنفؒ د غَیْرُ دوه معنی بیانې او د غه شان د الا هم دوه معنی

ذکرکوي یوه معنی اصلي ، لغوي ، حقیقي یاوضعي اوبله معنی استعمالی . معنی وضعي دغیرٌ غیروضع شوي دي دپاره دصفتیت یعني دي به دماقبل دپاره صفت واقع کیږي ځکه چې غیرٌ دلالت کوي په ذات مبهم باندي داسې ذات مبهم چې ملحوظ وي سره دبعضو صفاتو نه معنی استعمالی لفظ دغیرٌ استعمالیږي دپاره داستثنائیت داپه هغه صورت کې چې کله دالاخپله معنی متعذره شي اوغیرٌ داستثناد پاره ځکه استعمالیږي چې غیرٌ دمغائرت نه ماخوذده پس دي حکم دمستثنی دمستثنی منه مغائر کوي یعني دالاسره یې مناسبت دي معنی وضعي دالاً . الاوضع شوي ده دپاره داستثنائیت یعني داالاّبه په حقیقت کې دمستثنی حکم دمستثنی منه نه منع کوي معنی استعمالی دالاً . دالااستعمالی معنی داده چې کله کله الاپه معنی دغیرٌ صفتی سره مستعملیږي داپه هغه صورت کې چې کله دالاخپله معنی متعذره شي پس زده کړه داخبره چې دالاخپله معنی به په هغه صورت کې متعذره وي چې کله الاواقع شي پس دجمعی منکری غیرمحصوري نه (یعني چې هغه جمع نکره وي اوافرادیې محدودنوي) پس الابه په معنی دغیرصفتي سره ګرزي لکه مثال وضعي دالاً .

جاءنی الرجال الازید (دالاخپله معنی داستثنائیت متعذره ده ۱۲) رجال جمع نکره ده اوغیرمحصوره ده پس داالاپه معنی دغیرٌ صفتی سره دي ای غیرَ زیداً چې غیرٌ په معنی دالاسره وي لکه جاءنی القوم غیرُزیدٍ . القوم جمع ده اومعرفه ده اومحصوره د، پس په دي صورت کې دغیرُخپله صفتی معنی متعذره ده پدي شان سره چې القوم دزید دپاره موصوف نشي جوړیدي ځکه چې القوم معرفه ده اوغیرنکره ده نودموصوف اوصفت په مابین کې مطابقت نه جوړیږي اوداغیردومره مبهم دي کچري اضافت یې معرفی ته اوشي یعني زیدته نوبیاهم نه معرفه کیږي پس دغیرخپله معنی متعذره شوه اوپه معنی دالاسره ده ای الازیداً خلاصه داده چې دغیرخپله معنی وضعي صفتیت دي اودالاخپله معنی استثنائیت دي نوکله غیرپه معنی دالاسره مستعملیږي اوکله الاپه معنی دغیرصفتی سره مستعملیږي مثال کقوله تعالی لَوْكَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللهُ لَفَسَدَتَا ای غیرالله پدي مثال کې دآلاخپله معنی متعذره ده اودتعذردپاره وجه داده چې دالانه مخکې جمع منکره غیرمحصوره ده چې آلِهَةٌ ده اوکچري الاپه معنی داستثناء سره شي نومستثنی متصله اومستثنی منقطعه دواړه غیرصحیح دي ځکه چې آلِهَةٌ جمع منکره غیرمحصوره ده نوپس داهم ممکنه ده چې الله په الهة کې داخل نوي اوداهم ممکنه ده چې خارج هم نوي دآلِهَةٌ دا دواړه احتمالات نه صحیح کیږي . پس معلومه شوه چې الاپه معنی دغیرسره ده اودغه شان لااله الاالله ده

لانفي ده او اله د ډیرو معبودانو ته وایې یعني بوتانو وغیره ته وبلی کیږي او د اجمع نکره غیر محصوره ده پس دلته هم دواړه احتمالین غیر صحیح دي پس الا په معنی د غیر سره دي ای غیر الله.

نهم قسم خبر کا ن

فَصْلٌ: خَبَرُ كَانَ وَأَخَوَاتِهَا هُوَ الْمُسْنَدُ بَعْدَ دُخُولِهَا نَحْوُ كَانَ زَيْدٌ قَائِماً وَحُكْمُهُ كَحُكْمِ خَبَرِ الْمُبْتَدَاءِ إِلَّا أَنَّهُ يَجُوزُ تَقْدِيمُهُ عَلَى أَسْمَائِهَا مَعَ كَوْنِهِ مَعْرِفَةً بِخِلَافِ خَبَرِ الْمُبْتَدَأِ نَحْوُ كَانَ الْقَائِمُ زَيْدٌ:

ترجمه: دا فصل په بیان د کان او اخواتو د دي کښې دی خبر هغه مسند ده چه داخلیږي پس له کان اخواتو ددی نه لکه (كَانَ زَيْدٌ قَائِماً) او حکم د دی پشان د حکم د مبتدا د خبر دی جائز ده خبر مقدم کول په آسماء د کان او اخواتو باندی، باوجود ددی نه چه دا به معرفه وی بخلاف: مبتدا د خبر نه لکه (كَانَ الْقَائِمُ زَيْدٌ)

تشریح: نهم قسم د منصوباتو نه خبر د افعال ناقصو ده دا هغه مسند الیه دي چې داخلیږي پس د دخول د افعال ناقصو نه لکه کان زید" قائماً .قائماً خبر دي او منصوب دي .اتر مرتبه د خبر د افعال ناقصو دا دي چې کوم احکام د خبر المبتداء دي هم هغه احکام دده د پاره دي البته دده تقدیم جائز دي په خپلو اسماؤ باندي پدي شرط سره چې په حال د معرفی کې وي لکه کان القائم زید. په خلاف د خبر المبتداء ځکه چې خبر د مبتدا الایجوز تقدیمه علی اسمائها بدون الظرف .یعني خبر د مبتدا په هغه صورت کې مقدم وي چې کله ظرف واقع شي لکه فی الدار زید" او خبر د افعالو ناقصو د پاره دا شرط دي چې معرفه وي لکه کان القائم زید" د دي د پاره په خلاف د خبر المبتدا. حکم په صفحه ۷۸ دي

لسم قسم د اسم انّ

فصل: إِسْمُ إِنَّ وَأَخَوَاتِهَا هُوَ الْمُسْنَدُ إِلَيْهِ بَعْدَ دُخُولِهَا نَحْوُ إِنَّ زَيْداً قَائِمٌ.

ترجمه: لسم قسم د منصوباتو نه اسم دَ حروف مشبه (حروف مشبه بالفعل ان بان کانَّ لیت لکن لعل ناصب اسمند ورافع در خبر ضد ما ولا ۱۳) بالفعل دي او دا هغه مسند الیه دي چې واقع وي پس د دخول د حروف مشبه بالفعل نه لکه إِنَّ زَيْداً قَائِمٌ او د تقدیم او د تاخیر قواعد په صفحه ۷۹ باندي استقرفی المطلوب الخیر.

يولسم قسم المنصوب

فَصْلٌ: اَلْمَنْصُوْبُ بِلَا الَّتِيْ لِنَفْيِ الْجِنْسِ هُوَالْمُسْنَدُ اِلَيْهِ بَعْدَ دُخُوْلِهَا يَلِيْهَا نَكِرَةً مُضَافَةً نَحْوُ لَاغُلَامَ رَجُلٍ فِي الدَّارِ اَوْمُشَابِهًا لَهَا نَحْوُ لَاعِشْرِيْنَ دِرْهَمًا فِي الْكِيْسِ:

ترجمه: دا فصل ده په بیان د هغه اسم کښې چه منصوب کړې شوی وی په واسطې دلا، نفی جنس سره او دا مسند الیه وی ورسته د دخول دلاء نفی جنس نه، پداسې حال کښې چه دې سره به یو داسې نکره یو ځائې شوی وی چه هغه مضاف وی لکه (لَاغُلَامَ رَجُلٍ فِي الدَّارِ) یا شبه مضاف وی لکه (لَاعِشْرِيْنَ دِرْهَمًا فِي الْكِيْسِ)

تشریح: يوولسم قسم دمنصوباتو نه اسم دلالنفي الجنس ده داهغه اسم دي چې متصل دلاسره وي (احترازراغی دمنفصل نه) اونکره مضافه وي یاشبه مضافه وي پس داشروط ثلاثه دي چې کله داپه اسم دلالنفي الجنس کښې منتفی شي نومنصوب به وي یعني مطلقامنصوب نه دي بلکه په بعضواحوالوکښې به مبنی برفتح یاماقبل مکسورسره وي اوکله به مرفوع وي اودادعتراض ددفعي دپاره وجه هم کیدي شي کچرې تعبیرېې اسم لالنفي الجنس سره کړې وي نوبیابه دامعلومیده چې اسم دلالنفي الجنس به په تماموا حوالوکښې منصوب وي نومصنفؒ ځکه تعبیریه المنصوب سره کړیدي زده کړه داخبره چې په لالنفي الجنس اوپه لابمعنی لَيسَ کښې فرق دادي چې لالنفي الجنس راځي دپاره دنفي دجنس یادماهيّت دشې. یعني دتمام جنس نفي به کرزي. اولابمعنی دپاره دیوفرددغه جنس نه یادماهیت یعني دجنس نه به یوفردمنفي کړي فرق دامثال کښې واضح دي لکه لَارَجُلَ فِى الدار کچرې لالنفي الجنس شي نومعنی به بې داشي چې هیڅ یوکس نشته په کورکښې یعني دتمام جنس نفي ده. کچرې لابمعنی لیس شي نومعنی به بې داشي چې یوفردپه کورکښې نشته. دیلیهامعنی داده چې حال کون ددغه اسم کښې چې متصل وي دلالنفي الجنس پدي سره احترازراغی دمنفصل نه نکرةً. په حال کون ددغه اسم کښې چې نکره وي پدي سره احترازراغی دمعرفي نه. مضافةً اوشبه مضافةً پدي سره احترازراغی دهغه مضاف نه چې معرفه وي یانکره وي لیکن منفصله وي یانکره وي لیکن مضافه نوي. مثال دمتصلي نکري مضافي دادي لاغلام رجل فی الدار. غلام اسم دلالنفي الجنس دي اوتعریف پرې صادق دي. مثال دشبه مضاف دپاره. لاعشرين درهمًافي الكيس (بټوه) عشرين شبه مضاف دي

Maktaba Tul Ishaat.com

او منصوب دي په یا یې ما قبل کسری سره

فَإِنْ كَانَ بَعْدَ لَا نَكِرَةً مُفْرَدَةً تُبْنٰى عَلَى الْفَتْحِ نَحْوُ لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ:

ترجمه: کچرته د لا نه پس نکره مفرده وی نو دا به مبنی په فتحې سره وی لکه (لَارَجُلَ فِي الدَّارِ)

تشریح: پدي عبارت کې دَ مصنفؒ غرض دادي چې دقیودا توثلاثومذکوروفوائدبیانی اول انتفاء دآخري قیدبیانی چې مضاف وي یاشبه مضاف وي اودویم نمبرانتفاء دنکري بیانی اودریم نمبرانتفاء دیلیها بیانوی خلاصه داده چې مصنف په عکس دمذکوروقیوداتوفوائدبیانی اوله فائده دشرط ثالث ده که چیری اسم دلالنفي الجنس مضاف اوشبه مضاف نوي اونکره مفرده وي نوپدي صورت کې مبنی برفتح وي ځکه چې انتفاء دشرط ثالث راغلی ده. لکه لارجل فی الدارپه رجل کې اګرچې اولنی دواړه شرطونه موجوددي یعني نکره ده اومتصله ده لیکن شرط ثالث په کې نشته اوداځکه مبنی دي چې دي متضمن دي دمنْ استغراقیه دپاره اومن استغراقیه مبنی لاصل ده یعني حرف اوجُمله حروف مبنی الاصل دي پس تقدیریې دادي لامنْ رجلٍ فی الداردادتبنی علی الفتح دپاره دلیل دي

وَإِنْ كَانَ مَعْرِفَةً أَوْ نَكِرَةً مَفْصُولًا بَيْنَهُ وَبَيْنَ لَا كَانَ مَرْفُوْعًا وَيَجِبُ تَكْرِيْرُهُ مَعَ اِسْمٍ اٰخَرَ تَقُوْلُ لَا زَيْدٌ فِي الدَّارِ وَلَا عَمْرٌو وَلَا فِيْهَا رَجُلٌ وَلَا امْرَأَةٌ:

ترجمه: کچرته معرفې او نکرې په مینځ کښ څه شی راغلي وی نو دا معرفه اونکره به مرفوع وی، او که چیرته د نه پس بل اسم راغلي وی نو پدی باندي به ئې ور عطف کړی او دي سره د لاء نفي جنس مکرر کول واجب دي لکه (زَيْدٌ فِي الدَّارِ وَلَا عَمْرٌو وَلَا فِيْهَا رَجُلٌ وَلَا امْرَأَةٌ)

تشریح: پدي عبارت کې دبقیه دوه شرطونو دانتفاء بحث دي سره دامثلونه ونه پس که چیری اسم دلالنفي الجنس معرفه وي اویانکره وي خومتصله نوي نوپه دواړوصورتونو کې به اسم دلالنفي الجنس مرفوع وي اوبیالابدي ده دتکرار دیګر دلانه چې راوړی کیږي به پس دا اسم دیګرنه پس ددي نه بعدبه اسم دلالنفي جنس مرفوع وي. مثال دشرط ثاني دانتفاء دپاره دادي لازیدٌفی الداروﻻعمروٌ زیدٌ معرفه ده اګرچې متصله ده اومضافه ده لیکن معرفه ده پس زیدٌ مرفوع دي سره دلادیګرنه چې واقع دي بعد دا اسم دیګرنه مخکې اوعمروهم مرفوع دي مثال دشرط اول دانتفاء دپاره ولافیهارجلٌ ولاامرأةٌ رجل اګر چې نکره ده لیکن متصله نه ده پس مرفوع دي

وَيَجُوْزُ فِي مِثْلِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ خَمْسَةُ أَوْجُهٍ فَتْحُهُمَا وَرَفْعُهُمَا وَفَتْحُ الْأَوَّلِ وَنَصْبُ

الثَّانِيْ وَفَتْحُ الْأَوَّلِ وَرَفْعُ الثَّانِيْ وَرَفْعُ الْأَوَّلِ وَفَتْحُ الثَّانِيْ۔

ترجمه: (لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ) دي شان مثالونو کښې پنځه وجه جائزي دي (۱) دواړه فتحى سره وئيل (۲) دواړه رفع سره وئيل (۳) اول فتحى سره دويم نصب سره وئيل (۴) اول فتحى سره دويم رفع سره وئيل (۵) اول رفع دويم فتحى سره وئيل

(۱) لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ په اول صورت کې دواړه مبنى برفتح دي۔

(۲) لَاحَوْلٌ وَلَاقُوَّةٌ اِلَّا بِاللّٰهِ په دويم صورت کې دواړه مرفوع دي بنابر ابتدائيت.

(۳) لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةً اِلَّا بِاللّٰهِ په دريم صورت کې حولَ مبنى برفتح دي او قوةً منصوب دي

(۴) لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةٌ اِلَّا بِاللّٰهِ په څلورم صورت کې حولَ مبنى برفتح دي او قوةٌ مرفوع دي۔

(۵) لَاحَوْلٌ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ په پنځم صورت کې حولٌ مرفوع دي او قوةَ مبنى برفتح دي.

تشريح: پدي کې په اعتبار د اعراب سره پنځه وجوهات جائز دي (۱) **اوله وجه** داده چې دواړه مبنى برفتح شي داپه دي اعتبار سره چې حولَ نکره مفرده ده او قوةَ هم نکره مفرده ده او واو عاطفه دي پس په دواړو صورتونو کې به اسم او ګرزي دخبر مقدر دپاره اى لاحولَ ولاقوةَ موجودان الا بالله پس دواړه مبنى برفتح دي۔ (۲) **دويمه وجه** داده چې دواړه مرفوع أو ويلى شي داپه دي اعتبار سره چې په دواړو ځاينو کې لاملغاة العمل وي يعني عمل به نکوي او نفي دتاکيد دپاره به مستعمل وي پس حولٌ او قوةٌ به مرفوع شي بناء برابتدائيت . او خبر يې مقدم دي على هذا القياس (۳) **دريمه وجه** داده چې اول به مبنى برفتح وي او قوةً به منصوب وي پدي اعتبار سره چې حول نکره مفرده ده او لالنفي الجنس دي نو دا به مبنى برفتح وي او قوةً ځکه منصوب دي چې لاملغاة العمل دي او دتاکيد دنفي دپاره دي او قوةً عطف دي په لفظ دحولَ باندي يعني حولَ مفتوح دي پس قوةً منصوب دي په دغه اعتبار سره

نوټ: دحول دوه مرتبې دي يو محل دحول دي او بل لفظ دحول پس محل دحول ابتدائيت دي او مبتدا مرفوعه وي (۴) **څلورمه وجه** اول حولَ مبنى برفتح دي او قوةٌ مرفوع دي بنابر ابتدائيت پدي اعتبار سره چې لام ثاني ملغاة العمل دي دپاره دنفي دتاکيد او قوةٌ عطف دي په محل دحول باندي او محل دحول ابتدائيت دي په رفعى سره نو قوةٌ هم مرفوع او ګرزيد (۵) **پنځمه وجه** داده چې حولٌ مرفوع دي او قوةَ مبنى برفتح دي پدي اعتبار سره چې لا اول به مشابه دلَيْسَ سره شي نو حولٌ به اسم دلا بمعنى لَيْسَ مرفوع شي او په قوةَ کې به

لالنفي الجنس شي اونکره مفرده ده نوځکه مبني برفتح شو .زده کړه داخبره چې کله لاقوة په لاحول باندي عطف شي نو بيا دي صورت کې خبرمقدرراځي پس دقوة نه ای لاحول قوة موجودان الابالله اوکه چيرې دواړه مستقلي جملي واغستی شي نوبيا دي صورت کې به دحول دپاره ځان له خبرمقدم راځی اودقوة دپاره به ځان له خبرمقدم راځي لکه لاحول موجودٌ ولاقوة موجودٌ الابالله ويجوزفی مثل لاحول الخ .ددي عبارت مطلب دادي چې داپنځه واړه توجيهات په هرهغه ځايې کې جائزدي چې هغه په مثل دلاحول وي اومثل دلاحول نه مرادهر هغه ترکيب دي چې هلته لامکررراغلی وي سره دتکرارداسم ديگرنه په طريقي دعطف سره.

نوټ: چې حولٌ اوقوةٌ دواړه مرفوع شي نوبيا دي صورت کې به لاملغاة العمل وي يعني عمل به نکوي اودنفي دتاکيددپاره به راغلي وي ددي دپاره داقرينه ده چې سائل تپوس کوي نومطلب يې داوي چې حولٌ ولاقوةٌ الابالله ای لاحولَ عَنِ الْمَعْصِيَةِ ولاقوةَ علَى الطَّاعَةِ الابالله يعني نشته اوړيدل دګناه نه اوقوت په اطاعت نشته مګربه الله سره پس دابې معنی ده اوبه لاملغات العمل باندي.

وَقَدْ يُحْذَفُ اِسْمُ لَالِقَرِيْنَةٍ نَحْوُلَاعَلَيْكَ اَیْ لَابَأْسَ عَلَيْكَ:

ترجمه: او کله به اسم د لا قرينې دوجه نه حذف کيږی لکه (لَاعَلَيْكَ اَیْ لَابَأْسَ عَلَيْكَ)

تشريح: په دي عبارت کې مصنف يوه قاعده ذکرکوي چې کله قرينه موجوده وي نوهلته حذف داسم دلا جائزدي لکه مثلاً لَاعَلَيْكَ ای لاباس عليك دلته قرينه داده چې لاهم حرف دي اوعلی هم حرف دي اوحرف په بل حرف نشي داخليدي پس معلومه شوه چې اسم بې محذوف دي يعني لاباسَ عليك هيڅ باك نشته په تاباندي اوداتسلی الفاظ دي يعني بل ته تسلي ورکول چې مه خفه کيږه.

دولسم قسم خبرماولاالمشبهتين

فصل: خَبَرُمَاوَلَاالْمُشَبَّهَتَيْنِ بِلَيْسَ هُوَالْمُسْنَدُ بَعْدَ دُخُوْلِهِمَانَحْوُمَازَيْدٌقَائِمًا وَلَارَجُلٌ حَاضِرًا:

ترجمه: خبر د (مَاوَلَاالْمُشَبَّهَتَيْنِ بِلَيْسَ) دا به مسند وی پس د داخليدلو د دي دواړو نه لکه (مَازَيْدٌقَائِمًاوَلَارَجُلٌ حَاضِرًا)

تشريح: ليس هو المسند بعد دخولهانحو مازيد قائماولارجل حاضرا .دولسم (آخري) قسم دمنصوباتونه خبردماولادي هغه ماولاچې مشابه دي دليس سره يعني ځنګه چې لَيسَ دنفي

د پاره مستعمليږي دغه شان ما او لا دي او څنګه چې ليس په مبتدا او خبر داخليږي دغه شان ما او لا دي او څنګه چې ليس مبتدا ته رفع ورکوي او خبر خپل ته نصب ورکوي دغه شان ما او لا عمل کوي پس ددي نه زده کړه داخبره چې په عمل د ما او لا کې اختلاف دي په مابين ددوه مذهبونو کې يو مذهب د اهل حجازيينو دي او بل مذهب د بنو تميمو دي . اهل حجازيين په عمل د ما او لا قائله دي او بنو تميم په عمل د ما او لا قائله نه دي

مذهب د اهل حجازيينو دوي وايي چې ما او لا عمل کولی شي البته دري مواضع داسې دي چې هلته ما او لا ملغاة العمل ګرزي يعني عمل به نه شي کولی

وَاِنْ رَفَعَ الْخَبَرُ بَعْدَ اِلَّا نَحْوُ مَا زَيْدٌ اِلَّا قَائِمٌ اَوْ تَقَدَّمَ الْخَبَرُ عَلَى الْاِسْمِ نَحْوُ مَا قَائِمٌ زَيْدٌ اَوْ زِيْدَتْ اِنْ بَعْدَ مَا نَحْوُ اِنْ زَيْدٌ قَائِمٌ بَطَلَ الْعَمَلُ كَمَا رَأَيْتَ فِي الْاَمْثِلَةِ وَهٰذِهٖ لُغَةُ اَهْلِ الْحِجَازِ:

ترجمه: کچرته خبر پس د الا نه واقع وی لکه (مَا زَيْدٌ اِلَّا قَائِمٌ) یا خبر به په اسم باندي مقدم وی لکه (مَا قَائِمٌ زَيْدٌ اَوْ زِيْدَتْ) یا ما نه پس ان زائده ئي راوړي وی. لکه ان زَيدٌ قَائِمٌ پدي وخت کښي به عمل د مَا او لا باطل شی لکه څرنګه چه تا په مثالونو کښي اولیدل او دا لغت د اهل حجازو دي

تشريح: پدي عبارت کې مصنف هغه دري مواضع ذکر کوي چې ما او لا په کې ملغاة العمل ګرزي (۱) اوله موضع داده چې خبر د ما او لا واقع شي پس د الا نه لکه مثال ما زيدٌ الا قائمٌ . لارجل الا افضل منك لا عمل کولو نه فارغ دي يعني عمل يې نه دي کړی (۲) دويمه موضع هغه ده چې خبر د ما او لا مقدم شي په اسم د ما او لا باندي پس په دی صورت کې به ما او لا ملغاة العمل ګرزی لکه مثال ما قائمٌ زيدٌ او لا افضل منك رجل (۳) دريمه موضع هغه ده چې د ما او لا نه بعد اَنْ زائده راشي لکه مثال ما ان زيد قائم ولا رجل افضل منك پس په دي دريو صورتونو کې به ما او لا ملغاة العمل ګرزي او ددي نه علاوه به په هره موضع کې ما او لا خپل عمل کوي پشان د ليس . د ما او لا د ملغاة العمل د پاره وجه: په مواضعو ثلاثه کې ما او لا څکه ملغاة العمل ګرزيدلی دي چې ما او لا په عمل کې د ليس سره مشابهت لری او ليس په تمامو مواضعو کې په معنی د نفي سره مستعمل دي پس چې کله د ما او لا معنی د منفيت لری نو عمل به کوي په خپل معمول کې دوجې د مشابهت د ليس سره او که چیری د ما او لا معنی د نفي منقطعه شي نو مشابهت به يې ليس سره قطع شي او معنی د مثبت په کې واقع شي نو پدي صورت کې به ما او لا د واړه ملغاة العمل ګرزي يعني عمل به نه کوي په مواضعو ثلاثو کې پس په اوله موضع کې ما او لا څکه ملغاة العمل ګرزيدلی ده چې معنی د نفي په مثبت کې بدله شوي ده پس د حرف استثناء نه لکه ما زيدٌ الا قائم چې نه دي زيد مګر ولاړ دي پدي

Maktaba Tul Ishaat.com

صورت کې قیام د زید د نفي نه مثبت طرف ته راجع شي پس مشابهت یې دلیس سره ختم شي نو عمل یې هم ختم شي په دویمه موضع کې ماولا ځکه ملغاة العمل ګرزیدلی ده چې کله خبر د ماولا مقدم شي په اسم باندي په دې صورت چونکه ترتیب بدل شي او ماولا په عمل کې ضعیف دي پس دوي عمل نشي کولی مګر په مرتب کې په دریمه موضع کې ځکه ملغاة العمل ګرزیدلی دي چې د دوي او د دوي د معمول په مابین کې اَنْ زائده حرف فاصل واقع شویدي په دې وجه د ما او لا عمل ضعیف شي تر او سه پوري مذهب د اهل حجاز وو.

اَمَّا بَنُوْتَمِيْمٍ فَلَا يَعْمَلُوْنَهُمَا اَصْلًا قَالَ الشَّاعِرُ عَنْ لِسَانِ بَنِيْ تَمِيْمٍ شعر وَمُهَفْهَفِ كَالْغُصْنِ قُلْتُ لَهُ اَنْتَسِبْ فَاَجَابَ مَا قَتْلُ الْمُحِبِّ حَرَامٌ بِرَفْعِ حَرَامٌ.

ترجمه: بنو تمیم د دواړو ته بالکل عمل نه ورکوي ما او لا ته، یو شاعر د بني تمیم نه داسي وئیلي دي چه وَمُهَفْهَفٍ كَالْغُصْنِ قُلْتُ لَهُ اَنْتَسِبْ فَاَجَابَ مَا قَتْلُ الْمُحِبِّ حَرَامٌ نو په دې شعر کښ ما قتل المحب حرام ذکر ده او دا قتل اسم وه لپاره د ما او حرامٌ ورته خبر ده او مرفوع ده باوجود د دې نه چه ما موجود ده او عمل ئې یکښې ندې کړې

تشریح: دوي وایي چې ما ولا عمل نشي کولی او مابعد اسمین به دواړه مرفوع وي بنا بر ابتدائیت او بنا بر خبریت پس بنو تمیم دوه دلائل پیش کوي یو دلیل خارجي دي او بل دلیل شعر د بنو تمیمو دي. دلیل خارجي: د عامل د عمل د پاره شرط اختصاص دي یعني عامل به په هغه صورت کې عمل کوي چې مختص وي په خپل معمول پوري لکه څنګه چې حروف جاره مختص دي په اسماء پوري او نه داخلیږي په افعالو باندي بالکه عوامل جازمه مختص دي افعالو پوري او نه داخلیږي په اسماء. او ما ولا مختص نه دي په یو پوري بلکه په افعالو او اسماء دواړو باندي داخلیږي دوی عمل نشي کولی دلیل شعري: دا شعر دویم دلیل د بنو تمیمو دي

وَمُهَفْهَفٍ كَالْغُصْنِ قُلْتُ لَهُ انْتَسِبْ فَاَجَابَ مَاقَتْلُ الْمُحِبِّ حَرَامٌ

مصنف دا شعر د لغت بنو تمیمو نه راغستی دي په دې کې ما هیڅ عمل نه دي کړی قتل المحبِّ مضاف مضاف الیه مرفوع بنا بر ابتدائیت دي او حرامٌ هم مرفوع بنا بر خبریت دي په لغت د بنو تمیمو کې. دوي وایي کچري ما عمل کولی شوي نو پکار ده چې حراماً منصوب وي په فتحی سره پس معلومه شوه چې ما ولا عمل نشي کولی.

دشعر مطلب وا و په معنی د رُبَّ سره ده او مهفهف په معنی د نازک سره دي یعني ډیر باریک او نازک طبیعت والا محبوب کالغصن ښاخ پشان د څانګې. اِنْتَسِبْ د انتساب نه

دامرصيغه ده په معنی نسب بيانول - قتلُ مصدردي المحب ورله مفعول به ده اوفاعل يې متروك (متروك په معنی ترك كړی شوي اې مقدر) دي اې قتلُ المحبوبُ المحبِّ - ترجمه - اوچې ډيرنازك دي په شان دڅانګی ماورته اووي چې خپل نسب بيان كه پس جواب يې راكه چې قتلول دمحب محبوب لره حرام نه دي

مناسبت بين السوال والجواب: لفظی مناسبت يې دادي چې سائل تپوس اوكړه چې ستاتعلق دكمی قبيلی سره دي په جواب كې حبيب حرامُ مرفوع ذكركړه چې أنَاتَمِيْمِیْ يعني زه د هغه قبيلی يم چې په حرامو كې ماهيڅ عمل نه دي كړی مناسبت معنوي دادي چې مهفهف جواب وركه دقتل دمحب سره دَ اباحت نه يعني سره دجوازنه ګوياداسی جواب يې وركه چې زه دهغه خلقوسره تعلق ساتم چې كوم قتل دمحب مباح ګرزی او هغه خلق معشوقان دي پس معنی يې داشوه چې زه دقبيلی دمحبوبانو نه يم.

ثمره دَاختلاف ثمرهِ داختلاف داده چې داهل حجازيو نومذهب موافق دقرآن پاك سره دي لكه قوله تعالی ماهٰذَا بشرًا مانافيه مشبه بليس دي هذا اسم دما ده اودامرفوع ده محلاً يعني دااسم اشاره (اسماء اشارات دمبنی ياتونه دي ځكه پری اعراب نه ښكاره كيږي) بشرًاخبردمادي اومنصوب ده بنابرخبريت مثالِ ثاني - ماهُنَّ أُمَّهَاتِهِمْ هُنَّ ضميردي مرفوع محلاً داهم دمبنياتونه دي اوامهاتهم منصوب باكسره دي پديشان سره چې داجمع مؤنث سالمه ده اوددي نصب تابع دجروي.

دبنوتميمو داول دليل رَدْ ماولا اګرچې مختص په چاپوري نه ده ليكن دوي عمل دَمشابهت بليس دوجي كوي اولَيْسَ مختص دي په اسماء پوري ځكه لَيْسَ دقبيلی دافعال ناقصونه دي اوافعال ناقصه مختص دي په آسماء پوري

دبنوتميمود دويم دليل رد: شعردليل نشي جوړيدي ځكه چې داشعرپه نعت دبنی تميمو كې نشرشوي دي پكار ده چې دوي دنعت عربی نه يوشعرذكركړی وي پس قوي مذهب دحجازيو نو دي.

المقصدالثالث فی المجرورات

اَلْاَسْمَاءُ الْمَجْرُوْرَةُ هِیَ الْمُضَافُ اِلَیْهِ فَقَطْ وَهُوَکُلُّ اِسْمٍ نُسِبَ اِلَیْهِ شَیْءٌ بِوَاسِطَةِ حَرْفِ جَرٍّ لَفْظًا نَحْوُمَرَرْتُ بِزَیْدٍ:

ترجمه: اسماء مجروره عبارت دی د مضافٌ الیه نه، او مضاف الیه هر هغه اسم دي چه یو شی طرف نسبت وکړي شی بو اسطی د حرف جر سره او هغه حرف جر به لفظاً ذکر وی لکه (مَرَرْتُ بِزَیْدٍ).

تشريح کله چې مصنفؒ فارغ شو دبحث دمنصوباتو نه پس شروع یې او کړه په بحث دمجروراتو کې په الاسماؤالمجرورة کې هغه اعتراضات مع جوابات دي کوم چې په المقصد الاول اوثاني کې دي.

فان قيل مرفوعات او منصوبات چونکه په ډیرو اقسامو مشتمل دي ځکه صيغې دجمعې ذکر شوي دي ليکن دلته مجرورات صيغه دجمعې ذکرده حالانکه دا په یو قسم مشتمل دي چې فقط مضاف اليه ده، ددي دپاره څه وجه ده؟

قلنا: داقول ستاسو صحيح دي چې په تمام نعت عربي کې دمجروراتو فقط يو قسم دي ليکن دا صيغه دجمعې ذکر شوي ده دوجی دموافقت او مشاکلت دمرفوعاتو او منصوباتو سره يعني مجرورات قياس کړی شوي دي په مرفوعاتو او منصوباتو باندي.

فان قيل: دمصنفؒ دعبارت نه دا معلومیږی چې په تمام نعت عربي فقط مضاف اليه مجرور دي حالانکه بعض مواضع داسی دي چې هلته مضاف اليه واقع نوي او باوجودددي نه مجرور ګرزيدلی وي لکه مثال بِحَسْبِكَ زَيْدٌ. زيد مجرور دي حالانکه مضاف اليه واقع نه دي يالکه كَفٰى بِاللهِ الله مجرور دي بدون مضاف اليه. پس عبارت دمصنفؒ غيرصحيح دي.

قلنا مجرورات په دوه قسمه دي يو قسم مجرورات اصلي دي اويل قسم مجرورات پوری لکه مثلاً حروف جاره چې په چاپوری ملحق شي او مجرور شي دوجی دعمل دحرف جرنه پس جواب دا دي چې مصنفؒ مجرور اصلي ذکر کړی دي. چې هغه مضاف اليه دي فقط.

تعريف دمضاف اليه

تعريف دمضاف اليه: دا هر هغه اسم دي (برابره خبره ده: که دغه اسم حقيقتاً وي او که تاويلاً وي)، چې نسبت شوي دي دغه اسم ته دبل شي (برابره خبره که دغه شي اسم وي او که فعل وي)، په واسطی دحرف جرسره (برابره خبره ده که دغه حرف جر لفظاً وي او که تقديراً وي) که چيری

حرف جر لفظاً وي ددي نه نحویان تعبیر په جار مجرور سره کوي لکه مررت بزید با حرف جر لفظاً ذکر دي او دي قسم ته نحویان جار مجرور وایي که چیرې حرف جر تقدیري وي لکه غلام زید ای غلام لزید پس دي قسم ته نحویان مضاف مضاف الیه وایي البته پدي کې امام سیبویه صاحب اختلاف کړيدي دامام سیبویه رایې داده چې ددوارو قسمونو نه تعبیر په مضاف مضاف الیه سره کوي.(۲) ددغه شي نه مراد مضاف دي او مضاف اسم هم واقع کیږي او فعل هم واقع کیږي

وَيُعَبَّرُ عَنْ هٰذَا التَّرْكِيْبِ فِي الْاِصْطِلَاحِ بِاَنَّهٗ جَارٌّ وَمَجْرُوْرٌ اَوْ تَقْدِيْرًا نَحْوُ غُلَامُ زَيْدٍ تَقْدِيْرُهٗ غُلَامٌ لِزَيْدٍ وَيُعَبَّرُ عَنْهُ فِي الْاِصْطِلَاحِ بِاَنَّهٗ مُضَافٌ وَمُضَافٌ اِلَيْهِ:

ترجمه او په اصطلاح د نحاتو کښې د دې ترکیب نه تعبیر کولې شي په جار او مجرور سره یا حرف جر تقدیراً سره لکه (غُلَامُ زَيْدٍ) چه په اصل کښ (غُلَامٌ لِزَيْدٍ) دی، او په اصطلاح د نحاتو کښې ددی نه تعبیر کولی شی چه دا مضاف او مضاف الیه دي

تشریح اودا تعمیم په مضاف کې دمصنفؒ اودابن حاجب (ابن حاجب دکافیي مصنف دی) دعبارت نه معلومیږي البته دنورو نحویانو رایي واقع کیږي په تعریف کې د اسم تعمیم ځکه شوي دي چې تعریف شي په يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ- یوم مضاف دي اضافت او نسبت یې ینفخ ته شوي دي او د فعل دي او د تعریف نه معلومیږي چې مضاف الیه به اسم وي پس ددي خبري جواب مونږ په تعمیم د اسم کې کړیدي پس ینفخ تاویلاً اسم دي په معنی نَفخ مصدر سره.

وَيَجِبُ تَجْرِيْدُ الْمُضَافِ عَنِ التَّنْوِيْنِ وَمَا يَقُوْمُ مَقَامَهٗ وَهُوَ نُوْنُ التَّثْنِيَةِ وَالْجَمْعِ نَحْوُ جَاءَنِيْ غُلَامُ زَيْدٍ وَغُلَامَا زَيْدٍ وَمُسْلِمُوْ مِصْرَ:

ترجمه: او مضاف د تنوین نه یا قائم مقام د تنوین نه خالي کول واجب دي چه هغه نون د جمع او نون د تثنیه دی لکه (جَاءَنِيْ غُلَامُ زَيْدٍ وَغُلَامَا زَيْدٍ وَمُسْلِمُوْ مِصْرَ)

تشریح: دمضاف او دمضاف الیه په مابین کې شدة الاتصال وي ددي وجي نه مصنفؒ داقانون راوړو چې تنوین او قائم مقام دتنوین (نون التثنیة ونون الجمع) به لرې کیږي دمضاف نه ځکه چې تنوین او قائم مقام دتنوین داسې اشیاء دي چې په دوي سره دمضاف او مضاف الیه په مابین کې انفصال راځي لکه غلامُ زیدٍ ای غلامٌ لزیدٍ دغلامُ نه تنوین حذف شوي دي براي اتصال او دغه شان غلاما زید ددي نون التثنیة حذف شوي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د اضافت اقسام او تشریح

وَاعْلَمْ اَنَّ الْاِضَافَتَ عَلٰی قِسْمَیْنِ مَعْنَوِیَّةٌ وَلَفْظِیَّةٌ اَمَّا الْمَعْنَوِیَّةُ فَهِیَ اَنْ یَّکُوْنَ الْمُضَافُ غَیْرَ صِفَةٍ مُضَافَةٍ اِلٰی مَعْمُوْلِهَا وَهِیَ اِمَّا بِمَعْنَی اللَّامِ نَحْوُ غُلَامُ زَیْدٍ اَوْ بِمَعْنٰی مِنْ نَحْوُ خَاتَمُ فِضَّةٍ اَوْ بِمَعْنٰی فِیْ نَحْوُ صَلٰوةُ اللَّیْلِ وَفَائِدَةُ هٰذِهِ الْاِضَافَةِ تَعْرِیْفُ الْمُضَافِ اِنْ اُضِیْفَ اِلٰی مَعْرِفَةٍ کَمَا مَرَّ اَوْ تَخْصِیْصُهٗ اِنْ اُضِیْفَ اِلٰی نَکِرَةٍ کَغُلَامِ رَجُلٍ وَاَمَّا اللَّفْظِیَّةُ فَهِیَ اَنْ یَّکُوْنَ الْمُضَافُ صِفَةً مُضَافَةً اِلٰی مَعْمُوْلِهَا وَهِیَ فِیْ تَقْدِیْرِ الْاِنْفِصَالِ نَحْوُ ضَارِبُ زَیْدٍ وَحَسَنُ الْوَجْهِ.

ترجمه: پوئی شه چه اضافت په دوه قسمه دی اول معنوی دویم لفظی معنوی هغی ته وئیلی شی چه دا به مضاف وی او صیغه د صفت به نه وی، او دغه اضافت به ئې خپل معمول طرف ته شوي وی، اضافت معنوی یا به په معنی د لام سره وی لکه غلام زید یا به بمعنی من وی لکه خاتم فضة یا به بمعنی فی وی لکه صلوة اللیل او د دي اضافت فائده داده چه مضاف معرفه کرځوی چه کله معرفی طرف ته مضاف وی لکه څرنګه چه تیر شو، او دا به خاص کولی شی چه کله نکری طرف ته مضاف وی لکه غلام رجل، او اضافت لفظی هغی ته وئیلی شی چه مضاف به صفت وی او خپل معمول طرف ته به مضاف او د اضافت لفظی په تقدیر د انفصال کښې دی لکه ضارب زید و حسن الوجه.

تشریح: پدي واعلم کې مصنفؒ د اضافت قسمین بیانوی چې یو اضافت معنوي دي او بل اضافت لفظي دي.

(۱) **اضافت معنوي** علامه یې داده چې پدي اضافت کې به مضاف صیغه د صفت نوي داسي صفت چې اضافت یې خپل معمول ته شوي وي او د اضافت معنوي دوه صورتونه دي (۱) اول صورت د اضافت معنوي دادي چې مضاف به صیغه د صفت (مشتقي) نوي بلکه اسم جامد به وي لکه غلام زیدٍ غلام مضاف صیغه د صفت نه ده بلکه اسم جامد (د غلام اضافت خپل معمول ته شوي دي چې زید دي ۱۲) دي (۲) دویم صورت د اضافت معنوي دادي چې مضاف صیغه د صفت وي لیکن مضاف الیه به یې معمول نوي لکه کَرِیْمُ بَلَدٍ کریم صیغه د صفت ده داسې صفت چې بلد د پاره نه فاعل ده او نه مفعول به ده پس د واړه صورتونه مفید د معانو د پاره دي یا مفید د تعریف د پاره یا د تخصیص د پاره دي د تبیلي د معانیو نه دي . اضافت معنوي په دري قسمه دي وجه د حصر یې داده چې په اضافت معنوي کې به یا مضاف مغائر وي یا به د جنس د مضاف نه وي او یا به

مضاف الیه ظرف وي دپاره دمضاف اول ته اضافت لامي وايي ثاني ته اضافت منّي يابياني وايي اوثالث ته اضافت ظرفي وايي امثله دادي داول دپاره مثال لکه غلام زيدٍ ای غلام لزيدٍ لام په کې مقدردي دثاني دپاره مثال خَاتَمُ فِضَّةٍ ای خاتم من فضة پدي کې من جاره مقدردي دثالث دپاره مثال لکه صلواة اليل اي فی اليل پدي کې فی ظرفيه مقدردي

فائده: داضافت معنوي يوه فائده داده که چيرې مضاف اليه معرفه وي نودي نه به مضاف تعريف کسب کوي لکه تيرشوي مثال غلام زيد دلته مضاف تعريف کسب کړيدي.

دويمه فائده يې داده که چيرې مضاف اليه نکره وي نومضاف به تخصيص کسب کوي لکه غلام رجلٍ رجل اګرچې نکره ده ليکن تخصيص په کې پدي شان دي چې دغلام کم ازکم دوه فرده دي يودرجل اوبل دمرأ دي پس په رجل سره تخصيص راغی د مرأ نه ګوياپه مضاف دلته تخصيص کسب کړيدي.

(۲) **اضافت لفظی**: علامه يې داده چې مضاف به صيغه دصفت وي داسې صفت چې اضافت يې خپل معمول ته شوي وي. اضافت لفظي ورته ځکه وايي چې دي مفيد ګرزي دتخفيف دلفظ دپاره .دتقدير الاتصال ،تقدير الاتصال ددي مطلب دادي چې په مضاف مضاف اليه کې شدة الاتصال وي اوتقديردانفصال په دي معنی سره ده چې په مضاف مضاف اليه کې به انفصال وي من حيث المعنی لامن حيث اللفظ يعني لفظاً به متصل وي ځکه چې په اضافت لفظی کې هم تنوين اوقائم مقام دتنوين حذف کيږي (۱۲) معنی داده چې داضافت لفظي دوه حيثيتونه دي يوحيثيت دلفظ دي اوبل حيثيت دمعنی دي پس په مضاف مضاف اليه کې چې انفصال وي من حيث المعنی ددي دپاره وجه داده چې پدي کې مضاف صيغه دصفت ده اومعمول به يې يافاعل وي يامفعول به وي پس په معنی کې به يامرفوع وي يامنصوب وي اګرچې لفظاً مجروروي په دي وجه دامعنی ديوبل نه جداجداده البته من حيث اللفظ په کې اتصال دي ځکه چې په اضافت لفظيه کې هم نون تثنيه اونون الجمع ساقطيږي ځکه مضاف مضاف اليه لفظاً متصل دي.

وَفَائِدَتُهَا تَخْفِيفٌ فِي اللَّفْظِ فَقَطْ:

ترجمه: او فائده د دی داده چه په لفظ کښ تخفيف راولی

تشريح: فوائد دتخفيف الفظ دادي چې کله تخفيف فقط په مضاف کې راځی لکه ضاربُ زيدٍ ای ضاربٌ زيدٍ دلته دمضاف نه فقط تنوين حذف شوي دي اوکله تخفيف په مضاف اليه کې راځي لکه القائم غلام ه مضاف اليه نه به ضميرحذف کړی شي اوپه مضاف

Maktaba Tul Ishaat.com

کې به مستتر کړي شي اى القائم الغلام او کله تخفيف په دواړو کې راځي يعني دمضاف نه به تنوين حذف کړی شي او دمضاف اليه نه به ضمير حذف شي او په مضاف کې مستتر شي لکه حسنُ الوجهِ اى حسن الوجه واعلم انك اذا اضفت الاسم صحيح والجارى مجرى ا! صحيح الى ياء پدي واعلم کې مصنف داضافت متعلق يو څو قواعد ذکر کوي

(۱) - چې کله ديو اسم صحيح يادجارى (جارى مجرى الصحيح ديته وايي چې په آخر کې واو ماقبل ساکن او ياء ماقبل ساکن وي لکه دلوٌ . ظَبيٌ دا په حکم دصحيح کې دي ۱۲) مجرىٰ اضافت ياء دمتکلم ته اوشي نو ددي اسم صحيح يا جارى مجرى آخر ته به حرکت دکسري ورکولی شي دوجې دمناسبت دياء متکلم نه او په دغه ياء کې دوه وجې جائزدي يوه وجه دا چې ياء ساکنه کړی شي دپاره دتخفيف بله وجه داده چې ياته فتحه ورکړی شي ځکه چې الفتحة أخف الحركات دادواړه وجهين دمضاف دپاره دي چې کله دمضاف اضافت ياء متکلم ته اوشي لکه غلامِىْ ، غلامِىَ ، دلوي ، ظَبيِىْ ، ظَبيِىَ

(۲) - چې کله داسم مقصور اضافت ياء المتکلم ته اوشي نو پدي کې دوه لغتنه دي نعت الاکثر: داکثرو په نزد به دغه الف مقصوره ثابت او باقى پاتي کيږي لکه عَصَىَ بعدا لاضافت اى عَصَيَّ نعت المزيد : دوي وايي چې دغه الف به په ياء بدليږي او دغه ياء به په ياء المتکلم کې مدغمه شي او ماقبل به مکسور کړي شي لکه عَصِيَّ

(۳) - خلاصه داده چې کله داسم منقوص (اسم منقوص هغه اسم ته وايي چې په آخر کې ياء ماقبل مکسور راغلی وي ۱۲) اضافت ياء دمتکلم ته اوشي نو دغه ياء به په ياء داسم منقوص کې مدغمه شي پس دغه ياء مشدّدي ته به فتحه ورکړي شي دپاره ددفعى دالتقاء الساکنين . لکه قاضِيَّ

(۴) - داقاعده دجمعى مذکري سالمى سره متعلق دي چې داقسم جمع مضاف شي په حالت رفعى کې ياء متکلم ته پس نون اعرابى به ساقط شي دآخرنه او واو به په ياء بدل شي او ياء به په ياء کې مدغمه شي او فتحه به ورکړی شي دپاره ددفعى دالتقاء الساکنين او دماقبل ضمه به په کسري بدله شي لکه مُسلِمُونَ داجمع مذکر سالمه د، چې کله يې اضافت ياء ته اوشي نو مسلموي به شي پس ددي نه به مُسلِمِيَّ شي

(۵) - داقاعده داسماء ستة مکبره سره متعلقه ده پس قاعده داده چې کله ددي اسماء اضافت ياء دمتکلم ته اوشي نو محذوف به نه معاد کيږي (يعني نسيا منسيا به گرزي ۱۲) دمحذوف نه مراد آخرى حرف دي داسې حرف چې داسمايي ستة مکبره نه حذف شوي ده خلاف

القیاس برابې کثرت الاستعمال یعني اخ په اصل کښې اخوٌ وو۔ بقیه هٰذ القیاس البته دفمٌ اضافت چې کله یاء ته اوشي نو پیدي کښې دوه نعته دي عند القوم: چې دفمٌ اضافت کله یاء ته اوشي نو په آخر کښې به یاء المتکلم راشي فمي به شي او اصل به نه معاد کیږي عند الاکثر چې دفمَ اضافت کله یاء ته اوشي نو میم به خپل اصل ته معاد شي (فم در اصل فوهٌ بوده برایې تخفیف حذف شد و واو بمیم بدل شد بواسطه قرابت مخارج در اصل وجه اینکه گر میم نه دارد پس واو به الف بدل کردند برایې مناسبت ماقبل فتحه والتقاء ساکنین جمع شدند الف حذف کردند فقط فَ باقی داشتن وفَ را چرا فم کردیم بروجه یکه واو بمیم بدل شد برایې ضرورت) چې اصل یې واو دي او واو به په یاء بدل شي پس یاء به په یاء کښې مدغمه شي او ماقبل فتحه به په کسرې بدله شي د پاره د مناسبت د یاء. نه نو فِي به شي وذو لایضاف الی مضمر اصلا وقول القائل شعر انما یعرف ذا الفضل من الناس ذووهٗ + شاذ لفظ د ذو متعلق دا قاعده ده چې د ذو اضافت به اسم ظاهر ته کیږي نه اسم ضمیر ته د دي د پاره وجه دا ده چې ذو اهل نعت وضع کړی دي د پاره د دي چې دده په واسطې سره اسم جنس (اسم ضمیر) صفت جوړ شي لکه رجلٌ ذومالٍ رجل موصوف دي او مالٍ صفت دي هسې صفت چې اسم جنس یا اسم ظاهر دي او د ذو اضافت هم دغه اسم ظاهر ته شوي دي البته په شعر مذکور کښې د ذو اضافت اسم ضمیر ته شوي دي لکه ذووهٗ پس د دي جواب مصنف کړیدي ای شاذ است دا قاعده ده چې د اسماء سته مکبرونه چې کله اضافت قطع شي نو بیا به یې اعراب حقیقي وي البته فقط لفظ به نه قطع کیږي.

وَاعْلَمْ اَنَّكَ اِذَا اَضَفْتَ الْاِسْمَ الصَّحِيْحَ اَوِ الْجَارِيْ مَجْرَى الصَّحِيْحِ اِلٰى يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ كَسَرْتَ اٰخِرَهٗ وَ اَسْكَنْتَ الْيَاءَ اَوْ فَتَحْتَهَا كَغُلَامِيَ وَدَلْوِيَ وَظَبْيِيَ وَاِنْ كَانَ اٰخِرُ الْاِسْمِ اَلِفًا تُثْبِتُ كَعَصَايَ وَرَحَايَ خِلَافًا لِلْهُذَيْلِ كَعَصَيَّ وَرَحَيَّ وَاِنْ كَانَ اٰخِرُ الْاِسْمِ يَاءً مَكْسُوْرًا مَا قَبْلَهَا اُدْغِمَتِ الْيَاءُ فِي الْيَاءِ وَفُتِحَتِ الْيَاءُ الثَّانِيَةُ لِئَلَّا يَلْتَقِيَ السَّاكِنَانِ تَقُوْلُ فِيْ قَاضِيْ قَاضِيَّ وَاِنْ كَانَ اٰخِرُهٗ وَاوًا مَضْمُوْمًا مَا قَبْلَهَا قَلَبْتَهَا يَاءً وَعَمِلْتَ كَمَا عَمِلْتَ الْاٰنَ تَقُوْلُ جَاءَنِيْ مُسْلِمِيَّ وَفِي الْاَسْمَاءِ السِّتَّةِ مُضَافَةً اِلٰى يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ تَقُوْلُ اَخِيْ وَاَبِيْ وَحَمِيْ وَهَنِيْ وَفِيْ عِنْدَ الْاَكْثَرِ وَفَمِيْ عِنْدَ قَوْمٍ وَذُوْ لَا يُضَافُ اِلٰى مُضْمَرٍ اَصْلًا وَقَوْلُ الْقَائِلِ شعر اِنَّمَا يَعْرِفُ ذَا الْفَضْلِ مِنَ النَّاسِ ذَوُوْهُ شَاذٌّ وَاِذَا قَطَعْتَ هٰذِهِ الْاَسْمَاءَ عَنِ الْاِضَافَةِ قُلْتَ اَخٌ وَاَبٌ وَحَمٌ وَهَنٌ وَفَمٌ وَذُوْ لَا يُقْطَعُ عَنِ الْاِضَافَةِ اَلْبَتَّةَ هٰذَا كُلُّهٗ بِتَقْدِيْرِ حَرْفِ الْجَرِّ اَمَّا اِذَا ذُكِرَ فِيْهِ حَرْفُ

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْجَرُّ لَفْظًا مَسَيَأْتِيْكَ فِي الْقِسْمِ الثَّالِثِ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى.

ترجمه: پوئی شه چه کله ته اسم صحیح یا قائم مقام د صحیح لره یاء متکلم طرف ته مضاف کړي نو آخر ته به ئې کسره ورکړي او یاء به ساکن کړي او یا به فتحه ورکړي لکه غلامي، دلوي ظبي او کچرته آخري حرف ئې الف وي نو هغه صحیح سالم پریګدي لکه عصاي او رحاي پدي کښ د هذیل اختلاف دي، لکه عصَي او رحَيَ او کچرته د اسم آخري حرف یاء ما قبل مکسور وي نو په یاء کښ به مدغم کولې شي، او دویمې یاء ته به فتحه ورکړي شي لپاره ددې چه التقاء ساکنین لازم رانشي لکه قاضيّ هم وئیلې شي او قاضِيَ هم. او کچرته په آخر کښ واو ما قبل مضموم وي نو دا واو به په یاء سره بدله ولې شي او عمل به کولې شي چه عمل اُس تیر شو لکه ته او وائې جاءنې مسلميّ، او په اسماء سته مکبره کښ چکله یاء متکلم طرف ته مضاف وي لکه ابي ،اخي، حمي، هني، او فِي د اکثرو په نزد، او فمي د یو قوم په نزد او ذو ضمیر طرف ته بالکل مضاف کیږي نه، او د شاعر قول ده ،انما یعرف ذا الفضل من الناس ذووه، شاذ دي، او چکله اسماء سته مکبره د اضافت نه جدا کړي لکه اَخٌ، اَبٌ، حَمٌ هَنٌ فَمٌ او ذُوٌ او ذو دا ضافت نه نشي جدا کیدي دا ټول په هغه صورت کښې دي چکله حرف جر تقدیري وي، او هغه اسم چکله حرف په کښ لفظاً ذکر وي د هغې بیان به ان شاء الله په قسم ثالث کښې راځي.

قوله الخاتمة في التوابع

اِعْلَمْ اَنَّ الَّتِیْ مَرَّتْ مِنَ الْاَسْمَاءِ الْمُعْرَبَةِ كَانَ اِعْرَابُهَا بِالْاِصَالَةِ بِاَنْ دَخَلَتْهَا الْعَوَامِلُ مِنَ الْمَرْفُوْعَاتِ وَالْمَنْصُوْبَاتِ وَالْمَجْرُوْرَاتِ فَقَدْ يَكُوْنُ اِعْرَابُ الْاِسْمِ بِتَبْعِيَةِ مَا قَبْلَهُ وَيُسَمّٰى التَّابِعَ لِاَنَّهُ يَتْبَعُ مَا قَبْلَهُ فِي الْاِعْرَابِ وَهُوَ كُلُّ ثَانٍ مُعْرَبٍ بِاِعْرَابِ سَابِقِهِ مِنْ جِهَةٍ وَاحِدَةٍ وَالتَّوَابِعُ خَمْسَةُ اَقْسَامٍ اَلنَّعْتُ وَالْعَطْفُ بِالْحُرُوْفِ وَالتَّاكِيْدُ وَالْبَدَلُ وَعَطْفُ الْبَيَانِ.

ترجمه: خاتمه په توابعو کښې ده، پوئی شه چه هغه اسماء معربه یعنی مرفوعات، منصوبات، مجرورات چه کوم تیر شو د هغی اعراب بالاصالة وو پداسې طریقې سره چه هغه اسماء باندې عوامل داخلیږی چه هغه د مرفوعات، منصوبات، مجرورات نه دی، کله د اسم اعراب خپل ما قبل تابع کیدلو د وجه نه وی چه هغی ته ئی نوم تابع کیخودلو. ځکه چه دا د خپل ماقبل اعراب تابع ده. او تابع هر هغه دویم اسم ده چه خپل ماقبل اسم په شان اعراب ورکړی شی، د یو جهت نه، او توابع په پنځه قسمه دی (۱) النعت (۲) العطف بالحروف (۳) التاکید (۴) بدل (۵) عطف بیان

تشریح: هر کله چې مصنف ؒ فارغ شو د مقاصدو ثلاثو نه پس شروع یې اوکړه په خاتمه باندې چې کومه وعده یې مخکې کړې وه. او دا عبارت مسمّٰی په خاتمې سره ځکه دې چې په دې سره بحث د معرب ختمیږي ګویا معرب په دوه قسمه دي یو قسم هغه معربات دي چې د هغې اعراب اصلي وي دیته معرب اصلي وایي او دویم قسم هغه معربات دي چې د هغې اعراب تبعی وي دیته معرب تبعی وایې تر اوسه پورې هغه معربات ذکر شو چې د هغې اعراب بالاصاله دي یعنې عوامل رافعه نواصبه وجریه پرې داخلیږي لکه مرفوعات منصوبات او مجرورات چې ذکر شو چې د دوی اعراب اصلي دي د وجې د دخول د عواملو نه او په دې خاتمه کې د هغه معرباتو بحث دي چې اعراب بالتبیعة وي د دې مطلب دا دې چې په دې اسماء معربه باندې عوامل نه داخلیږي بلکه د دوی ماقبل چې کوم اسماء وي په هغو داخل وي پس دغه بدون العوامل اسماؤ ته توابع وایې توابع جمع د تابع ده او تابع ماخوذ دې د تبعٌ نه په معنی تابعداري کول چونکه دا اسم د خپل ماقبل پیروي او تابعداري کوي په اعراب کې د دې وجې نه د اسم ته تابع وایې د نحویانو په اصطلاح کې تابع هغه ثاني (دویم نمبر) اسم دي چې د خپل سابق (ای ماقبل[۱۲] و یسمّٰی متبوع) سره په اعراب کې موافق وي داسې موافق چې د دواړو اعراب د یو جهت نه راغلی وي مثلاً که چیرې په مخکیني اسم اعراب د جهت فاعلیت نه وي نو ثاني به هم دغه شان وي او که د اول اسم اعراب د جهت مفعولیت نه

راغلی وي نو ثاني به هم دغه شان راځي که چيرې اول مرفوع وي ثاني به هم مرفوع وي که منصوب مجرور وي علی هذالقياس لکه مثال جاءنی **زَيْدُنِ الْعَالِمُ العالم** تابع دي او ثاني واقع شوي دي پس **زَيْدُنِ الْعَالِمُ** دواړه مرفوع موافق دي او جهت هم ددواړو يو دي چې فاعليت دي يعني زيد هم دفاعل کيدو دوجې نه مرفوع دي دغه شان العالم هم دزيد سره ديو ځای کيدو په حيثيت سره مرفوع دي پس ددواړو رفع ديو حيثيت او ديو جهت نه راغلی ده دثاني مرادمؤخر دي ځکه چې داتعريف تابع ثالث اورابع ته هم شامل شي ځکه چې هريو تابع دخپل متبوع نه په دويمه درجه کې وي په من جهت واحده سره احتراز راغلی دمبتدا او خبرنه ځکه چې دمبتداء او خبر اعراب ديو جهت څخه نه وي يعني دجهت ابتدائيت نه وي او خبر دجهت خبرين نه وي، توابع ټول پنځه اقسام دي وجه دحصر پې داده چې داتوابع به خالي نه وي يا به مقوي دحکم دپاره وي يا به نه وي که مقوي دحکم دپاره وي ديته تاکيد وايي که چيرې مقوي دحکم دپاره نوي دا به بيا خالي نه وي يا به مبين (مبين ای بيان الحکم ۱۲) دحکم دپاره وي يا به نوي که مبين دحکم دپاره وي دا به خالي نه وي يا به مشتقي وي يا به نوي که مشتقي وي نو ديته نعت (صفت) وايي که مشتقي نوي نو ديته عطف بيان وايي چې کله مبين دحکم دپاره نوي دا به هم خالي نوي يا به په واسطې دحرف عطف سره وي يا به نوي که وي ديته عطف بالحرف وايي او که نه وي ديته بدل وايي.

تشريح قوله الخاتمة فی التوابع الخ مصنف رحمة الله عليه چه کله فارغ شو د مقاصد ثلثونه چه هغی کښې د معرباتو اصليه بيان وو، أس ئې شروع اوکړه په خاتمه کښې چه د کښې معربات تبعيه بيان دي، فرمائی چه اعلم اَنَّ اَلَّتِی مَرَّتْ الخ

قوله المرفوت، المنصوبات، المجرورات: دا د اسماء معربه بيان دي

قوله فقديکون پدي کښې فاء تفسيريه ده يا د شرط محذوف په جواب کښې واقع شوی ده، ای اذا کان ذلك فنقول فديکون الخ، چه کوم اعراب تير شو هغه اعراب بالاصالت وو نه بالتبع پداسي طريقي سره چه هغه اسماء معربه په خپله که مرفوعاتو نه وی او که منصوباتو نه وی او که مجروراتو نه وی، رفع نصب او جزم والاعامل پدي باندي داخليدل. ليکن کله د اسم اعراب د خپل ما قبل په تبعيت سره وی کچرته هغی باندي رفع وی نو په اسم باندي هم رفع وی کچرته هغه منصوب وی نو اسم به هم منصوب وی کچرته هغه مجرور وی نو اسم به هم مجرور وی.

قوله ويسمی ای ذلك الاسم التابع: دا د يسمی دويم مفعول دي او د اسم ته په اصطلاح د نحاتو کښې تابع ونيلي شی ځکه چه دا اکثر د خپل ما قبل کلمه اعراب تابع وی.

قوله وهو کل ثان الخ: لفظ ثان په معنی د متاخر سره ده په اصطلاح د نحاتو کښې تابع هر هغه روستونی کلمه ده چه د ما قبل کلمې اعراب سره معرب وی په حال کون د دی کښې چه هغه اعراب به د یو جهت نه وی، کچرته اول کلمه مرفوع وی نو دی ته به هم رفع ورکوو کچرته اول کلمه منصوب وی نو دا به هم منصوب وی کچرته اول کلمه مجرور وی نو دا به هم مجرور وی او د دواړو اعراب سبب به یو وی لکه قام رجل عالم، عالم صفت دي او دا چه مرفوع دي د خپل موصوف چه رجل دي فاعل کیدلو دوجه نه دی نه د بل فاعل کیدلو وجه نه. همدغه رنګی رأیت رجلا عالما کښې عالما صفت دا نصب د خپل موصوف چه رجلا دي دا د مفعول به دوجه نه دي نه بل مفعول کیدلو دوجه نه هم دغه رنګی مررت برجل عالم کښې عالم، دا صفت دي او دا جر د خپل موصوف چه رجل مجرور دي په حرف جر سره نه د بل جار مجرور دوجه نه دي

قوله معرب به اعراب سابقه دا د ثان صفت دي

قوله من جهة واحدة: دا د اعراب نه حال دي یا د هغې صفت دي، پدي قید سره چه د مبتدا خبر او د باب علمت دویم مفعول خارج شول، ځکه چه د مبتدا خبر اګرچه ثان هم دي او د خپل سابقه اعراب سره موافق هم دي ځکه چه دواړه مرفوع دی، لیکن دا رفع د یو جهت نه ده ځکه چه د مبتدا اعراب د یو جهت نه دي او د خبر اعراب د بل جهت نه دي ځکه چه مبتدا د مسند الیه کیدلو وجه نه مرفوع دي، او خبر د مسند کیدو د وجه نه مرفوع ده همدغه رنګی علمت زیدا فاضلا کښې دویم مفعول چه فاضلا ده او اعلمت زیدا بکرا عالما کښې دریم مفعول چه عالما ده اګرچه ثان هم دي او د خپل اعراب سابقه سره موافق علم ده ځکه چه اول مثال کښې زیدا او فاضلا دواړه منصوب دی او دویم مثال کښې بکرا او عالما دواړه منصوب دي، لیکن زیدا او فاضلا اعراب همدغه رنګی د بکرا او عالما اعراب د یو جهت نه نه دي بل که زیدا دا نصب د محکوم علیه کیدلو دوجه نه دي او د فاضلا دا نصب د محکوم به کیدو د وجه نه دي همدغه رنګی د بکرا دا نصب د محکوم علیه کیدو د وجه نه دي او د عالما دا نصب د محکوم به کیدو د وجه نه دي

Maktaba Tul Ishaat.com

تعریف د نعت او تشریح

فَصْلٌ: اَلنَّعْتُ تَابِعٌ يَدُلُّ عَلٰى مَعْنًى فِيْ مَتْبُوْعِهٖ نَحْوُ جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ اَوْفِيْ مُتَعَلَّقِ مَتْبُوْعِهٖ نَحْوُ جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ اَبُوْهُ وَيُسَمّٰى صِفَةً اَيْضًا وَالْقِسْمُ الْاَوَّلُ يَتْبَعُ مَتْبُوْعَهٗ فِيْ عَشَرَةِ اَشْيَاءَ فِي الْاِعْرَابِ وَالتَّعْرِيْفِ وَالتَّنْكِيْرِ وَالْاِفْرَادِ وَالتَّثْنِيَةِ وَالْجَمْعِ وَالتَّذْكِيْرِ وَالتَّاْنِيْثِ نَحْوُ جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ وَرَجُلَانِ عَالِمَانِ وَرِجَالٌ عَالِمُوْنَ وَزَيْدُنِ الْعَالِمُ وَامْرَأَةٌ عَالِمَةٌ.

ترجمه: اول فصل په بیان د نعت کښې دي. نعت هغه تابع دي چه دلالت کوي په داسي معنی چه د ده په متبوع کښې موجوده وي لکه (جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ) یا په داسي معنی باندي دلالت کوي چه د ده په متعلق کښې موجوده وي لکه (جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ اَبُوْهُ) او د نعت ته صفت هم وئیلی شي. قسم اول په لس اشیاء کښې د خپل متبوع تابع به وي تعریف، تنکیر، افراد تثنیه و جمع او په تذکیر او تانیث کښې لکه (جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ وَرَجُلَانِ عَالِمَانِ) او (رِجَالٌ عَالِمُوْنَ وَزَيْدُنِ الْعَالِمُ وَامْرَأَةٌ عَالِمَةٌ).

تشریح: چې کله مصنف فارغ شو د اجمال نه پس شروع یې اوکړه په تفصیل د توابعو خمسه کې اول قسم د توابعو نه نعت دي.

وجه تقدیم: اوله وجه داده چې نعت شدید الاتصال ده دویمه وجه داده چې نعت کثیر الاستعمال ده دریمه وجه داده چې د نعت فوائد ډیر دي پس نعت د شدة الاتصال، د کثیر الاستعمال او د فوائد کثیرو دوجې نه مقدم دي په نورو توابعو باندي نعت په لغت کې ستودن (تعریف) ته وایي چې په اصطلاح کې د نعت تعریف مصنفؒ کړی دي پس نعت یو تابع دي چې دلالت کوي په یو معنی داسي معنی چې حاصله او کائنه وي په متبوع دده کې یا په متعلق د متبوع دده کې وي نو ګویا نعت په دوه قسمه او ګرزیده اول قسم هغه نعت دي چې دلالت کوي په داسی معنی چې هغه حاصله وي په ذات د متبوع دده کې او دویم قسم هغه نعت دي چې دلالت کوي په داسي معنی چې هغه حاصله وي په متعلق د متبوع کې وي د اول دپاره مثال لکه جاءنی رجل عالمٌ. رجل متبوع دي او ده ته منعوت (منعوت ای موصوف ۱۲) هم وایي عالم نعت دي پس عالم په داسي معنی دلالت کوي چې هغه معنی د علمیت په ذات د رجل کې ده دویم مثال لکه جاءنی رجل عالم ابوه رجل منعوت دي او عالم نعت (صفت) دي او ابوهٗ متعلق د رجل دي پس عالم په داسي معنی دلالت کوي چې هغه حاصله ده په ابوه کې یعنې راغی ماته یو سړی داسی سړی چې پلار د هغه عالم دي

والقسم الاول: اول قسم نعت بحاله دي دډي متعلق دا قاعده ده چې دي به مطابقت او تابعداري کوي دخپل متبوع سره په لسو اشیاؤکې نفساً ذاتاً (نفساً ذاتاً دي مطلب دادي چې دنعت او منعوت دمطابقت دپاره ټول لس اشیاء دي لیکن بیك وقت به دنعت او متبوع په مابین کې فقط څلور اشیاء متحقق کیږي. مثلاً داعراب نه به یووې دتعریف تنکیر نه به وي دافراد تثنیي او جمعي نه به یووي دتذکیر او تانیث نه به یووي دا څلور اشیا به دلسو اشیاؤ نه په یو نعت دمتبوع کې راځي) او متحقق کیږي به فقط څلور اشیاء دلسو نه مثلاً لکه جاءني رجلٌ عالمٌ پدې مثال کې داعراب نه فقط رفع متحققه ده او دتعریف او تنکیر نه فقط نکره متحققه ده او دافراد دتثنیي او جمعي نه فقط افراد متحقق دي او دتذکیر او تانیث نه فقط تذکیر متحقق دي په مثال مذکور کې فقط څلور اشیاء جمع شول.

وَالْقِسْمُ الثَّانِيْ اِنَّمَا يَتْبَعُ مَتْبُوْعَهٗ فِي الْخَمْسَةِ الْاَوَّلِ فَقَطْ اَعْنِي الْاِعْرَابِ وَالتَّعْرِيْفَ وَالتَّنْكِيْرَ كَقَوْلِهٖ تَعَالٰى مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ اَهْلُهَا:

ترجمه: او قسم ثاني صرف په اولنی پنځه امورو کښ د خپل مبتوع تابع وی یعنی اعراب او تعریف او تنکیر کښ لکه د الله تعالی دا قول مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ اَهْلُهَا۔

تشریح: دویم قسم نعت بمتعلقه دي دي به مطابقت کوي په ټولو پنځو اشیاؤکې فقط او متحقق کیږي به دوه اشیاء د پنځونه مثلاً اعراب ټول دري (ای رفع نصب وجر ۱۲) دي پس دري نه یو متحقق وي او تعریف او تنکیر نه به هم یو متحقق وي مثلاً كقوله تعالى من هذه القرية الظالم اهلها. دلته قریه موصوف ده او ظالم صفت دقریې دپاره دي داسې صفت چې دلالت په معنی دقریې نه کوي ځکه چې قریه خو عبارت دکتو ختو نه بلکه دا صفت دلالت کوي په معنی دمتعلق دقریې باندې چې اهلها دي یعنی خلق دقریې ظالمان دي پدې مثال ئې فقط دوه اشیاء متحقق دي یو کسره ده داعراب نه او بل تعریف ده.

فان قیل: دنعت بمتعلقه مطابقت په آخري پنځو اشیاؤکې ولی نه کیږي.

قلنا: پدې کې مطابقت دبقیه اشیاؤ ضروري نه دي ځکه چې دا قسم صفت پشان دفعل دي نو په دې وجه به پدې کې قواعد دفعل جاري کیږي لکه مثلاً که چیری فعل اسم ظاهر وي نو صفت به همیشه واحد ذکر کیږي وغیر قواعدها الفعل.

فائدة النعت الخ: دنعت یوه فائده داده کچري موصوف او صفت دواړه نکري وي نو پدې صورت کې به تقلیل دشرکاؤ راځي دفائدې دمعنی دوضاحت دپاره لکه رجلٌ عالمٌ دا دواړه نکري

Maktaba Tul Ishaat.com

دي او فائده يې تخصيص المنعوت دي يعني د عالم نه قبل رجل عامل او جاهل دواړو ته شامل وو پس په عالم سره تقليل د شركاؤ راغی د جاهلانو وغیرو نه پس دي قسم نعت ته صفت مخصصه وايي د نعت دویمه فائده داده چې توضيح د احتمالاتو كوي (دا په هغه صورت كې چه كله نعت او منعوت دواړه معرفی وي ۱۲) يعني چې هر كله په يو لفظ كې ډير احتمالات وي پس د دي د رفعي دپاره به نعت (صفت) ذكر كولی شي لكه مثال زيدن الفاضل د فاضل نه مخكې په زيد كې دا احتمالات وو چې آيا زيد طالب دي كه مجنون دي كه قاري هيڅ پته نه وه پس په فاضل سره رفع د احتمالاتو اوشوه چې فاضل دي دي قسم صفت ته صفت مضيحه وايي دريمه فائده د نعت داده چې كله كله صفت فقط د ثناء او مدحي دپاره ذكر كيږي لكه بسم الله الرّحمن الرّحيم الله موصوف دي او رحمٰن او رحيم يې صفات دي دپاره د مدحي او په دي كې هيڅ احتمالات نشته څلورمه فائده د نعت داده چې نعت مستعمليږي دپاره د ذم (د چابد وئيل) لكه اعوذ بالله من الشيطٰن الرجيم . شيطٰن موصوف دي او رجيم يې صفت ذم دي پنځمه فائده د نعت داده چې راځي دپاره د تاكيد لكه نفخةٌ واحدةٌ (يكبار دميدن) يو ه پيره پوكې وركول په نَفخَة كې ة د وحدة دپاره ده ليكن واحدة د تاكيد دپاره راوړلی شو د صفت پنځه فائدي مصنفؒ ذكر كړه او نور هم ډير فوائد دي د صفت يعني صفت كله كله مفيد د تعميم دپاره وي لكه في يوم من الايام من الايام صفت د يوم دپاره دي او په دي كې مقصد د تعميم حاصل دي . كله كله صفت د ترحُم دپاره مستعمليږي لكه انا زيدن الفقير پدي كې مقصد د ترحم دي او كله كله صفت د كشف ماهيت دپاره راځي يعني د يو شي ماهيت او حقيقت پري ظاهريږي لكه الجسم الطويل العريض العميق دا دريواړه صفات د كشف ماهيت د جسم دپاره مستعمل دي او د يته وضاحت د حقيقت د يو شي وايي

وَاعْلَمْ اَنَّ النَّكِرَةَ تُوْصَفُ بِالْجُمْلَةِ الْخَبَرِيَّةِ نَحْوُ مَرَرْتُ بِرَجُلٍ اَبُوْهُ عَالِمٌ اَوْقَامَ اَبُوْهُ وَالْمُضْمَرُ لَايُوْصَفُ وَلَايُوْصَفُ بِهٖ:

ترجمه پوهې شه چه نكره موصوفه كيږي په جملې سره د جملی اسمیي مثال لكه مررت برجل ابوه عالم او د جملی مثال لكه مررت برجل قام ابوه او ضمير نه موصوف جوړيږي او نه صفت

تشريح پدي واعلم كې مصنفؒ تر فصل پوري دري قواعد ذكر كوي (۱) توصيف د نكري په جملې خبريې سره جائز دي يعني چې په يو تركيب كې نكره موصوف واقع شي او صفت ورله جمله خبريه واقع شي نو دا جائز دي دا ځكه چې مخكې يو قانون ذكر شو كه چيري موصوف نكره وي نو صفت به هم نكره واقع كيږي پس دلته جمله خبريه هم په حكم د نكري كې وي په خلاف د جملی

انشائیي نه ځکه چې جمله انشائیه په مشابهت کې د مفرد سره متحققه نه ده او مفرد په صفت کې اصل ده بله وجه داده چې په جمله انشائیه کې د صدق او کذب احتمال وي پس ځکه دا صفت نه شي واقع کیدې په نکرې سره احتراز راغی د معرفي نه یعنې جمله خبریه د معرفي صفت نه شي جوړیدې (۲) والمضمرة لایوصف: د اسم ضمیر توصیف نشي کیدې په بل یو شي سره یعنې مضمر موصوف نه شي واقع کیدې د دي د پاره وجه داده چې په اصل کې د موصوف فوائد دي کچرې موصوف او صفت دواړه نکرې وي نو بیا به مفید د تخصیص د پاره وي او که معرفي وي نو بیا به مفید د تعریف ګرزي پس ضمیر د متکلم او مخاطب دا په انتهایي وضاحت کې دي او ضمیر د غائب محمول او قیاس دي په دوي باندې دا ځکه موصوف نشي واقع کیدې

فان قیل نحو قوله تعالی هو العزیز الحکیم هو ضمیر د غائب دي او بیا هم موصوف مستعمل دي؟

قلنا: هو ضمیر غائب دي لیکن په سکون دو او سره هُوْ یو صفتي نوم دي د نومو نو د الله نه دویم جواب دادي چې دا موصوف او صفت نه دي بلکه دا بدل مبدل منه دي (۳) ولایوصف به دا عطف دي په والمضمرة باندې یعنې اسم ضمیر صفت هم نه شي واقع کیدې ځکه چې کوم شي صفت واقع کیږي هغه به مشتقي وي او ضمیر مشتقي نه دي بلکه جامد دي.

العطف باالحروف

فَصْلٌ: اَلْعَطْفُ بِالْحُرُوْفِ تَابِعٌ يُنْسَبُ اِلَيْهِ مَا نُسِبَ اِلٰى مَتْبُوْعِهٖ وَكِلَاهُمَا مَقْصُوْدَانِ بِتِلْكَ النِّسْبَةِ وَيُسَمّٰى عَطْفَ النَّسَقِ وَشَرْطُهٗ اَنْ يَّكُوْنَ بَيْنَهٗ وَبَيْنَ مَتْبُوْعِهٖ اَحَدُ حُرُوْفِ الْعَطْفِ وَسَيَاْتِيْ ذِكْرُهَا فِي الْقِسْمِ الثَّالِثِ اِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى نَحْوُ قَامَ زَيْدٌ وَعَمْرٌو:

ترجمه: دویم فصل په بیان د عطف باالحروف کښ دي. دا هغه تابع دي چه ده ته به د هغه شي نسبت شوی وی چه د کوم شي نسبت متبوع د ده ته شوی وی او تابع او متبوع دواړه مقصود دی په هغه نسبت چه د دواړو ته شوي وی سره او دیته ئی نوم عطف نسق یعنی عطف بالحروف کیخودلو او د لپاره شرط دا دي چه د معطوف او معطوف علیه په درمیان کښ حروف عاطفه نه یو حرف به راغلي وی او د دي ذکر به ان شاء الله تعالی په قسم ثالث کښ راشي لکه قام زید و عمر

تشریح: مصنفؒ چې کله فارغ شو د قسم اول نه پس شروع یې او کړه په قسم ثاني کې چې عطف بالحرف (ای احتراز ست از عطف بیان ۱۲) دي. عطف په لغت کې میلان او نرمی ته وایې او حروف عاطفه ته ځکه عطف وایي چې دا خپل مابعد د ماقبل طرف ته مائله کوي په حکم کې په

Maktaba Tul Ishaat.com

اصطلاح کښې دعطف تعریف مصنف کړی چې دا یو تابع ده داسې تابع چې څنګه نسبت دده معطوف ته شوي وي هغه نسبت به ده ته شوي وي اودي به دواړه مقصود بالنسبت یعني په حکم کښې به دواړه برابروي ویسمی عطف النسق. نسق برابروالی لومساوي ته وایي پس دي عطف ته نسق ځکه وایي چې حکم دمعطوف اومعطوف علیه دواړه برابروي په کلاهما مقصودان سره احترازراغی دبدل مبدل منه نه ولی چې دبدل اومبدل منه حکم دواړو ته وي ظاهراً لیکن مقصودي نسبت بدل ته شوي وي اومبدل منه ته حکم بطورتمهید وایي۔

وشرطه الخ : شرط دعطف النسق دپاره دادي چې دمعطوف اومعطوف علیه په مابین کښې به یو دحروف عاطفه وُونه ضرورراغلی وي اوحروف عاطفه ټول لس دي. لاندي په اشعاروکښې جمع شوي دي۔

ګرحروف عطف خواهی بی خلل   یادګیراین نظم میخوان درمحل
واو ، فاوثم ، حتی نیزاو   باأمْ واَمّاولکن ، لاوبل

وَاِذَاعُطِفَ عَلَى الضَّمِيْرِالْمَرْفُوْعِ الْمُتَّصِلِ يَجِبُ تَاكِيْدُهٗ بِالضَّمِيْرِالْمُنْفَصِلِ نَحْوُضَرَبْتُ اَنَا وَزَيْدٌ اِلَّااِذَافُصِّلَ نَحْوُضَرَبْتُ الْيَوْمَ وَزَيْدٌ:

ترجمه: چکله ضمیر مرفوع متصل باندي یو اسم عطف کړي شی نو ددي تاکید په ضمیر منفصل سره راوړل واجب دي لکه ضَرَبْتُ اَنَاوَزَيْدٌ

تشریح: ددي قاعدي خلاصه داده عُطف په معنی دارادي سره ده پس چې کله اراده دعطف اوکړی شي په ضمیرمرفوع متصل باندي (برابره خبره ده که بارزوي اوکه مستتروي) پس دضمیرمرفوع متصل تاکید واجب دي په ضمیرمرفوع منفصل سره یعني دده نه پس به ضمیرمنفصل لګولی شي اوددي نه بعدبه حرف عطف راځي لکه ضربت اناوزیدٌ په ضربت کښې تُ ضمیرمرفوع متصل دي ددي تاکید په انا ضمیرمنفصل سره شوي ده (دت نه تعبیرپه مؤکدسره کیږي اوانا تاکیددي ۱۲) البته کچري دضمیر متصل اودمعطوف په مابین کښې لفظ فاصل راغلی وي نوبیا ضمیرمنفصل ته حاجت نشته یعني بغیردتاکیدنه عطف په ضمیر منفصل باندي جائزدي (۳) په مرفوع سره احترازراغی دمنصوب اومجرورنه اوپه متصل سره احترازراغی دضمیرمنفصل نه ځکه چې دضمیرمنفصل تاکیدنشي کیدي په بل ضمیرمنفصل سره لکه مثال دلفظ فاصل دپاره دادي قوله تعالی فَكُبْكِبُوْافِيْهَاهُمْ وَالْغَاوٗنَ : دلته لفظ فیها فاصله اوبا وجوددي

ضمیرمنفصل هُمْ ذکرشوي دي پس ددي ترك هم جائزده برابره خبره ده که لفظ فاصل بعدالحرف عطف وي او که قبل الحرف عطف وي لکه مَاأَشْرَكْنَاوَلَاآبَاءُنَا دلته لفظ لافاصل واقع بعدالعطف ده.

ددي قاعدي دپاره وجه داده چې ضمیرمرفوع متصل پشان د جزء دکلمی ده دوجی دپیوستوالی نه یعني دا پیوست وي په لفظ پوري پس دا غیرمستقل دي او غیرمستقل ضعیف وي کچري بغیردتاکیدنه په ده باندي عطف اوکړي شي نوعطف قوي دي پس عطف دقوي به په ضعیف باندي راشي .اوداخه خبره ده یعني مرتبه دمتبوع کمزوري شوه نوځکه به ضمیرمنفصل دتاکید دپاره راشي اودامستقل دي پس عطف به دمستقل په مستقل باندي راشي.

وَإِذَاعُطِفَ عَلَى الضَّمِيرِالْمَجْرُورِيَجِبُ إِعَادَةُ حَرْفِ الْجَرِّنَحْوُمَرَرْتُ بِكَ وَبِزَيْدٍ:

ترجمه: او چه کله ضمیر مجرور باندي عطف کړي شي نو د حرف جر اعاده کول ضروری دي لکه مَرَرْتُ بِكَ وَبِزَيْدٍ

تشریح: داقاعده دضمیرمجرور متصل سره متعلقه ده پس چې هرکله اراده دعطف اوکړی شي په ضمیرمجرورمتصل نولابدي به وي داعادي دحرف جرنه اوپدي کې دوه مذهبه دي یومذهب دبصریینودي اوبل دکوفیینو دي

بصریین: دبصري علماء وايي چې اعاده دحرف واجبه ده په نثر (دنثرنه مرادعبارت دکتاب دي.) کې اوکچري حالت داضطراروي یعني حالت دمجبوروي نوبیا اعاده دحرف جرواجبه نه ده بلکه ترك کولی به شي.

کوفیین: دکوفی حضراتو مطلق اجازت ورکړیدي یعني په هرحالت کې اعاده دحرف جرهم جائزه ده اوترکوالي هم جائزده مثال مررت بك وبزید ك ضمیرمجرورمتصل ده اوپس دحرف نه اعاده دحرف جرشوی ده. ددي قاعدي دپاره وجه مذکوره ده.

وَاعْلَمْ أَنَّ الْمَعْطُوفَ فِيْ حُكْمِ الْمَعْطُوفِ عَلَيْهِ أَعْنِيْ إِذَاكَانَ الْأَوَّلُ صِفَةً لِّشَيْءٍ أَوْ خَبَرًالِلْأَمْرِأَوْصِلَةً أَوْحَالًافَالثَّانِيْ كَذٰلِكَ أَيْضًا:

ترجمه: پوئی شه چه حکم د معطوف په شان د معطوف علیه ده یعنی که اول د څه شی صفت وی یا د امر خبروی یا صله وی یا حال واقع شوي وی نو ثانی به هم دغه رنګه وی

تشریح: پوی شه چې حکم دمعطوف په حکم دمعطوف علیه کې وي ددي مطلب دادي کچري معطوف علیه صفت وي دپاره دموصوف نومعطوف به هم صفت وي دپاره دموصوف

Maktaba Tul Ishaat.com

کچېرې معطوف علیه خبروي د پاره د مبتداء نو معطوف به هم خبروي د پاره د مبتداء. کچېرې معطوف علیه صله وي د پاره د موصول نو معطوف به هم صله وي د پاره د موصول که چیرې معطوف علیه حال وي لپاره د ذو الحال نو معطوف به هم حال وي لپاره د ذو الحال.

وَالضَّابِطَةُ فِيْهِ أَنَّهُ حَيْثُ يَجُوْزُ أَنْ يُقَامَ الْمَعْطُوْفُ مَقَامَ الْمَعْطُوْفِ عَلَيْهِ جَازَ الْعَطْفُ وَحَيْثُ لَا فَلَا:

ترجمه: او قاعده کلیه دا ده چه کوم ځائي کښې معطوف په ځائي د معطوف علیه راوړل جائز وی نو عطف به هم جائز وی. کچرته داسې نه وی نو عطف به هم جائز نه وی.

تشريح: دا قاعده او ضابطه ده چې کوم ځای کې قیام د معطوف په ځای د معطوف علیه باندې کیږي نو په دې کې به عطف جائز وي او که قیام د معطوف په ځای د معطوف علیه باندې نه کیږي نو بیا به عطف جائز نه وي.

وَالْعَطْفُ عَلٰى مَعْمُوْلَيْ عَامِلَيْنِ مُخْتَلِفَيْنِ جَائِزٌ إِنْ كَانَ الْمَعْطُوْفُ عَلَيْهِ مَجْرُوْرًا مُقَدَّمًا وَالْمَعْطُوْفُ كَذٰلِكَ نَحْوُ فِي الدَّارِ زَيْدٌ وَالْحُجْرَةِ عَمْرٌو وَفِيْ هٰذِهِ الْمَسْئَلَةِ مَذْهَبَانِ أُخْرَانِ وَهُمَا أَنْ يَجُوْزَ مُطْلَقًا عِنْدَ الْفَرَّاءِ وَلَا يَجُوْزُ مُطْلَقًا عِنْدَ سِيْبَوَيْهِ:

ترجمه: دوه مختلف عاملانو په دوو معمولینو باندې عطف کول جائز دی کچرته معطوف علیه مجرور او مقدم وی او معطوف هم دغه رنګه ده لکه (**فِي الدَّارِ زَيْدٌ وَالْحُجْرَةِ عَمْرٌو**) پدې مسئله کښې دوه نور مذهبونه دی هغه دا دي چه په نزد د فراء مطلقاً عطف جائز دي او د سیبویه په مطلقاً نا جائز ده

تشريح: دا یوه اختلافی قاعده ده چې عطف د دوه اسمینو (معمولین مختلفینو) په معمولین د عاملینو مختلفینو جائز ده خلاصه یې دا ده چې عطف د اسمینو داسې اسمین چې پخپله معمولین مختلفین وي پس د دې عطف په داسې معمولینو جائز دي چې د هر معمول عامل جُدا یعني مختلف وي لکه فی الدارِ زیدٌ والحجرةِ عمرٌو الحجرة معمول مجرور ده په تقدیر د حرف جر سره او عمرٌ معمول مرفوع ده بنا بر ابتدائیت او عامل یې معنوي دي او دغه شان فی الدار معمول مجرور دي عامل یې فی جاره دي او زیدٌ مرفوع دي بنا بر ابتدائیت عامل یې معنوي دي پس د الحجرة عمرٌو عطف په فی الدار زیدٌ جائز دي او که جائز نه ده پدې کې درې مذاهب دي (۱) یو مذهب د جمهورو دي (۲) دویم د امام فرا (۳) دریم د سیبویه دي

(۱) - **مذهب د جمهورو**: دا دي دوي وایي چې د دې قسم عطف د جواز د پاره شرط

دادي چې په جانب دمعطوف علیه کې مجرور مقدم وي او په جانب دمعطوف کې هم مجرور مقدم وي لکه په مثال مذکورکې معمولِ مجرور مقدم دي په دواړو جانبینوکې اودجواز دپاره دلیل دادي چې داقسم عطف خلاف قیاس ثابت ده لیکن خلاف قیاس شي چې څنګه ثابت شي نوتر آخره په هغه شان مستعملیږي پس داقسم عطف په کلام عربي کې موجود دي لکه یو شعر دي عطف دلالت کوي.

شعر

اَکُلُّ امْرِءٍ تَحْسَبِیْنَ امْرءً ا وَنَارٍ تُوَقَّدُ بِاللَّیْلِ نَارًا

ترجمه: په هر مَرد باندي ګمان ته دسړي کوي او په هغه اور ګمان کوي چې بل وي په تیاره کې کل امرءٍ (مضاف مضاف الیه) یو معمولِ مجرور دي اوتحسبین امرءًا بل معمول دي چې منصوب دي اوپه دویم بند کې ونارٍ هم معمولِ مجرور دي اوداعطف دي په کل امرءٍ باندي اونارًا منصوب دي اوعطف دي په امرءًا. پس جمهور وایې چې داقسم عطف خو خلاف قیاس ثابت دي لیکن کله چې مونږه په دقیق نظر سره تحقیق اوکړونو یدي کې په دواړو جانبینو کې مجرور مقدم دي نو څکه مونږه ددې عطف دجواز دپاره داشرط ولګو (۲) - دویم مذهب دامام فراء صاحب دي دوی وایې چې داقسم عطف جائز دي مطلقاً یعني ددې دپاره هیڅ قسم شرائط نشته که مجرور مقدم وي او که نه وي

(۳) - دریم مذهب دامام سیبویه صاحب دي چې داقسم عطف مطلقاً ناجائز دي اووجه داده چې په اصل کې په جانب دمعطوف کې تقدیر دفي جاره دي یعني في الدار زیدٌ ای في الحجرة عمروٌ پس اختلاف په دې ځای کې څکاره کیږي یعني دجمهورو او دامام فراء په نزد عطف دمفرد دي په مفرد باندي پدې شان سره چې الحجرة په الدار عطف دي اوعمروٌ په زیدٌ باندي عطف دي او دامام سیبویه په نزعطف دجملې دي په جملې باندي یعني في الحجرة به په تقدیر دفي سره عطف شي في الدار باندي او عمرٌو به عطف شي په زیدٌ باندي خلاصه داده چې دجمهورو او فراء په نزد عطف دا سمینو په معمولینو دعاملینو مختلفینو جائز دي مفرداً مفرداً او دامام سیبویه صاحب په نزد جائز دي جملتاً جملتاً لامفرداً مفرداً. فتوی دجمهورو په مذهب ده. ۱۲

Maktaba Tul Ishaat.com

التاكيد

فَصْلٌ: اَلتَّاكِيْدُ تَابِعٌ يَدُلُّ عَلٰى تَقْرِيْرِ الْمَتْبُوْعِ فِيْ مَا نُسِبَ اِلَيْهِ اَوْعَلٰى شُمُوْلِ الْحُكْمِ لِكُلِّ فَرْدٍ مِّنَ الْاَفْرَادِ الْمَتْبُوْعِ:

ترجمه: دریم فصل په بیان د تاکید کښ ده، تاکید هغه تابع دي چه خپل متبوع په ثابتولو باندي دلالت کوی په هغه شی کښ چه کوم متبوع طرف ته منسوب وی، او یا به دلالت کوی په شمول د حکم هر فرد ته له افرادو د متبوع نه

تشریح: دویم قسم د توابعو نه تاکید دي تاکید او توکید دواړه یو الفاظ دي په نعت کي تثبیت یعني مضبوطولو ته وایي او په اصطلاح کي تاکید هغه تابع دي چې دلالت کوي په مضبوطولو د متبوع په هغه شي کي چې منسوب وي متبوع ته او دویمه معنی دا ده تاکید هغه تابع ده چې دلالت کوي په شمول د حکم باندي د پاره د هر یو فرد د افرادو د متبوع نه . گویا د تاکید دوه فائدي شوي یوه فائده او غرض د تاکید دا دي چې کوم شي د متبوع طرف ته منسوب وي نو تاکید د هغه شي د تجوز احتمال لري کوي او دویمه فائده دا ده چې متبوع په افراد کثیرو دلالت کوي نو پدي کي دا شبه او شک وي چې د متبوع یو فرد مراد دي که ډیر افراد مراد دي پس تاکید د غه شبه د افرادو د متبوع نه لري کوي

قیودات: په علی تقریر المتبوع سره احتراز راغی د عطف بالحروف او بدل نه د اتوابع دي لیکن دوی داسی قسم دلالت نکوي په فی مناسب الیه سره احتراز راغی د نعت او عطف بیان نه خکه چې دوی په ذات د متبوع دلالت کوي۔

اقسام د تاکید

وَالتَّاكِيْدُ عَلٰى قِسْمَيْنِ لَفْظِيٌّ وَهُوَ تَكْرِيْرُ اللَّفْظِ الْاَوَّلِ نَحْوُ جَاءَنِيْ زَيْدٌ زَيْدٌ وَجَاءَ جَاءَ زَيْدٌ وَمَعْنَوِيٌّ وَهُوَ بِاَلْفَاظٍ مَعْدُوْدَةٍ وَهِيَ النَّفْسُ وَالْعَيْنُ لِلْوَاحِدِ وَالْمُثَنّٰى وَالْمَجْمُوْعِ بِاخْتِلَافِ الصِّيْغَةِ وَالضَّمِيْرِ نَحْوُ جَاءَنِيْ زَيْدٌ نَفْسُهٗ وَالزَّيْدَانِ اَنْفُسُهُمَا اَوْنَفْسَاهُمَا وَالزَّيْدُوْنَ اَنْفُسُهُمْ وَكَذٰلِكَ عَيْنُهٗ وَاَعْيُنُهُمَا اَوْعَيْنَاهُمَا وَاَعْيُنُهُمْ وَجَاءَتْنِيْ هِنْدٌ نَفْسُهَا وَجَاءَتْنِي الْهِنْدَانِ اَنْفُسُهُمَا اَوْنَفْسَاهُمَا وَجَاءَتْنِي الْهِنْدَاتُ اَنْفُسُهُنَّ:

ترجمه: تاکید په دوه قسمه دی اول تاکید لفظی دا هغی ته وئیلی شی چه اولنی لفظ

مکرروی لکه جَاءَنِیْ زَیْدٌ زَیْدٌ وَجَاءَ جَاءَ زَیْدٌ او دویم قسم تاکید معنوی ده دا هغه دي چه پر څو مخصوص الفاظو په ذریعې سره راوړلی شي او هغه الفاظ دا دی (اَلنَّفْسُ وَالْعَیْنُ) دا واحد، تثنیه او جمع لپاره دی په مختلف کیدو د صیغو او ضمیرونو سره لکه جَاءَنِیْ زَیْدٌ نَفْسُهٗ وَالزَّیْدَانِ اَنْفُسُهُمَا یا نَفْسَاهُمَا وَالزَّیْدُوْنَ اَنْفُسُهُمْ او هم دغه رنګی عَیْنُهٗ او اَعْیُنُهُمَا اَوْعَیْنَاهُمَا وَاَعْیُنُهُمْ هم دي او د مؤنث مثال لکه جَاءَتْنِیْ هِنْدٌ نَفْسُهَا وَجَاءَتْنِیْ الْهِنْدَانِ اَنْفُسُهُمَا اَوْنَفْسَاهُمَا وَجَاءَتْنِیْ الْهِنْدَاتُ اَنْفُسُهُنَّ.

تشریح: تاکید په دوه قسمه ده (۱) تاکیدلفظی (۲) تاکیدمعنوي.

(۱) **تاکیدلفظی**: مکررکول دلفظ اول ته تاکیدلفظی وایې یعني داتاکیدپه اعتباردلفظ سره ده اودلفظ اول مراددادي چې نسبت يې مابعدته اوشي اوبې برابره خبره ده که لفظ اول اسم وي که فعل وي که حرف وي که مرکب وي که غیرمرکب وي که مرکب تقییدي وي که غیرتقیدي وي وغیرهماته شامل ده لکه مثال جاءنی زیدٌ زیدٌ. دلته زید اول اګرچې مینځ کې واقع دي لیکن داهغه لفظ اول دي چې نسبت يې مابعدته شوي ده اودتاکیدفائده دفع دتوهم ده یعني هرکله چې یوزیدذکرشي نومخاطب به شك کوي چې آیازیدراغلی دي که نه دي پس په مکررراوړلوسره دفیعه دتوهم پورته شوه دويم مثال جاءَ جاءَ زیدٌ په دي سره دفع دتوهم راغله چې زید پخپله راغی

(۲) **تاکیدمعنوي**: تاکیدمعنوي حاصلیږي په یوڅولفظونوسره اومعنوي ورته ځکه وایې چې منسوب بالمعنی ده په یوڅولفظونوسره اولفظونه دادي (۱) نفسٌ (۲) عینٌ (۳) کلا (۴) کلتا (۵) کُلُّ (۶) أَجمَعُ ددي نه علاوه دری الفاظ نورهم دي لیکن دادریواړه تابع داجمع دي (۱) اکتعُ (۲) ابتعُ (۳) ابصعُ پس ټول شپږ الفاظ دي اوددي داستعمال طریقه داده نفسٌ وعینٌ دادواړه لفظونه راځی دپاره دتاکیدپه اختلاف دصیغی دمؤکدسره یعني که مؤکدواحدوي نودا الفاظ به هم واحدذکرکیږي اوکه مؤکدپه تثنیې سره مستعمل وي نودا الفاظ به هم صیغی دتثنیې سره ذکرکیږي اوکه مؤکدپه جمعی سره وي نودوي به دجمعی صیغې سره ذکرکیږي پس خلاصه داشوه چې نفسٌ اوعینٌ مستعملیږي برای تاکیدپه اختلاف دصیغې سره لکه مثال دادی جاءنی زیدٌ نفسه دادمفردمثال دي په نفسه کې ضمیردواحدده چې راجع مؤکدته دي دتثنیې مثال لکه جاءنی زیدان انفسهما اونفساهمادلته یوه قاعده ده دابه په بحث دمثنی کې راشي انشاء الله تعالی قاعده داده چې کله دمثنی اضافت مثنی ته اوشي نوداولی مثنی نه تعبیربه لفظ دجمعی سره کیږي یعني دادعربوقاعده ده چې دوه تثنیې نه خوښی پس مصنفؒ ځکه دجمعی صیغه راوړه ای انفسهما اونفساهماپه نزدابن کسان ذکرکیږي ځکه مصنفؒ په دواړوعمل کړی دي

Maktaba Tul Ishaat.com

وَكِلَا وَكِلْتَا لِلْمُثَنّٰى خَاصَّةً نَحْوُ قَامَ الرَّجُلَانِ كِلَاهُمَا وَقَامَتِ الْمَرْأَتَانِ كِلْتَاهُمَا:

ترجمه: کلا او کلتا خاص تثنیه لپاره دی لکه قَامَ الرَّجُلَانِ كِلَاهُمَا وَقَامَتِ الْمَرْأَتَانِ كِلْتَاهُمَا

تشریح: کلا او کلتا للمثنی مستعملیږي دپاره دتاکید په اختلاف دضمیر سره . په خاصةً سره احتراز راغی دواحد او جمعي نه بلکه کلا او کلتا دواړه مختص دي په تثنیې پوري او دتثنیې نه مراد عام دي که تثنیه اصطلاحي وي او که تثنیه لغوي وي . **تثنیه اصطلاحي** دېته وايي چې صیغه دتثنی ذکر شي لکه جاء نی الرجلان کلاهما . **تثنیه لغوي** دېته وايي چې دوه لفظه ذکر شي په واسطي دحرف عاطف سره لکه جاء نی زیدٌ وعمرٌ کلاهما فرق په کلا او کلتا کې دادي چې کلا مختص دي دتثنی مذکر خاصی سره او کلتا مختص دي دتثنی مؤنث خاصی سره.

وَكُلُّ وَاَجْمَعُ وَاَبْتَعُ وَاَبْصَعُ لِغَيْرِ الْمُثَنّٰى بِاِخْتِلَافِ الضَّمِيْرِ فِيْ كُلٍّ وَالصِّيْغَةِ فِي الْبَوَاقِيْ تَقُوْلُ جَاءَنِيَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ اَكْتَعُوْنَ اَبْتَعُوْنَ اَبْصَعُوْنَ وَقَامَتِ النِّسَاءُ كُلُّهُنَّ جُمَعُ كُتَعُ بُتَعُ بُصَعُ:

ترجمه: او كُلُّ وَاَجْمَعُ وَاَبْتَعُ وَاَبْصَعُ د تثنیه نه علاوه لپاره راځي (یعنی واحد او جمع لپاره) لفظ کل کښ اختلاف په ضمیر سره راځي نه په صیغه کښ باقي نور به په صیغو تبدیلی سره راځي لکه جَاءَنِيَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ اَكْتَعُوْنَ اَبْتَعُوْنَ اَبْصَعُوْنَ وَقَامَتِ النِّسَاءُ كُلُّهُنَّ جُمَعُ كُتَعُ بُتَعُ بُصَعُ

تشریح: دا الفاظ مستعملیږي دپاره دتاکید بغیر دتثنیې نه یعني راځي به دپاره دواحد او جمعي پس که چیري لفظ دكُلُّ تاکید کړی شي نو اختلاف دضمیر به په کې لازمي وي او باقي الفاظ به موافق دمؤکد سره مستعملیږي که چیري مؤکد واحد وي نو اجمع واخوات به هم صیغی دواحد ذکر کیږي او که مؤکد جمع وي نو اجمع واخوات به صیغی دجمعي ذکر کیږي او که مؤکد مذکر وي نو دا الفاظ به هم صیغی دمذکر وي او که مؤنث وي نو دا به هم صیغی دمؤنث وي او که جمع سالمه وي نو دا به هم دغه شان ذکر کیږي . اَكْتَعُ: لفظی تشریح . لفظ د اکتع ماخوذ دي دكَتْعٌ نه په معنی دتمام والي سره دي لکه په محاوراتو کې راځي لکه حَوْلٌ كَتِيْعٌ پوره کال . اَبْتَعُ: دا ماخوذ ده دبَتْعٌ نه په معنی طُوْلُ الْعُنُقِ اُوږد ستّ والا چې ستّ یې اوږد وي . ابصع دا ماخوذ ده دبَصْعٌ نه په معنی بهیدل . پس دا دریواړه لغوي معنی په مقام دتاکید کې معتبري نه دي او پوره تفصیل د دي په واعلم کې راروان دي انشاء الله تعالی بتوفیقه

وَاِذَا اَرَدْتَ تَاكِيْدَ الضَّمِيْرِ الْمَرْفُوْعِ الْمُتَّصِلِ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنِ يَجِبُ تَاكِيْدُهٗ بِالضَّمِيْرِ

الْمُنْفَصِلِ نَحْوُ ضَرَبْتَ أَنْتَ نَفْسَكَ وَلَا يُؤَكَّدُ بِكُلٍّ وَأَجْمَعَ إِلَّا مَا لَهُ أَجْزَاءٌ وَأَبْعَاضٌ يَصِحُّ افْتِرَاقُهَا حِسًّا كَالْقَوْمِ أَوْ حُكْمًا كَمَا تَقُولُ اِشْتَرَيْتُ الْعَبْدَ كُلَّهُ وَلَا تَقُولُ أَكْرَمْتُ الْعَبْدَ كُلَّهُ:

ترجمه: چه کله ته د ضمیر مرفوع متصل تاکید په نفس او عین ذریعی سره راوړلو اراده وکړي نو د دي تاکید به په ضمیر منفصل سره راوړل ضروري دی لکه ضَرَبْتَ أَنْتَ نَفْسَكَ او نشی راوړلی کیدي تاکید په کل او اجمع ذریعی سره مګر د کوم شی چه اجزاء او حصي وی او جدا والی حسی طور باندي صحیح وی لکه قوم یا حکم په اعتبار سره وی لکه اِشْتَرَيْتُ الْعَبْدَ كُلَّهُ او داسي نشي وئیلی چه أَكْرَمْتُ الْعَبْدَ كُلَّهُ

تشریح: هر کله چي اراده او کړی شي د تاکید د ضمیر مرفوع متصل په لفظ د نفس او عین سره نو لازمه ده چي اول به یي تاکید په ضمیر مرفوع منفصل سره او کړی شي او بیا به تاکید د نفس یا د عین راوړي شي لکه مثلاً ضَرَبْتَ أَنْتَ نَفْسَكَ یا عَيْنَكَ وغیره د دي د پاره وجه داده چي نفسٌ او عینٌ په غالبو او قاتو کي فاعل واقع کیږي د پاره د فعل لکه یو سړی دا او وایي چي زيدٌ ضرب نفسه زید مبتداء ضرب فعل نفسه یې فاعل جمله فعلیه خبر د مبتداء پس دا خبره غالبه ده که چیري د تاکید په مقام کي د ضمیر مرفوع متصل تاکید په ضمیر منفصل سره او نه کړی شي نو لازم به شي التباس په مابین د فاعل او د تاکید پس د التباس د رفعي د پاره به ضمیر منفصل راوړي شي.

ویؤکد بکل واجمع الا ما له اجزاء: تاکید به نشي کیدي د کلُ او اجمع مګر د هغه شي چي هغي د پاره اجزاء وي او یا په کي حصی جوړیدي یعني چي اختراق او جدا والی په کي راتلی شي حقیقتاً او حکماً مثلاً لکه لفظ د قوم د دي د پاره امور متعدد ده دي او دا حقیقتاً افتراق دي په مابین د افرادو په قوم کښي یا لکه عَبْدٌ دا مفرد دي لیکن حصی په کي جوړیدي شي لکه اشتریتُ العبدَ کُلَّهٗ ما واغست غلام په جمع سره یعني ټول غلام ما واغست. (دا امثله په قدوري کي ده)

وَاعْلَمْ أَنَّ أَكْتَعَ وَأَبْتَعَ وَأَبْصَعَ أَتْبَاعٌ لِأَجْمَعَ وَلَيْسَ لَهَا مَعْنًى هٰهُنَا بِدُونِهِ فَلَا يَجُوْزُ تَقْدِيْمُهَا عَلٰى أَجْمَعَ وَلَا ذِكْرُهَا:

ترجمه پوئی شه چه اکتع ابتع ابصع دا ټول د اجمع تابع دی او دوی د پاره په مقام د تاکید کښ هیڅ معنی نشته بغیر د اجمع نه. دا ټول په اجمع باندي مقدم کول او د اجمع نه بغیر ذکر کول جائز نه دی.

تشریح: پدي واعلم مصنفؒ د اجمع واخوات بحث کوي چي د اکتع ابتع ابصع د پاره اجمعُ متبوع دي او دا یې تابع دي چي دی به مؤخر د اجمعُ نه او دا به نه مستعمليږي به مقام د تاکید کي بدون لاجمعُ ...

او د دوي خپلې لغوي معانی به په مقام د تاکید کې معتبرې نه وي مګر په معنی د اجمع به وي فقط.

دبدل تعریف اقسام او تشریح

فَصْلٌ: اَلْبَدَلُ تَابِعٌ يُنْسَبُ اِلَيْهِ مَا نُسِبَ اِلٰى مَتْبُوْعِهٖ وَهُوَ الْمَقْصُوْدُ بِالنِّسْبَةِ دُوْنَ مَتْبُوْعِهٖ وَ اَقْسَامُ الْبَدَلِ اَرْبَعَةٌ بَدَلُ الْكُلِّ مِنَ الْكُلِّ وَهُوَ مَدْلُوْلُهٗ مَدْلُوْلُ الْمَتْبُوْعِ نَحْوُ جَاءَنِيْ زَيْدٌ اَخُوْكَ، وَبَدَلُ الْبَعْضِ مِنَ الْكُلِّ وَهُوَ مَا مَدْلُوْلُهٗ جُزْءُ مَدْلُوْلِ الْمَتْبُوْعِ نَحْوُ ضَرَبْتُ زَيْدًا رَأْسَهٗ، وَبَدَلُ الْاِشْتِمَالِ وَهُوَ مَا مَدْلُوْلُهٗ مُتَعَلِّقُ الْمَتْبُوْعِ كَسُلِبَ زَيْدٌ ثَوْبُهٗ، وَبَدَلُ الْغَلَطِ وَهُوَ مَا يُذْكَرُ بَعْدَ الْغَلَطِ نَحْوُ جَاءَنِيْ زَيْدٌ جَعْفَرٌ وَرَأَيْتُ رَجُلًا حِمَارًا، وَالْبَدَلُ اِنْ كَانَ نَكِرَةً مِنْ مَعْرِفَةٍ يَجِبُ نَعْتُهٗ كَقَوْلِهٖ تَعَالٰى بِالنَّاصِيَةِ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ وَلَا يَجِبُ ذٰلِكَ فِيْ عَكْسِهٖ وَلَا فِي الْمُتَجَانِسَيْنِ:

ترجمه: دا څلورم فصل په بیان د بدل کښې دے، بدل داسې تابع ده، چه دې طرف ته به هغه شی منسوب کیږی چه کوم شی د دې متبوع طرف ته منسوب کیږی، او نسبت نه مقصود بدل ده نه د دې متبوع، او بدل په څلور قسمه ده (۱) بَدَلُ الْكُلِّ مِنَ الْكُلِّ. دا هغه بدل ده چه د دې مدلول بعینه د دې د متبوع مدلول ده لکه جَاءَنِيْ زَيْدٌ اَخُوْكَ (۲) بَدَلُ الْبَعْضِ مِنَ الْكُلِّ، او بدل البعض دا هغه بدل ده چه د دې مدلول د متبوع د مدلول نه جزء وی لکه ضَرَبْتُ زَيْدًا رَأْسَهٗ (۳) دریم قسم بَدَلُ الْاِشْتِمَالِ، دا هغه بدل ده چه مدلول د ده به متعلق وی لپاره د مدلول د مبدل منه لکه كَسُلِبَ زَيْدٌ ثَوْبُهٗ (۴) څلورم قسم بدل الغلط ده. دا هغه بدل ده چه د غلطی نه پس ذکر کولی شی لکه جَاءَنِيْ زَيْدٌ جَعْفَرٌ وَ رَأَيْتُ رَجُلًا حِمَارًا، او بدل کچرته نکره راغلي وی د معرفی نه نو واجب ده راوړل د صفت لکه د الله تعالی دا قول دی بِالنَّاصِيَةِ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ او د دې په برعکس کښې یعنی مبدل منه نکره وی او بدل ورله معرفه وی لکه قَامَ اَخٌ لَكَ زَيْدٌ، او همدغه رنګی د بدل لپاره صفت راوړل واجب ندی په هغه صورت کښې چه بدل او مبدل منه متجانسین وی یا دواړه معرفی وی لکه جاءنی زید اخوك او یا دواړه نکره وی لکه جاءنی غلام لك

تشریح: څلورم قسم د توابعو نه بدل دې په معنی د بدلید لو سره او په اصطلاح د نحو کې بدل هغه تابع دې چې منسوب کولی شې ده ته هغه شې چې کوم شې د ده متبوع ته منسوب وې لیکن مقصود بالنسبت به بدل وې او د متبوع نسبت به د پاره د بدل ذکر کیږې او متبوع مسمی کولی شې په مبدل منه سره لکه جاءنی زید اخوك اخوك بدل دې د زید نه او زید مبدل منه دې پس د جاءنی

نسبت زیدته شوي دي لیکن دامقصود بالنسبت نه دي بلکه نسبت دجاءنی اخوک ته شوي دي اودامقصود بالنسبت دي قیودات .په هو المقصود بالنسبت سره احترازراغی دنعت، دتاکید او عطف بیان نه ځکه چې په دوی کې مقصود با النسبت متبوع وي او په مقصود بالنسبت دبدل سره احترازراغی دعطف بالحروف نه ځکه چې په دي کې متبوع او تابع دواړه مقصود بالنسبت وي بدل په څلور قسمه دي وجه حصربي داده چې بدل به خالي نه وي یا به مصداق دبدل مبدل منه یو وي یا به یو نه وي که مصداق یې واحدوي دیته بَدَلُ الْکُلِّ مِنَ الْکُلِّ وایي اوکه دبدل مبدل منه مصداق واحد نه وي نو بیا به خالي نه وي یا به مدلول دبدل جُزء وي دمدلول دمبدل منه نه دیته بدل البعضَ وایي اوکچري دبدل مبدل منه په مابین کې علاقه وي ماسوادکلیت جزئیت نه نو دیته بدلاشتمال وایي اوکچري په مذکوروکې یو نه وي نو دیته بد الغلط وایي لکه مثال داول دپاره جاءنی زیدٌ اخوک دزید مصداق داخوکَ دي اودا اخوکَ مصداق دا زید دی دویم مثال لکه ضَرَبْتُ زَیْدًا رَأْسَهٗ دلته رأس جزء دي دمصداق دزید نه پس داعلاقه دکلیت او جزئیت ده. دریم مثال لکه سُلِبَ زیدٌ ثوبه دلته هسی علاقه ده یعني بدون الکلیت جزئیت بلکه هسی په یو بل مشتمل دي چې کپړې دزید دي. څلورم مثال لکه جاءنی زیدٌ جعفرٌ دلته جعفر بدل دي دزید نه یعني هرکله چې متکلم تکلم اوکه په دي خبره چې راغی ماته زید او په حقیقت کې زید نه وو مگر جعفر وو نو متکلم سمدستي بعد دزید نه اسم دجعفر اوړو پس دیته بدل الغلط وایي.

قاعده ددي قاعدې خلاصه داده چې په دي کې څلور صورتونه جوړیږي

(۱) اول صورت دادي چې بدل نکره وي او مبدل منه معرفه وي.

(۲) دویم صورت دادي چې بدل معرفه وي او مبدل منه نکره وي

(۳) چې دواړه نکرې وي

(۴) چې دواړه معرفې وي. پس اول دواړه مسمی دي په متخالفین صورتونو او بقیه دواړه مسمی دي په متجانسین. اوس قاعده داده چې فقط په اولنی صورت کې دبدل (نکري) دپاره توصیف اونعت واجب ده کقوله تعالی بِالنَّاصِيَةِ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ ناصیة بدل نکره ده او کاذبة ورله صفت ذکر شوي دي.

عطف بیان

فَصْلٌ: عَطْفُ الْبَيَانِ تَابِعٌ غَيْرُ صِفَةٍ يُوَضِّحُ مَتْبُوعَهُ وَهُوَ اَشْهَرُ اِسْمَيْ شَيْءٍ نَحْوُ قَامَ

Maktaba Tul Ishaat.com

أَبُوْحَفْصٍ عُمَرُوَقَامَ عَبْدُاللهِ اِبْنُ عُمَرَ:

ترجمه: پنځم فصل په بیان د عطف بیان کښې دے او عطف بیان داسې تابع ده چه صیغه د صفت به نه وی او د خپل متبوع وضاحت به کوی او دا عطف بیان به اشهر د اسمینو د شی نه وی لکه قَامَ أَبُوْحَفْصٍ عُمَرُوَقَامَ عَبْدُاللهِ اِبْنُ عُمَرَ.

تشریح: پنځم قسم (آخری) د توابع نه عطف بیان دي تعریف یې دادي چې دا یو تابع دي داسي تابع چې صفت نه وي بلکي دخپل متبوع وضاحت کوي په غیرصفة سره احترازراغی دصفت نه او په یوضح متبوعه سره احترازراغی دنورو توابعونه. وهواشهراسمی شئ. عطف بیان هغه مشهوراسم دي ددوه اسمونو دیو شي نه اوداعبارت دنورو کتابونو نه هم داسي معلومیږي چې عطف بیان به مشهوروي دخپل متبوع نه بلکه داخبره صحیح نه ده چې عطف بیان به ضرورمشهوروي دخپل متبوع نه بلکه داخبره ضروري ده چې په ده سره وضاحت دیوشي حاصل شي اګرکه دی مشهورنوي پس برابره خبره ده که دغه وضاحت په عطف بیان سره حاصل شي اوکه په متبوع دده سره حاصل شي لکه مثلاً قام ابوحفص عُمَرُ دادواړه یو اسمین دشخص واحد دي چونکه عمرزیات مشهوردي نودلته دمصنف دعبارت مطابق عطف بیان مشهورګرزیدلي دي - مثال ثاني قام عبدالله بن عمرپدي کې عبدالله اسم محزه ده - ابن عمرکنیت ده اواسم محزه مشهوروي دکنیت نه اودلته اسم کنیت ابن عمرمشهورګرزیدلی دي نودامثال پدي خبره دلالت کوي چې عطف بیان اسم واقع کیدي شي لیکن چه کله صفت نه وي.

وَلَا يَلْتَبِسُ بِالْبَدَلِ لَفْظًا فِيْ مِثْلِ قَوْلِ الشَّاعِرِ أَنَا ابْنُ التَّارِكِ الْبَكْرِيِّ بِشْرٍ، عَلَيْهِ الطَّيْرُ تَرْقُبُهُ وُقُوْعًا:

ترجمه: او نه ملتبس کیږی عطف بیان بدل سره باعتبار د لفظ سره، لکه د شاعر دا قول:

شعر:
أَنَا ابْنُ التَّارِكِ الْبَكْرِيِّ بِشْرٍ _ عَلَيْهِ الطَّيْرُ تَرْقُبُهُ وُقُوْعًا

تشریح: پدي عبارت کې دمصنف غرض دادي چې دعطف بیان اوبدل په مابین کې معنوي فرق واضح دي لیکن لفظی فرق بیانی اوداځکه چې په بعضونراکیبوکي عطف بیان ذکروي نوممکنه ده چې مبتدي نوهم دبدل ذهن ته راولی نوددي قسم توهم تو ددفعی دپاره مصنف لفظي فرق بیاني پس معنوي فرق په عطف بیان اوبدل کې دادي چې عطف یاموضح دي دمتبوع لپاره اومقصود بالنسبت په کې متبوع وي اوبدل موضح نه بلکه پخپله مقصود بالنسبت وي

لفظي فرق توهّم دبدل به په هرهغه ترکیب کې ذهن ته راځي چې عطف بیان راغلی وي دمعرفي باللام نه اوچې دغه معرفه باللام مضاف الیه وي دپاره دصیغې دصفت اوچې دغه صیغه دصفت هم معرفه باللام وي.

خوږې مصرې په خاتمه داسم پس عطف بیان چې کله په مثل ددې ترکیب کې واقع شي نوممکنه ده داخبره چې توهّم دبدل په کې واقع شي لکه شعر.

أَنَاابْنُ التَّارِكِ الْبَكْرِيِّ بِشْرٍ عَلَيْهِ الطَّيْرُ تَرْقُبُهُ وُقُوْعاً

پدې شعرکې بشرٍ عطف بیان دی دالبکری دپاره چې البکري معرفه باللام ده داسې معرفه باللام چې مضاف الیه دی دپاره دالتارك اوالتارك پخپله معرفه باللام صیغه دصفت ده په معنی دقاتل سره یاپه معنی دمُصَیِّر سره ده دبشرٍ اوبکري مصداق یودی یعنې دیو شخص اسمین دي پس ممکنه ده چې بشرٍ بدل واقع شي دالبکري نه اوکه دیته نظراوکړې چې بشرٍ اسم اشهردی نودادی دالبکري دپاره عطف بیان واقع شي اودشعرترکیب به پدې شان سره کیږي که چیرې التارك په معنی دقاتل سره شي نوانامبتدا ابن التارك الخ ورله خبراوالبکري اګرچې مضاف الیه دی لیکن دابه سره دبشرٍ نه مفعول به شي دپاره دالتارك اوعلیه الطیربه حال واقع شي دالتارك نه اوترقبه به دعلیه دمتعلق دضمیرنه حال واقع شي اووقوع دواقع جمع ده دابه دترقبه دضمیرنه حال شي کچرې التارك په معنی دمصیرسره شي نوالتارك به په دې صورت کې دوه مفعولین غواړي یومفعول به البکري بشرٍ شي اومفعول ثاني به علیه الطیرواقع شي پس معنی دشعربه داسې شي که چیرې التارك په معنی دقاتل سره شي نومعنی به داشي چې زه زوې (ای پرزند یعنی بیساط ۱۲) دهغه چایم چې هغه قتل کونکې دی بکري بشرلره په حال دکون دبکري بشرکې چې مارغان انتظارکوي په بکري بشرباندې په حال دکون دوقوع کې دقوع دمارغانونه مراد داده که چیرې التارك په معنی دمصیرسره شي نومعنی به داشي چې زه زوې دهغه چایم چې هغه ګرزونکې دی بکري بشرلره ایضاً غالباً دواړه معاني یودي۔ زده کړه داخبره چې بشرٍ عطف بیان دی دالبکري نه پدې شان سره چې دنحوي قانون دی چې عامل دمبدل منه عامل دپاره دبدل وي ددې قانون ماتحت کچرې بشرٍ بدل واقع شي دبکري نه نوالتارك عامل دی دالبکري دپاره پس دغه عامل به دبشرٍ دپاره هم وي اوتقدیربه داشي چې التارك بشرٍ پس داترکیب غلط دی ځکه چې دتارك اضافت بشرٍ ته ونشه اودصفت اضافت چې کله معمول ته وشي نودابه اضافت لفظي وي اوداضافت لفظي فائده داده چې تخفیف راولي په لفظ کې حالانکه په التارك بشرٍ کې دغه تخفیف نه دی واقع شوي. اګرچې دالتارك نه تنوین حذف شوي لیکن داد الف لام دوجې نه حذف شوي دي چې دااضافت کله غیرصحیح ثابت شي نومعلومه شوه چې بشرٍ عطف بیان دی دالبکري نه.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْبَابُ الثَّانِیْ فِی الْاِسْمِ الْمَبْنِیِّ

وَهُوَ اِسْمٌ وَقَعَ غَيْرَ مُرَكَّبٍ مَعَ غَيْرِهٖ مِثْلُ ا،ب،ت،ث وَمِثْلُ وَاحِدٌ وَاثْنَانِ وَثَلٰثَةٌ وَ كَلَفْظَةِ زَيْدٍ وَحْدَهٗ فَاِنَّهٗ مَبْنِیٌّ بِالْفِعْلِ عَلَی السُّكُوْنِ وَمُعْرَبٌ بِالْقُوَّةِ اَوْشَابَهَ مَبْنِیَّ الْاَصْلِ بِاَنْ يَّكُوْنَ فِی الدَّلَالَةِ عَلٰی مَعْنَاهُ مُحْتَاجًا اِلٰی قَرِيْنَةٍ كَالْاِشَارَةِ نَحْوُ هٰؤُلَاۤءِ وَنَحْوِهَا اَوْيَكُوْنَ عَلٰی اَقَلَّ مِنْ ثَلٰثَةِ اَحْرُفٍ اَوْتَضَمَّنَ مَعْنَی الْحَرْفِ نَحْوُ ذَا وَمَنْ وَاَحَدَ عَشَرَ اِلٰی تِسْعَةَ عَشَرَ وَهٰذَا الْقِسْمُ لَا يَصِيْرُ مُعْرَبًا اَصْلًا:

ترجمه: دویم باب په بیان د اسم مبنی او احکامو د دي کښې ده مبنی هر هغه ده اسم چه د بل سره نه وی مرکب لکه (ا،ب،ت،ث) او لکه واحد اثنان و ثلثة او لکه لفظ د زید ځان له دا مبنی دي بالفعل په سکون سره او بالقوه معرب ده او یا مبنی الاصل سره مشابه ده پدي قرینه سره چه دا په خپله معنی باندي دلالت کولو ته قرینی ته محتاج ده لکه اسم اشاره مثلاً هؤلآء او هم دغه رنګی نور اسماء اشارات یا به د دريو حروفو نه به کم وی یا به د حرف معنی لره متضمن وی لکه ذا او مَن او اَحدَ عشَرَ نه تر تسعة عشر پوري او دا قسم بالکل معرب نه ګرځی

تشریح: مصنفؒ چې کله فارغ شو د بحث د اسم معرب نه پس شروع یې اوکړه په بیان د اسم مبنی کې ۔مبنی صیغه د اسم مفعول ده په وزن د مَرْمِیٌّ دا په اصل کې مَبْنُوي وو د بنی یَبْنِی نه پس واو او یا چې کله جمع شي او اول ساکن وي نو واو به په یا بدلیږي او یا به په یا کې مدغمه شي مَبْنِیٌّ شو پس ضمه په یا ثقیله ده نو په کسري بدله شوه مَبْنِیٌّ تري جوړ شو مبنی په لغت کې قرار او عدم تغیر ته وایې او د عامو محاوراتو مطابق د مبنی معنی خایې د بنیاد کینودو ۔د تعریف نه مخکې دا پیژندل ضروري دي چې مبنی په دوه قسمه ده یو قسم هغه اسم مبنی ده چې هغه همیشه د پاره مبنی وي او معرب کیدي نه شي دویم قسم هغه اسم مبنی ده چې وي مبنی لیکن صلاحیت په کې د معرب وي پس مصنف تقریباً دواړه تعریفه کړی دي اول تعریف مبنی هغه اسم ده چې واقع شوي وي په ترکیب کې داسي ترکیب چې متحقق نه وي عامل د ده بیره مثلاً لکه حروف هجا ۔ا ۔ب ۔ت ۔ث الخ دا مبنیات دي لیکن د خپل عامل سره واقع شي نو بیا به معرب وي لکه جاءنی الفٌ رایت الفاً مررت بالف یا لکه اسماء اعداد هم مبنیات دي لیکن کله چې عامل متحقق شي نو بیا به معرب وي لکه جاءنی احدٌ رایت احداً مررت باحدٍ یا لکه اسماء معدوده زید ، عمر ، بکر و غیره دا هم مبنیات دي

لیکن کله چې د عامل سره متحقق شي نو بیابه معرب وي لکه جاءني زیدٌ رایت زیداً ومررت بزیدٍ.

فان قیل: د اسم مبنی تعریف ذکر شو حالانکه د حروفِ هجا مثال د دي د پاره غیر صحیح دي خکه دا خو حروف دي او تعریف د اسم دي نو څه وجه ده.

قلنا: په دي حروفو کې دوه احتماله دي یو دا چې د دي حروف اشکال دي لکه مثلاً شکل د الف دا دي (ا) او شکل د با دا دي (ب) وغیره او دي اشکالو ته مسمیات وایي. دویم دا چې د دي حروف اسامي دي یعني نومونه د دي حروفو لکه (ا) د دي شکل نوم او اسامي الفٌ ده وغیره پس په مثال د تعریف کې دري حروف اسامي مراد دي نه اشکال او مسمیات. پس دا په آسماؤ کې داخل شو.

تعریف د مبنی او حکم د مبنی

دویم تعریف د مبنی هغه دي چې مشابه وي د مبنی اصل سره او مبنی اصل (مبنی اصل بالقوه دي یعني صلاحیت د معرب پکې نه وي ۱۲) دري دي جمله حروف فعل ماضي امر حاضر معروف پس دا په دي دريو اشیاؤ کې چې د هریو سره کوم اسم مشابه او ګرزي نو دا به مبني وي او د مشابهت د پاره په اصل کې اوه وجي دي لیکن مصنفؒ دري وجی ذکر کړي دي چې مقصود دي (۱) یوه وجه د مشابهت احتیاج دي یعني کوم اسم چې محتاج وي قرینې ته لکه اسماء اشارات چې محتاج دي مشار الیه ته پس دا مشابه دي د مبنی لاصل سره. (۲) دویمه وجه د مشابهت دا ده چې کوم اسم بناء د حروف ثلاثه نه اقله وي (اقل من الثلاثه) لکه مَنْ ذا ای ظرف زماني وغیره.

(۳) دریمه وجه د مشابهت دا ده چې کوم اسم بغیر د حرف عاطف نه متضمن او ګرزي نو دا اسم به مشابه د مبنی لاصل سره وي لکه اَحَدَ عَشَرَ ای احدٌ وعشرٌ واو حذف شوي دي د پاره د دي چې احد متصل شي د عشر سره د پاره د ترکیب د اضافت تعدادي. پس اَحَدَ مبنی دي او عشرهم مبنی دي خکه چې دا دواړه متضمن دي بغیر د حرف عاطف نه الا اثنا عشر په دي کې اثنا مبنی نه دي خکه چې دا مشابه د تثنیې سره دي پس دا معرب دي

وَحُكْمُهُ اَنْ لَّا يَخْتَلِفَ اٰخِرُهٗ بِاخْتِلَافِ الْعَوَامِلِ وَحَرَكَاتُهٗ تُسَمّٰى ضَمًّا وَّفَتْحًا وَّكَسْرًا وَّسُكُوْنُهٗ وَقْفًا وَهُوَ عَلٰى ثَمَانِيَةِ اَنْوَاعٍ اَلْمُضْمَرَاتُ وَاَسْمَاءُ الْاِشَارَاتِ وَالْمَوْصُوْلَاتُ وَاَسْمَاءُ الْاَفْعَالِ وَالْاَصْوَاتُ وَالْمُرَكَّبَاتُ وَالْكِنَايَاتُ وَبَعْضُ الظُّرُوْفِ:

ترجمه: حکم د مبنی دا دي چه آخر د دي به نه مختلف کیږي په اختلاف د عواملو سره او دي ته نوم حرکات کیخودلو شي ضمه، فتحه، کسره او سکون ته نوم وقف کیخودلي شي او د اسم

Maktaba Tul Ishaat.com

مبنی په اته قسمه ده (۱) مضمرات (۲) اسماء اشارات (۳) موصولات (۴) اسماء افعال (۵) اصوات (۶) مرکبات (۷) کنایات (۸) بعض الظروف.

تشریح: دادی چې آخر د مبنی نه مختلف کیږي په اختلاف دعواملو سره او د ریو اړه حالته به مبنی په یو حرکاتو نه برقراره وي او یا به په سکون سره برقراره وي پس اعراب د مبنی دري دي ضمه. فتحه. کسره او دا مسمی کولی شي په حرکات بنائیه سره او د دي اعراباتو حرکاتو وجه تسمیه په بحث د معرب کې په صفحه نمبر ۳۵ باندي واضحه ده البته په مبنی کي سکون هم شامل دي او سکون مسمی کولی شي په وقف سره دوجي دوقوف او سکوت دنفس نه پوئي شه چي اعراب د معرب حرکات اعرابیه دي او تعبیرتري په رفع نصب او جر سره کیدي شي. د مبنی د یاره اته اقسام دي اول اجمال ذکر کیدي شي او بیا د هر واحد خان له په مستقل فصل کي تفصیل راځي (۱) مضمرات (۲) اسماء الاشارة (۳) موصولات (۴) اسماء الافعال (۵) اصوات (۶) مرکبات (۷) کنایات (۸) بعض الظروف په بعضُ سره احتراز راغی د هغه ظروفونه چي کوم معربات دي یعني ټول ظروف مبنی نه دي.

المضمر

فَصْلٌ: اَلْمُضْمَرُ اِسْمٌ وُضِعَ لِيَدُلَّ عَلٰى مُتَكَلِّمٍ اَوْ مُخَاطَبٍ اَوْ غَائِبٍ تَقَدَّمَ ذِكْرُهُ لَفْظًا اَوْ مَعْنًى اَوْ حُكْمًا وَهُوَ عَلٰى قِسْمَيْنِ مُتَّصِلٌ وَهُوَ مَا لَا يُسْتَعْمَلُ وَحْدَهُ اِمَّا مَرْفُوْعٌ نَحْوُ ضَرَبْتُ اِلٰى ضَرَبْنَ اَوْ مَنْصُوْبٌ نَحْوُ ضَرَبَنِىْ اِلٰى ضَرَبَهُنَّ وَاِنَّنِىْ اِلٰى اِنَّهُنَّ وَمَجْرُوْرٌ نَحْوُ غُلَامِىْ وَلِىْ اِلٰى غُلَامِهِنَّ وَلَهُنَّ وَمُنْفَصِلٌ وَهُوَ مَا يُسْتَعْمَلُ وَحْدَهُ اِمَّا مَرْفُوْعٌ نَحْوُ اَنَا اِلٰى هُنَّ اَوْ مَنْصُوْبٌ نَحْوُ اِيَّاىَ اِلٰى اِيَّاهُنَّ فَذٰلِكَ سِتُّوْنَ ضَمِيْرًا:

ترجمه: اول فعل په بیان د اسم مضمر کښ ده، او مضمر هر هغه اسم ده چه وضع کړي شوي وي لپاره د دي چه په متکلم یا مخاطب یا غائب باندي دلالت وکړي، چه د دي ذکر مخکښ تیر شوي ده خواه لفظاً وي یا معناً وي یا حکماً وي، او ضمیر په دوه قسمه ده اول متصل دویم منفصل، متصل هغه ضمیر ده چه د دي استعمال خان له نه کیږي ضمیر متصل یا به مرفوع وي لکه ضَرَبْتُ نه ضَرَبْنَ پوري یا به منصوب وي لکه ضَرَبَنِیْ نه واخلي تر ضَرَبَهُنَّ پوري یا به مجرور وي لکه غُلَامِیْ یا لِیْ نه واخلي تر غُلَامِهِنَّ او لَهُنَّ پوري دویم قسم منفصل ده او منفصل هغه ضمیر ده چه استعمال د دي خان له کیږي او دا ضمیر به یا مرفوع وي لکه اَنَا نه هُنَّ پوري یا به

منصوب وی لکه اِیَّایَ نه اِیَّاهُنَّ پوري پس دا (۲۰) ضمیرونه دي

تشریح اول قسم دمبنیاتونه مضمرده پس دتقدیم دمضمردپاره دوه وجې دي یوه وجه داده چې دضمیرپه معرب والي باندي تراوسه پوري چاقول نه دي کړی دویمه وجه داده چې مضمرات ټول مبنیات دي یعنې یوقسم په کې هم معرب نه ده پس ځکه مضمر مقدم شوي ده په نورومبنیاتوباندي.

وجه دبناء دپاره دمضمر: مضمرات ځکه مبني دي چې دامشابه دي دحروفوسره په احتیاج کې یعني څنګه چې حروف محتاج وي انضمام دکلمې دیګرته دغه شان مضمرات محتاج دي مرجع ته. وجه تسمیه دضمیرداده چې دضمیر معنی پټول دي نوګویادوي هم په خپلوکلماتوکې پوشیده اوپټ پراته وي یادضمیرمعنی لاغراوکمزورتیاده نوګویادوي په نسبت داسم ظاهرډیرضعیف اوکمزوري دي.

تعریف دمضمر: مضمرتوم دهغه شي ده چې دلالت کوي په متکلم یامخاطب یاغائب باندي ګویا ضمیر په دري قسمه ده یوضمیردمتکلم دویم ضمیردمخاطب اودریم ضمیردغائب اُس مسئله داده چې په ضمیرغائب کې تقدُّم دمرجع ضروري دي یعني دضمیرغائب نه به مخکې مرجع ذکروي برابره خبره ده که دغه مرجع لفظاً وي اوکه معناً وي اوکه حکماً وي اودامسمیٰ ده په تقدُّم حکمي سره پس لفظاً په تقدم لفظي سره مسمي ده اومعناً په تقدم معنوي سره مسمیٰ ده.

تَقَدُّمِ لفظی: تقدم لفظي دیته وایې چې مرجع مخکې دضمیرغائب نه لفظاً ذکروي اودا په دوه قسمه ده یابه تقدم لفظي حقیقتاً وي اویابه رتبتاً وي لکه ضرب زیدٌ غلامه ضمیردغائب په غلامه کې (ه) دي چې راجع دي زیدته اوزیدپه حقیقت کې مقدم دي دضمیرنه دویم مثال لکه ضرب غلامه زیدٌ. زید اګرچې مرجع مؤخردي لیکن داپه تقدیردمرتبې سره مقدم دي ځکه چې په معنی کې قائل خپل مقصدبیانوی نووایې چې وهل اوکړه دزیدغلام نودیته تقدیراً اورتبتاً وایې.

تقدُّمِ معنوی: تقدم معنوي دیته وایې چې په لفظ کې مذکورنوي لیکن ازرویې معنی مذکوروي اومستنبط وي دلفظ نه پس داهم په دوه قسمه ده یابه مرجع معنوي بعینه دلفظ نه معلومیږي اویابه لفظ معین نه وي لیکن دعبارت نه به معلومیږي یادمخکې عبارت نه یادورستنی عبارت نه اودیته سیاق اوسباق هم وایې داول دپاره مثال لکه آیت قرآنی اِعۡدِلُوۡاهُوَاَقۡرَبُ لِلتَّقۡوٰی دلته

هو ضمیر عدل ته راجع دي او عدل مرجع معنوي دي او دا بعینه دا عدلوا نه مستنبط دي د دویم دپاره مثال لکه وَلِاَبَوَیْهِ لِکُلِّ وَاحِدٍ په ابویه کې ه ضمیر میت ته راجع دي او میت مرجع معنوي دي لیکن دا د عبارت نه معلوم شوي دي ځکه چې دا واقع دوراثت ده او میراث د میت نه پاتې کیږي.

تقدم حکمي: دا هغه مرجع ده چې واقع وي بعد د ضمیر نه لیکن حکماً مقدم وي لکه قل هو الله احد هو ضمیر راجع دي الله ته نو پس الله مرجع حکماً مقدم دي او دا راتلو دپاره دا رادي د شان تعظم د مرجع یا د قصیې دپاره حکم ذکر کیږي. وهو علی قسمین الخ پدي عبارت دوا علم پوري د ضمیر تقسیم ذکر کیږي. ضمیر په دوه قسمه ده ضمیر متصل. ضمیر منفصل. ضمیر متصل هغه ضمیر ته وایې چې تنها نه مستعملیږي بلکه د چا سره به متصل پیوست وي. ضمیر منفصل هغه ضمیر ته وایې چې تنها ذکر کیږي او د چا سره پیوست نه وي بلکه جدا وي پس هر واحد د دي دواړو نه په دري دري قسمه ده متصل مرفوع متصل منصوب متصل مجرور منفصل مرفوع منفصل منصوب منفصل مجرور. د دي نه ټول شپږ اقسام حاصل شو عقلاً او مستعمل پنځه اقسام دي او یو قسم چې ضمیر مجرور منفصل دي نه دي مستعمل په کلام عربي کې پس هر واحد د پنځو اقسامو نه په اتلس اتلس ضمائرو مشتمل دي عقلاً پدیشان سره چې د متکلم دپاره شپږ ضمائر دي د مذکر واحد تثنیې او جمعې او دغه شان د مؤنث متکلم هم دري ضمائر دي نو دا شپږ ثابت شو په دي طریقې سره د مخاطب شپږ ضمائر جوړیږي او د غائب هم شپږ ضمائر جوړیږي نو دا اتلس ضمائر په هر واحد د پنځو اقسامو مذکورو کې جوړیږي نو مجموعه (۹۰) ضمائر جوړیږي لیکن دا عقلاً خبره ده او مستعمل ټول شپیته ضمائر دي او بقیه حذف بې نوي شوي دي دپاره د اختصار ځکه چې هر کله دوه ضمیره متحد ذکر دي نو دهغې نه یو حذف شوي ده لکه مثلاً هُما هُما د مذکر مؤنث دپاره د تثنیې راغلی دي پس یو تري حذف شوي دي او دغه شان د مخاطب نه هم انت یو حذف شوي ده او د متکلم څلور حذف شوي دي نو د هر واحد دپاره دولس دولس ضمائر ذکر دي نو په پنځو کې دولس ته ضرب ورکه چې شپیته تري جوړشي.

وَاعْلَمْ اَنَّ الْمَرْفُوْعَ الْمُتَّصِلَ خَاصَّةً یَکُوْنُ مُسْتَتِرًا فِی الْمَاضِیْ لِلْغَائِبِ وَالْغَائِبَةِ کَضَرَبَ اَیْ هُوَ وَضَرَبَتْ اَیْ هِیَ وَفِی الْمُضَارِعِ الْمُتَکَلِّمِ مُطْلَقًا نَحْوُ اَضْرِبُ اَیْ اَنَا وَنَضْرِبُ اَیْ نَحْنُ وَ لِلْمُخَاطَبِ کَتَضْرِبُ اَنْتَ وَلِلْغَائِبِ وَالْغَائِبَةِ کَیَضْرِبُ اَیْ هُوَ وَتَضْرِبُ اَیْ هِیَ:

ترجمه: پوهي شه چه ضمیر مرفوع متصل خاص طور باندي په ماضي غائب او غائبې کښې پټ وي لکه ضَرَبَ کښې هُوَ او ضَرَبَتْ کښې هِيَ او په مضارع متکلم کښې مطلقا پټ

وي، اضرب کښې انا او نضرب کښې نحن او مخاطب لپاره لکه تضرب یعنی انت او غائب او غائبې لپاره لکه یضرب یعنی هو او تضرب یعنی هی

تشریح: پدي واعلم سره دضمیر دویم تقسیم بیانوی پس ضمیر به خالی نه وي یا به متلفظ وي یا به نوي اول ته ضمیر بارز وایي اوثاني ته ضمیر مستتر وایي پس ضمیر بارز کثیر الاستعمال ده اوضمیر مستتر قلیل الاستعمال ده یعني په مذکوره پنځو اقسامو کې فقط یو قسم ده چې په هغې ضمیر مستتر مستعمل ده چې نوم یې ضمیر مرفوع متصل ده اوبیا په دي یو قسم کې فقط په اوو مواضعو کې ضمیر مستتر ده اوپه بقیه کې ضمیر بارز ده . اووه مواضع داده دوه صیغې دفعل ماضي غائب واحد مذکر مؤنث دي لکه ضَرَبَ ای هو وضَرَبَتْ ای هی اوپنځه صیغې دمضارع دي دوه دغائب واحد مذکر مؤنث دي لکه یضرب ای هو وتضرب ای هی اویوه صیغه دمخاطب مضارع ده تضرب ای انت اودوه صیغې دمتکلم مضارع ده لکه اَضرِبُ ای انا نضرب ای نحن پس دااُووه مواضع دضمیر مجرور متصل دپوشید ګئ اوپټوالی صیغې دي یعني ضمیر به دي کې مستتر وي

وَفِي الصِّفَةِ أَعْنِي اسْمَ الْفَاعِلِ وَالْمَفْعُولِ وَغَيْرَهَا مُطْلَقًا:

ترجمه: او صیغې د صفت کښې یعنی اسم فاعل او اسم مفعول او د دی نه علاوه کښې مطلق پټ وی

تشریح: اوضمیر مستتر موجود دي شي په صیغو دصفت کې اودصفت نه مراد اسم فاعل اسم مفعول صفت مشبه اسم تفضیل وغیره دي پس پدي کې به ضمیر مستتر وي مطلقاً دمطلقاً مطلب داده چې په هره صیغه کې به مستتر وي که صیغه دواحد که تثنیه وي او که جمع وي. لکه ضارب ای هو.

وَلَا يَجُوزُ اسْتِعْمَالُ الْمُنْفَصِلِ إِلَّا لِتَعَذُّرِ الْمُتَّصِلِ كَـ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَمَا ضَرَبَكَ إِلَّا أَنَا وَأَنَا زَيْدٌ وَمَا أَنْتَ إِلَّا قَائِمًا:

ترجمه: او د ضمیر منفصل استعمالول جائز نه دی مګر چه کله متصل متعذر وی لکه اِیَّاكَ نَعْبُدُ وَمَا ضَرَبَكَ اِلَّا اَنَا وَاَنَا زَیْدٌ وَمَا اَنْتَ اِلَّا قَائِمًا کښې ضمیر راوړلی شی

تشریح: ددي قاعدي خلاصه داده چې وضع دضمیر دپاره داختصار ده یعني ضمیر متصل مختصر ده دضمیر منفصل نه اوددي فائده اومقصد اختصار ده لکه په ضربتُ کې تُ ضمیر متصل دمتکلم ده پس دامختصر ده په نسبت سره انا ته پس دنحو یانو دا قاعده اوقانون ده چې په کوم

Maktaba Tul Ishaat.com

ځایي کې د ضمیر متصل استعمال آسان وي نو هلته به ضمیر منفصل نه مستعملیږي البته چې کله ضمیر متصل متعذر شي نو بیا به ضمیر منفصل ذکر کیږي او دي د پاره مصنف ؒ څلور امثله ذکر کړي دي چې ضمیر متصل په کې متعذر ده لکه ایّاكَ نعبُدُ دا په اصل کې نعبدكَ وو ضمیر متصل مقدم شو په خپل عامل باندې نو ك نعبد شو اُس ك ضمیر متصل متعذر شو ځکه چې ك مقدم نه ذکر کیږي پس ضمیر منفصل مو راوړو چې ایاك دي نو ایاك نعبد شو او که څوك **پوښتنه** او کړي چې دا ولی مقدم شو نو **جواب** به ورته ورکړی چې دا مقدم شو د پاره د حصر او اختصار یعني خاص تا لره مونږ عبارت کوُو . ماضربك الا انا : انا ضمیر منفصل ده او په ضرب کې د ك ضمیر متصل د تعذر دوجې نه مستعمل شوي ده د پاره د اختصاص . حرف اَلّا فاصل ده پس د نفي او اثبات په مابین کې چې فاصله راشي دا د پاره د اختصاص وي یعني وهل تا نه دي کړي مګر خاص ما وهل کړیدي انا زیدٌ په دیکې انا ضمیر منفصل د ضمیر متصل د تعذر دوجې نه مستعمل دي او دا هغه موضع ده چې عامل په کې معنوي ده انا مبتداء زید خبر او د مبتد اعامل معنوي وي او په عامل معنوي پورې ضمیر متصل نه پیوست کیږي نو ځکه دوی محتاجه دي ضمیر منفصل ته چې انا ده دي مقصد هم اختصاص ده .

ماانت قائماً: د دي د پاره یوه قاعده ده چې په کوم ځایی کې عامل د ضمیر متصل حرف وي نو په حرف پورې ضمیر نه پیوست کیږي نو ځکه دوی محتاجه شو منفصل ته چې انت ده .

وَاعْلَمْ اَنَّ لَهُمْ ضَمِیْرًا یَقَعُ قَبْلَ جُمْلَةٍ تُفَسِّرُهُ یُسَمّٰی ضَمِیْرُ الشَّانِ فِی الْمُذَکَّرِ وَضَمِیْرُ الْقِصَّةِ فِی الْمُؤَنَّثِ نَحْوُ قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ وَاِنَّهَا زَیْنَبُ قَائِمَةٌ وَیَدْخُلُ بَیْنَ الْمُبْتَدَأِ وَالْخَبَرِ صِیْغَةُ مَرْفُوْعٍ مُنْفَصِلٍ مُطَابِقٌ لِلْمُبْتَدَأِ اِذَا کَانَ الْخَبَرُ مَعْرِفَةً اَوْ اَفْعَلَ مِنْ کَذَا:

ترجمه: پوئی شه چه نحویانو لپاره یو ضمیر ده چه د جملی نه مخکښ واقع کیږی، چه د دي ضمیر تفسیر کوی : دي ضمیر نوم په مذکر کښ ضمیر شان او په مؤنث کښ ضمیر قصه وئیلی کیږی. لکه قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ او اِنَّهَا زَیْنَبُ قَائِمَةٌ د مبتدا او خبر په مینځ کښ صیغه د مرفوع منفصل داخلیږی، چه د مبتدا سره مطابق وی چکله خبر معرفه وی یا اسم تفضیل مستعمل وی په مِنْ سره.

تشریح: په دي واعلم کې مصنف ؒ د ضمیر دري اقسام بیانی (۱) ضمیر الشان (۲) ضمیر قصه (۳) ضمیر فصل پس کوم ضمیر چې د جملي خبریی نه مخکې واقع شي (برابره خبره ده که جمله اسمیه وي او که جمله فعلیه وي) دا سي جمله چې تفسیر او وضاحت د ضمیر کوي پس کیجري د غه

ضمير دمفرد مذكر د پاره ذكروو نو دېته ضمير شان وايي او كه دغه ضمير د مفرد مؤنث د پاره ذكر وي نو دېته ضمير قصه وايي وجه تسميه د دواړو داده چې ضمير الشان شان ته راجع وي او هغه شان په ذهن د متكلم كې وي او ضمير قصه ورته ځكه وايي چې دا قصې ته راجع وي او هغه قصه په ذهن د متكلم كې وي لكه مثال د ضمير الشان دادي قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ هو ضمير د مفرد مذكر دى او راجع دى شان ته يعني او وايه چې شان دادي چې الله يو دي. د ضمير قصې د پاره مثال لكه انها زينب قائمة پدي كې ها ضمير قصې ته راجع دى يعني قصه دا ده په تحقيق سره چې زينب ولاړه ده يعني عاشق چې كله خپله ليلى په تصور كې ځان ته مخامخ قائمه كړي.

(۳) **ضمير فصل**: دا هغه ضمير دى چې واقع شي په مابين د مبتدا او خبر كې دا سې خبر چې معرفه وي يا صيغه د اسم تفضيل مستعمل وي نو دا هم پشان د معرفې گرزي پس دغه ضمير چې كله متخلل شي نو مطابق به وي د مبتدا سره كه مبتدا واحد وي نو ضمير به هم واحد وي كه تثنيه وي كه جمع وي نو ضمير به هم موافق وي. په ضمير فصل كې اختلاف دى د خليل په نزد ضمير فصل حرف دى نه اسم او د نورو نحاتو په نزد اسم دى نه حرف پس مصنف په دواړو قولونو باندې د عمل كولو په بنا سره لفظ د صيغې ذكر كه چې صيغة المرفوع منفصل الخ او صيغه حرف اسم ټولو له شامله ده.

وَيُسَمّٰى فَصْلًا لِاَنَّهٗ يَفْصِلُ بَيْنَ الْخَبَرِ وَالصِّفَةِ نَحْوُ زَيْدٌ هُوَ الْقَائِمُ وَكَانَ زَيْدٌ هُوَ اَفْضَلَ مِنْ عَمْرٍو وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى كُنْتَ اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ:

ترجمه: دېته نوم فصل كيخودلې شي ځكه چه دا د خبر او صفت په درميان كښې فصل راولي لكه زَيْدٌ هُوَ الْقَائِمُ يا كَانَ زَيْدٌ هُوَ اَفْضَلَ مِنْ عَمْرٍو او د الله تعالى ارشاد دى چه كُنْتَ اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ

تشريح: فصل ورته ځكه وايي چې دا جدا والي راولي په مابين د معرفي او صفت كې لكه زيد هو القائم پس كه چيرى هو ضمير فاصل ذكر نه شي نو بيا به التباس لازم شي چې زيد موصوف دى قائم ورله صفت واقع شوي دى او دا هم ممكنه ده چې زيد مبتدا ده قائم ورله خبر دى پس د التباس د دفعې د پاره نحويانو ضمير فصل لازم كه په مابين د مبتدا او خبر معرفى كې نو ځكه مسمى دى په ضمير فصل سره. مثال ثاني كان زيد هو افضل من عمرو زيد اسم د كان دى افضل من عمرو ورله خبر دى معرفه دى او هو ضمير فصل دى. دريم مثال كقوله تعالى كُنْتَ اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ ت ضمير اسم د كان دى او الرقيب ورله خبر معرفه دى انت ضمير فصل دى.

Maktaba Tul Ishaat.com

اسماء اشارات

فَصْلٌ: اَسْمَاءُ الْاِشَارَةِ مَا وُضِعَ لِيَدُلَّ عَلٰى مُشَارٍ اِلَيْهِ وَهِيَ خَمْسَةُ اَلْفَاظٍ لِسِتَّةِ مَعَانٍ وَذٰلِكَ ذَا لِلْمُذَكَّرِ وَذَانِ وَذَيْنِ لِمُثَنَّاهُ وَتَا وَتِيْ وَذِيْ وَتِهْ وَذِهْ وَتِهِيْ وَذِهِيْ لِلْمُؤَنَّثِ وَتَانِ وَتَيْنِ لِمُثَنَّاهُ وَاُولَاءِ بِالْمَدِّ وَالْقَصْرِ لِجَمْعِهِمَا:

ترجمه: دویم فصل په بیان د اسماء اشاراتو کښې ده اشاره هر هغه اسم ده د لپاره وضع کړي شوی وی چه په مشار الیه باندي دلالت وکړی چه هغه پنځه الفاظ دي شپږ معانو لپاره، او ذاد واحد مذکر لپاره او ذان او ذین تثنیه مذکر لپاره او تاء، تی، ذی، ذه تهی، او ذهی واحد مؤنث لپاره او تان او تین تثنیه مؤنث لپاره او اولاء مد او قصر سره د جمع مذکر او مؤنث لپاره راځی

تشریح: دویم قسم د اسماء مبنیه نه اسم اشاره ده په اسم اشاره کې دوه مسئلی دي یوه وجه دبناء ده او دویم تعریف د اسم اشاري دي

وجه دبناء: دبناء د اسم اشاری دپاره دوه وجی دي (۱) یوه وجه داده چې بعضی اسماء اشارات اقل من الثلاثه دي (۲) دویمه وجه دبناء دپاره داده چې اسماء اشارات مشابه دي د حروفو سره په احتیاج کې یعني اسماء اشارات محتاج وي مشار الیه ته.

تعریف: داهغه اسماء دي چې وضع شوي وی دي دپاره چه دلالت په تعین دمشار الیه باندي وکړی په اشاری حسّیه سره .اشاری حسّیه دیته وایې چې په ظاهري اندامونو او په جوارحو سره اشاره اوکړي شي یاداچې دغه مشار الیه محسوس وي چې اندامونو سره محسوس سیږي برابره خبره ده که دغه محسوس حقیقتاً وي او که حکماً یا تقدیراً وي داتعمیم دپاره ددفعی داعتراض دي لکه مثلاً

فان قیل: آیت شریف ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ذالکم اسم اشارد ده الله مشار الیه ده حالانکه الله محسوس نه دي

قلنا: الله په هر ځایئ کې موجود ده او حاضر ده او دلائل هم دهغه په وجود یت شته پس داحکماً دي .اسمایئ اشارات ټول شپږدي عقلاً دري د مذکر او دري د مؤنث دي لیکن مستعمل پنځه دي ځکه چې دجمعی مذکر او دجمعی مؤنث صیغه مشترکه ده أُولَاءِ یا أُولَئِكَ ده (۱) ذَا: دادواړه دادمذکر واحد دپاره راځي او کله کله پري هایئ تنبیهه داخلیږي لکه هذا (۲) ذَانِ ذَيْنِ: دادواړه

دتثنیې مذکر دپاره راځي فرق په دواړو کې داده چې ذان په حالت رفعي کښې او ذين په حالت نصبي او جري کې مستعملیږي

فان قیل: په مبنیاتو کې تغیر نه راځي حالانکه ذان او ذین په حالتینو کې متغیر کیږي نو څه وجه ده؟

قلنا: ستا خبره صحیح ده ځکه چې بعضي نحویانو دا په معرباتو کې شمار کړي دي لیکن دا تغیر د عامل د وجې نه دي بلکه دا په اصل وضع کې متغیروضع شوي ده او دمبنی حکم باختلاف العوامل ده.

تاً: تا مقابل د ها ء ده دا دواحد مؤنث دپاره راځي او نور لغات په کې دا دي چې کله کله تي ویلې شي په یاءِ نسبتي سره او کله کله تري ذي جوړیږي او کله کله تري ذه جوړیږي او کله کله تري تهي جوړیږي او کله کله تري ذهي جوړیږي پس دا شپږ لغات په تا کې جوړیږي (۴) تان تين: دا دواړه دتثنیې مؤنث دپاره راځي علی هذا قیاس بالمذکر (۵) اولاء اولئک دا دجمعې مذکر او مؤنث دپاره مستعملیږي په مد او قصر دواړو سره.

وَقَدْ يُلْحَقُ بِأَوَائِلِهَا هَاءُ التَّنْبِيهِ نَحْوُ هٰذَا وَهٰذَانِ وَهٰؤُلَاءِ.

ترجمه: او کله د دي په شروع ها، تنبیهی ورسره ملحق کیږي لکه هٰذا وهٰذان وهٰؤلاء

تشریح: د دي عبارت مطلب داده چې د اسم اشاري په اول باندي هايِ تنبیهیه داخلیږي دپاره دبیدارولو دمخاطب لکه هذا هؤلاء وغیره پس په هذا کې ذا اسم اشاره ده او ها په معنی دَ اُنَبِّه سره ده.

وَيَتَّصِلُ بِأَوَاخِرِهَا حَرْفُ الْخِطَابِ وَهُوَ أَيْضًا خَمْسَةُ أَلْفَاظٍ لِسِتَّةِ مَعَانٍ نَحْوُ كَ كُمَا كُمْ كِ كُنَّ فَذٰلِكَ خَمْسَةٌ وَعِشْرُونَ الْحَاصِلُ مِنْ ضَرْبِ خَمْسَةٍ فِي خَمْسَةٍ وَهِيَ ذَاكَ إِلٰى ذَاكُنَّ وَذَانِكَ إِلٰى ذَانِكُنَّ وَكَذٰلِكَ الْبَوَاقِي.

ترجمه: او کله د دي په آخر کښې حرف خطاب متصل کیږي او هغه پنځه الفاظ دي شپږ معانو لپاره لکه كَ كُمَا كُمْ كِ كُنَّ دا ټول پنځه په پنځو کښې ضرب کړل نو پنځه ویشت شول او د ذاكَ نه تر ذاكُنَّ پوري او ذانكَ نه تر ذانكُنَّ پوري همدغه رنګې باقي نور ګرځانونه دي

تشریح: د دي عبارت خلاصه داده چې متصل کیږي به په آخر د اسماء اشارو پوري حروف خطابیه. او دا حروف خطابیه دتعین دمخاطب دپاره راځي پس دا به په هر لفظ پوري متصل کیږي او اسماء اشارات ټول پنځه دي نو پنځه له په پنځ کې ضرب ورکړي - پنځه ویشت احتماله تري

Maktaba Tul Ishaat.com

جوړیږي مثلاً حروف خطابیه دادي ک کما کم ک کن متصل په هر لفظ پوري لکه ذاک ذاکما الخ تاک تاکما الخ اولئك اولئكما الخ وكذلك البواقي.

وَاعْلَمْ اَنَّ ذَا لِلْقَرِيْبِ وَذَالِكَ لِلْبَعِيْدِ وَذَاكَ لِلْمُتَوَسِّطِ:

ترجمه: پوئی شه چه ذا اشاره قریبی لپاره راځي او ذالك اشاره بعیدي لپاره او ذاك اشاره متوسط لپاره راځي

تشریح پدي واعلم کښې مصنف په مابین د ذا. ذالك. ذاك کښې فرق بیانی پس دادریواړه دمفرد مذکر دپاره مستعملیږي فرق په کښې دادي چي ذادقریب دپاره ذکر کیږي ځکه چې حروف په کښې اقل ده او ذالك دبعید دپاره ذکر کیږي ځکه چې حروف په کښې زیات دي او ذاك د مشار الیه متوسط دپاره ذکر کیږي (ځکه چې حروف پکښې متوسط دي پس دا مسئله راجحه او اصل ده چې اعتبار حروف لره دي ۱۲)

الموصول

فَصْلٌ: اَلْمَوْصُوْلُ اِسْمٌ لَا يَصْلُحُ اَنْ يَّكُوْنَ جُزْءً تَامًّا مِّنْ جُمْلَةٍ اِلَّا بِصِلَةٍ بَعْدَهٗ وَالصِّلَةُ جُمْلَةٌ خَبَرِيَّةٌ وَلَابُدَّ مِنْ عَائِدٍ فِيْهَا يَعُوْدُ اِلَى الْمَوْصُوْلِ مِثَالُهُ الَّذِيْ فِيْ قَوْلِنَا جَاءَ الَّذِيْ اَبُوْهُ قَائِمٌ اَوْقَامَ اَبُوْهُ وَهُوَ الَّذِيْ لِلْمُذَكَّرِ وَاللَّذَانِ وَالَّذَيْنِ لِمُثَنَّاهُ وَالَّتِيْ لِلْمُؤَنَّثِ وَاللَّتَانِ وَاللَّتَيْنِ لِمُثَنَّاهَا وَالَّذِيْنَ وَالْاُلٰى لِجَمْعِ الْمُذَكَّرِ وَاللَّاتِيْ وَاللَّوَاتِيْ وَاللَّائِيْ لِجَمْعِ الْمُؤَنَّثِ وَمَا وَمَنْ وَاَيٌّ وَاَيَّةٌ وَذُوْ بِمَعْنَى الَّذِيْ فِيْ لُغَةِ بَنِيْ طَيٍّ كَقَوْلِ الشَّاعِرِ شعر فَاِنَّ الْمَاءَ مَاءُ اَبِيْ وَجَدِّيْ وَبِئْرِيْ ذُوْحَفَرْتُ وَذُوْطَوَيْتُ اَيْ الَّذِيْ حَفَرْتَهٗ وَالَّذِيْ طَوَيْتُهٗ وَالْاَلِفُ وَاللَّامُ بِمَعْنَى الَّذِيْ صِلَتُهٗ اِسْمُ الْفَاعِلِ وَاسْمُ الْمَفْعُوْلِ نَحْوُ جَاءَنِيْ الضَّارِبُ زَيْدًا اَيْ الَّذِيْ يَضْرِبُ زَيْدًا اَوْجَاءَنِيْ الْمَضْرُوْبُ غُلَامُهٗ:

ترجمه: دریم فصل په بیان د اسم موصول کښې ده، موصول هر هغه اسم ده چه د جملې جز تام کولو صلاحیت نه لري مگر د صلې په ذریعې سره چه کوم د نه پس وی او صله جمله خبریه وی. پدې جمله کښې د یو ضمیر موجودیدل ضروري دی چه کوم موصول طرف ته راجع وی د هغې مثال لکه اَلَّذِيْ ده زموږ پدې قول کښې لکه جَاءَ الَّذِيْ اَبُوْهُ قَائِمٌ اَوْقَامَ اَبُوْهُ او اَلَّذِيْ مذکر لپاره راځي او اَللَّذَانِ وَاللَّذَيْنِ تثنیه لپاره او اَلَّتِيْ مؤنث لپاره او اَللَّتَانِ وَاللَّتَيْنِ د مؤنث تثنیه لپاره او اَلَّذِيْنَ اَلْاُلٰى د جمع مذکر لپاره او اَللَّاتِيْ وَاللَّوَاتِيْ وَاللَّائِيْ د جمع مؤنث لپاره او مَا وَمَنْ وَاَيٌّ وَاَيَّةٌ او ذو په معنی د الذی سره

په لغت د بنی طی کښې لکه د شاعر دا قول فَإِنَّ الْمَاءَ مَاءُ أَبِيْ وَجَدِّيْ وَبِئْرِيْ ذُوْحَفَرْتُ وَذُوْطَوَيْتُ يعنی الذی حفرته او الذی طویته او کوم الف لام چه په معنی الذی سره دي د هغې صله اسم فاعل او اسم مفعول وی لکه جَاءَنِيْ الضَّارِبُ زَيْدًا يعنی جَاءَنِيْ الْمَضْرُوْبُ غُلَامُهُ

تشریح دریم قسم د اسماء مبنیونه موصول ده په موصول کې هم دوه خبري وي يو وجه دبناء ده او دويم تعريف د موصول ده پس د موصول دبناء، وجه دا ده چې موصول مشابه ده د حروفو سره او حروف مبنی اصل دي او مشابهت يې په احتیاج کې ده یعني موصول محتاج وي صلې ته. **تعریف**: موصول هغه اسم ده چې دي جزء تام نه ګرزي د جملې نه مګر په ذکر کولو دصلې سره د دي مطلب دا ده چې موصول بغیر د صلې نه جزء تام په جمله کې نه شي واقع کيدي او د اصله به جمله خبریه وي برابره خبره ده که اسمیه وي او که فعلیه وي او لابدي به وي د عائد او د رابطه نه په دغه جمله خبریه کې پشان د ضمیر به وي او راجع به وي موصول ته پس د دي عائد په وجه به د موصول او صلې په مابين کې ربط او ارتباط راځي لکه جاء نی الذی ابوه قائم ابوه قائم جمله اسمیه خبریه صله ده او ضمیر الذی ته راجع ده موصول سره د صلې نه فاعل شي د جاء نی جاء فعل نون وقایه ی ضمیر د متکلم مفعول به فعل سره د فاعل او مفعول به نه جمله فعلیه خبریه موصوله شوه. پس اسماء موصولات شپږ دي **الذي**: دا د واحد مذکر د پاره راځي.

الذان، الذَيْنَ: دا دواړه د تثنيي مذکر د پاره راځي الذان په حالت رفعي کې الذين په نصبي جري کې او په دي کې اختلاف وضعي ده **والتی** دا د مفرد مؤنث د پاره راځي. **اللتان، اللتين** دا دواړه د تثنیي مؤنث د پاره راځي علی هذ القياس **الذين، الأُلٰى** دا د جمعي مذکر د پاره راځي. **اللاتي، اللواتي، اللاءِ، اللائی** دا د جمعي مؤنث د پاره راځي.

وما ومن واي واية وذو بمعنى الذي الخ: ما او من دواړه د موصولاتو نه دي البته کله کله د نورو معانيو د پاره هم مستعمليږي چې کله موصولي شي نو بيا به په معنی د الذی سره وي او شامل به وي مفرد مثنی جمع مذکر مؤنث عاقل بالغ صبی عبد حُر مجنون وغيرو ته ای په معنی د الذی سره دیا و ایة معنی د التی سره ده او لفظ ذو په معنی د الذی سره ده لیکن یو قسم ذو معرب ده په معنی د صاحب سره پس دا قسم ذو په معنی د الذی سره دي او مبنی ده په لغت د بنی طی کې مثلاً جاء نی ذو قام رایت ذو قام مررت بذو قام. دا د نورو عربو په نزد موصولی نه دي ليکن فقط د بنی طی په لغت کې لکه شعر د بنی طی.

Maktaba Tul Ishaat.com

فان الماء ماء ابی وجدي وبیری ذو حفرتُ وذو طویتُ

ترجمه: دا اُبه اُبه دي ځما د پلار انيکه. او کوهی ځما هغه ده چې ما کنستلی ده او هغه ده چې ما راغونډ کړی دي پس په دي شعر کې ذو په معنی دالذي سره ده ای الذی حفرته والذی طویته.

والالف واللام: دیته الف لام اسمي وایې داځکه موصولی ده او مدخول د دوي اسم فاعل او اسم مفعول ده پس که صله يې اسم فاعل وي نو تعبیر به تري په فعل معروف سره کیدیشي او که صله يې اسم مفعول وي نو تعبیر به تري په فعل مجهول سره کیدي شي لکه جاءنی الضارب زیدا ای الذی یضرب زیداً وجاءنی المضروب غلامه ای الذی یضرب غلامه.

وَيَجُوْزُ حَذْفُ الْعَائِدِ مِنَ اللَّفْظِ اِنْ كَانَ مَفْعُوْلًا نَحْوُ قَامَ الَّذِیْ ضَرَبْتُ اَیِ الَّذِیْ ضَرَبْتَه:

ترجمه او د لفظونه ضمیر حذف کول جائز دی که چیری هغه مفعول واقع شوی وی لکه قَامَ الَّذِیْ ضَرَبْتُ اَیِ الَّذِیْ ضَرَبْتُه

تشریح: د دي قاعدي خلاصه داده چې حذف د عائد د لفظ د صلی نه جائز ده په دي شرط سره که چیری دا عائد مفعول به وي او حذف د عائد په هغه وخت کې هم جائز ده چې کله دده په وجه په کلام کې طول پیدا کیږي مثال. قام الذی ضربتُ ای ضربته ه ضمیر د مفعول به دي حذف شوي ده.

وَاعْلَمْ اَنَّ اَیًّا وَاَیَّةً مُعْرَبَةٌ اِلَّا اِذَا حُذِفَ صَدْرُ صِلَتِهَا كَقَوْلِهٖ تَعَالٰی ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ مِنْ كُلِّ شِيْعَةٍ اَيُّهُمْ اَشَدُّ عَلَى الرَّحْمٰنِ عِتِيًّا اَیْ هُوَ اَشَدُّ:

ترجمه پوئی چه ایّ او اية معرب ده چه کله د دي صلي شروع حصه حذف کړي شی لکه د الله تعالی دا قول ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ مِنْ كُلِّ شِيْعَةٍ اَيُّهُمْ اَشَدُّ عَلَى الرَّحْمٰنِ عِتِيًّا اَیْ هُوَ اَشَدُّ

تشریح: په دي واعلم کې مصنفؒ د ایّ او ایّة د اعراب او د بناء صورتونه بیانوي پس دا هم د موصولاتو نه دي کله معرب وي او کله مبنی په ضمی سره وي خلاصه يې داده چې د دي دواړو لفظونو څلور صورتونه جوړیږي وجه د حصر يې داده چې د الفظونه به خالی نوي یا به مضاف واقع شوي وي یا به نه وي که چیری مضاف واقع وي نو دوه احتماله دي یا به صدر د صلی (صدر د صلی اولنی جُزد صلی ته وایي ۱۲) مذکور وي او یا به محذوف وي که چیری مضاف نه وي نو به دي کې هم دوه احتماله دي یا به صدر د صلی مذکور وي او یا به محذوف وي پس ټول څلور صورتونه حاصل شو.

او س تفصیل داده چې په دریو صورتونو کې به د الفظونه معرب وي هغه دا دي چې د الفظونه کله مضاف واقع وي او صدر د صلی مذکور وي او چې کله بدون الاضافت وي برابره

خبره ده که صدر دصلی مذکوروي اوکه محذوف وي نو په وخت اضافت کې یوصورت اوپه وخت دغیراضافت کې دواړه صورتونه په دي دریوصورتونوکې به دالفظونه معرب وي فقط په یوصورت کې به مبنی په ضمی سره وي هغه داچې کله مضاف وي اوصدردصلی محذوف وي لکه مثال قوله تعالی ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ مِنْ كُلِّ شِيْعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمٰنِ عِتِيًّا زمونږمقصدپه أَيُّهُمْ کې ده داموصول ده اواشدعلی الرحمن عتیا صله ده پس اول جزدصلی نه حذف شوي ده چې هوده ای هوالله اشدعلی الخ. ایْ دلته مبنی ده په دیشان سره چې کله صدردصلی محذوف شې نوای محتاج شې صدردصلی ته پس مشابهت په کې داحتیاج دحروفوسره راغی نوداصورت ځکه مبنی ده یعني دبناوجه یې داده. مصنف فقط دمبنی مثال ذکرکه اودمعرب مثالونه یې ترک کړل ځکه چې بحث دمبنی ده

اسماء افعال

فَصْلٌ: اَسْمَاءُ الْاَفْعَالِ هُوَكُلُّ اِسْمٍ بِمَعْنَى الْاَمْرِوَالْمَاضِيْ نَحْوُرُوَيْدَ زَيْدًا اَيْ اَمْهِلْهُ وَهَيْهَاتَ زَيْدًا اَيْ بَعُدَ.

ترجمه ځلورم فصل په بیان د اسماء افعال کښې دی دا هر هغه اسم ده چه په معنی د امر اوماضی سره وی لکه رُوَيْدَ زَيْدًا یعنی بَعُدَ

تشریح ځلورم قسم دا سماء مبنیونه اسماء افعال دي پس په دي کې هم دوه خبري دي یوه وجه د بناء ده اوبل تعریف ده

وجه دبناء اسماء افعال ځکه مبنی دي چې دامناسب دمبنیاتوسره دي پدي شان سره چې یابه په معنی دماضی سره وي اویابه په معنی دامرحاضرسره وي اودادواړه مبنی الاصل دي نوګویا اسماء افعال مشابه دمبنی الاصل سره دي

تعریف اسماء افعال هغه دي چې کائن اوثابت وي په معنی دماضی یادامرحاضرسره نه دمضارع سره. لکه رُوَيْدَ زَيْدًا روید په معنی دامهل سره دي اوامهل په معنی داُتْرُكْ سره ده صیغه دامرحاضرده بل مثال لکه هیهات زیدًا ای بَعُدَ زَيْدٌ اَبْعَدَ صیغه دماضي مجهول ده اسماء افعال ټول نهه دي په اشعاروکې ذکردي.

نُه بوداسمائ افعالی کذان شش ناصبند دُونَكَ بَلْهَ عَلَيْكَ حَيْهَلْ بَاشَد وها

Maktaba Tul Ishaat.com

پس رُوَیْدَ باز رافع اسم راهیهات دان بازشتان است وسرعان یاد گیراین بیتها

اَوْكَانَ عَلٰى وَزْنِ فَعَالِ بِمَعْنَى الْاَمْرِ وَهُوَمِنَ الثُّلَاثِيِّ قِيَاسٌ كَنَزَالِ بِمَعْنٰى اِنْزِلْ وَتَرَاكِ بِمَعْنٰى اُتْرُكْ:

ترجمه: دا اسم به په وزن د فعال سره وی او په معنی د امر به وی او د ثلاثی مجرد نه قیاس ده لکه نزال په معنی د انزل سره او تراك په معنی د اترك سره

تشریح: داعطف ده په والماضي باندي خلاصه يې داده چې يوقسم اسماء افعال هغه دي چې كوم ذكرشواودويم قسم اسماء افعال دادي چې په وزن دفعَال باندي وي اوپه معنى دامرحاضرسره وي پس ددي دپاره قاعده داده چې په اعتباردحروفو سره ثلاثي وي نودابه قياس كولى شې په قاعدي وزني سره لكه نَزَالِ بروزن فَعَالِ ثلاثي مزيد دي په معنى دانْزِلْ امرحاضرسره (نازل كه) يالكه تَرَاكِ بروزن فَعَالِ په معنى داُتْرُكْ سره ده اوددي نه علاوه كه چيرى په وزن درباعي ياخماسي راشي نودابه قياسي نوي بلكه دابه سماعي وي چې اوريدلى به دعربونه لكه مثلاً په وزن درباعي مزيددوه لفظه راغلي دي يولفظ دعَرْعَارِ ده په معنى دتَلَاعِبْ سره يَلْعَبُ الصِّبْيَانُ ته وايي يعني ماشومانو ته دلوبو كولو حكم كول. اوبل لفظ دَقْرقَارِ ده په معنى دصَوَّاتُ سره چاته داوازونو كولو حكم كولو ته وايي پس دا سماعي لفظونه دي بغيردقياس نه.

وَيَلْحَقُ بِهِ فَعَالِ مَصْدَرًا مَعْرِفَةً كَفَجَارِ بِمَعْنَى الْفُجُوْرِ اَوْصِفَةً لِلْمُؤَنَّثِ نَحْوُيَافَسَاقِ بِمَعْنٰى فَاسِقَةِ وَيَالَكَاعِ بِمَعْنٰى لَاكِعَةٍ اَوْعَلَمًا لِلْاَعْيَانِ الْمُؤَنَّثَةِ كَقَطَامِ وَغَلَابِ وَحَضَارِ وَهٰذِهِ الثَّلَاثَةُ لَيْسَتْ مِنْ اَسْمَاءِ الْاَفْعَالِ وَاِنَّمَا ذُكِرَتْ هٰهُنَا لِلْمُنَاسَبَةِ:

ترجمه: او لاحق كيږي به د سره فعال په حال كون د دي كښ چه دا مصدر به معرفه وی لكه فجار په معنى د فجور سره يا به د مؤنث صفت وی لكه فساق په معنى د فاسقة سره يا لكاع په معنى دلاكعة سره يا به خاص د مؤنث علم وی لكه قطام غلاب حضار دا دری واړه د اسماء افعالو نه دی صرف مناسبت د وجه نه دلته ذكر كړي شو

تشریح: ددي عبارت خلاصه داده چې دريم قسم هغه اسمايي افعال دي چې نه وي په معنى دماضى سره اونه دامرحاضرسره بلكه مشابه وي فقط په وزن كې دفَعَالِ سره اودايوخومواضع دي (۱) اوله موضع داده چې كله مصدر معرفه دفعال په وزن راشي لكه فجار په معنى دالفجورسره ده چې دامصدرمعرفه ده (۲) دويمه موضع داده چې كله ملحقه

شي صیغه دصفت دپاره دمؤنث په فعال پوري لکه فساق په معنی دفاسقة یالکه لکاع (لکاع په معنی دخوارسره دي لکه څوك اووايي چي خوارشي ۱۲) په معنی لاکعة سره پس داهم مشابه دفعال امری سره ده نوځکه مبنیات دي (۳) دریمه موضع داده چي کوم اعیان یعني نومونه دمؤنثاتو مشابه اوګرزي دفعال امری سره نودا به هم مبنیات وي لکه قطام (قطام معدول ده دقطامه نه اوغلاب معدول اوحضار معدول ده دحضایارنه اوتمار معدول ده تمایارنه ۱۲) .غلاب حضار اوبولفظ بقول استاذی تمار ده اودانومونه په دوه قسمه دي چي په آخرکي يي راء وي هغی ذوات الراء وايي اوچي راء يي په آخرکي نه وي هغی ته غیرذوات الراء وايي پس نامونه مشابه دفعال امری سره دي اويو سبب په کي علمیت دي اوبل سبب په کي عدل دي نوځکه مبنیات ګرزيدلی دي.

الاصوات

فَصْلٌ: اَلْاَصْوَاتُ كُلُّ لَفْظٍ حُكِيَ بِهٖ صَوْتٌ كَغَاقِ لِصَوْتِ الْغُرَابِ اَوْصُوِّتَ بِهٖ الْبَهَائِمُ كَنَخْ لِاِنَاخَةِ الْبَعِيْرِ:

ترجمه پنځم فصل په بيان د اصواتو کښ ده اسم صوت دا هر هغه لفظ ده چه دي ذریعي سره ديو آواز حکایت شوي وی لکه غاق د کارغه آواز لپاره يا پدي سره آواز شوي وی څناوروته لکه نخ د اوښ کينولو لپاره

تشریح: پنځم قسم دمبنیاتو نه اصوات ده. اصوات دصوت جمع ده اودصوت دوه معنی دي (۱) آوازکولوته وايي (۲) مطلق آوازيعني نفس صوت ته وايي.

وجه دبناء: اصوات په ترکيب کي نه شي واقع کيدي يعني داسي قسم ترکيب په کي نشته چي دخپل عامل سره متحقق شي پس تعریف دمبنی پري صادق ده ځکه اصوات مبنیات دي

تعریف مصنفؒ داصواتو دوه اصطلاحي معنی ذکرکړي دي

اوله معنی اصوات هرهغه لفظ ته ويلی شي چي حکایت کولی شي په ده سره دبل آوازيعني چي په ده سره بل آوازنقل کړی شي لکه لفظ دغاق يصوت الغراب دادکارغه اوازنقل کولوته وايي لکه يوسړی غاق غاق وايي نويدي کي مقصد دقصی حکایت نقل کول وي یالکه دسپی آوازنقل کول وغیره وغیره. اوصُوِّتَ به دادا صوات دويمه معنی ده يعني

Maktaba Tul Ishaat.com

داهرهغه لفظ ده چې حکايت په آواز سره کيدي شي ښناوروته لکه داوبن دکينولودپاره لفظ دنَغ ذکر کيږي يادښناوروددرابللودپاره يادشړلودپاره دېرَولودپاره دښناوروچې کوم الفاظ مستعمليږي دينه اصوات وايي اودريم قسم اصوات داهم شماردي چې کله انسان دافسوس تعجب په وخت کې کوم الفاظ دخُلی نه اوباسي لکه آه وغيره يادتکليف اوردپه وخت کې لکه واه وغيره داهم اصوات شميرلی شي.

المركبات

فَصْلٌ: اَلْمُرَكَّبَاتُ كُلُّ اِسْمٍ رُكِّبَ مِنْ كَلِمَتَيْنِ لَيْسَتْ بَيْنَهُمَا نِسْبَةٌ:

ترجمه: شپږم فصل په بيان د مرکباتو کښ ده مرکب هر هغه اسم ده چه مرکب وی د دوو کلمونه او د دوی په درميان کښ هيڅ نسبت نه وی

تشريح: شپږم قسم دمبنياتونه مرکبات مبنيه دي په المرکبات کې الف لام عهدي ده او په دي سره اشاره هغو مرکباتوته شوي ده چې هغه مبنيات دي

تعريف: داهرهغه اسم ده چې مرکب دکلمتينونه داسي کلمي چې په مابين ددوي کې هيڅ قسم نسبت نه وي نه په کې نسبت اضافي وي نه په کې نسبت اسنادي وي اونه په کې نسبت توصيفي وي يعني مرکبات ټول شپږدي پس دادري قسم تري خارج شول ځکه چې دامعربات دي اودري اقسام بقيه مبني دي يومرکب بنائي دي دويم مرکب صوتي دي دريم مرکب تعدادي دي

فان قيل: په تعريف کې دکلمتين په عوض کې اسمين پکارده

قلنا: کلمتين ځکه ذکرشوي ده چې تعريف دمرکب شامل شي داسي قسم مرکباتوته لکه مثلاً سيبويه او بخت نَصّرَ په سيبويه کې اول جزاسم ده اودويم جزء دصوت ده اودغه شان بخت اسم ده اونصرفعل ده پس دا په کلمتينو سره داخل شو په مرکبات مبنيو کې.

فَاِنْ تَضَمَّنَ الثَّانِيْ حَرْفًا يَجِبُ بِنَاؤُهُمَا عَلَى الْفَتْحِ كَاَحَدَ عَشَرَ اِلٰى تِسْعَةَ عَشَرَ اِلَّا اِثْنَيْ عَشَرَ فَاِنَّهَا مُعْرَبَةٌ كَالْمُثَنّٰى وَاِنْ لَمْ يَتَضَمَّنْ ذٰلِكَ فَفِيْهَا لُغَاتٌ اَفْصَحُهَا بِنَاءُ الْاَوَّلِ عَلَى الْفَتْحِ وَاِعْرَابُ الثَّانِيْ غَيْرَ مُنْصَرِفٍ كَبَعْلَبَكَّ نَحْوُ جَاءَنِيْ بَعْلَبَكُّ وَرَأَيْتُ بَعْلَبَكَّ وَمَرَرْتُ بِبَعْلَبَكَّ:

ترجمه: که چيری په دي مرکب کښ دا دويمه کلمه متضمنه وه حرف لره نو واجب ده مبنی کول د دوارو کلمو په فتحی سره لکه اَحَدَ عَشَرَ نه واخلی تر تسعة عشر پوري، مگر په

اثنا عشر کښ دا اوله کلمه معربه ده په شان د تثنیې او که چیرې دا دویمه کلمه نه وه متضمنه حرف لره نو پدې مرکب کښ بیا ډیر لغات دی چه افصح پرې لغاتو کښ دا ده چه اوله کلمه به مبنی وی په فتحی سره او دویمه کلمه به معربه وی او غیر منصرف به وی لکه بَعْلَبَکْ مثلاً جَاءَنِیْ بَعْلَبَکُّ وَرَأَیْتُ بَعْلَبَکَّ وَمَرَرْتُ بِبَعْلَبَکَّ

تشریح: ددې عبارت خلاصه داده چې یا به دویمه کلمه په مرکب کې متضمنه د حرف د پاره وي یا به نه وي پس که چیرې دویمه کلمه متضمنه د حرف د پاره وي نو واجبه ده چې دواړه کلمې به مبنی په فتحې سره وي لکه احد عشر ای احد وعشر تا تسعة عشر الا اثنا عشر . عشر دویمه کلمه ده او دا متضمنه ده د پاره د حرف چې واو ترې حذف شوي ده مګر اثنا عشر ترې مستثنی ده ځکه چې مشابه د تثنیې سره او معرب ده. دې قسم مرکباتو ته مرکب تعدادي وایي پس که چیرې دویمه کلمه متضمنه د حرف لپاره نه وي نو بیا دې کې تقریباً څلور لغات دي لیکن فصیح او راجح لغت دا دي چې اوله کلمه به مبنی په فتحې سره وي او دویمه کلمه به معرب غیر منصرف وي لکه بعلبك (بعلبك دې قسم ته مرکب امتزاجي هم وایې او مرکب بنایي ورته هم وایې- ۱۲) بَعْلَ مبنی ده په فتحې سره او مبنی ځکه ده چې دا په وسط کې ده او په وسط کې اعراب نه جاري کیږي او په فتحې سره ځکه دي چې فتحه اخف الحرکات ده بَكَ معرب غیر منصرف ده یعني کسره او تنوین به پرې ممنوع وي لکه جاء نی بعلبكُ ، رایت بعلبكَ ومررت ببعلبكَ حالت جري به فتحې سره وي ځکه چې کسره پرې نه شي راتلی .

الکنایات

فَصْلٌ: اَلْكِنَايَاتُ هِيَ اَسْمَاءٌ تَدُلُّ عَلٰى عَدَدٍ مُبْهَمٍ وَهِيَ كَمْ وَكَذَا اَوْ حَدِيْثٍ مُبْهَمٍ وَهُوَ كَيْتَ وَذَيْتَ:

ترجمه: اووم فصل په بیان د کنایاتو کښ ده، کنایات هر هغه اسماء دی چه کوم په عدد مبهم باندې دلالت کوي چه هغه کَمْ و کَذَا دي یا یوې خبرې مبهم باندې دلالت کوي لکه کَیْتَ وَذَیْتَ

تشریح: اووم قسم د مبنیاتو نه کنایات دي. لفظ د کنایات مطلقاً ذکر دي لیکن الف لام په کې عهدي دی پدې سره اشاره هغه کنایاتو ته شوې ده چې هغه مبنی دي کنایات جمع د کنایة ده په معنی هغه خبره چې د هغې مراد او مقصد واضح نه وي بلکه پوشیده وي **تعریف**: کنایات هغه اسماء دي چې دلالت کوي په اعداد و مبهمو باندې یا به دلالت کوي په حدیث مبهم باندې - د عدد

Maktaba Tul Ishaat.com

مبهم مقدار دیولسو نه تر یو کم سلو پورې دي او ددې دپاره دوه لفظه مستعمل وي کَمْ او کذا (کم وکذا وجه دبناء يې داده چه کوم استفهامي متضمن دحرف استفهام دپاره دي او کم خبري محمول دي په استفهامي باندي . کذا ځکه مبني دي چې ذا پکې اشاره ده او ك پکې حرف ده نو داهم دمبنیاتو نه دي ۱۲) لکه مثلاً څوك سائل اوايي چې كَمْ دِرْهَماً عِنْدَكَ ستاسره څومره پیسې دي نو په جواب دکنايې کې ورته اوايي چې کذا سره دپورته کولو ددواړو لاسو نو دګوتو . یعني داکنایه ده چې څما سره شل درهمه دي دحديث مبهم نه مراد هغه خبري دي چې دمتکلم اومخاطب په مابين کې پټې وي لکه كَيْتَ (داځکه مبني ده چې په ترکیب کې دخپل عامل سره نه ده واقع پس تعریف دمبني پدې صادق دي ۱۲) وذَيْتَ ددې تعبیر په لغت فارسي کې په چنیست چنیست سره کیږي اوپه اردو کې ایسا ایسا په پښتو کې داسې داسې یا ددې پشان نور داسې الفاظ چې مرادتري علاوه متکلم او مخاطب نه بل چانه نه حاصليږي.

وَاعْلَمْ أَنَّ كَمْ عَلَى قِسْمَيْنِ اِسْتِفْهَامِيَّةٌ وَمَا بَعْدَهَا مَنْصُوْبٌ مُفْرَدٌ عَلَى التَّمِيْزِ نَحْوُ كَمْ رَجُلاً عِنْدَكَ وَخَبَرِيَّةٌ وَمَا بَعْدَهَا مَجْرُوْرٌ مُفْرَدٌ نَحْوُ كَمْ مَالٍ أَنْفَقْتُهُ أَوْ مَجْمُوْعٌ كَمْ رِجَالٍ لَقِيْتُهُمْ وَمَعْنَاهُ التَّكْثِيْرُ:

ترجمه : پوئی شه چه کم په دوه قسمه ده اول استفهامي ده دي مابعد به تمیز کیدلو دوجه نه مفرد منصوب وی لکه كَمْ رَجُلاً عِنْدَكَ دويم قسم کم خبري ده، د دي مابعد به مفرد مجرور وی لکه كَمْ مَالٍ أَنْفَقْتُهُ یا به مجموع وی لکه كَمْ رِجَالٍ لَقِيْتُهُمْ معنی د دي به کثرت وی

تشريح: پدي واعلم کې مصنف دکم قسمین بیانوی چې کم په دوه قسمه ده (۱) کم استفهامي (۲) کم خبري . کم استفهامي ديته وايې چې دلالت په استفهام او په سوال استفسار باندي کوي لکه مثلاً كَمْ رَجُلاً عِنْدَكَ ستاسره څومره سړي دي داکم استفهامي دي اوددي بعد لفظ به منصوب مفرد وي لکه رجلاً مفرد منصوب ده حالانکه دلالت په کثیر افرادو کوي اودا منصوب ده بنابر تمیز يعني دا تمیز واقع ده او دنصب دپاره وجه داده چې داسماء دعربو نه داسې ده کم خبري ديته وايې چې په دي سره خبرور کولی شي دپاره دکثرت اود کم خبر مابعد لفظ يعني تميز به مجرور وي کله به مفرد دي او کله به جمع وي لکه کم مالٍ انفقتهٔ مالِ مجرور مفرد دي او مجموع لکه کم رجالٍ لقیتهم دا د جمع مثال ده ددي تمیز دمجرور کیدو وجه داده چې دامشابه ده دعدد کثیر سره او عدد کثیر مجرور وي.

وَتَدْخُلُ مِنْ فِيْهِمَا تَقُوْلُ كَمْ مِنْ رَجُلٍ لَقِيْتُهُ وَكَمْ مِنْ مَالٍ اَنْفَقْتُهُ:

ترجمه په دي دواړو کښې لفظ من داخليږي لکه كَمْ مِنْ رَجُلٍ لَقِيْتُهُ او كَمْ مِنْ مَالٍ اَنْفَقْتُهُ

تشريح ددي قاعدي خلاصه داده چې داخليږي ورستو د كم استفهامي او خبري دواړو ته مِن بيانيه پدي کې دوه احتماله دي که چيرې په مابين د كم او تميز کې فاصله نه وي نو بيا ذکر د مِن جائزدي او که فاصله وي نو بيا واجب دي داول دپاره مثال لکه كم من رجلٍ لقيته پدي کې فاصله نشته ځکه که چيرې من تري لرې کړې شي نو معنى بيا هم صحيح ده دثاني دپاره مثال لکه آيت شريف كَمْ مِنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا دامن واجب ده ځکه چې فاصله موجود ده په مابين د كم او تميز کې

وَقَدْ يُحْذَفُ التَّمِيْزُ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ نَحْوُ كَمْ مَالُكَ اَىْ كَمْ دِيْنَارًا مَالُكَ وَكَمْ ضَرَبْتَ اَىْ كَمْ ضَرْبَةٍ ضَرَبْتَ:

ترجمه او کله به تميز د قرينې موجود والي دوجه نه حذف کيږي لکه كَمْ مَالُكَ يعني كَمْ دِيْنَارًا مَالُكَ او كَمْ ضَرَبْتَ يعني كَمْ ضَرْبَةً ضَرَبْتَ

تشريح ددي قاعدي خلاصه داده چې کله قرينه داله موجوده وي په تميز د كم باندي نو بيا حذف د تميز جائزدي لکه كم مالُكَ اى كم ديناراً مالُكَ دلته قرينه داده چې مالُكَ مرفوع ده او تميز د كم منصوب يا مجرور وي نو معلومه شوه چې مالُكَ تميز نه ده بلکه تميز ديناراً ده چې حذف شوي ده. دپاره مثال لکه كم ضربتَ اى كم ضربةٍ ضربتُ.

وَاعْلَمْ اَنَّ كَمْ فِي الْوَجْهَيْنِ يَقَعُ مَنْصُوْبًا اِذَا كَانَ بَعْدَهُ فِعْلٌ غَيْرُ مُشْتَغِلٍ عَنْهُ بِضَمِيْرِهِ نَحْوُ كَمْ رَجُلًا ضَرَبْتَ وَكَمْ غُلَامٍ مَلَكْتَ مَفْعُوْلًا بِهٖ وَنَحْوُ كَمْ ضَرْبَةً ضَرَبْتُ مَصْدَرًا وَكَمْ يَوْمًا سِرْتَ وَكَمْ يَوْمٍ صُمْتُ مَفْعُوْلًا فِيْهِ وَمَجْرُوْرًا اِذَا كَانَ قَبْلَهُ حَرْفُ جَرٍّ اَوْ مُضَافٌ نَحْوُ بِكَمْ رَجُلًا مَرَرْتَ وَعَلٰى كَمْ رَجُلٍ حَكَمْتُ وَغُلَامَ كَمْ رَجُلًا ضَرَبْتَ وَمَالَ كَمْ رَجُلٍ سَلَبْتُ وَمَرْفُوْعًا اِذَا لَمْ يَكُنْ شَيْءٌ مِنَ الْاَمْرَيْنِ مُبْتَدَاً اِنْ لَمْ يَكُنْ ظَرْفًا نَحْوُ كَمْ رَجُلًا اَخُوْكَ وَكَمْ رَجُلٍ ضَرَبْتُهُ وَخَبَرًا اِنْ كَانَ ظَرْفًا نَحْوُ كَمْ يَوْمًا سَفَرُكَ وَكَمْ شَهْرٍ صَوْمِيْ:

ترجمه: پوئی شه چه كم په دواړو صورتونو کښې منصوب واقع کيږي او د نه پس به داسې فعل نه وي چه د نه اعراض کوي په ضمير کښې مشغوليدلو دوجه نه لکه كَمْ رَجُلًا ضَرَبْتَ وَكَمْ غُلَامٍ مَلَكْتُ په حال کون ده کښې چه دا مفعول به ده او لکه كَمْ ضَرْبَةً ضَرَبْتَ په حال

Maktaba Tul Ishaat.com

کون د دی کښ چه دا مفعول مطلق ده او كَمْ يَوْمًا سِرْتَ وَكَمْ يَوْمًا صُمْتُ په حال کون د دي کښ چه دا مفعول فيه ده. او کم به مجرور وی چه کله د نه مخکښ حرف جريا مضاف وی لکه بِكَمْ رَجُلًا مَرَرْتَ وَعَلٰى كَمْ رَجُلٍ حَكَمْتُ وَغُلَامَ كَمْ رَجُلًا ضَرَبْتَ وَمَالَ كَمْ رَجُلٍ سَلَبْتُ او کم به مرفوع وی چه کله د دوو امرونو نه يو امر مبتدا وی ،کچرته ظرف نه وی لکه كَمْ رَجُلًا اَخُوْكَ وَكَمْ رَجُلٍ ضَرَبْتُهٗ او خبر به وی کچرته ظرف وی لکه كَمْ يَوْمًا سَفَرُكَ وَكَمْ شَهْرٍ صَوْمِيْ

تشريح پدي واعلم کې مصنفؒ دکم داعراباتو محلات ذکر کړی دي پس کم به واقع کيږي په محلاتو ثلاثه وودنصب کې (۱) دکم نه بعد به کله فعل يا شبه فعل وي داسي فعل چې مشغول وي په مفعول کې نه په ضمير کې لکه کم رجلاً ضربتَ وکم غلامٍ ملکتُ دلته کم په محل دنصب کې واقع ده ضربتَ بدون الضمير دي او عمل په رجلاً کوي (۲) کله کله محل دنصب په مصدر سره وي يعني مفعول مطلق به واقع وي لکه کم ضربةً ضربتَ او کم ضربتٍ ضربتُ (۳) کله کله محل دنصب په مفعول فيه سره وي لکه کم يوماً سرتَ او کم يومٍ صُمتُ.

محل د جر: کله کله کم په محل د جر کې واقع کيږي په هغه وخت کې چې مخکې تري حرف جر راغلی وي يا مضاف لکه څلور امثله مذکور فی الکتاب دي دوه د کم استفهامی د پاره دي اول د جر دويم د مضاف او دوه امثله دکم خبري د پاره ذکر دي کتاب ورپسې مطالعه که.

محل درفعي: کم که چيری په محل دنصب او جر کې نوي نو بيا به دوه احتماله جوړيږي (۱) که چيری کم مستعمل په ظروفو کې نه وي نو دا به مرفوع وي بنا بر ابتدائيت (۲) که مستعمل په ظروفو کې وي نو دا به مرفوع بنا بر خبريت وي امثله مذکور فی الکتاب دي.
ددي خلاصه دا شوه چې کم په محلاتو داعرابو ثلاثه وو کې مستعمل دي شي.

الظروف المبنية

فَصْلٌ: اَلظُّرُوْفُ الْمَبْنِيَّةُ عَلٰى اَقْسَامٍ مِنْهَا مَا قُطِعَ عَنِ الْاِضَافَةِ بِاَنْ حُذِفَ الْمُضَافُ اِلَيْهِ كَقَبْلُ وَبَعْدُ وَفَوْقُ وَتَحْتُ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ اَىْ مِنْ قَبْلِ كُلِّ شَيْءٍ وَمِنْ بَعْدِ كُلِّ شَيْءٍ هٰذَا اِذَا كَانَ الْمَحْذُوْفُ مَنْوِيًّا لِلْمُتَكَلِّمِ وَاِلَّا لَكَانَتْ مُعْرَبَةً وَعَلٰى هٰذَا قُرِئَ لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلٍ وَمِنْ بَعْدٍ وَتُسَمَّى الْغَايَاتِ:

ترجمه: اتم فصل په بیان د ظروف مبنی کښې دي او دا په قسمه باندي دي، دیکښې بعض هغه اسماء ظروف دی چه د اضافت نه قطع کړي شوی دی پدي طریقی سره چه د هغی مضاف الیه حذف کړي شوی وی لکه قَبْلُ وَبَعْدُ وَفَوْقُ وَتَحْتُ او د الله پاك ارشاد دي لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ یعنی مِنْ قَبْلِ كُلِّ شَيْءٍ وَمِنْ بَعْدِ كُلِّ شَيْءٍ دا په هغه وخت کښې چکله دا اسم محذوف د متکلم په نیت کښې موجود وی کچرته نه وو نو بیا به معرب وی د وجه نه وئیلی شوی دی لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلٍ وَمِنْ بَعْدٍ او دیته ئی نوم غایات کیخودلو.

تشریح: اتم قسم دمبنیاتونه بعض ظُروف دي او دا دمبنیاتوآخري قسم ده اومخکښې په اجمال کښې مصنفؒ بعض الظروف ذکرکړي وونودلته څکه ظروف مقید کړی شويه قید دالمبنیه سره پس بعض ظروف مبنی دي.

منها: بعضی دظروفونه هغه مبنی دي چې هغه منقطع ګرزيدلی وي دپاره داضافت يعني هغه ظروف چې مضاف اليه يې محذوف منوي وي : په نيت دمتكلم كې، لكه بَعْدُ قَبْلُ، فَوْقُ، تَحْتُ وغيره داظروف مكانی دي اودامشتمل دي په احتمالاتوثلاثويابه مضاف اليه دقبلُ بعدُ مذكوروي يابه محذوف وي كه مذكوروي نوپه دي صورت كې قبلُ بعدُ وغيرها معرب وي . كه مضاف اليه محذوف وي نوپدي كې دوه احتماله دي يابه محذوف نَسْيًا مَنْسِيًّا وی یابه محذوف منوي وي . نسيا منسيا دیته وايې چې نه مذكوروي اونه په نيت دمتكلم كې وي . منوي ديته وايي چې مذكورنه وي ليكن په نيت دمتكلم كې به وي لكه مثال قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ دلته اګرچې من جاره ذكر ليكن جرئي نه دي وركړی څكه چې دامبنی په ضمی سره دي اومضاف اليه يې محذوف منوي دي تقدير يې دادی ای من كل شئ ومن بعد كل شئ دا په نيت دمتكلم كې وي . ددي دنفس بناء دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

وجه داده چې مضاف اليه نزدي حذف شي نودامحتاج شي دغه محذوف ته نوپس مشا بهت يې دحروفوسره په احتياج کې ده ځکه مبنی دي اومبنی په ضمی سره دي ددي دپاره وجه داده چې ضمه ثقيل الحرکت ده اوددي نه مضاف اليه حذف شوي دي نو اُس ثقيل حرکت غواړي نوضمه ورته اُبخلی شوه.

وتسمى الغايات: داقسم ظروف مسمٰی کړی شوي دي په غايات سره. داجمع دغاية ده په معنی انتهاونهايت ته وايې پس ددي سره يې مناسبت پدي شان سره ده چې دمضاف اليه دحذف نه ورستو دمتکلم صوت اوکلام په دي ځايې انتهاء ته رسی ځکه ورته غايات وايې.

مِنْهَا حَيْثُ بُنِيَتْ تَشْبِيْهًا لَهَا بِالْغَايَاتِ لِمُلَازَمَتِهَا اِلَى الْاِضَافَةِ اِلَى الْجُمْلَةِ فِى الْاَكْثَرِ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِنْ حَيْثُ لَايَعْلَمُوْنَ وَقَدْ يُضَافُ اِلَى الْمُفْرَدِ كَقَوْلِ الشَّاعِرِ (شعر) اَمَا تَرٰى حَيْثُ سُهَيْلٍ طَالِعًا، اَىْ مَكَانَ سُهَيْلٍ فَحَيْثُ هٰذَا بِمَعْنٰى مَكَانَ وَشَرْطُهٗ اَنْ يُضَافَ اِلَى الْجُمْلَةِ نَحْوُ اِجْلِسْ حَيْثُ يَجْلِسُ زَيْدٌ:

ترجمه: يو د ظروف مبينه نه حيث ده او دا مبنی کړي شوي په غايات سره او د دي تشبيه ئی ورکړه دي د وجه نه چه اکثر استعمال ئی اضافت الی الجملة طرف ته لازميږی لکه د الله تعالی دا قول سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِنْ حَيْثُ لَايَعْلَمُوْنَ او کله به دا مفرد طرف ته مضاف وی لکه د شاعر دا قول اَمَا تَرٰى حَيْثُ سُهَيْلٍ طَالِعًا يعنی مَكَانَ سُهَيْلٍ دلته په معنی د مکان سره ده او دلپاره شرط داده چه جملی طرف ته به مضاف وی لکه اِجْلِسْ حَيْثُ يَجْلِسُ زَيْدٌ

تشريح: لفظ دحيثُ مبنی ګرزيدلی ده دوجی دمشابهت نه ددي غاياتو سره اومشابهت يې داده چې حيثُ لازم الاضافت ده اودغه شان غايات هم لازم الاضافت ده اګرچې مضاف اليه يې محذوف وي ليکن په نيت دمتکلم کې وي نوګويا دمشابهت دحيثُ دپاره وجه دلزُوم (اومبنی په ضمی سره ځکه دي چې دامحمول کړی شوي ده په غاياتو باندي اګرچې مضاف اليه ترحذف کيږي نه ليکن دمشاکلت دوجی نه په ضمی سره ده ۱۲) (داکثر مطلب دادي چې کله کله دحيثُ اضافت مفردته هم ده. دحيثُ اضافت اکثر ۱۲) ليکن مختارقول دادي چې اضافت دحيث جملی ته شرط دي دوجی داکثروالی نه کيږي لکه قوله تعالی سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِنْ حَيْثُ لَايَعْلَمُوْنَ. لايعلمون جمله ده جملی نه کيږي ۱۲) اودامضاف اليه ده دپاره دحَيْثُ **وقدتضاف الخ** قد په معنی دتقليل سره ده اوکله کله دحيثُ

اضافت مفرد ته هم کیږي لکه قول الشاعر اما تري حيث سهيل طالعاً طالعا مضاف اليه مفرد ده او حيث په معنى دمکان سره دا ای اما تري مکان سهيل طالعا . دیته حيثُ مکاني وايي۔

وَمِنْهَا إِذَا وَهِيَ لِلْمُسْتَقْبَلِ وَإِذَا دَخَلَتْ عَلَى الْمَاضِي صَارَ مُسْتَقْبِلاً نَحْوُ إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ وَفِيهَا مَعْنَى الشَّرْطِ وَيَجُوزُ أَنْ تَقَعَ بَعْدَهَا الْجُمْلَةُ الْإِسْمِيَّةُ نَحْوُ أَتِيكَ إِذَا الشَّمْسُ طَالِعَةٌ وَالْمُخْتَارُ الْفِعْلِيَّةُ نَحْوُ أَتِيكَ إِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ وَقَدْ تَكُونُ لِلْمُفَاجَاتِ فَيُخْتَارُ بَعْدَهَا الْمُبْتَدَأُ نَحْوُ خَرَجْتُ فَإِذَا السَّبُعُ وَاقِفٌ:

ترجمه يو د ظروف مبنيه نه اذا ده او دا مستقبل لپاره راځي او چه کله په فعل ماضی داخل شي نو د مستقبل معنى ورکوی لکه إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ او په دي کښ معنى دا شرط وی او دي نه پس جمله اسميه واقع کیدل جائز دی لکه أَتِيكَ إِذَا الشَّمْسُ طَالِعَةٌ او ښه خبره داده چه په جملي فعليي کښ واقع شی لکه أَتِيكَ إِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ طَالِعَةً او کله مفاجات لپاره هم راځي غوره خبره داده چه دي نه پس دا متبدا اوی لکه خَرَجْتُ فَإِذَا السَّبُعُ وَاقِفٌ

تشريح اذا ظرف زمانی ده او وجه دبنايي داده چې اذا متضمن ده حرف شرط سره او حروف ټول مبنى دي . اذا رازی دپاره دمستقبل اګر که په ماضی داخل شي خو معنى په دماضی مستقبل ته اړه وی . يعني غالبه داده چې دماضی معنى استقبال ته نقل کوي لکه إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ دلته جاءَ صيغه اګرچې دماضی ده ليکن معنى داستقبال ورکوي چې په هغه وخت کې به راشي امداد الله تعالى . پس چې اذا کله شرطی شي نو بيا دِ اذا نه بعد جمله اسميه هم راتلی شي او جمله فعليه هم ليکن مختاره او راجح داده چې بعد تري جمله فعليه راشي لکه امثله مذکور في الکتاب دي . او کله کله اذا په معنى مفاجاتيه سره هم راځي مفاجئت په معنى داچانك او ناساپه سره ده يعني يو کار چې سمد ستی اچانك واقع شي لکه ضربت فاذا السبع واقفٌ ديته اذا مفاجاتی وايي او ددي قسم اذا دپاره بهتره داده چې بعد تري مبتداء يعني جمله اسميه واقع شي۔

وَمِنْهَا إِذْ وَهِيَ لِلْمَاضِي وَتَقَعُ بَعْدَهَا الْجُمْلَتَانِ الْإِسْمِيَّةُ وَالْفِعْلِيَّةُ نَحْوُ جِئْتُكَ إِذْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ وَإِذِ الشَّمْسُ طَالِعَةٌ:

ترجمه يو د ظروف مبنيه نه اذ ده او دا د ماضی لپاره راځي او د ده نه پس دواړه جملي واقع کیږی جمله اسميه وی او که فعليه لکه جِئْتُكَ إِذْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ وَإِذِ الشَّمْسُ طَالِعَةٌ

Maktaba Tul Ishaat.com

تشریح اوبعضې د ظروفو مبنيونه اذ ظرفی هم مبني ده ځکه وضع دا ذ په شان د حروفو ده يعني اقل من ثلاثة أحرف ده. اِذ وضع شوي د پاره د ماضی ده اګر که په مستقبل داخل شي ليکن معنی به د مستقبل نه فعل ماضی ته بدلوي يعني اِذ مقابل دا ذا ده او د اذ نه بعد جمله اسميه او فعليه دواړه راتلی شي ځکه چي اذ په معنی د شرطيت سره نه ده. امثله مذکور فی الکتاب دي.

وَمِنْهَا أَيْنَ وَأَنّٰى لِلْمَكَانِ بِمَعْنَى الْاِسْتِفْهَامِ نَحْوُ أَيْنَ تَمْشِيْ وَأَنّٰى تَقْعُدُ وَبِمَعْنَى الشَّرْطِ نَحْوُ أَيْنَ تَجْلِسْ أَجْلِسْ وَأَنّٰى تَقُمْ أَقُمْ:

ترجمه: يو د ظروف مبنيه نه اين او انی ده مکان لپاره راځی په معنی د استفهام سره لکه أَيْنَ تَمْشِيْ وَأَنّٰى تَقْعُدُ او د شرط په معنی سره هم راځی لکه أَيْنَ تَجْلِسْ أَجْلِسْ وَأَنّٰى تَقُمْ أَقُمْ

تشریح: دا دواړه لفظونه راځی د پاره د مکان په معنی د استفهام او استفسار سره يعني پدي سره تپوس د مکان کيدي شي او دیته ظروف مکاني استفهامي وايي لکه اين تمش وأنّى تعقد او کله په معنی د شرط سره هم راځی يعني دا لفظونه به شرط واقع کيږي او ورسته به تري جزاء ذکر کيږي لکه اين تَجْلِسْ أَجْلِسْ چي کوم ځاي ته کيناستل کوي هلته به زه کينم. دلته متکلم خپل فعل جزاء ګرزولی ده. د پاره د شرط د فعل د مخاطب.

وَمِنْهَا مَتٰى لِلزَّمَانِ شَرْطًا أَوِاسْتِفْهَامًا نَحْوُ مَتٰى تَصُمْ أَصُمْ:

ترجمه: يو د ظروف مبنيه نه متی ده زماني لپاره راځی خو په معنی د شرط او استفهام سره راځی لکه مَتٰى تَصُمْ أَصُمْ

تشریح: اوبعضې د ظروفو مبنيه نه متی ده وجه د بناء يې دا ده چي متی متضمن د حرف استفهام د پاره ده او متی وضع شوي ده د پاره د زماني يعني ظروف زماني دي او په دوه قسمه دي يو متی شرطی ده اوبل متی استفهامی ده اول مثال د متی شرطی د پاره لکه مَتٰى تَصُمْ أَصُمْ متی تصم جمله شرطيه ده اصم جمله جزائيه ده کوی معنی داسی ده چي په کومه زمانه کي ستا روژه وي نو خما به هم روژه وي مثال متی استفهامی د پاره لکه مَتٰى تُسَافِرُ أُسَافِرُ دا استفهامی ده چي کله ته سفر کي زه به سفر کوم.

وَمِنْهَا كَيْفَ لِلْاِسْتِفْهَامِ حَالًا نَحْوُ كَيْفَ أَنْتَ أَيْ فِيْ أَيِّ حَالٍ أَنْتَ:

ترجمه: يو د ظروف مبنيه نه کيف ده استفهام لپاره راځی يعني حال معلومولو لپاره دي لکه كَيْفَ أَنْتَ أَيْ فِيْ أَيِّ حَالٍ أَنْتَ

تشریح: کیف ځکه مبني ده چې متضمن د استفهام د پاره ده او د کیف ځیله معنی استفهامي حالي ده لکه کیف انت ای کیف حال انت. پدې سره جسماني پوښتنه کیدېشي یعني کیف حالك ستا حال څنګه ده ای صحتك.

وَمِنْهَا اَيَّانَ لِلزَّمَانِ اِسْتِفْهَامًا نَحْوُ اَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ:

ترجمه یو د ظروف مبنیه نه ایان ده دا زماني لپاره راځي استفهام په صورت کښ لکه اَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ

تشریح: دا ظرف زماني ده وجه د بناء یې داده چې متضمن ده استفهام لره لکه اَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ۔ یوم به لکه جزاء وی. فرق په مابین د متی او ایان کې لفظ د متی عام ده په ماضي یا استقبال کې مستعمليږي. او لفظ د ایان خاص ده په استقبال پورې دويم فرق داده چې لفظ د متی عام دی په هر امر کې راتلی شي او لفظ د ایان خاص دی د پاره د عظیم الشان امورو لکه مثال مذکور چې یوم الدین یو عظیم امر ده یوم الجزاء ده.

وَمِنْهَا مُذْ وَمُنْذُ بِمَعْنَى اَوَّلِ الْمُدَّةِ اِنْ صَلُحَ جَوَابًا لِمَتٰى نَحْوُ مَا رَاَيْتُهُ مُذْ اَوْ مُنْذُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ فِيْ جَوَابِ مَنْ قَالَ مَتٰى مَا رَاَيْتَ زَيْدًا اَيْ اَوَّلُ مُدَّةِ انْقِطَاعِ رُؤْيَتِيْ اِيَّاهُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ وَبِمَعْنٰى جَمِيْعِ الْمُدَّةِ اِنْ صَلُحَ جَوَابًا لِكَمْ نَحْوُ مَا رَاَيْتُهُ مُذْ اَوْ مُنْذُ يَوْمَانِ فِيْ جَوَابِ مَنْ قَالَ كَمْ مُدَّةٍ مَا رَاَيْتَ زَيْدًا اَيْ جَمِيْعُ مُدَّةِ مَا رَاَيْتُهُ يَوْمَانِ:

ترجمه یو د ظروف مبنیه نه مذ او منذ ده دا اول مدت لپاره راځي که چیري ته متی د جواب ورکولو صلاحیت لري لکه مُذْ اَوْ مُنْذُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ دا په هغه وخت کښ وئیلی شي چه کله څوك پوښتنه اوکړي چه تا د کله نه زید ندې لیدلی. ما چه کله نه هغه ندې لیدلي د هغې اول مدت هغه ورځ د جمعه ده او د جمیع مدت لپاره هم راځي که چیري ته هغې کښ جواب د کم ورکولو صلاحیت دي لکه رَاَيْتُهُ مُذْ اَوْ مُنْذُ يَوْمَانِ دا د هغه سړي په جواب کښ وئیلی شي چه تا کله نه زید ندې لیدلی یعني تمام مدت د نه لیدلو هغه دوه ورځې دی چه ندې لیدلی

تشریح: وجه د بناء یې داده چې یو ځاي کې مذ او منذ په حروفو جارو کې داخل دی لکه

با و تا و کاف ولام واو مذ منذ خلا رُبَّ حاشا من عدا في عن على حتى الى

پس حروف اصلي مبنيات دي نو دا قسم مذ او منذ اسمي ده نو دا مشابه د حروفو سره ده بله وجه داده چې مُذْ اقل من الثلاثة احرف ده او مُنْذُ محمول ده په مذ بانديې. معنی د مُذْ او مُنْذُ: دا ظروف زماني دي او په دي کې دوه احتماله دي یا به هر واحد د مذ او منذ نه ذکر شوي وي په جواب د متی

استفهامی کې او یا به ذکروي په جواب دکم استفهامی کې که چیري اول وي نو ددي نه به مراد او معنی دَ فعل ابتدایي زمانه وي لکه مثال چې په متیٰ استفهامی سره سائل سوال اوکړي چې متیٰ مَارَأَیتَ زیدًا ددي په جواب کې مارأیته مذ او منذ یوم الجمعة یعني مانه دي لیدلی زید دورځی دجُمعی نه پدي کې ابتدا دفعل ذکرشوه که چیري هر واحد دمذ او منذ نه په جواب دکمْ استفهامی کې وي نو ددي نه به مراد دفعل تمامه او جمیعه زمانه مراد وي لکه سائل چې کله پوښتنه اوکړي چې کَمْ مُدَّةً مارایتَ زیدًا ددي جواب داده چې مارایتهُ مُذ او مُنذ یومَان پدي کې تامه مُدَه دفعل مراد ده یعني مانه ده لیدلی زید دوه ورځې دمذ او منذ نه به فقط یو ذکر کیږي.

وَمِنْهَا لَدٰى وَلَدُنْ بِمَعْنٰى عِنْدَ نَحْوُ اَلْمَالُ لَدَیْكَ وَالْفَرْقُ بَیْنَهُمَا اَنَّ عِنْدَ لَایُشْتَرَطُ فِیْهِ الْحُضُوْرُ وَیُشْتَرَطُ ذٰلِكَ فِیْ لَدٰى وَلَدُنْ وَجَاءَ فِیْهِ لُغَاتٌ اُخَرُ لَدْنِ وَلُدْنَ وَلَدَنْ وَلَدُ وَلُدْ وَلَدْ:

ترجمه: یو د ظروف مبنیه نه لدٰی او لَدُنْ ده چه په معنی د عند سره راځی لکه اَلْمَالُ لَدَیْكَ او د دواړو په درمیان کښ فرق دا ده چه عند لپاره د شی حاضرول ضروری ندی او لدٰی او لَدُنْ کښ د شی حاضرول ضروری دی او لدن کښ نور لغات هم شته لُدْنَ وَلَدَنْ وَلَدُ وَلُدْ وَلَدْ

تشریح: دا څکه مبنیات دي چې په دي کې نور لغات ده لکه مثلاً لَدْ. لَدَ. لَدِ وغیره دالغات اَقَلُّ مِنْ ثَلَاثَةِ اَحْرُفٍ دي پس لدٰی او لَدَنْ څکه مبنی ده او دا په معنی دعِنْدَ سره ده لکه اَلْمَالُ لَدَیْكَ اَیْ اَلْمَالُ عِنْدَكَ البته فرق په کې داده چې په عند کې حضوردشي شرط نه ده لکه مثلاً دزید سره په واسکټ کې مال وي او سائل پوښتنه کوي نو په عندك سره به تپوس کوي او که مال دزید په خزانه کې وي نو بیا هم په عندكَ سره تپوس کولی شي. او دلدٰی او لدن دپاره حضوردشي شرط ده لکه مثلاً المال لدٰی جَیْبِكَ ایا ستا سره په جیب کې مال شته. یا المال لدٰی خزَائِنِكَ آیا ستا سره په خزانه کې مال شته

وَمِنْهَا قَطُّ لِلْمَاضِیْ مَنْفِیْ نَحْوُ مَارَأَیْتُهُ قَطُّ:

ترجمه: یو د ظروف مبنیه نه قط ده ماضی منفی لپاره راځی لکه مَارَأَیْتُهُ قَطُّ

تشریح: طاء مشدده ده ای قطّ وجه دبناء یې داده چې پدي کې یو نعت دقَطّ هم مستعمل ده او دا اقل من ثلاثة احرُفٍ ده پس قطّ محمول کړی شوي ده په دي باندي. قطّ په معنی دهیڅ کله سره ده او راځی دپاره دنفي دتاکید په ماضی کښی فقط. لکه مارایته قطّ مانه ده لیدلی هغه لره هیڅ کله. یعني کله می هم نه ده لیدلی. کله کله په قط باندي

فانتهائيه هم داخليږي لکه فقط داراځي دانتهادفعل دپاره.

وَمِنْهَا عَوْضُ لِلْمُسْتَقْبِلِ الْمَنْفِيِّ نَحْوُلَا اَضْرِبُهُ عَوْضُ:

ترجمه: يو د ظروف مبنيه نه عوض ده چه دا مستقبل منفي لپاره راځي لکه لَااَضْرِبُهُ عَوْضُ

تشريح عوضُ مقابل دقطّ ده يعني داراځي دپاره دنفي دتاکيد دمستقبل فقط. اوپه دهراُسره ده يعني معنى دټولي زماني په کې پرته ده (هميشګي) لکه لَااَضْرِبُهُ عَوْضُ زه به نه وهم ده لره هميشه دپاره. وجه دبناءُ داده چې دعوضُ مضاف اليه هم محذوف منوي ده په شان دقبلُ بعدُ. لکه اي عوضَ کُلِّ دهرٍ

وَاعْلَمْ اَنَّهُ اِذَا اُضِيفَ الظُّرُوفُ اِلَى الْجُمْلَةِ اَوْاِلَى اِذْجَازَبِنَاؤُهَا عَلَى الْفَتْحِ كَقَوْلِهِ تَعَالَى هٰذَا يَوْمَ يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ وَكَيَوْمَئِذٍ وَحِيْنَئِذٍ وَكَذٰلِكَ مِثْلُ وَغَيْرُ مَعَ مَاوَاَنْ وَاَنَّ تَقُوْلُ ضَرَبْتُهُ مِثْلَ مَاضَرَبَ زَيْدٌ وَغَيْرَاَنْ ضَرَبَ زَيْدٌ:

ترجمه پوئی شه چه کله د ظروفو اضافت جملې طرف ته وشي يا اذ طرف ته نو د دې مبنى برفتح کيدل جائز دي لکه د الله تعالى دا قول هٰذَا يَوْمَ يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ او لکه يَوْمَئِذٍ وَحِيْنَئِذٍ او همدغه رنګې کلمه د مثل او غير او لفظ د ما اَن. اَنّ ده لکه ته او وائې ضَرَبْتُهُ مِثْلَ مَاضَرَبَ زَيْدٌ وَغَيْرَاَنْ ضَرَبَ زَيْدٌ.

تشريح پدي واعلم کې مصنفؒ هغه ظروف ذکر کوي چې دي معربات ليکن کله کله مبنى کول دهغې هم جائزدي پس چې کله دظروفو معربو اضافت جملې ته وشي يااذته وشي نو دابه مبنى په فتحې سره وي ددي دپاره وجه دجوازدبناء داده چې جمله بذات خپله نه معرب ده اونه مبنى ده ليکن نحاة جمله په مبنياتو کې شماري نو ګوياچې دظروفو معربو اضافت الى المبنى اوګرزيد. اوچه کله اذته اضافت وشي نو اذېخپله مبنى الاصل ده نوګويا داهم اضافت الى المبنى اوګيرزيد څکه بناددي ظروفو جائزه ده دجوازمطلب داده چې اعراب پري هم جائزده. وکذالك يعني دغه شان لفظ دمثلُ اودغيرُ اضافت چې کله ما. اَن واَنّ منقله ته وشي نو دابه مبنى وي په فتحي سره څکه چې داهم اضافت الى المبنى دي پس بناءُ هم جائزه ده او اعراب پدي جائزده امثله مذکورفي الکتاب.

وَمِنْهَا اَمْسِ بِالْكَسْرِعِنْدَاَهْلِ الْحِجَازِ:

ترجمه : او د دي نه بل امس ده د اهل حجازو په نزد دا په کسري سره ده

تشريح: لفظ دامس پرونۍ تيره شوي ورځ ته وايي ددي په اعراب اوبناء کې اختلاف ده يومذهب د اهل حجازوده دوي وايي چې لفظ دامْسِ مبنى ده په کسري سره پدې شرط چې مضاف وي

Maktaba Tul Ishaat.com

اويامعرفه باللام وي بل مذهب دبعضو ده دوي وايي چي په حيثيت دشرط مذكورسره دامعرب ده اودريم احتمال په كي داده چي نه مضاف وي اونه معرفه باللام وي نو بيالفظ دامس معرب ده اتفاقاً.
بحث دمبني سرته اورسيد والله الموفق والمُعِين

الخاتمة

وَالْخَاتِمَةُ فِيْ سَائِرِ اَحْكَامِ الْاِسْمِ وَلَوَاحِقِهِ غَيْرِ الْاِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ وَفِيْهَا فُصُوْلٌ:

ترجمه: او خاتمه د اسم بقيه احكامو او لواحقو د دي كښ ده، داسي احكام چه كوم د معرب او مبني نه علاوه دي او پدي كښ يو څو فصلونه دي

تشريح: هركله چي مصنفؒ فارغ شو ددواړو بابونو داسم نه چي بيان دمعرب اومبني وو پس شروع يي اوكړه په خاتمه كي اوداخاتمه مرتب كړي شوي ده په بيان دهغه اقسامو او احكامو داسم كي چي بغيرداعراب اوبناء نه نورلواحقات داسم دي مثلاً اسم به كله مذكروي كله به مؤنث وي اوكله به معرفه وي كله به نكره وي وغيره سائر كله په معنى دتمام سره وي ليكن دلته په معنى دباقي سره ده اولفظ دسائرماخوذده دسورنه په معنى چي يوشي اُوخوړلى شي اودهغي نه څه باقي پاتي شي نوګويادابيان باقي ده بغيرداعراب اوبناء نه.

وفيها فصول اي عشرة فصول يعني داسم بقيه احكامات اقسام مرتب دي په لسو فصلونو كي.

فَصْلٌ: اِعْلَمْ اَنَّ الْاِسْمَ عَلٰى قِسْمَيْنِ مَعْرِفَةٌ وَنَكِرَةٌ اَلْمَعْرِفَةُ اِسْمٌ وُضِعَ لِشَيْءٍ مُعَيَّنٍ وَهِيَ سِتَّةُ اَقْسَامٍ اَلْمُضْمَرَاتُ وَالْاَعْلَامُ وَالْمُبْهَمَاتُ اَعْنِيْ اَسْمَاءَ الْاِشَارَاتِ وَالْمَوْصُوْلَاتِ وَالْمُعَرَّفُ بِاللَّامِ وَالْمُضَافُ اِلٰى اَحَدِهَا اِضَافَةً مَعْنَوِيَّةً وَالْمُعَرَّفُ بِالنِّدَاءِ.

ترجمه: پوهه شه چه اسم په دوه قسمه ده يو معرفه بل نكره، معرفه هرهغه اسم ده چه وضع كړي شوي وي لپاره د شي، معين او ددي شپږ اقسام دي (۱) مضمرات (۲) اعلام (۳) مبهمات يعني اسماء اشارات او اسماء موصولات (۴) معرف باللام (۵) او مضاف به وي يو ددي نه او دا اضافت به معنوي وي (۶) معرف بالنداء.

تشريح: پدي فصل كي داسم تقسيم دي په اعتبارد معرّف اومخصص سره چي اسم په دوه قسمه ده معرفه اونكره وجه دحصريي داده چي دا اسم به خالي نه وي يابه دلالت كوي په يوشي معين باندي يابه نه كوي كه دلالت كوي په شي معين باندي دينه اسم معرفه وايي اوكه دلالت نه كوي دينه اسم نكره وايي -شي معين عام ده كه مفرد معين وي لكه زيد اوكه جنس معين وي لكه

أسامه دا دزمرو یو جنس ده یعني خاص ده او که جمله معینه وي یا په کلمه باندي الف لام داخل شي نو بیته معرفه وایي .پس دمعرفي شپږ اقسام دي (اجمالاً)

(۱) **المضمرات** ضمائرټول معارف دي

(۲) **اعلام** اعلام جمع دعلم ده یعني نومونه هم ټول معارف دي.

(۳) **مبهمات** په مبهماتو کې دوه قسمه دي یو اسمایې اشارات دي او بل اسمایې موصولات دي دیته مبهمات ځکه وایي چې اشاره بغیر دمشار الیه نه مبهمه وي متکلم ته او دغه شان اسم مرصول هم مبهم وي بغیر دصلې نه ځکه ورته مبهمات وایي.

(۴) **معرفه باللام** هغه اسم چې الف لام پري داخل شي برابره خبره ده که الف لام عهدي وي لکه دخل السوق په السوق کې الف لام عهد ذهني ده .فعصیٰ فرعون الرسول د الف لام عهد خارجي دي .خواه که لام جنسي وي لکه الرجل خیر من المرأة خواه که لام استغراقي وي لکه ان الانسان لفي خسرٍ ای جمیع الانسان (په تحقیق سره ټول مسلمان په خساره کې دي)

(۵) پنځم قسم **معرفه** هغه اسم چې مذکوره څلورو اقسامو کې یو ته مضاف شي په اضافت معنویه سره لکه غلاما یا غلام الذی عندي په اضافت معنویه سره احترازراغی داضافت لفظي نه ځکه چې دا مفید دتعریف دپاره نه وي.

(۶) **معرفه بالنداء** په کوم اسم چې حرف نداء داخله شي اګر که نکره وي پس دا به معرفه ګرزي.

وَالْعَلَمُ مَا وُضِعَ لِشَيْءٍ مُعَيَّنٍ لَا يَتَنَاوَلُ غَيْرَهُ بِوَضْعٍ وَاحِدٍ:

ترجمه او علم هر هغه اسم ده چه معین شی لپاره وضع شوی وی، چه دا اسم به نه شاملیږی غیر ته په وضع واحدی سره

تشریح ددي عبارت نه دا معلومیږي چې مصنفؒ دمذکوره اجمال تفصیل ترک کړي ده البته دا علام تفصیل ذکر کوي ځکه چې اعلام مخکښې په کتاب کې نه دي ذکر شوي او دبقیو تفصیل مخکې تیر شوي ده مثلاً د مضمراتو اشاراتو موصولاتو تفصیل په بحث دمبنی کې ذکر شوي ده او معرف باللام په علاماتو داسم کې په صفحه ۳۳ باندي ذکر شوي دي او معرفه بالنداء په بحث دمنادی کې په صفحه ۸۷ باندي مذکور دي او دغه شان بحث دمضاف الی احدهما الاربعة اقسام مذکوره په بحث دعلاماتو داسم کې په صفحه ۲۳ مذکور دي .فقط یو قسم چې اعلام دي ددي تعریف مصنف دلته کوي چې علم هغه اسم ده چې وضع شوي وي دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

دیو شخص معین بغیر د شمول نه د بل سره په وضع واحدي سره . وضع لشئ واحد قید ځکه راوړلي شي چي علم مشترك په کي داخل شي لکه مثلاً د یو شخص د پاره ظاهر شاه اسم وضع شي نو ممکنه ده چي دا اسم متناول او شامل شي غیر ته نو مصنف ځکه قید د وضع واحد راوړي چي یو اسم اگر که مشترك وي لیکن د هر یو د پاره وضع واحده ده لکه مثلاً ظاهر شاه ځما ورور ده نو دا وضع واحده ځما پلار کړ زولي ده د پاره د یو شخص معین چي آخي دي او بل ظاهر شاه ځما په کلي کي یو دوست ده نو د هغه د پاره خان مستقله وضع واحده ده چي پلار ورله دا اسم وضع کړیدي.

اَعْرَفُ الْمَعَارِفِ الْمُضْمَرُ الْمُتَكَلِّمُ نَحْوُ اَنَا وَنَحْنُ ثُمَّ الْمُخَاطَبُ نَحْوُ اَنْتَ ثُمَّ الْغَائِبُ نَحْوُ هُوَ ثُمَّ الْعَلَمُ ثُمَّ الْمُبْهَمَاتُ ثُمَّ الْمُعَرَّفُ بِاللَّامِ ثُمَّ الْمُعَرَّفُ بِالنِّدَاءِ وَالْمُضَافُ فِيْ قُوَّةِ الْمُضَافِ اِلَيْهِ وَالنَّكِرَةُ مَا وُضِعَ لِشَيْءٍ غَيْرِ مُعَيَّنٍ كَرَجُلٍ وَفَرَسٍ:

ترجمه: او اعرف المعارف ضمیر متکلم ده لکه اَنَا، نَحْنُ یا ضمیر مخاطب لکه اَنْتَ یا ضمیر غائب لکه هُوَ یا علم یا مبهمات یا معرف باللام یا نداء. او مضاف په قوت د مضاف الیه کښي وي. او نکره هر هغه اسم ده چه وضع کړي شوي وي لپاره د غیر معین لکه رجل، فرس.

تشریح: اعرف او مشهور په معارفو کي هغه دي چي کوم ترتیب مصنفؒ په اجمال کي ذکر کړی دي اول مضمرات و دروم متکلم بیا مخاطب بیا غائب بیا اعلام وغیره پدي کي اختلاف دي سره د ترك نه.

اسماء العدد

فَصْلٌ: اَسْمَاءُ الْعَدَدِ مَا وُضِعَ لِيَدُلَّ عَلٰى كَمِّيَّةِ اٰحَادِ الْاَشْيَاءِ:

ترجمه: اسم عدد دا هر هغه عدد ده چه وضع کړي شوي وي د لپاره چه د افرادو ، اشیاء ، معدودات په مقدار باندي دلالت وکړي

تشریح: دا دویم فصل ده پدي کي د اسماء العدد بیان ده . عدد په لغت شمیره ته وایي او په اصطلاح کي مصنفؒ ذکر کړی ده . کمیّت په معنی د مقدار او اندازي سره ده . احد الاشیاء په معنی د افراد الاشیاء سره ده پس تعریف به داسي شي چي دا هغه اسماء دي چي وضع شوي دي د پاره د دي چي دلالت کوي په مقدار یا په اندازي د اشیاؤ د افرادو پس دي اندازي د شمیر ته اسم عدد وایي او چي کوم شي پدي سره شمیر کړي شي هغه ته اسم معدود وایي.

وَاُصُوْلُ الْعَدَدِ اثْنَتَا عَشَرَةَ كَلِمَةً وَاحِدَةٌ اِلٰى عَشَرَةٍ وَمِائَةٌ وَاَلْفٌ:

ترجمه: او بنیادي عدد ټول دولس دي واحد نه تر عشر پوري او مأة او الف.

تشريح دعدد بنيادي كلمې دولس دي دواحد نه ترعشر پورې لس كلمې دادي اويوه كلمه مأته ۱۰۰ ده او بله كلمه الف ۱۰۰۰ ده په معنى سل اوزر. دا دولس كلمات دي ديته اصول العدد ځكه وايې چې دتمامو اعدادو دارومدار پدې باندې مرتب دي يعنې هر عدد او هندسه د دې دولسو اصولو نه جوړيږي نو ګويا دا بنيادي اركان او كلمات اعدادو دي دپاره دتمام شمير.

وَاسْتِعْمَالُهُ مِنْ وَاحِدٍ إِلَى اثْنَيْنِ عَلَى الْقِيَاسِ اَعْنِيْ لِلْمُذَكَّرِ بِدُوْنِ التَّاءِ وَلِلْمُؤَنَّثِ بِالتَّاءِ تَقُوْلُ فِيْ رَجُلٍ وَاحِدٌ وَفِيْ رَجُلَيْنِ اِثْنَانِ وَفِيْ اِمْرَأَةٍ وَاحِدَةٌ وَفِيْ اِمْرَأَتَيْنِ اِثْنَتَانِ وَثِنْتَانِ وَمِنْ ثَلٰثَةٍ إِلَى عَشَرَةٍ عَلَى خِلَافِ الْقِيَاسِ اَعْنِيْ لِلْمُذَكَّرِ بِالتَّاءِ تَقُوْلُ ثَلٰثَةُ رِجَالٍ إِلَى عَشَرَةِ رِجَالٍ وَلِلْمُؤَنَّثِ بِدُوْنِهَا تَقُوْلُ ثَلٰثُ نِسْوَةٍ إِلَى عَشْرِ نِسْوَةٍ وَبَعْدَ الْعَشَرَةِ تَقُوْلُ اَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا وَاثْنَا عَشَرَ رَجُلًا وَثَلٰثَةَ عَشَرَ رَجُلًا إِلَى تِسْعَةَ عَشَرَ رَجُلًا وَاِحْدٰى عَشْرَةَ اِمْرَأَةً وَاثْنَتَا عَشْرَةَ اِمْرَأَةً وَثَلٰثَ عَشْرَةَ اِمْرَأَةً إِلَى تِسْعَ عَشْرَةَ اِمْرَأَةً وَبَعْدَ ذٰلِكَ تَقُوْلُ عِشْرُوْنَ رَجُلًا وَعِشْرُوْنَ اِمْرَأَةً بِلَا فَرْقٍ بَيْنَ الْمُذَكَّرِ وَالْمُؤَنَّثِ إِلَى تِسْعِيْنَ رَجُلًا وَاِمْرَأَةً وَاحِدٌ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا وَاِحْدٰى وَعِشْرُوْنَ اِمْرَأَةً وَاثْنَانِ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا وَاثْنَتَانِ وَعِشْرُوْنَ اِمْرَأَةً وَثَلٰثَةٌ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا وَثَلٰثٌ وَعِشْرُوْنَ اِمْرَأَةً إِلَى تِسْعَةٍ وَتِسْعِيْنَ رَجُلًا وَتِسْعٍ وَتِسْعِيْنَ اِمْرَأَةً ثُمَّ تَقُوْلُ مِأَةُ رَجُلٍ وَمِأَةُ اِمْرَأَةٍ وَاَلْفُ رَجُلٍ وَاَلْفُ اِمْرَأَةٍ وَمِائَتَا رَجُلٍ وَمِائَتَا اِمْرَأَةٍ وَاَلْفَا رَجُلٍ وَاَلْفَا اِمْرَأَةٍ بِلَا فَرْقٍ بَيْنَ الْمُذَكَّرِ وَالْمُؤَنَّثِ وَفَاِذَا زَادَ عَلَى الْمِأَةِ وَالْاَلْفِ يُسْتَعْمَلُ عَلَى قِيَاسِ مَا عَرَفْتَ وَيُقَدَّمُ الْاَلْفُ عَلَى الْمِائَةِ وَالْمِائَةُ عَلَى الْاَحَادِ وَالْاَحَادُ عَلَى الْعَشَرَاتِ تَقُوْلُ عِنْدِيْ اَلْفٌ وَمِأَةٌ وَاحِدٌ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا وَاَلْفَانِ وَمِائَتَانِ وَاثْنَانِ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا وَاَرْبَعَةُ اٰلَافٍ وَتِسْعُ مِائَةٍ وَخَمْسٌ وَاَرْبَعُوْنَ اِمْرَأَةً وَعَلَيْكَ بِالْقِيَاسِ:

ترجمه: او د دې استعمال د واحد نه تر اثنين پورې د قياس مطابق دے يعنې مذكر بغير التاء او مؤنث بالتاء سره راوستل لكه يو سړى لپاره واحد او دوو سړو لپاره اثنان او يوې ښځې لپاره واحدةٌ او دوو ښځو لپاره اثنتان و ثنتان او دريو نه تر لس پورې خلاف القياس به راځي يعنې مذكر بالتاء سره راوستل لكه ثَلٰثَةُ رِجَالٍ نه تر عَشَرَةُ رِجَالٍ پورې او مؤنث بغير التاء راوستل لكه ثَلٰثُ نِسْوَةٍ إِلَى عَشْرِ نِسْوَةٍ پورې او پس د عشرة نه به بيا اَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا وَاثْنَا عَشَرَ رَجُلًا وَثَلٰثَةَ عَشَرَ رَجُلًا نه تر تسعة عشر رجلا پورې او مؤنث لپاره اِحْدٰى عَشْرَةَ اِمْرَأَةً وَاثْنَتَا عَشْرَةَ اِمْرَأَةً وَثَلٰث

عَشَرَةَ امْرَأَةً اِلٰی تِسْعَ عَشَرَةَ اِمْرَأَةً پورې او پس له دینه به ته عِشْرُوْنَ رَجُلًا وَعِشْرُوْنَ اِمْرَأَةً نه تر تسعون رجلا او تسعون امرأة پورې د مذکر او مؤنث په درمیان کښې فرق نه بغیر وئیل، او همدغه رنګې اَحَدٌ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا وَاِحْدٰی وَعِشْرُوْنَ اِمْرَأَةً وَاِثْنَانِ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا وَاِثْنَتَانِ وَعِشْرُوْنَ اِمْرَأَةً وَثَلٰثَةٌ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا وَثَلٰثٌ وَعِشْرُوْنَ اِمْرَأَةً اِلٰی تِسْعَةٍ وَتِسْعِیْنَ رَجُلًا وَتِسْعٌ وَتِسْعِیْنَ اِمْرَأَةً پورې . دې نه پس به ته مِأَةُ رَجُلٍ او اَلْفُ رَجُلٍ وَاَلْفُ اِمْرَأَةٍ وَمِائَتَا رَجُلٍ وَمِائَتَا اِمْرَأَةٍ وَاَلْفَا رَجُلٍ وَاَلْفَا اِمْرَأَةٍ د مذکر او مؤنث په درمیان کښې فرق نه بغیر وئیل چه کله عدد په الف او مأة باندې ورزیات شې نو د هغې طریقه هغه ده چه کومه تا مخکښې زده کړه په وخت د لیکلو کښې الف په مأة باندې مقدم کولې شې او احاد په عشرات باندې مقدم کولې شې لکه عِنْدِیْ اَلْفٌ وَمِأَةٌ وَاحِدٌ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا وَاَلْفَانِ وَمِائَتَانِ وَاِثْنَانِ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا وَاَرْبَعَةُ اٰلَافٍ وَتِسْعُ مِأَةٍ وَخَمْسٌ وَاَرْبَعُوْنَ اِمْرَأَةً پدې باندې نور په خپله قیاس کړه

تشریح: مصنفؒ د اسماء الاعداد د استعمال دپاره قواعد ذکر کوي ځکه چې عدد به یا د مذکر دپاره ذکر شوي یا به د مؤنث دپاره ذکر شوي وي یا به د واحد دپاره یا به د تثنیې دپاره ذکر وي پس پدې کې دوه قاعدې دي یوې ته قیاس وایې یعني بغیر د قاعدې نه چې کوم اعداد مستعملیږي دپاره د ذکورو او اُناثو یعني د معدود سره به موافق ذکر کیږي که معدود مذکروي نو عدد به هم مذکر بدون التاء ذکر کیږي او که معدود مؤنث وي نو عدد به مع التا ذکر کیږي او دا قیاس به فقط په واحد او اثنان کې جاري کیږي او دا به د هرې عشرې اولنې دواړه جزئین وي لکه مثلاً د مذکر مثال رجل واحد (بدون التاء) رجلین اثنان . د مؤنث مثال لکه واحدة امرة اثنان وثنتان امرأتین (مع التاء) ـ د ثلاثه نه تر عشره پورې به خلاف القیاس ذکر کیږي دا دویمه قاعده ده یعني دا به د قاعدې موافق ذکر کیږي او قاعده دا ده چې د ذکورو دپاره به مع التاء ذکر کیږي او د اُناثو دپاره به بدون التاء ذکر کیږي او دا قاعده به په هره عشره کې جاری کیږي د شمیر د انتها پورې لکه ثلاثة رجال الی عشرة رجال للمؤنث ثلث نسوة الی عشر نسوة (د عشر نسوة نه بعد به به اولی دوه کلمې موافق د قیاس سره وي لکه احد عشر رجلاً اثنا عشر رجلاً احدي عشرة نسوة او اثنتا عشرة نسوة او د ثلثة عشر نه تر تسعة عشر پورې خلاف القیاس دي یعني اول جزء به خلاف القیاس وي او عشر به موافق د قیاس سره ذکر کیږي لکه ثلثة عشر رجلاً ثلث عشرة نسوة ۱۲) د عقود ثمانیه دپاره دا قاعده ده چې دا به د مذکر او مؤنث دواړو دپاره یو شان ذکر کیږي لکه عشرون رجال ونساء عقود ثمانیه دیته وایې عشرون . ثلاثون . اربعون . خمسون . ستون . سبعون . ثمانون . تسعون . دا ته دې لفظ

دالف اومأة به هم برابره مستعمليږي البته دتثنيي دپاره به مأتا اوالفاراځي .د مأة نه بعد به هم دغه شان ذکرکيږي لکه څنګه چې ظاهرکړل مونږه **خلاصه** ددې قواعدو خلاصه داده چې دشميرپه هره عشره کې به اولى دواړه کلمې په تميسى دقياس موافق وي اوددريونه ترلسوپورې به خلاف القياس وي په هره عشره کې اوعقود ثمانيه به يوشان ذکرکيږي اودغه شان لفظ دالف اومأة به هم يوشان وي البته فقط دتثنيي دپاره به الفا مأتا تاويلى کيږي. البته کله چېرې هندسي ژباتې شي نوددې داقاعده ده چې الف به راوړې شي بيابه مأة راوړې شي اوبيا به يکن راوړې شي اوبيابه دهن راوړې شي لکه يوسړى اووايي چې خماسره يوزريوسل اوپنځه شپيته روپۍ دي پس عندي الف ومأة وخمس وستون درهما اودنانير .دابه من جانب اليمين ذکرکيږي په الفاظوکې اوپه هندسوکې به داسې وي لکه څنګه چې دانګلش شميرده ۱۱۶۵ ۱۱۶۵ په انګلسى کښى One thousint one handred sixty five.

فان قيل مصنفؒ داقول کړې ده چې دثلاثه نه ترعشره پورې به خلاف القياس ذکرکيږي حالانکه په قرآن مجيدکې عشربدون التاء مستعمل ده دپاره دمذکرلکه آيت کريمه من جاءبالحسنة فله عشرامثالها.

امثال جمع دمثل ده اودامذکردهٔ نوبکاره ده چې عشره مع التاء ذکرشوي وي

قلنا ددې امثال نه تعبيرپه لفظ دجماعة سره شوي ده نوګويادا تانيث معنوي ده بل جواب داده چې دعشرنه تامضاف اليه سلب کړيده.

فان قيل څه وجه ده چې عددبين العشائربه خلاف القياس ذکرکيږي بکاره ده چې دذکوروډپاره بدون التاء ذکرکيدي اودانثودپاره مع التاء ذکرکيدي يعني خلاف ولې نه ذکرکيږي ؟

قلنا مذکراصل ده په نسبت سره مؤنث ته او اصل مقدم وي پس نحاتوچې کله استعمال دعددوضع کولونومخکې پې اصل ته ترجيح ورکړه چې مذکرده پس تابې لاتقه دمذکردپاره اوګرزوله پدېشان سره چې دثلاثه نه الى عشره پورې دااعداد جمعي دي نودوي دهربين العشرنه تعبيرپه لفظ دجماعة سره اوکړواوجماعة مفردمؤنث ده نوځکه دذکوروډپاره مونثات ذکرکيږي اوديته نحاة خلاف القياس ځکه وايي چې داپه اعتبارد اصل وضعي سره دغه شان وضع شوي دي اوپه دې کې هيڅ قسمه قياس نه کيږي بلکه دقاعدې موافق دي .اوخلاف ځکه نه شي ذکرکيدي چې ترجيح دفرعي راځي په اصل اومقدم باندې يعني مذکراصل ده.

وَاعْلَمْ اَنَّ الْوَاحِدَ وَالْاِثْنَيْنِ لَا مُمَيِّزَ لَهُمَا لِاَنَّ لَفْظَ الْمُمَيِّزِ يُغْنِي عَنْ ذِكْرِ الْعَدَدِ فِيْهِمَا

Maktaba Tul Ishaat.com

تَقُوْلُ عِنْدِیْ رَجُلٌ وَرَجُلَانِ وَاَمَّا سَائِرُ الْاَعْدَادِ فَلَا بُدَّ لَهَا مِنْ مُمَيِّزٍ اَلثَّلٰثَةِ اِلَى الْعَشَرَةِ مَخْفُوْضٌ مَجْمُوْعٌ تَقُوْلُ ثَلٰثَةُ رِجَالٍ وَثَلٰثُ نِسْوَةٍ اِلَّا اِذَا كَانَ الْمُمَيِّزُ لَفْظَ الْمِائَةِ فَحِيْنَئِذٍ يَكُوْنُ مَخْفُوْضًا مُفْرَدًا تَقُوْلُ ثَلٰثُ مِائَةٍ وَتِسْعُ مِائَةٍ وَالْقِيَاسُ ثَلٰثُ مِئَاتٍ اَوْ مِئِيْنَ وَمُمَيِّزُ اَحَدَ عَشَرَ اِلٰى تِسْعَةٍ وَتِسْعِيْنَ مَنْصُوْبٌ مُفْرَدٌ تَقُوْلُ اَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا وَاِحْدٰى عَشَرَةَ اِمْرَاَةً وَتِسْعَةٌ وَتِسْعُوْنَ رَجُلًا وَتِسْعٌ وَتِسْعُوْنَ اِمْرَاَةً.

ترجمه: پوئی شه چه واحد او اثنین لپاره ممیز نشته ځکه چه هغه لفظ چه ددوی دپاره تمیز واقع کیږی استغناء راولی له ذکر د عدد نه لکه عِنْدِیْ رَجُلٌ وَعِنْدِیْ رَجُلَانِ بهرحال باقی اعدادو لپاره د ممیز ذکر کول ضروری ندی. پس ثلثة نه عشرة پورې د دې تمیز به مجرور وی لکه ثَلٰثَةُ رِجَالٍ وَثَلٰثُ نِسْوَةٍ چکله ممیز لفظ مِائَةٌ وی نو پدې وخت کښې به تمیز مفرد مجرور وی لکه ثَلٰثُ مِائَةٍ وَتِسْعُ مِائَةٍ حالانکه قیاس ثَلٰثُ مِئَاتٍ اَوْ مِئِیْنَ وو. او احد عشر نه تسعة و تسعین پورې به تمیز مفرد منصوب وی لکه اَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا وَاِحْدٰى عَشَرَةَ اِمْرَاَةً وَتِسْعَةٌ وَتِسْعُوْنَ رَجُلًا وَتِسْعٌ وَتِسْعُوْنَ اِمْرَاَةً

تشریح: پدې عبارت کې مصنفؒ دتمیزیا معدود د اعرابو بحث کوي پس زده کړه دا خبره چې دواحد اثنان او واحدة اثنتان دپاره به تمیز نه شي ذکر کیدي ځکه چې عدد دکم شي فائده ذکرکوي نو داواحد او اثنان پخپله په تمیزباندي تصریح کوي یعني تمیز پخپله مقدار بیانوي پس داسي وئیل غلط دي چې عندي واحد رجل بلکه داسي به ویلی شي چې عندي رجل وعندي رجلان او دا عربو قول ده چې رجل واحد او رجلان اثنان په تاکید باندي محمول ده او دبقیه تماموا عدادو دپاره به تمیز ذکر کیږي ځکه چې تمیز دعدد نه منفي نه دي بلکه دتمیز مقصد دا دي چې اجمال نه بعد تفصیل راشي پس دا تفصیل فقط په واحد او اثنان کې حاصل ده بغیر دتمیز نه او په بقیه اعدادو کې لابدي ده د ذکرکولو دتمیز نه پس زده کړه دا خبره چې د ثلاثه نه تر عشر پورې به دعدد دپاره تمیز جمع ذکر کیږي او وي به مکسوره لکه ثلثۃ رجال برابره خبره ده که جمعیت دتمیز لفظاً وي لکه مثال مذکوریا معناً وي لکه ثلاثة رهطٍ. ددي تمیز دجمعیت دپاره وجه دا ده چې د ثلاثه نه تر عشر پورې جمع قلت ده پس مناسبه ده چې جمع راوړي شي دپاره ددي چې دعدد او معدود په مابین کې فرق را نه شي او سره ددي نه چې دلالت او کې په جمعیت باندي او کسره ورته ځکه ورکړي شوي ده چې دا تمیز په کثرت استعمال کې دعدد دپاره مضاف الیه وي او کل مضاف الیه مجرورٌ. که چیرې د ثلاثه نه تر عشر پورې تمیز لفظ دمائة راشي نو دا به مجرور مفرد وي مکرسره د لحاظ ساتلو دجمعی نه لکه ثلثُ مائةٍ الی تسعُ مائةٍ جمع مؤنث سالمه

لکه ثلاثُ مأتَ برائي جمع مذکر سالمه لکه ثلثُ مئتینَ. ددي دپاره وجه داده چې مائة مفرد ده پس ددي جر دوجې مضاف الیه نه دي اولفظ دمأت اومئتین غیر اضافت دي ځکه چې دجمع مذکر سالمي اودجمعي مؤنث سالمي دپاره عددنه مضاف کیږي. ځکه مجرورنه ده. زده کړه ورسته ددي نه چې داحد عشرنه ترتسعة وتسعون پوري (دیولسونه تربوکم سلوپوري) ددي تمیزبه منصوب مفردوي لکه احد عشررجلاً واحدي عشرة امراة الى تسعة وتسعون رجلاً وتسع وتسعون امراةً دنصب وجه ددي دپاره داده چې دلته داضافت لاره بنده ده اوکه چیری اضافت اوکړی شي نوبیابه دري کلمي په یوه کلمه کې جمع شي اوداقبیح ده. دافرادوجه یې داده چې دلته عددپه کثرت دلالت کوي اودتمیز کثرت ته حاجت نشته پس ځکه به داتمیز منصوب مفردوي.

وَمُمَیِّزُ مِائَةٍ وَاَلْفٍ وَتَثْنِیَتِهِمَا وَجَمْعِ الْاَلْفِ مَخْفُوْضٌ مُفْرَدٌ تَقُوْلُ مِأَةُ رَجُلٍ وَمِأَةُ اِمْرَأَةٍ وَاَلْفُ رَجُلٍ وَاَلْفُ اِمْرَأَةٍ وَمِأَتَا رَجُلٍ وَمِأَتَا اِمْرَأَةٍ وَاَلْفَا رَجُلٍ وَاَلْفَا اِمْرَأَةٍ وَثَلٰثَةُ اٰلَافِ رَجُلٍ وَثَلٰثُ اٰلَافِ اِمْرَأَةٍ وَقِسْ عَلٰی هٰذَا:

ترجمه دمأة او الف او دوي دواړو تثنیه او الفٌ د جمع تمیز به مجرور وی لکه مِأةُ رَجُلٍ ومِأةُ امْرأةٍ وَاَلفُ رَجُلٍ وَاَلفُ اِمْرَأَةٍ وَمِأتَا رَجُلٍ ومِأتَا امْرَأةٍ وَاَلْفَا رَجُلٍ وَاَلْفَا اِمْرَأةٍ وَثَلٰثَةُ اٰلَافِ رَجُلٍ وَثَلٰثُ اٰلَافِ اِمْرَأةٍ پدي باندي نور عددونه ورقیاس کړه

تشریح ددي خلاصه داده چې ممیز دمائةٌ به مجرور مفردوي اوتمیز دالف به هم مجرور مفردوي لکه مائةُ رجلٍ اوالف رجلٍ. اوتثنیه دمائتاً به هم دغه شان وي لکه مائتارجلٍ اوتثنیه دالف به هم دغه شان وي لکه الفارجلٍ وامراةٍ البته دمائة دجمعي دپاره تمیزسره دمائة نه متروك ده پس ثلث مائة رجلٍ غلط ده اودالف جمع الاف ده داهم قیاس په مذکورو لکه ثلاثة الاف رجلٍ.

مذكر او مؤنث

فَصْلٌ: اَلْاِسْمُ اِمَّا مُذَكَّرٌ وَاِمَّا مُؤَنَّثٌ فَالْمُؤَنَّثُ مَا فِيْهِ عَلَامَتُ التَّانِيْثِ لَفْظًا اَوْ تَقْدِيْرًا وَالْمُذَكَّرُ مَا بِخِلَافِهِ وَعَلَامَةُ التَّانِيْثِ ثَلَاثَةُ التَّاءُ كَطَلْحَةَ وَالْاَلِفُ الْمَقْصُوْرَةُ كَحُبْلٰى وَالْاَلِفُ الْمَمْدُوْدَةُ كَحَمْرَاءَ وَالْمُقَدَّرَةُ اِنَّمَا هُوَ التَّاءُ فَقَطْ كَاَرْضٍ وَدَارٍ بِدَلِيْلِ اُرَيْضَةٍ وَدُوَيْرَةٍ:

ترجمه: اسم به يا مذكر وى يا به مؤنث وى، مؤنث هغه ده چه په كښ علامه د تانيث وى لفظاً يا تقديراً او مذكر هغه ده چه كوم د دي خلاف وى. بيا علامات د تانيث دري دى اول تاء لكه طَلْحَةَ او الف مقصوره لكه حُبْلٰى او الف ممدوده لكه حَمْرَاءُ او تاء مقدره فقط لكه اَرْضٌ او دَارٌ په دليل د اُرَيْضَةٌ او دُوَيْرَةٌ سره

تشريح: په تيرشوي فصل كښې بحث داعداودذكرشو سره دذكورودأناثونوپكارده چې دلته بحث دمذكراومؤنث مرتب كړې شي

فان قيل: مذكرمقدم ده په مونث باندي خلقةً رتبةً پس مصنفؒ په اجمال كښې مذكرمقدم كړو ليكن په تعريف كښې مؤنث مقدم ده په مذكرباندي ددي دپاره څه وجه ده.

قلنا: تقديم دمؤنث په مذكرباندي صحيح ده ځكه دمؤنث تعريف وجودي ده اودمذكرتعريف عدمى ده اووجودمقدم دي په عدم باندي.

مؤنث هغه اسم ده چې په هغې كښې علامت دتانيث وي لفظاً ياتقديراًلكه طلحة پدې كښې علامت دتانيث لفظى ده چې تاء تانيثى ده اوياتقديراً لكه ارضٌ داپه اصل كښې ارضة وواودليل پري دادي چې دارضٌ تصغيراُريضة ده اوتصغيرخپل اسم اصل ته معادكوي پس دارض نه تاء حذف شوي ده دپاره داختصارنوګوياداعلامه دتانيث تقديري ده ددي نه وروسته زده كړه داخبره چې علامه لفظى عام ده برابره خبره ده كه حقيقتاً وي اوكه حكماً وي لكه امراة ناقة طلحة وغيره داحقيقتاً علامه تانيثى ده اوحكماً مثال لكه عقرب پدې كښې څلورم حرف علامه دتانيث حكمى ده ځكه چې ددې تصغيرعقيرب راځي يالكه لفظ دحائض داصفت دمؤنث سره خاص ده. والمذكرالخ مذكرهغه اسم ده چې وي په خلاف دتانيث نه يعني مشتمل به نه وي په علاماتو دتانيث باندي

علامات دتانيث او اقسام د تانيث

علامات دتانيث: علامت تانيث دري دي.

(۱) هغه تاچي په وخت دوقف كي بدليږي په ها باندي لكه طلحة اى طلحه (دادسړي نوم دی).

(۲) دويم علامت دتانيث الف مقصوره دي بغيرد شروطو ثلاثونه اول شرط داده چي واقع وي بعد دحروفو ثلاثونه دويم شرط داده چي دالحاق دپاره نه وي لكه ارطى دادجعفرسره ملحق ده پس ديته الف مقصوره الحاقيه وايي .دريم شرط داده چي الف دمحض زيادت دپاره نه وي قبعثرى داالف دمحض زيادت دپاره راغلى ده پس دا قسم الفين تري خارج شول اوحبلى اوليلى وغيره الف مقصوره دي

(۳) دريم علامت دتانيث الف ممدوده ده داهغه الف ده چي وي په آخرد كلمى كي اوبعدتري همزه راغلى وي لكه حمراء (سره ښخه) حضراء (شنه ښخه) سوداء (توره ښخه) وغيره

ثُمَّ الْمُؤَنَّثُ عَلٰى قِسْمَيْنِ حَقِيْقِيٌّ وَهُوَمَابِإِزَائِهٖ مُذَكَّرٌمِنَ الْحَيْوَانِ كَامْرَأَةٍ وَنَاقَةٍ وَلَفْظِيٌّ وَهُوَمَا بِخِلَافِهٖ كَظُلْمَةٍ وَعَيْنٍ وَقَدْعَرَفْتَ اَحْكَامَ الْفِعْلِ اِذَا اُسْنِدَاِلَى الْمُؤَنَّثِ فَلَانُعِيْدُهَا:

ترجمه: بيا مؤنث په دوه قسمه ده اول حقيقى ده هغه ده چه دي مقابله كښ مذكر حيوان وى لكه اِمْرَأَةٍ و نَاقَةٍ او لفظى هغه ده چه د خلاف وى لكه ظُلْمَةٍ و عين او تاسو پيژندلى احكام د فعل چكله مؤنث طرف ته مسند وى موتږ د هغى اعاده نه كوو

تشريح: مؤنث په دوه قسمه ده حقيقي اولفظي .حقيقي ديته وايي چي دهغى په مقابله كي دجنس حيوان نه مذكرموجودوي لكه دامراة په مقابله كي رجل ده اودليلى په مقابله مجنون ده لفظى ديته وايي چي دهغى په مقابله كي مذكرنه وي دجنس دحيواناتو نه لكه ظلمة .عين عينيةددى دپاره تصغيردي تا، په كي مقدره ده من الحيوان قيداحترازي ده پدي سره داقسم مؤنثات خارج شول لكه څوك په داتوهم كوي چي دظلمة په مقابله كي نورمذكرموجودي پس داغيرحيوان دي.

د مثنىٰ تعريف او تشريح

فَصْلٌ: اَلْمُثَنّٰى اِسْمٌ اُلْحِقَ بِاٰخِرِهٖ اَلْفٌ اَوْيَاءٌ مَفْتُوْحٌ مَاقَبْلَهَا وَنُوْنٌ مَكْسُوْرَةٌ لِيَدُلَّ عَلٰى اَنَّ مَعَهٗ اٰخَرَ مِثْلَهٗ نَحْوُرَجُلَانِ وَرَجُلَيْنِ هٰذَافِى الصَّحِيْحِ:

ترجمه: مثنى هر هغه اسم ده چه په آخر كښ الف يا ياء ما قبل مفتوح او نون

مکسوره پیوست وی د لپاره چه پدي خبري دلالت وکړي چه د سره ده دي په مثل بل هم شته لکه رَجُلَانِ او رَجُلَینِ. دا الحاق په صحیح کښ ده.

تشریح: پدي فصل کې بحث دتثنیي ده. مثنٰی په لغت کې راغونډولوته وایې لکه آیت قرآنی اَلَآاِنَّهُمْ یَثْنُوْنَ صُدُوْرَهُمْ یثنون په معنی دغونډولو سره ده یعني راغونډي کړې سینی خپلی. تثنیه مقدمه ده په جمع باندي ځکه چې جمع دتثنیي نه وروسته جوړیږي. تعریف دمثنٰی داده. مثنٰی یو اسم ده داسي اسم چې محلق شوي وي په آخر دمفرد پوري الف اویاء ماقبل مفتوح وي په آخرکې نون مکسور وی ددي دپاره چې دلالت اوکې پدي خبره چې ددي مفرد سره یو مفرد بل هم شته پس دیته مثنٰی وایې لکه رجلٌ مفرد ده او رجلانِ تثنیه ده. مضاف بِاٰخِرِه مقدر ده ای بِاٰخِرِه مفرده پس په بِاٰخِرِه کې ه ضمیر مفرد ته راجع ده. او په معه کې هم ه ضمیر مفرد ته راجع ده. دا قاعده فقط دصحیح کلماتو دپاره ده او صحیح کلمات په اصطلاح دنحو کې هغه دي چې نوي حرف علت په آخر دهغی کې.

اَمَّا الْمَقْصُوْرَةُ فَاِنْ كَانَتْ اَلِفُهٗ مُنْقَلِبَةً عَنْ وَاوٍ وَكَانَ ثُلَاثِيًّا رُدَّاِلٰى اَصْلِهٖ كَعَصَوَانِ فِىْ عَصًى وَاِنْ كَانَتْ عَنْ يَاءٍ اَوْوَاوٍ وَهُوَاَكْثَرُمِنَ الثُّلَاثِىْ اَوْلَيْسَتْ مُنْقَلِبَةً عَنْ شَىْءٍ تُقْلَبُ يَاءً كَرَحَيَانِ فِىْ رَحًى وَمُلْهَيَانِ فِىْ مُلْهًى وَحُبَارَيَانِ فِىْ حُبَارٰى وَحُبْلَيَانِ فِىْ حُبْلٰى:

ترجمه: بهر حال اسم مقصور کښ کچرته الف په واو سره بدل شوي وی او ثلاثی وی نو فعل اصل ته به واپس کیږی لکه عصا په اصل کښ عصوان وو، کچرته الف په واو یا یاء سره بدل شوي وی او ثلاثی نه زائد وی یا څه شی سره بدل شوي نه وی نو په یاء سره بدلیږی لکه رَحٰی په اصل کښ رَحَیان وو او مُلهٰی په اصل کښ مُلهَیان او حُبارٰی په اصل کښ حُبارَیانِ وو او حُبلٰی په اصل کښ حُبلَیان وو

تشریح: دالف مقصوره دتثنیت دپاره دا قاعده ده که چیری کلمه ثلاثي وي نو بیا به اوګوري که چیری الف مقصوره بدل دواو نه راغلی وي نو الف به خپل اصل ته معادشي او الف او نون مکسور به په آخر ددغه کلمه کې رواړولې شي لکه عصٰی دا په اصل کې عصوٌ وو بعد د الف او نون دراوړلو نه تري عصوان جوړشو. او که چیری الف مقصوره بدل دیاء نه راغلی وي نو بیا به خپل اصل ته معادشي او دغه شان قاعده به په کې جاري شي لکه رحٰی دا په اصل کې رحیٌ وو پس دقاعدي نه رحیان تثنیه جوړه شوه. که چیری الف په کلمه غیرثلاثي کې وي نو بیا برابره خبره ده که بدل واونه وي او که بدل دیانه وي پس تثنیه به ددي کلماتو فقط په یا سره راځي لکه مُلهَیانِ دراصل ملهی ملهوٌ وو وغیره.

وَاَمَّا الْمَمْدُوْدُ فَاِنْ كَانَتْ هَمْزَتُهٗ اَصْلِيَّةً تُثْبَتُ كَقُرَّاٰنِ فِيْ قُرَّاءٍ وَاِنْ كَانَتْ لِلتَّانِيْثِ تُقْلَبُ وَاوًا كَحَمْرَاوَانِ فِيْ حَمْرَاءَ وَاِنْ كَانَتْ بَدَلًا مِنْ اَصْلٍ وَاوًا اَوْيَاءً جَازَ فِيْهِ الْوَجْهَانِ كَكِسَاوَيْنِ وَكِسَائَيْنِ:

ترجمه بهرحال الف ممدوده کښې که چیرې همزه اصلي وي نو باقي به پاتي کړلی شي لکه قُرّاٰ، کښې قرا ان که چیرې تانیث لپاره وي نو بیا به په واو سره بدلیږي لکه حمرا، کښې حمراوان، که چیرې اصل نه واو یا یا، سره بدل شوی وي نو بیا تثنیه کښې دواړه وجې جائز دي لکه کساوین کسائین

تشریح: دا هغه الف ده چې وي په آخر د کلمه کې او بعد تري همزه وي لکه حمرآء (سره ښځه) ددي د تثنیت دپاره دا قاعده ده که چیرې همزه اصلي وي نو دا همزه به باقي وي په خپل حال باندي او الف او نون مکسور به آخر ددي کې راشي لکه قُرّآء مفرد دي او تثنیه ددي قراءٰن ده. که چیرې همزه علامت د تانیث وي نو دا همزه به په واو بدلیږي ځکه چې علامت د تانیث په وسط کې نه راځي لکه حمرآء ددي تثنیه حمراوان راځي او که څوك دا **سوال** او کړي چې دا همزه د په یا بدله شي نو څه حرج به وي پس **جواب** به دا ورکړی چې بیا به په حالت نصبي او جري کې دوه یائ جمع شي او دا د عربو په نزد قبیحه ده. که چیرې همزه بدل راغلی وي د واو اصلي یا د یائ اصلي نه پس جائز ده په تثنیت ددي کې وجهان یو وجه دا ده چې همزه ثابته پاتي شي لکه کساء ای کساءان دویمه وجه دا ده چې دغه همزه په واو بدله شي لکه کساء ای کساوان دا دواړه وجې په دې کې جائز دي.

وَيَجِبُ حَذْفُ نُوْنِهٖ عِنْدَ الْاِضَافَةِ تَقُوْلُ جَاءَنِيْ غُلَامَا زَيْدٍ وَمُسْلِمَا مِصْرٍ وَكَذٰلِكَ تُحْذَفُ تَاءُ التَّانِيْثِ فِيْ تَثْنِيَةِ الْخُصْيَةِ وَالْاِلْيَةِ خَاصَّةً تَقُوْلُ خُصْيَانِ وَاِلْيَانِ لِاَنَّهُمَا مُتَلَازِمَانِ فَكَاَنَّهُمَا شَيْءٌ وَاحِدٌ:

ترجمه: او نون د تثنیه چه وخت د اضافت کښې حذف کول واجب دي لکه جَاءَنِيْ غُلَامَا زَيْدٍ مُسْلِمَا مِصْرٍ او همدغه رنګی تاء تانیث هم حذف کیږی د خصیة او الیة په تثنیه کښې خاص کړ لکه خصیان او الیان، دواړه یو بل لپاره لازم دي نو ګویا دواړه شئ واحد شول.

تشریح: واجبه ده دا خبره چې په وخت د اضافت کې به نون غورزیږي ځکه چې نون تمامي په تول له کلمه باندي دلالت کوي او اسم تام بغیر د تغیر نه نه مضاف کیږي (یعني مضاف او مضاف الیه په مابین کې شدة اتصال وي او نون انفصال راولی ځکه به حذف کیږي [۱۲]) پس

داسې به وي لکه جاء نی غلامازید وغیره.

وكذالك الخ: قاعده داده چې څنګه په وخت د اضافت کې نون حذف کیږي دغه شان به دمونث نه تاهم حذف کیږي په وخت د تثنیت کې لیکن دا قاعده هسې قیاس کړی شوې ده څکه چې دهري تثنیې مونث نه تانه حذف کیږي لکه شجرة شجرتان. بلکه بعض مواضعو کې تای تانیث حذف کیږي دوجې دشدت اتصال نه لکه خصیتہ ددې تثنیه خصیان راځي اوخصیتان هم جائز ده لیکن دواړه خصیې دیوبل سره لازمې دي پس دوجې د اتصال نه به تاحذف شي.

وَاعْلَمْ اَنَّهُ اِذَا اُرِيْدَ اِضَافَةُ مُثَنًّى اِلَى الْمُثَنّٰى يُعَبَّرُ عَنِ الْاَوَّلِ بِلَفْظِ الْجَمْعِ كَقَوْلِهٖ تَعَالٰى فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا وَ فَاقْطَعُوْا اَيْدِيَهُمَا وَذٰلِكَ لِكَرَاهَةِ اِجْتِمَاعِ تَثْنِيَتَيْنِ فِيْمَا تَاَكَّدَ الْاِتِّصَالُ بَيْنَهُمَا لَفْظًا وَمَعْنًى:

ترجمه: پوهه شه چه کله د تثنیې تثنیې طرف ته اضافت وشي نو د اول تثنیې نه به د جمع تعبیر کولې شي لکه د الله تعالی دا قول فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا وَفَاقْطَعُوْا اَيْدِيَهُمَا او دا مکروه والی د دوو تثنیو د اجتماع دوجه نه راغلی په هغه اشیاء کښ چه اتصال مؤکد ده په اعتبار د لفظ او معنی سره.

تشریح: ددې واعلم خلاصه داده چې هرکله دمثنی اضافت بلې منثی ته اوشي برابره خبره ده که مثنی مذکروي که مونث وي که مرفوع وي که منصوب وي که مجروروي پس داولی تثنی نه به تعبیر په مفرد یاپه جمعی سره کیږي څکه چې دمضاف اومضاف الیه په مابین کې شدت اتصال وي نو څکه به دوه تثنئ نه جمع کیږي لکه فقد صغتُ قلوبکماقلوب جمع ده او اضافت یې کماتثنی ته شوي دي کچري قلابان کماذکرکړي شي نو بیابه شدت اتصال واقع شي په مماثل تثنیتینو کې او داعربو په نزمکروه تحریمی ده. پس ددې نه زده کړه داخبره چې داولی تثنی نه تعبیر په لفظ دجمعی سره اولی دي څکه چې دتثنی سره دجمعی مناسبت دومره زیات دي چې کله کله تثنیه دجمعی معنی هم ورکوي لکه هم شاهدین هم ضمیر دجمعی دي اوشاهدین تثنیه ده پس معنی دجمعی ورکوي البته کچري مضاف په مثل دتثنئ وي نوبیا تعبیر په مفرد سره جائزدي بلکه داین مالکؒ په نزواجب دي.

د مجموع تعریف، اقسام، تشریح

فَصْلٌ: اَلْمَجْمُوْعُ اِسْمٌ دَلَّ عَلٰى اٰحَادٍ مَقْصُوْدَةٍ بِحُرُوْفٍ مُفْرَدَةٍ بِتَغَيُّرٍ مَا اِمَّا لَفْظِيٌّ كَرِجَالٍ فِيْ رَجُلٍ اَوْ تَقْدِيْرِيٌّ كَفُلْكٍ عَلٰى وَزْنِ اُسْدٍ فَاِنَّ مُفْرَدَهٗ اَيْضًا فُلْكٌ لٰكِنَّهٗ عَلٰى وَزْنِ قُفْلٍ فَقَوْمٌ وَرَهْطٌ وَنَحْوُهٗ وَاِنْ دَلَّ عَلٰى اٰحَادٍ لٰكِنَّهٗ لَيْسَ بِجَمْعٍ اِذْ لَا مُفْرَدَ لَهٗ:

ترجمه: پنځم فصل په بیان د مجموع کښې ده او مجموع هر هغه اسم ده چه باندي دلالت کوی په افراد مقصوده باندي چه ددي مفرد په حروفو کښې معمولي غوندي تبدیلي راغي دا تبدیلي به یا لفظاً وی لکه رَجُلٍ کښې رِجَالٌ یا به تقدیری وی لکه فُلْكٌ ، اُسْدٌ په وزن ځکه چه ددي مفرد هم فُلْكٌ ده په وزن د قُفْلٌ سره. پس قَوْمٌ او رَهْطٌ او په مثل ده اګرچه دلالت کوی په افراد مقصوده باندي لیکن هغه جمع نده ځکه چه د هغې مفرد نشته

تشریح: پدي فصل کې مصنفؒ دجمعې متعلق قواعد او تعریف مع اقسامه ذکر کوي پس زده کړه دا خبره چې مجموع او جمع یو اسم ده تعریف یې دادي چې دا یو اسم ده چې دلالت کوي په افرادو باندي داسي افرادچې مقصودوي په حروفو مفردو سره بعد د تغیر او تبدل نه په دغه حروفو مفردو کښې پس دیته جمع وایې. دغه تغیر او تبدل عام ده که حقیقتاً وي او که حکماً وي لکه رجل واحد فرد او مفردي او جمع یې رجال ده دیته تغیر حقیقي وایې. دتغیر حکمی مثال لکه فلك دامفرد هم ده او جمع هم ده پس کچري په وزن دقفل شي نو بیا به مفردوي او کچري په وزن دأسدٌ شي نو بیا به لفظ دفلك جمع وي **فقوم ورهط الخ** ددي عبارت مقصد دادي چې د جمع دپاره مفرد لازمی ده ورنه اسم جنس به وي لکه قوم او رهط او پشان ددي جمع نه شي کیدي ځکه چې ددي دپاره مفرد نشته.

اَلْجَمْعُ عَلٰى قِسْمَيْنِ مُصَحَّحٌ وَهُوَ مَا لَمْ يَتَغَيَّرْ بِنَاءُ وَاحِدِهٖ وَمُكَسَّرٌ وَهُوَ مَا يَتَغَيَّرُ فِيْهِ بِنَاءُ وَاحِدِهٖ:

ترجمه: بیا جمع په دوه قسم ده (۱) جمع صحیح (۲) جمع مکسر جمع صحیح هغې ته وئیلی شی چه د واحد په وزن کښې څه تغیر نه وی راغلی. او جمع مکسر هغې ته وئیلی شی چه د واحد وزن پکښې بدل شوی وی.

تشریح: جمع په دوه قسمه ده یوه جمع مُصَحَّحه ده او دویمه جمع مکسره ده اولی ته جمع صحیح جمع سلامته او جمع سالمه هم وایې ځکه چې بناد واحد په کې سلامت او ثابت باقي پاتي وي او مُصَحَّح اسم مفعول ده دباب تفعیل نه مصدر یې تصحیح ده په معنی سلامت پاتي کیدل لکه مسلمٌ

Maktaba Tul Ishaat.com

مفردي او جمع یې مسلمون راځي د مفرد بناء په کې سلامته ده پس جمع مکسره په خلاف ددې ده
او مکسر هم د باب تفعیل نه د اسم مفعول صیغه ده مصدر یې تکسیر دي په معنی ماتې دل چنانچه په
دې کې بناء د واحد ماته شوې وي لکه رجل رجال بناء د مفرد په الف سره ماته شوه.

وَالْمُصَحَّحُ عَلٰى قِسْمَيْنِ مُذَكَّرٌ وَهُوَ مَا أُلْحِقَ بِاٰخِرِهٖ وَاوٌ مَضْمُوْمٌ مَا قَبْلَهَا وَنُوْنٌ مَفْتُوْحَةٌ
كَمُسْلِمُوْنَ اَوْ يَاءٌ مَكْسُوْرٌ مَا قَبْلَهَا وَنُوْنٌ كَذٰلِكَ لِيَدُلَّ عَلٰى اَنَّ مَعَهٗ اَكْثَرَ مِنْهُ نَحْوُ مُسْلِمِيْنَ
وَهٰذَا فِي الصَّحِيْحِ، اَمَّا الْمَنْقُوْصُ فَتُحْذَفُ يَاؤُهٗ مِثْلُ قَاضُوْنَ وَدَاعُوْنَ وَالْمَقْصُوْرُ يُحْذَفُ اَلِفُهٗ وَيُبْقٰى
مَا قَبْلَهَا مَفْتُوْحًا لِيَدُلَّ عَلٰى اَلِفٍ مَحْذُوْفَةٍ مِثْلُ مُصْطَفَوْنَ وَيُخْتَصُّ بِاُولِي الْعِلْمِ وَاَمَّا قَوْلُهُمْ
سِنُوْنَ وَاَرَضُوْنَ وَثُبُوْنَ وَقُلُوْنَ فَشَاذٌّ وَيَجِبُ اَنْ لَا يَكُوْنَ اَفْعَلَ مُؤَنَّثُهٗ فَعْلَاءُ كَاَحْمَرَ وَحَمْرَاءَ وَلَا
فَعْلَانَ مُؤَنَّثُهٗ فَعْلٰى كَسَكْرَانَ وَسَكْرٰى وَلَا فَعِيْلًا بِمَعْنٰى مَفْعُوْلٍ كَجَرِيْحٍ بِمَعْنٰى مَجْرُوْحٍ وَلَا
فَعُوْلًا بِمَعْنٰى فَاعِلٍ كَصَبُوْرٍ بِمَعْنٰى صَابِرٍ وَيَجِبُ حَذْفُ نُوْنِهٖ بِالْاِضَافَةِ نَحْوُ مُسْلِمُوْ مِصْرَ:

ترجمه: جمع صحیح په دوه قسمه ده اول مذکر دا هغه جمع ده چه په آخر کښې واو ما قبل
مضمون او نون مفتوحه ور سره پیوست وی لکه مُسْلِمُوْنَ یا. یاء ما قبل مکسور او نون مفتوحه
ور سره پیوست وی چه پدې خبرې دلالت وکړی چه د سره زیات دی لکه مسلمین او دا په صحیح
کښې راځي، بهرحال اسم منقوص کښې یاء حذف کیږی لکه قاضون او داعون اسم مقصور کښې د
دې الف حذف کیږی او د دې ما قبل به مفتوح پاتې کولې شی د لپاره چه په الف محذوفه باندې
دلالت وکړی لکه مصطفون دا جمع د اهل علمو لپاره خاص ده، او د دوی دا قول چه اَرَضُوْنَ، ثُبُوْنَ
او قُلُوْنَ دا شاذ دی، او واجب ده د هر هغه اسم جمع راوړل چه هغه اَفْعَلُ نه وی، چه دا مؤنث
فعلاء راځی لکه اَحْمَرُ د دې مؤنث حمراء راځي، او نه به فعلان وی چه د دې مؤنث فعلی ده لکه
سُکْرَان د دې مؤنث سکری راځي، او نه به وی فعیل په معنی د مفعول سره لکه جَرِیْحٌ به معنی
مَجْرُوْحٌ، او نه به فعول وی په معنی د فاعل سره لکه صبور په معنی د صابر سره، او نون د جمع
صحیح به په وخت د اضافت کښې حذف کول واجب وي لکه مسلمو مصر

تشریح: جمع صحیح په دوه قسمه ده مذکر مؤنث جمع صحیح مذکر هغه اسم ده چې
د هغې د مفرد په آخر پورې واو ما قبل مضموم یا یاء ما قبل مکسور او نون مفتوحه ملحق شوي
وي د پاره د دلالت په دې خبره چې د دې مفرد سره تو اکثریت د مفرد اتو ده لکه مسلمون
او مسلمین - دا قاعده د صحیح کلماتو د پاره ده. کچرې د جمعې صحیح مذکر مفرد په آخر کې

یاماقبل مکسوروي نو دا قاعده ده چې په وخت د جمعه کې به یاء حذف کیږي لکه قاضُوْنَ دا جمع د قاضیٌ ده دا په اصل کې قاضِیُوْنَ وو دیا ضمه مو ماقبل ته ورکړه دوجې د ثقالت نه پس یا ساکنه شوه او واو هم ساکن ده نو یا حذف شوه او واو باقي پاتي شو دپاره د برداشت د ثقالت د ضمی ته نو قاضُوْنَ جوړ شو. که چیری په آخر د مفرد کې الف مقصور وي نو دا قاعده ده چې الف به حذف کیږي دوجې د التقاءِ ساکنینو نه لکه مُصْطَفَوْنَ دا په اصل کې مُصطَفَیُوْنَ وو پس یا په الف بدله شوه ځکه چې ماقبل یې مفتوح ده او واو هم ساکن ده پس الف (چې بدل دیا نه دي) حذف شي پس مُصْطَفَوْنَ به شي د مونث پوري خاص تفصیل نشته.

وَمُؤَنَّثٌ وَهُوَ مَا اُلْحِقَ بِاٰخِرِهٖ اَلِفٌ وَتَاءٌ نَحْوُ مُسْلِمَاتٌ وَشَرْطُهٗ اِنْ كَانَ صِفَةً وَلَهٗ مُذَكَّرٌ اَنْ يَكُوْنَ مُذَكَّرُهٗ قَدْ جُمِعَ بِالْوَاوِ وَالنُّوْنِ نَحْوُ مُسْلِمُوْنَ وَاِنْ لَمْ يَكُنْ لَهٗ مُذَكَّرٌ فَشَرْطُهٗ اَنْ لَا يَكُوْنَ مُؤَنَّثًا مُجَرَّدًا عَنِ التَّاءِ كَالْحَائِضِ وَالْحَامِلِ وَاِنْ كَانَ اِسْمًا غَيْرَ صِفَةٍ جُمِعَ بِالْاَلِفِ وَالتَّاءِ بِلَا شَرْطٍ كَهِنْدَاتٍ:

ترجمه او دویم قسم د جمع هغه جمع مؤنث ده چه د دي په آخر کښ الف او تاء پیوست کیږي لکه مُسْلِمَاتٌ او د لپاره شرط دا ده کچرته صیغه د صفت وی او مذکر لپاره هم وی نو د دي جمع مزکر به واو او نون سره راځي لکه مُسْلِمُوْنَ، کچرته مذکر نه وی نو بیا دلپاره شرط دا ده چه هغه اسم به داسي مؤنث نه وی چه د تاء نه خالی وی لکه حائض او حامل او کچرته هغه اسم داسی مؤنث وی چه صیغه د صفت نه وی نو د سره به الف او تاء بغیر د شرط نه لګولی شی لکه هِنْدَاتٌ

تشریح د جمعی صحیح دویم قسم مؤنث ده تعریف یې مذکور فی الکتاب ده پس شرط د مؤنث د پاره دا ده که چیری مفرد د مؤنث اسم جامد وي نو بیا هیڅ قسم شرط نشته د دي د پاره (یعني د دي جمع به په الف او تاء سره راځی لکه مسلمات ۱۲) او کچري مفرد د مؤنث صیغه مشتقي وي نو بیا به کتلي شي که چیری د دي مذکر جمع په واو او نون سره وي نو د دي جمع مؤنث سالمه به په الف او تاء سره راځي. که چیری د جمعی مؤنث د پاره مذکر نه وي نو شرط دا ده چې خالی نه وي د تاء تانیث نه او که تاء تانیث په کې نه وي نو بیا به د دي جمع په الف او تا سره نه راځي ځکه چې التباس لازمیږي د هغه جمعي سره چې کومه د تاء التانیث ده لکه جمع د حائض حائضات غیر جائز ده ځکه چې حائضات جمع د حائضة ده او په حائض او حائضة کې معنوي فرق ده یعني حائض بالغي جینی ته وایې او حائضة هغه جینی ته وایې چې فی الحال په حیض کې مبتلا وي پس

ځکه دهغه مفرد جمع مؤنث په الف تاسره غیرجائزده چې مع التاء وي ځکه چې التباس راځي نوشبه دتوهم به وي چې داجينكې بالغاني دي که مرضى دي.

وَالْمُكَسَّرُ صِيغُهُ فِي الثَّلَاثِيِّ كَثِيرَةٌ تُعْرَفُ بِالسَّمَاعِ كَرِجَالٍ وَأَفْرَاسٍ وَفُلُوسٍ وَفِي غَيْرِ الثُّلَاثِيِّ عَلَى وَزْنِ فَعَالِلَ وَفَعَالِيلَ قِيَاسٌ كَمَا عَرَفْتَ فِي التَّصْرِيفِ:

ترجمه: د جمع مكسر صيغې په ثلاثي كښې ډيرې دی چه هغه په سماع سره پيژندلی شي لكه رِجَالٍ، اَفْرَاسٍ، فُلُوسٍ او غَيْرِ الثُّلَاثِيّ په وزن د فَعَالِلَ او فَعَالِيلَ باندې راځی قياسًا څرنګه چه تاسو په علم صرف كښې پيژندلی دی

تشریح: جمع مكسره چې بناء دواحد په كې ماته وي پس دامستعمل ده په ثلاثي كې په كثرت سره ځکه ددې دپاره څه اوزان اوابنيه مقررنشته بلكې ددې تعلق دسماع سره ده لكه رجال جمع رجل ده اخراس جمع داخرس ده اوخلوس جمع دخلس ده ماتوپيسوته وايې چې په لغت پښتوكې ترې تعبيرپه ماتې پيسې سره كيږي. اوداقسم جمع په غيرثلاثي كې په دوه وزنونوسره مستعمله ده قياساً يووزن فعالل ده لكه مساجداودويم وزن فعاليل ده لكه مصابيح وغيره اوداتاسو پيژندلى دي په علم الصرف كې.

ثُمَّ الْجَمْعُ أَيْضًا عَلَى قِسْمَيْنِ جَمْعُ قِلَّةٍ وَهُوَ مَا يُطْلَقُ عَلَى الْعَشَرَةِ فَمَا دُونَهَا وَأَبْنِيَتُهُ أَفْعُلٌ وَأَفْعَالٌ وَأَفْعِلَةٌ وَفِعْلَةٌ وَجَمْعُ الصَّحِيحِ بِدُونِ اللَّامِ كَزَيْدُونَ وَمُسْلِمَاتٍ وَجَمْعُ كَثْرَةٍ وَهُوَ مَا يُطْلَقُ عَلَى مَا فَوْقَ الْعَشَرَةِ وَأَبْنِيَتُهُ مَا عَدَا هٰذِهِ الْأَبْنِيَةِ:

ترجمه: بيا جمع په دوه قسمه ده (۱) جمع قلت (۲) جمع كثرت، (۱) جمع قلت هغی ته وئيلی شي چه په لسو او كم د لسو باندې اطلاق كيږي او د دې اوزان دا دی اَفْعُلٌ، اَفْعَالٌ، اَفْعِلَةٌ، فِعْلَةٌ او د صحيح دواړی جمع بغير دلام نه راځی لكه زَيْدُوْنَ وَمُسْلِمَاتٌ (۲) جمع كثرت هغی ته وئيلی شي چه د لسو نه زيات باندې اطلاق كيږی او د دې اوزان مذكوره اوزان نه بغير دی.

تشریح: يعني جمع دمعانيواومصداق په اعتبارسره په دوه قسمه ده (۱) جمع قلت (۲) جمع كثرت. پس جمع قلت هغه جمع ده چې اطلاق يې تردريونه ترلسو پورې (يعني په تسعة باندې) كيږې پدې كې دمصنفينو اختلاف ده دمصنفؒ په نزد عشرهم په جمع قلت كې داخل ده اودنورومصنفينوپه نزد لفظ عشريه جمع كثرت كې داخل دې اومختاره هم داده بلكه په دې فتوی ده څما طرف نه دجمعی قلت دپاره تول اوزان شپږدي څلورمذكورفي الشعر دي اودوه

وزنه خارجي دي چې يو وزن جمع مذکر سالمه ده او دويم وزن جمع مؤنث سالمه ده او دي نه ما سوی اوزان د جمعي مکسري دي۔ اوزان د جمعی قلت

جمع قلت را چهار ست ابنیه   أفعُلْ افعالْ فِعلَةٌ أفعِلَةٌ

افعل لکه اکلب جمع د کلب ده۔ افعال لکه اقوال جمع د قول ده۔ فعلة لکه غِلمة جمع د غلام ده۔ افعلة لکه اشربته جمع د شربة ده۔

د مصدر تعريف او تشريح

فَصْلٌ: اَلْمَصْدَرُ اِسْمٌ يَدُلُّ عَلَى الْحَدَثِ فَقَطْ وَيُشْتَقُّ مِنْهُ الْاَفْعَالُ كَالضَّرْبِ وَالنَّصْرِ مَثَلًا وَاَبْنِيَتُهُ مِنَ الثُّلَاثِيِّ الْمُجَرَّدِ غَيْرُ مَضْبُوْطَةٍ تُعْرَفُ بِالسَّمَاعِ وَمِنْ غَيْرِهِ قِيَاسِيَّةٌ كَالْاِفْعَالِ وَالْاِنْفِعَالِ وَالْاِسْتِفْعَالِ وَالْفَعْلَلَةِ وَالتَّفَعْلُلِ مَثَلًا:

ترجمه: مصدر هغه اسم ده چه صرف په حدث باندي دلالت کوی او ده نه نور افعال مشتق وی لکه ضَرْب (وهل) نَصْر (مدد کول) مثلاً او د دي اوزان د ثلاثي مجرد نه اخستلی شوی دی چه هغه په سماع سره پیژندلي شی او د غیر ثلاثی مجرد نه قیاس ده لکه أفعَالِ انفعال، استفعال، فعللة، تفعلل وغيره

تشریح: د مصدر مشتقات چونکه اسم فاعل، اسم مفعول وغیره لپاره اصل ده ځکه ئی دا مقدم کړو، او مصدر هر هغه اسم ده چه صرف په معنی حدثی باندي دلالت کوی په بل شی باندي دلالت نه کوی یعنی زمانه او نسبت الی الفاعل باندي دلالت نه کوی. د مصدر اوزان ثلاثی مجرد نه منضبط ندی بلکه د اهل عربونه اوریدلو سره معلومیږی قیاسی نه دی، سیبویه رحمة الله علیه د ډیر تتبع نه پس د ۳۲ قول ئی کړی ده بعض ۳۵ او بعض ۵۰ قول کړی ده. او غیر ثلاثی مجرد یعنی ثلاثی مزید فیه رباعی مجرد رباعی مزید فیه د دي مصدر اوزان د اهل عربو په سماع باندي موقوف نه دی بلکه قیاسی دی د لپاره مخصوص اوزان مقرر دی مثلاً د کومی ماضی وزن افعل وی نو د دي مصدر به افعال راځی او د کومی ماضی وزن چه انفعل وی نو د دي مصدر به انفعال راځی او د کومی ماضی وزن چه استفعل وی نو د دي مصدر به استفعال راځی او د کومی ماضی وزن چه فعلل راځی نو د دي مصدر به فعللة راځی به او د کومی ماضی وزن چه تفعلل راځی نو د دي مصدر به تفعلل به راځی

فَالْمَصْدَرُ اِنْ لَمْ يَكُنْ مَفْعُوْلًا مُطْلَقًا يَعْمَلُ عَمَلَ فِعْلِهِ اَعْنِيْ يَرْفَعُ الْفَاعِلَ اِنْ كَانَ لَازِمًا نَحْوُ اَعْجَبَنِيْ قِيَامُ زَيْدٍ وَيَنْصِبُ مَفْعُوْلًا اَيْضًا اِنْ كَانَ مُتَعَدِّيًا نَحْوُ اَعْجَبَنِيْ ضَرْبُ زَيْدٍ عَمْرًا:

ترجمه: مصدر که چیرې مفعول مطلق نه وي دا به خپل فعل سره عمل کوي، مراد زما یعنی فاعل ته به رفع ورکوي، کچرته هغه مصدر لازمي وي لکه أَعْجَبَنِي قِيَامُ زَيدٍ، کچرته متعدي وي نو خپل مفعول ته به نصب ورکوي لکه أَعْجَبَنِي ضَرْبُ زَيْدٍ عَمْرًا

تشریح: مصدر که چیرې مفعول مطلق نه وي نو په شان د فعل په عمل کوي او که چیرې مصدر لازمي وي نو فاعل ته به رفع ورکوي لکه (أَعْجَبَنِي قِيَامُ زَيْدٍ) پدي کښې قیام مصدر لازمي ده، د بناء بر فاعل زید ته رفع ورکړه، که چیرې د فعل متعدي مصدر وي نو فاعل ته به رفع او مفعول ته به نصب ورکول کیږي لکه (أَعْجَبَنِي ضَرْبُ زَيْدٍ عَمْرًا) پدي کښې ضرب متعدي ده، زید نه بناء بر فاعل رفع ورکړې شوې ده او عمرا ته بناء بر مفعول نصب ورکړې شوې دی

وَلَا يَجُوزُ تَقْدِيمُ مَعْمُولِ الْمَصْدَرِ عَلَيْهِ فَلَا يُقَالُ أَعْجَبَنِي زَيْدٌ ضَرْبُ عَمْرًا وَلَا عَمْرًا ضَرْبُ زَيْدٍ:

ترجمه: او جائز نه ده مقدم کول د معمول په مصدر باندې لکه أَعْجَبَنِي زَيْدٌ ضَرْبُ عَمْرًا او داسې وئیل هم صحیح ندي چه عَمْرًا ضَرْبُ زَيْدٍ.

تشریح: معمول د مصدر په مصدر باندي مقدم کول جائز ندي لکه هغه فاعل وي یا مفعول وي وجه ئې دا ده چه مصدر عامل ضعیفه ده، عامل ضعیفه معمول مقدم کښې عمل نشي کولی لهذا (أَعْجَبَنِي زَيْدٌ ضَرْبُ عَمْرًا یا عَمْرًا ضَرْبُ زَيْدٍ) داسې وئیل صحیح ندي

وَيَجُوزُ إِضَافَتُهُ إِلَى الْفَاعِلِ نَحْوُ كَرِهْتُ ضَرْبَ زَيْدٍ عَمْرًا وَإِلَى الْمَفْعُولِ بِهِ نَحْوُ كَرِهْتُ ضَرْبَ عَمْرٍو زَيْدٌ:

ترجمه: او جائز نده اضافت د مصدر فاعل طرف ته لکه كَرِهْتُ ضَرْبَ زَيْدٍ عَمْرًا یا مفعول طرف ته لکه كَرِهْتُ ضَرْبَ عَمْرٍو زَيْدٌ

تشریح: د مصدر اضافت فاعل طرف ته جائز ده خو په هغه وخت کښې چه کله فاعل لفظاً مجرور وي مضاف الیه کیدلو دوجه نه او معنیٰ مرفوع وي فاعل کیدلو دوجه نه کچرته ورپسې مفعول به وي نو هغه به منصوب وي لکه (كَرِهْتُ ضَرْبَ زَيْدٍ عَمْرًا) پدي کښې ضرب مصدر فاعل طرف ته مضاف ده او د مصدر اضافت مفعول به طرف ته جائز ده په هغه وخت کښې چه کله فاعل مذکور وي نو دا به مرفوع وي لکه (كَرِهْتُ ضَرْبَ عَمْرٍو زَيْدٌ) پدي کښې ضرب مصدر عمر مفعول به طرف ته مضاف دي عمر لفظ مجرور ده او معنی منصوب ده مفعول به کیدلو دوجه نه او زید مرفوع ده فاعل دوجه نه

وَأَمَّا إِنْ كَانَ مَفْعُولًا مُطْلَقًا فَالْعَمَلُ لِلْفِعْلِ الَّذِي قَبْلَهُ نَحْوُ ضَرَبْتُ ضَرْبًا عَمْرًا

فَعَمْرٌو مَنْصُوبٌ بِضَرَبْتُ:

ترجمه و تشریح: کچرته مصدر مفعول مطلق وی پس عمل به ورکولی شی هغه فعل ته چه کوم د نه مخکښ وی لکه ضَرَبْتُ ضَرْبًا عَمْرًا (ما ووهلو زید په وهلو سره)، پدي کښ ضرب مصدر مفعول مطلق ده پدي وخت کښ به عمل مصدر ته نشی ورکولی، بلکه ضَرَبْتُ عَمْرًا عامل په ناصبه وی وجه ئې دا ده چه فعل عامل قوی ده او مصدر عامل ضعیفه ده چه قوی وی نو عمل په ضعیف کښ کول جائز نه ده

د اسم فاعل تعریف او تشریح

فَصْلٌ: اِسْمُ الْفَاعِلِ اِسْمٌ مُشْتَقٌّ مِنْ فِعْلٍ لِيَدُلَّ عَلٰى مَنْ قَامَ بِهِ الْفِعْلُ بِمَعْنَى الْحُدُوْثِ وَصِيْغَتُهُ مِنَ الثُّلَاثِيِّ الْمُجَرَّدِ عَلٰى وَزْنِ فَاعِلٍ كَضَارِبٍ وَنَاصِرٍ وَمِنْ غَيْرِهِ عَلٰى صِيْغَةِ الْمُضَارِعِ مِنْ ذٰلِكَ الْفِعْلِ بِمِيْمٍ مَضْمُوْمَةٍ مَكَانَ حَرْفِ الْمُضَارَعَةِ وَكَسْرِ مَا قَبْلَ الْاٰخِرِ كَمُدْخِلٍ وَمُسْتَخْرِجٍ:

ترجمه: اسم فاعل هغه اسم ده چه مشتق وی د فعل نه دلپاره چه دلالت وکړی په هغه ذات باندي چه کوم د سره قائم ده په طریقې د حدوث سره، او د ثلاثی مجرد نه په وزن د فاعلٌ سره راځی لکه ضَارِبٌ او نَاصِرٌ صیغه د اسم فاعل بعینه صیغه د مضارع د دغه فعل ده خو لیکن په ځائي د حرف مضارعت باندي میم مضمومه راوړلی شوه او ما قبل ته به کسره ورکړي شوه لکه مُدْخِلٌ وَمُسْتَخْرِجٌ

وَهُوَ يَعْمَلُ عَمَلَ فِعْلِهِ الْمَعْرُوْفِ اِنْ كَانَ بِمَعْنَى الْحَالِ اَوِ الْاِسْتِقْبَالِ وَمُعْتَمِدًا عَلَى الْمُبْتَدَأِ نَحْوُ زَيْدٌ قَائِمٌ اَبُوْهُ اَوْ ذِي الْحَالِ نَحْوُ جَاءَنِيْ زَيْدٌ ضَارِبًا اَبُوْهُ عَمْرًا اَوِ الْمَوْصُوْلِ نَحْوُ مَرَرْتُ بِالضَّارِبِ اَبُوْهُ عَمْرًا اَوِ الْمَوْصُوْفِ نَحْوُ عِنْدِيْ رَجُلٌ ضَارِبٌ اَبُوْهُ عَمْرًا اَوْ هَمْزَةِ الْاِسْتِفْهَامِ نَحْوُ اَقَائِمٌ زَيْدٌ اَوْ حَرْفِ النَّفْيِ نَحْوُ مَا قَائِمٌ زَيْدٌ:

ترجمه: اسم فاعل خپل فعل معروف په شان عمل کوی که چیری هغه حال یا استقبال په معنی سره وی او په مبتدا باندي اعتماد وی لکه زَيْدٌ قَائِمٌ اَبُوْهُ یا ذو الحال باندي لکه جَاءَنِيْ زَيْدٌ ضَارِبًا اَبُوْهُ عَمْرًا یا موصول باندي لکه مَرَرْتُ بِالضَّارِبِ اَبُوْهُ عَمْرًا یا موصوف باندي لکه عِنْدِيْ رَجُلٌ ضَارِبٌ اَبُوْهُ عَمْرًا یا همزه استفهام باندي لکه اَقَائِمٌ زَيْدٌ یا حرف نفی باندي لکه مَا قَائِمٌ زَيْدٌ

فَاِنْ كَانَ بِمَعْنَى الْمَاضِيْ وَجَبَتِ الْاِضَافَةُ مَعْنًى نَحْوُ زَيْدٌ ضَارِبُ عَمْرٍو اَمْسِ

Maktaba Tul Ishaat.com

هٰذَا اِذَا كَانَ مُنَكَّرًا اَمَّا اِذَا كَانَ مُعَرَّفًا بِاللَّامِ يَسْتَوِىْ فِيْهِ جَمِيْعُ الْاَزْمِنَةِ نَحْوُ زَيْدُنِ الضَّارِبُ اَبُوْهُ عَمْرًا اَلْاٰنَ اَوْغَدًا اَوْاَمْسِ:

ترجمه: كه چيرى اسم فاعل په معنى د ماضى سره وى نو اضافت معنوى واجب ده لكه زَيْدٌ ضَارِبُ عَمْرٍو اَمْسِ دا په هغه وخت كښې چه كله اسم فاعل نكره وى او چه كله معرف باللام وى نو پدي كښې به ټولې زمانى برابرى وى لكه زَيْدٌ الضَّارِبُ اَبُوْهُ عَمْرًا اَلْاٰنَ اَوْغَدًا اَوْاَمْسِ

تشريح د اسم فاعل

خلاصه: دا اووم فصل د اسم فاعل په بحث كې مرتب كړى شوي ده پس فرق په فاعل او اسم فاعل كې دا ده چې فاعل اسم جامد وي لكه ضرب زيد' زيد فقط فاعل ده يعني ضرب پري واقع شوي ده ـ اسم فاعل هغه اسم ته وايې چې مشتق وي د مصدر نه لكه ضارب' ناصر' فاتح' وغيره او تعريف د اسم فاعل دا ده دا هغه اسم ده چې مشتق وي د فعل (يعني مصدر) نه د پاره د دي چې دلالت اوكې په يو ذات د اسي ذات چې دا فعل د ده سره قائم وي په طريقي د حدوث او تجدد سره

قيودات: اسم مشتق من فعل ـ په دي سره اسماء جوامد ټول خارج شول د فعل نه مراد لغوى معنى ده ځكه چې د اسم فاعل اشتقاق د فعل لغوي نه كيږي نه د فعل اصطلاحي نه ـ په على من قام به الفعل سره احترازراغى د اسم مفعول او اسم تفضيل نه ځكه چې اسم مفعول د لمن وقع عليه الفعل د پاره موضوع ده او اسم تفضيل د لمن قام به الفعل مع الزيادت د پاره موضوع ده ـ په بمعنى الحدوث سره احترازراغى د صفت مشبه نه ځكه چې صفت مشبه په صفت دائمه باندي دلالت كوي او اسم فاعل په صفت حادثه باندي دلالت كوي بقيه بحث د اسم فاعل او قبل المصدر ترك كړي شو دوجي د اسا تنيا او دوجي د بوج كيدو د ذهن زما ـ

د اسم مفعول تعريف او تشريح

فَصْلٌ: اِسْمُ الْمَفْعُوْلِ اِسْمٌ مُشْتَقٌّ مِنْ فِعْلٍ مُتَعَدٍّ لِيَدُلَّ عَلٰى مَنْ وَقَعَ عَلَيْهِ الْفِعْلُ وَصِيْغَتُهٗ مِنَ الْمُجَرَّدِ الثُّلَاثِىْ عَلٰى وَزْنِ مَفْعُوْلٍ لَفْظًا كَمَضْرُوْبٍ اَوْتَقْدِيْرًا كَمَقُوْلٍ وَمَرْمِىٍّ وَمِنْ غَيْرِهٖ كَاِسْمِ الْفَاعِلِ بِفَتْحِ مَا قَبْلَ الْاٰخِرِ كَمُدْخَلٍ وَمُسْتَخْرَجٍ وَيَعْمَلُ عَمَلَ فِعْلِهِ الْمَجْهُوْلِ بِالشَّرَائِطِ الْمَذْكُوْرَةِ فِىْ اِسْمِ الْفَاعِلِ نَحْوُ زَيْدٌ مَضْرُوْبٌ غُلَامُهٗ

اَلْآنَ اَوْغَدًا اَوْاَمْسِ:

ترجمه: اتم فصل په بیان د اسم مفعول کښې دہ، اسم مفعول دا هغه اسم دہ چه د فعل متعدی نه مشتق وی، دا په هغه چا باندې دلالت وکړی چه چا باندې فعل واقع شوي وی او د دې صیغه د ثلاثی مجرد نه د مفعول په وزن سره راځی لفظاً لکه مضروب یا تقدیراً لکه مقول او مرمی، د ثلاثی مجرد نه علاوه د اسم فاعل په وزن سره راځی، آخر نه ما قبل به فتحه وی لکه مُدْخَلٌ وَ مُسْتَخْرَجٌ دا د فعل مجهول په شان عمل کوی، په هغه شرطونو سره چه کوم اسم فاعل کښې ذکر شوی دی لکه زَيْدٌ مَضْرُوْبٌ غُلَامُهُ اَلْآنَ اَوْغَدًا اَوْاَمْسِ

خلاصه دا اتم فصل دہ ۔ دا هغه اسم دہ چې مشتق وي د فعل متعدي نه د پاره د دي چې دلالت او کې په یو ذات داسي ذات چې واقع شوي وي فعل د فاعل په ده باندي ۔ په اسم مشتق سره احتراز راغی د هغه اسم نه چې مشتق نه وي ځکه چې هغي ته اسم مفعول ویلی کیږي بلکه تعبیرتري فقط په مفعول سره کیږي په من فعل متعدی سره احتراز راغي د فعل لازم نه ځکه چې د اسم مفعول د فعل لازم نه مشتق کیږي په علی من وقع علیه الفعل سره احتراز راغی د اسم فاعل او صفت مشبه نه او پدي سره تري هغه اسم تفضیل هم خارج شو کوم چې فاعل راځي او کوم چې د مفعول د پاره راځي لکه اشهر (ډیر مشهور) یا لکه عُرِقَ ډیر مشهور ځکه چې د المن وقع علیه الفعل مع الزیادت د پاره موضوع دہ۔ بقیه بحث ترک کړی شو ځکه چې ځما ذهن نوربرداشت نشي کولی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

فصل الصفة المشبهة

فَصْلٌ: اَلصِّفَةُ الْمُشَبَّهَةُ اِسْمٌ مُشْتَقٌّ مِنْ فِعْلٍ لَازِمٍ لِيَدُلَّ عَلٰى مَنْ قَامَ بِهِ الْفِعْلُ بِمَعْنَى الثُّبُوْتِ وَصِيْغَتُهَا عَلٰى خِلَافِ صِيْغَةِ اِسْمِ الْفَاعِلِ وَالْمَفْعُوْلِ اِنَّمَا تُعْرَفُ بِالسِّمَاعِ كَحَسَنٍ وَصَعْبٍ وَظَرِيْفٍ وَهِيَ تَعْمَلُ عَمَلَ فِعْلِهَا مُطْلَقًا بِشَرْطِ الْاِعْتِمَادِ الْمَذْكُوْرِ.

ترجمه: صفت مشبه دا هغه اسم ده چه د فعل لازمي نه مشتق وی د لپاره چه دلالت وکړی په هغه ذات باندي چه چا سره فعل قائم وی په طريقې د ثبوت سره او صفت مشبه د اسم فاعل او اسم مفعول صيغې نه خلاف وی، د هغې نه علاوه چه کوم په سماع سره پيژندلی شی لکه حسن، صعب، ظريف او د خپل فعل په شان عمل کوی مطلقاً. او عمل د صفت مشبه لپاره اعتماد شرط ده.

تشريح: دانهم فصل ده پدي فصل کې دصفت مشبه تعريف اوقواعد ذکر کوي پس داتعريف داهغه اسم ده چې مشتق وي دفعل لازمي نه دپاره ددي چې دلالت اوکې په يوذات داسي ذات چې قائمه اودائمه وي معنى مصدري په دغه ذات باندي **وجه تسميه**: صفت مشبه ورته ځکه وايې چې داپه يوڅو اُمورو کې پشان داسم فاعل ده لکه ځنګه چې اسم فاعل مذکرمؤنث تثنيه اوجمع واقع کيږي دغه شان صفت مشبه هم واقع کيږي ليکن فرق په کې داده چې په اسم فاعل کې صفت عارضي وي لکه ضارب چې چاته اوويلی شي نود ضرب صفت عارضي صادرشو دفاعل دپاره نو بطوردوام اواستمرار اوصفت مشبه کې ثبوت دصفت دائمي اولازمي وي لکه حسن چې ديوحسين اوجميل اوښائسته ذات دپاره صفت اوګرزي نودابه هروخت دائم اوقائم اولازم وي ددغه ذات سره اوعاشقان به واره ستي کوي

قيودات: اسم مشتق الخ پدي سره احترازراغی دجامدنه په من فعل لازم سره احترازراغی داسم فاعل، اسم مفعول اودافعل التفضيل نه ځکه چې داد فعل متعدي نه مشتق کيږي. په علی من قام به الفعل سره احترازراغی داسم زمان اسم مکان اوداسم آلی نه. بمعنى الثبوت چې دقام سره متعلق شي نوپه دي سره هغه اسم فاعل اواسم تفضيل خارج شول کوم چې مشتق وي دفعل لازم نه لکه فاضل اوافضل

اوزان دصفت مشبه: اوزان يعني صيغې دصفت مشبه په خلاف داسم فاعل اواسم مفعول دي. ددي مطلب دادي چې صيغې دصفت مشبه سماعي دي اوصيغې داسم فاعل اواسم مفعول قياسي دي ليکن دامذهب دجمهورونحاتودي اودابن مالکؒ په نزد صيغې دصفت مشبه په

وزن داسم فاعل راځي لکه شاحط په معنی دشحیط ای بعید . اودا برسبیل قلت مستعملیږي یعني مختاره مذهب دنحاتودي . **وهی تعمل الخ**: صفت مشبه به عمل دفعل لازمي کوي قطع نظر دزمانونه په طریقي دثبوت دوام او استمرار سره نه په طریقي دحدوث سره یعني په زمانه حالیه استقبالیه دواړوکې به معنی دصفت مشبه قائمه او دائمه وي په ثبوت استمراري سره.

وَمَسَائِلُهَا ثَمَانِيَةَ عَشَرَ لِأَنَّ الصِّفَةَ إِمَّا بِاللَّامِ أَوْ مُجَرَّدَةٌ عَنْهَا وَمَعْمُوْلُ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا إِمَّا مُضَافٌ أَوْ بِاللَّامِ أَوْ مُجَرَّدٌ عَنْهُمَا فَهٰذِهٖ سِتَّةٌ وَمَعْمُوْلُ كُلٍّ مِنْهُمَا إِمَّا مَرْفُوْعٌ أَوْ مَنْصُوْبٌ أَوْ مَجْرُوْرٌ فَذٰلِكَ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ وَتَفْصِيْلُهَا نَحْوُ جَاءَنِيْ زَيْدٌ نِ الْحَسَنُ وَجْهُهٗ ثَلٰثَةُ أَوْجُهٍ وَكَذٰلِكَ الْحَسَنُ الْوَجْهِ وَالْحَسَنُ وَجْهٍ وَحَسَنٌ وَجْهُهٗ وَحَسَنُ الْوَجْهِ وَحَسَنٌ وَجْهٍ وَهِيَ عَلٰى خَمْسَةِ أَقْسَامٍ مِنْهَا مُمْتَنِعٌ الْحَسَنُ وَجْهِهٖ وَالْحَسَنُ وَجْهٍ وَمُخْتَلَفٌ فِيْهِ حَسَنُ وَجْهِهٖ وَالْبَوَاقِيْ أَحْسَنُ إِنْ كَانَ فِيْهِ ضَمِيْرٌ وَاحِدٌ وَحَسَنٌ إِنْ كَانَ فِيْهِ ضَمِيْرَانِ وَقَبِيْحٌ إِنْ لَمْ يَكُنْ فِيْهِ ضَمِيْرٌ.

ترجمه: او د دې اتلس مسائل دي، ځکه چه صفت به یا لام سره وي یا به نه وي، او معمول دده کښې دوه احتماله دي اول احتمال دا دي چه مضاف به وي او دویم احتمال دا دي چه ملتبس به وي په الف لام باندې، پس دا ټول شپږ صورتونه شول. بیا پدې شپږ اقسامو کښې د هر واحد معمول به یا مرفوع وي یا به منصوب وي یا به مجرور وي پس دا ټول اتلس صورتونه شول لکه جَاءَنِيْ زَيْدٌ نِ الْحَسَنُ وَجْهُهٗ دا دري صورتونه شول، همدغه رنګې الحسن الوجه او الحسن وجه او حسن وجهه او حسن الوجه او حسن وجهه، او دا صفت مشبه په خپل کور کښې په پنځه قسمه دي، پدې کښې بعض ممتنع دی لکه الحسن وجهِ او الحسنُ وجههِ، او بعض صورتونه مختلف فیه دی لکه حسنُ وجههِ او بعض صورتونه احسن دی، کچرته پدې کښې یو ضمیر وي او حسن دي کچرته پدې کښې دوه ضمیرونه وي او قبیح ده کچرته پدې کښې ضمیر نه وي

تشریح: په صفت مشبه کې اتلس احتماله دي وجه دحصر یې داده چې صفت مشبه به خالی نه وي یابه معرفه باللام وي یابه مجرده وي دالف لام نه اویابه معمول دهر واحد خالی نه وي یابه معرفه بالاضافت وي یامعرفه باللام وي اویابه مجرد وي ددې دواړونه پس دا شپږ احتماله شول اوبیا هر واحد دا احتمالاتو ستونه په دري دري احتمالاتو مشتمل دي یابه معمول دهر واحد مرفوع وي یا به منصوب وي اویابه مجرور وي پس مجموعه یې اتلس احتماله جوړ شول . پس کچرې معمول دصفت مشبه مرفوع وي نو دابه بنابر فاعلیت وي ځکه کل فاعل مرفوع

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکچري معمول دصفت مشبه معرفه وي نوبيابه منصوب بنابرتشبيه بالمفعوليت وي ځکه چې
صفت مشبه نه بعد مفعول به نه راځي پس دامشابه دمفعول سره وي ځکه به منصوب وي اوکچري
معمول دصفت مشبه نکره وي نومنصوب به وي بنابرتميز اوکه معمول يې مجروروي نودابه
بنابراضافت وي ـ پس زده کړه داخبره چې مذکوره اتلس احتماله په پنځه قسمه دي (١) ممتنع (٢)
مختلف فيه (٣) احسن (۴) حسن (٥) قبيح پس ممتنع په کې فقط دوه صورته دي يوالحسن وجه
دي اودويم الحسن وجهُهُ دي ددي دامتناع وجه داده چې اول قسم اضافت لفظي دي اودااضافت
فائده تخفيف فى اللفظ وي حالانکه دلته هيڅ قسم تخفيف نشته بلکه تنوين دالف لام دوجې نه
حذف شوي دي پس داځکه دوي ممتنع ګرزولي دي اومثال ثاني ځکه ممتنع دي چې دامعرفه
بالاضافت ده حالانکه دلته هم تخفيف نشته يعني ضميرپه کې باقي دي . مختلف فيه په ثمانية
عشره احتمالاتو کې فقط يوقسم دي اوپه دي کې اختلاف دي ځکه ورته مختلف فيه وايي هغه
صورت دادي حسن وجهه مجروربنابراضافت دي اودااضافت لفظي دي مفيد دتخفيف دپاره دي
حالانکه دلته فائده کامله نه ده راغلي ځکه چې تنوين دمضاف نه حذف شوي دي ليکن
ضمير دمضاف اليه نه دي حذف شوي پس دسيبويه اودنحات بصره په نزد دا قبيح دي (البته
دضرورت شعريه مقام کې جائزده) ځکه چې تخفيف کامل په کې نه ده راغلي اوداعلى درجې
دتخفيف قدرت لرلوباوجودپه ادنى تخفيف اکتفاء کول قبيح دي . نحاة کوفه وايي چې
داجائزاوصحيح دي ځکه چې فى الجمله تخفيف نه دي ليکن بياهم نون دوجې داضافت نه حذف
شوي دي اوداعلى درجې تخفيف دلته ناممکن دي پس داعلى درجې اکتفاء په ادنى درجې سره
اوکړي شوه ـ باقي پنځلس احتماله دي په دي کې ضابطه داده چې په کوم قسم کې ضميريووي
برابره خبره ده که په صفت کې وي اوکه په معمول کې وي پس دابه احسن وي اوداتقريباً نهه اقسام
دي په بقيه پنځلسوکې . داځکه احسن دي چې دموصوف سره دربط دپاره يوضمير کافي دي
بغيردزيادت اونقصان نه ـ هغه اقسام چې په هغې کې دوه ضميرين وي يوپه صفت کې اوبل په
معمول کې پس دابه حسن وي اودافقط دوه قسمين دي حسن پدي اعتبارسره دي چې داپه
ضميرمحتاج اليه باندي مشتمل دي اوهغه ضميرصفت دي چې کيدل يې دماقبل دپاره ضروري
دي اوداغيراحسن ځکه دي چې داپه ضميرزائدعلى الحاجت باندي مشتمل ده اوهغه ضميرپه
معمول کې ده ـ هرهغه قسم چې هغې کې ضميرنوي ديته قبيح وايي اوداځلور قسمين دي دقباحت
دموصوف سره ربط پاتي نه شي.
وجه يې داده چې دضمير محتاج اليه کيدلو دوجي نه

وَالضَّابِطَةُ أَنَّكَ مَتٰى رَفَعْتَ بِهَا مَعْمُوْلَهَا فَلَا ضَمِيْرَ فِي الصِّفَةِ وَمَتٰى نَصَبْتَ أَوْجَرَرْتَ فِيْهَا ضَمِيْرُ الْمَوْصُوْفِ نَحْوُ زَيْدٌ حَسَنٌ وَجْهَهُ:

ترجمه: او د ضمیر پیژندلو طریقه داده، چکله د صفت مشبه معمول ته رفع ورکړی شی نو پدي وخت کښ به صفت مشبه کښ به ضمیر نه وی. او چه کله د صفت مشبه معمول ته نصب یا جر ورکړي شی نو پدي کښ به یو ضمیر وی او هغه به راجع وی موصوف ته لکه زَيْدٌ حَسَنٌ وَجْهَهُ

تشریح: پدي ضابطه کي مصنفؒ دضمیر دپیژندلو طریقه خایي .ضابطه داده چي هرکله تاسو دصفت مشبه معمُول ته رفع ورکړي نوپه هغه وخت کي به په صفت مشبه کي هیڅ قسم ضمیرنه وي ځکه چي په دي وخت کي معمول پخپله دصفت مشبه فاعل وي. اوچي هرکله تاسو معمول دصفت مشبه ته نصب یاجرورکړي نوپه دي وخت کي به په صفت مشبه کي یوضمیروي اوراجع به وي موصوف ته اووي به دغه ضمیرفاعل دصفت مشبه اوپه دي وخت کي به دصفت تذکیر .تانیث .تثنیت اوجمعیت دموصوف سره مطابق وي ځکه چي دضمیردخپل دمرجع سره مطابقت ضروري وي.

فصل اسم التفضیل

فَصْلٌ: اِسْمُ التَّفْضِيْلِ اِسْمٌ مُشْتَقٌّ مِنْ فِعْلٍ لِيَدُلَّ عَلَى الْمَوْصُوْفِ بِزِيَادَةٍ عَلٰى غَيْرِهِ:

ترجمه: اسم تفضیل هغه اسم ده چه مشتق وی د فعل نه لپاره ددي چه دلالت وکړی په موصوف باندي چه دا موصوف به زیادت وی په غیر باندي.

تشریح: اسم تفضیل هغه اسم ده چي مشتق وي دمصدریادفعل نه دپاره ددي چي دلالت اوکي په یوذات داسي ذات چي دخپل غیرنه په معنی مصدری کي زیات متصف وي. مصنفؒ لیدل علی الموصوف الخ اوویل ځکه چي تعریف شامل شي دواړه قسمونو داسم تفضیل ته یعني دفاعل تفضیل اودمفعول تفضیل لکه (اضرب) ډیروهونکي داقاعل تفضیل دي اواشهر ډیرمشهوردادمفعول تفضیل دي. **قیودات.** په علی امر موصوف سره اسماء زمان مکان اوآله خارج شول .بزیادت علی غیرالخ پدي سره اسم فاعل اسم مفعول اوصفت مشبه خارج شول اوهغه اسم فاعل هم خارج شو کوم چي دمبالغی دپاره وضع شوي ده لکه ضراب اوضروب ډیروهلوو الا دا اګرچي په زیادت دلالت کوي لیکن په دي کي دزیادت علی الغیرلحاظ نشته.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَصِيْغَةُ أَفْعَلُ فَلَا يُبْنَى إِلَّا مِنَ الثُّلَاثِيِّ الْمُجَرَّدِ الَّذِيْ لَيْسَ بِلَوْنٍ وَلَا عَيْبٍ نَحْوُ زَيْدٌ أَفْضَلُ النَّاسِ:

ترجمه: صيغه د اسم تفضيل هغه اَفعَلُ ده، پس دا نه جوړيږي مګر د ثلاثي مجرد نه چه په کومه کښ دلون او دِ عيب معنی نه وی پرته لکه اَفْضَلُ النَّاسِ

تشريح: د اسم تفضيل صيغه افعل دمذکرد پاره ده اوفعلی دمؤنث دپاره ده پدي کې لفظ دخيرٌ اوشرٌ داخل دي ځکه چي دراصل اَخيرٌ اَشيرٌ وو اودا صيغي به فقط دثلاثي مجرد نه راځي اونه به راځي دثلاثي مزيد اورباعي نه ځکه چي د اسم تفضيل په دي وزن صيغه راتلل ممکن دي ولی چې که حروف کم کړی شي نوبيا به لفظاً اومعنیً فعل لازميږي اوکچري حروف زيات کړی شي نوبيا به دا فعل نه زيات شي .دثلاثي مجرد دپاره شرط دادي چې په معنی دلون اوعيب نوي ځکه چي دالوانو اوعُيوبو معنی دغيرتفضيل دپاره افعل دصفت صيغه راځي پس کچري افعل دتفضيل هم ددي نه جوړ کړی شي نوبيا به دافعل صفتی سره التباس راځي لکه اسود (توررنګ والاسړی) - دعيب نه مراد عيب ظاهري دي نه باطني .لکه اجهل (زيات جهالت والا) دادجهل نه مشتق دي اويدي کې عيب باطنی دي پس دااسم تفضيل ده.

فَإِنْ كَانَ زَائِدًا عَلَى الثُّلَاثِيِّ أَوْ كَانَ لَوْنًا أَوْ عَيْبًا يَجِبُ أَنْ يُبْنَى أَفْعَلُ مِنْ ثُلَاثِيٍّ مُجَرَّدٍ لِيَدُلَّ عَلَى مُبَالَغَةٍ وَشِدَّةٍ وَكَثْرَةٍ ثُمَّ يُذْكَرُ بَعْدَهُ مَصْدَرُ ذٰلِكَ الْفِعْلِ مَنْصُوْبًا عَلَى التَّمْيِيْزِ كَمَا تَقُوْلُ هُوَ أَشَدُّ اِسْتِخْرَاجًا وَأَقْوَى حُمْرَةً وَأَقْبَحُ عَرَجًا وَقِيَاسُهُ أَنْ يَّكُوْنَ لِلْفَاعِلِ كَمَا مَرَّ وَقَدْ جَاءَ لِلْمَفْعُوْلِ قَلِيْلًا نَحْوُ أَعْذَرُ وَأَشْغَلُ وَأَشْهَرُ:

ترجمه: که چيری فعل د ثلاثي نه زائد وی يا لون يا عيب په معنی سره وی، نو د دي وزن د ثلاثي مجرد نه دا فعل په وزن سره راوړل واجب دی، لپاره ددی چه دلالت وکړی په مبالغه، شدت، او کثرت باندي پس له دينه به د دي فعل مصدر به ذکر کولی شی منصوب به وی بناء بر تميز لکه هُوَ اَشَدُّ اِسْتِخْرَاجًا وَأَقْوَى حُمْرَةً وَأَقْبَحُ عَرَجًا، او د قياس تقاضا داده چه دا دفاعل لپاره وی لکه خرنګه چه مخکښ تير شو، او کله مفعول لپاره راځی قليلاً لکه اَعذَرُ، اَشغَلُ، اَشهَرُ

تشريح: ددي عبارت خلاصه داده کچري صيغه د اسم تفضيل دثلاثي مجرددوزن نه زيات کړی شي (يعني ثلاثي مزيد يارباعی مجرد يارباعی مزيد) اويا ثلاثي مجردوي ليکن معنی په کې دعيب اولون وي نوپه دي وخت کې واجبه ده داخبره چې په وزن دافعلُ باندي دثلاثي مجرد نه دلفظ دشدت ياکثرت ياقوت ياضعف اوياقباحت اوياحسن وغيره نه چې کوم مقصودوي نوموافق صيغه

دي جوړه کړی شي د پاره د دي چې دلالت اوکړي په مبالغه .شدت او کثرت باندي او بیا به مصدر دد فعل (چې دکوم نه اسم تفضیل ممتنع وي) منصوب کړی شي بنابر تمیز لکه هو اشد منه استخراجا هغه دده نه په ویستلو او خروج کې ډیر محنت دي دامثال دثلاثی مزید دي هی اقوی حمرةً هغه دده نه په سوروالي کې ډیره قوي ده. دامثال دثلاثي مجرد دي او معنی دلون او عیب په کې پرته ده.

وَالْاِسْتِعْمَالُ عَلٰی ثَلَاثَةِ اَوْجُهٍ اِمَّا مُضَافٌ کَزَیْدٌ اَفْضَلُ الْقَوْمِ اَوْمُعَرَّفٌ بِاللَّامِ نَحْوُ زَیْدُنِ الْاَفْضَلُ اَوْ بِمِنْ نَحْوُ زَیْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو:

ترجمه: د اسم تفضیل استعمال په د طریقو سره ده، (۱) یا به مضاف وی لکه زَیْدٌ اَفْضَلُ الْقَوْمِ (۲) یا به معرف باللام وی لکه زَیْدُنِ الْاَفْضَلُ (۳) یا به لفظ مِنْ سره وی لکه زَیْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو

تشریح: اسم تفضیل به مستعملیږي په یو د طرقو ثلاثو سره یا به اسم تفضیل مضاف وي لکه زید افضل الناس یا به اسم تفضیل معرف باللام (عهد خارجی) وي لکه زیدُنِ الافضل یا به اسم تفضیل د مِنْ سره مستعملیږي لکه زید افضل من عمرٍو .پس په دي طرقو ثلاثو کې اصل استعمال د مِن دي او دویم نمبر اصل استعمال داضافت دي او دریم دلام دي او خالي کیدل د اسم تفضیل غیر جائز دي د طرقو ثلاثو نه لکه زید افضل فقط بدون الطریقة احدٌ من الطرق الثلثة ناجائز دي .البته که چیری مفصل علیه قرائن موجود وي نو بیا فقط د مِن تقدیر جائز دي لکه الله اکبر ای اکبر من کل شئ او په دي وخت کې استعمال د اسم تفضیل بغیر د طرقو ثلاثو نه جائز دي لکه مثال مزکور وای اکبر کل شیئٍ بغیر د من نه او بغیر د اضافت او لام نه مستعمل ده .زده کړه د اخیره چې جمع کیدل د دوه طریقو په استعمال د اسم تفضیل کې ناجائز دي لکه زیدُنِ الافضل من عمرو دا غیر جائز دي.

وَیَجُوْزُ فِی الْاَوَّلِ الْاِفْرَادُ وَمُطَابَقَةُ اِسْمِ التَّفْضِیْلِ لِلْمَوْصُوْفِ نَحْوُ زَیْدٌ اَفْضَلُ الْقَوْمِ وَالزَّیْدَانِ اَفْضَلُ الْقَوْمِ وَاَفْضَلَا الْقَوْمِ وَالزَّیْدُوْنَ اَفْضَلُ الْقَوْمِ وَاَفْضَلُوْ الْقَوْمِ وَفِی الثَّانِیْ یَجِبُ الْمُطَابَقَةُ نَحْوُ زَیْدُنِ الْاَفْضَلُ وَالزَّیْدَانِ الْاَفْضَلَانِ وَالزَّیْدُوْنَ الْاَفْضَلُوْنَ وَفِی الثَّالِثِ یَجِبُ کَوْنُهٗ مُفْرَدًا مُّذَکَّرًا اَبَدًا نَحْوُ زَیْدٌ وَهِنْدٌ وَالزَّیْدَانِ وَالْهِنْدَانِ وَالزَّیْدُوْنَ وَالْهِنْدَاتُ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو:

ترجمه: په اول قسم کښ اسم تفضیل مفرد راوړل جائز دی، او د موصوف مطابق راوړل هم جائز دی لکه زَیْدٌ اَفْضَلُ الْقَوْمِ وَالزَّیْدَانِ اَفْضَلُ الْقَوْمِ وَاَفْضَلَا الْقَوْمِ وَالزَّیْدُوْنَ اَفْضَلُ الْقَوْمِ وَاَفْضَلُوْ الْقَوْمِ په دویم قسم کښ مطابقت واجب دي لکه زَیْدُنِ الْاَفْضَلُ وَالزَّیْدَانِ الْاَفْضَلَانِ وَالزَّیْدُوْنَ الْاَفْضَلُوْنَ او دریم قسم کښ د اسم

تفضیل مفرد مذکر راوړل واجب دی لکه زَيْدٌ وَهِنْدٌ وَالزَّيْدَانِ وَالْهِنْدَانِ وَالزَّيْدُوْنَ وَالْهِنْدَاتُ أَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو.

تشريح: هر کله چې اسم تفضیل مضاف وي نو پیدې صورت کې د اسم تفضیل انفرادیت هم جائزده او مطابقت د موصوف سره هم جائزده د جواز د افراد د پاره وجه داده چې د امشابه دي په ذکر د مفضل علیه کې د استعمال د مِن سره په اسم تفضیل کې او په استعمال د مِن کې افراد واجب دي نو ګوياد الله مسئله د جواز راغله کچرې افراد د الله واجب شي نو بيابه مطابقت ختم شي او مطابقت هم جائزدي ځکه چې دا قسم استعمال د اسم تفضيل په حقيقت کې صفت او موصوف دي امثله مذکور في المتن الکتاب هر کله چې اسم تفضيل معرف باالام وي نو پيدې صورت کې مطابقت ضروري او واجب دي ځکه چې دا موصوف او صفت دي او دلته د تطابق د پاره هيڅ مانع نشته د دي وجې نه مطابقت واجب ده هر کله چې اسم تفضيل مستعمل وي د مِن سره نو پيدي صورت کې به اسم تفضيل هميشه د پاره مفرد مذکر ذکر کيږي وجوباً. د دي د پاره وجه داده که چيرې علامت د تانيث او علامت د جمعې په دي قسم داخل شي نو دوه صورتونه دي يابه قبل ازمن وي يابه بعد ازمن وي پس قبل ازمن ادخال غير جائزدي ځکه چې مِن د شدت الاتصال د وجې نه په مثل د جزء د کلمې دي نو علامت د تا نيث او جمعې انفصال راولی او دامحال دي کچرې بعد ازمن واقع شي نو داهم غير جائزدي ځکه چې مِن په حقيقت کې دويمه کلمه ده پس کچرې علامت د تانيث او جمعې بعد ازمن واقع شي نو ادخال به د يوي کلمې په بلې کلمې باندي لازم شي او داقباحت اظهر من الشمس ده.

وَعَلَى الْأَوْجُهِ الثَّلٰثَةِ يُضْمَرُ فِيْهِ الْفَاعِلُ وَهُوَ يَعْمَلُ فِيْ ذٰلِكَ الْمُضْمَرِ وَلَا يَعْمَلُ فِي الْمُظْهَرِ اَصْلًا اِلَّا فِيْ مِثْلِ قَوْلِهِمْ مَا رَأَيْتُ رَجُلًا اَحْسَنَ فِيْ عَيْنِهِ الْكُحْلُ مِنْهُ فِيْ عَيْنِ زَيْدٍ فَاِنَّ الْكُحْلَ فَاعِلٌ لِاَحْسَنَ وَهٰهُنَا بَحْثٌ:

ترجمه: په د دي واړه صورتونو کښ ضمير مستتر وی او پدې ضمير کښ عمل کوی او مظهر کښ بالکل عمل نه کوی مګر په داسې قول کښ رأيت رجلا احسن فی عينه الکحل منه فی عين زيد، پس الکحل د احسن فاعل دي او دلته کښ يو بحث دی

تشريح: دا قاعده ده چې اسم تفضيل به عمل په ضمير مستتر کې کوي ابداً او دغه ضميربه فاعل وي د پاره د اسم تفضيل او په اسم ظاهر کې به عمل نه کوي مګر په وجود د شروطو سره او مفعول د اسم تفضيل د پاره معمول بالکل نه شي جوړيدي خواه که مضمر وي او که مظهر وي دا ځکه چې د اسم تفضيل مفعول د مفضول عليه نه سوا هيڅ نه شي کيدي او که مفضول عليه

مذکوروي نو دا به مجروروي په واسطې د حرف جر سره او کچېري حال یا تمیز یا ظرف وي نو بیا به بغیر د شرط نه عمل کولی شي لکه زید احسن منك الیوم راکباً الیوم ظرف ده او راکباً حال ده پس خلاصه دا شوه چې اسم تفضیل به عمل کوي په ضمیر مستتر کې غیر مشروط به وي دا عمل او په اسم ظاهر کې به عمل کوي مګر په څو شروطو سره او شروط دادي چې معلوم شوي دي د مصنف د قول نه چې الاّ فی مثل قولهم ما رایت رجلاً احسن فی عینه الکحل منه فی عین زید. یو شرط دادې چې اسم تفضیل په اعتبار د لفظ سره صفت د یو شي وي او په اعتبار د معنی به صفت د هغه شي د متعلق د پاره وي دویم شرط دادي چې د غه متعلق شي داسې وي چې هغه د هغه شي د اعتبار نه مفضل وي او د دویم شي د اعتبار نه مفضل علیه وي پس دوه حیثیتونه شو یو په اعتبار د مفضل او بل په اعتبار د مفضل علیه دي دریم شرط دادي چې اسم تفضیل منفي دي پس دا خبره زده کړه چې متعلق دي د دغه شي د اعتبار نه مفضل کیدل او د بل شي د اعتبار نه مفضل علیه کیدل د نفي نه مخکې دي پس د نفي د داخل نه بعد به معنی برعکس وي په مثال مذکور کې اول معنی د اثبات را واخله چې معنی د کلام ظاهره شي او بعد به معنی سره د نفي واخلې چې تفصیلاً معنی معلومه شي پس احسن اسم تفضیل دي او دا په اعتبار د لفظ د یو شي د پاره صفت دي چې هغه شي رجل دي او دغه شي (ای رجل) په اعتبار د معنی د متعلق د پاره صفت دي چې کحل دي او کحل مشترك دي په سترګو د زید او رجل کې او دا کحل په اعتبار د عین د رجل مفضل دي او په اعتبار د عین د زید مفضل علیه دي پس معنی به داسې شي چې ما اولیدیو سړی چې په سترګو د هغه کې رانجه د سترګو د زید د رنجو نه زیات خوند کوي. پدې کې د نفي نه سوا تول شروط ظاهر شو . پس چې هر کله پرې نفي داخله شي نو اسم تفضیل په معنی د ضعیف سره شي او شروط به ظاهر شي پس په دې صورت کې به کحل په اعتبار د عین د رجل مفضل علیه وي او په اعتبار د عین د زید به مفضل وي . پس په صورت د منفیت کې به معنی د فضیلت عین د زید لره ثابتیږي او ما نافیه ده او رجلاً مفعول به د رایت د پاره دي او احسن اسم تفضیل به عمل په الکحل کې کوي او الکحل اسم ظاهر دي او فاعل د احسن د پاره دي او عمل پدې صورت څکه متعین شو چې صفت د تفضیل نفي اصل فعل ته معنی ګرزي څکه چې تفضیل په معنی د زیادت بمنزله قید دي او نفي چې کله په مقید باندې داخله شي نو د قید طرف رجوع کوي په معنی کې پس دا د منفي په صورت د عمل دا اسم تفضیل وجه ذکر شوه.

وههنا بحث: یعني په مسئله مذکوره کې بحث دي او هغه بحث دادي چې په عبارت کې

دپاره داختصار احسن فی عینه الکحل من عین زید هم جائز دي يعني من عين زيد قائم مقام دمنه فی عين زيد دپاره جائز دي او لفظ دعين داختصار دپاره مقدم هم جائز دي لکه داسي اُويلې شي چې ما رایت کعین زید احسن فی الکحل يعني پدي وخت کې په معنی کې هيڅ قسم خلل او نقصان نه واقع کيږي .بلکه مقصد دمعنی هم هغه بيانيږي چې ما ونه ليدي توري ليمې ښان دليمود

القسم الثانی فی الفعل

وَقَدْ سَبَقَ تَعْرِيْفُهُ وَاَقْسَامُهُ ثَلٰثَةٌ مَاضٍ وَمُضَارِعٌ وَاَمْرٌ:

ترجمه: قسم ثاني په بيان د فعل کښې ده او د دي تعريف مخکښې تير شوی دي، او د فعل دری اقسام دری دی ماضی ،مضارع، امر

تشریح: هر کله چې مصنفؒ فارغ شو دقسم اول نه پس شروع يې اوکړه په قسم ثاني کې چې مشتمل دي په ابحاثو دفعل باندي پس مصنفؒ عليه الرحمت داقول کړی ده چې وقد سبق تعریفه پدي سره دفعيه داعتراض پورته شوي ده يعني خوارسائل ته به داتوهم او شك شبه راتله چې تقسیم دشي فرع دتعريف دشي ده نو پوهه شي چې تعريف دفعل په صفحه (۲۲) ذکر شوي دي تفصيلاً .پس زده کړه داخبره چې فعل منقسم دي اقسامو ثلاثو ته وجه دحصر يې داده چې دافعل به خالي نه وي يا به انشايي وي يا به اخباروي که انشايي وي ديته امر وايې که اخباروي دا به يا خالي نه وي يا مشتمل بِاَحَدِ حَرْفٍ مِّنْ حروفِ اتین فی الاول وی يا به نه وي اول ته مضارع وايي او ثاني ته ماضی وايي. پس داجمال نه تفصيل دهر واحد دادي.

اَلْاَوَّلُ اَلْمَاضِيْ وَهُوَ فِعْلٌ دَلَّ عَلٰی زَمَانٍ قَبْلَ زَمَانِكَ وَهُوَ مَبْنِيٌّ عَلَى الْفَتْحِ اِنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ ضَمِيْرٌ مَرْفُوْعٌ مُتَحَرِّكٌ وَلَا وَاوٌ كَضَرَبَ وَمَعَ الضَّمِيْرِ الْمَرْفُوْعِ الْمُتَحَرِّكِ عَلَى السُّكُوْنِ كَضَرَبْتَ وَعَلَى الضَّمِّ مَعَ الْوَاوِ كَضَرَبُوْا:

ترجمه: اول ماضی ده، دا هغه فعل ده چه په داسي زماني باندي دلالت کوی چه کومه تا نه مخکښې تيره شوی وی او هغه مبنی بر فتحه وی کچرته د سره ضمير مرفوع متحرك نه وی او نه واو ورسره وی لکه ضَرَبَ او ضمير مرفوع متحرك سره په مبنی بر سکون وی لکه ضَرَبْتَ او واو سره مبنی برضمه وی لکه ضَرَبُوْا

تشریح: وجه دتقديم الماضی په اقسامو ديگر باندي داده چې ماضی اصل ده په نسبت سره مضارع او امر ته پدي شان سره چې ماضی مخکې مشتق کيږي دمصدر نه او مضارع بيا دصيغو دفعل

ماضی نه جوړیږي او امر د صیغو د مضارع نه جوړیږي نو ګویا ماضی اصل ده او بیا مضارع اصل او ګرزیده په نسبت سره امر ته. بله وجه داده چې ماضی وضع شوي ده د پاره د زمانی تیري شوي او زمانه تیره شوي مقدمه ده په زمانه راتلونکي باندي. ځکه مقدمه ده.

حکم او قاعده دفعل ماضی

حکم او قاعده دفعل ماضی داده : فعل ماضی اصل ده یعني مبنی الاصل ده په یو څو حرکاتو سره کله کله مبنی په فتحی سره وي په دي شرط چې خالی وي د ضمیر مرفوع متحرك نه او دواونه او کله کله مبنی بر سکون وي وجه د بناء د فعل ماضی داده چې په دي کې معانی مقتضیه بالاعراب پشان دفاعلیت مفعولیت او د اضافت نشته لکه مثلاً فاعلیت چې کله موجود شي نو مقتضی د نصب وي او که مفعولیت موجود شي نو د اتقاضا د رفعی کوي پس دا قسمه اقتضائیت په فعل ماضی کې نشته نو ځکه مبنی الاصل او ګرزیده او بیا مبنی په فتحی سره ځکه ده چې فتحه اخف الحرکات ده او چې کله مبنی په سکون سره وي ځکه چې ضمیر دفاعل بمنزله جزء د فعل ده پس که چیری دغه ضمیر متحرك کړی شي نو لازم به شي توالی اربع حرکات او دانا جائزده . که چیری د فعل ماضی سره واو ملحق شي نو د مناسبت دواو د وجی نه به مبنی علی الضمه وي لکه نَصَرُ وغیره

د مضارع تعریف

وَالثَّانِي اَلْمُضَارِعُ وَهُوَ فِعْلٌ يُشْبِهُ الْاِسْمَ بِاِحْدٰى حُرُوْفِ اَتَيْنَ فِيْ اَوَّلِهٖ لَفْظًا فِي اتِّفَاقِ الْحَرَكَاتِ وَالسَّكَنَاتِ نَحْوُ يَضْرِبُ وَيَسْتَخْرِجُ كَضَارِبٍ وَمُسْتَخْرِجٍ وَفِيْ دُخُوْلِ لَامِ التَّاكِيْدِ فِيْ اَوَّلِهِمَا تَقُوْلُ اِنَّ زَيْدًا لَيَقُوْمُ كَمَا تَقُوْلُ اِنَّ زَيْدًا لَقَائِمٌ وَفِيْ تَسَاوِيْهِمَا فِيْ عَدَدِ الْحُرُوْفِ وَمَعْنًى فِيْ اَنَّهٗ مُشْتَرَكٌ بَيْنَ الْحَالِ وَالْاِسْتِقْبَالِ كَاسْمِ الْفَاعِلِ وَلِذٰلِكَ سَمَّوْهُ مُضَارِعًا وَالسِّيْنُ وَسَوْفَ تُخَصِّصُهٗ بِالْاِسْتِقْبَالِ نَحْوُ سَيَضْرِبُ وَسَوْفَ يَضْرِبُ وَاللَّامُ الْمَفْتُوْحَةُ بِالْحَالِ نَحْوُ لَيَضْرِبُ وَحُرُوْفُ الْمُضَارِعَةِ مَضْمُوْمَةٌ فِي الرُّبَاعِيْ نَحْوُ يُدَحْرِجُ وَيُخْرِجُ لِاَنَّ اَصْلَهٗ يُؤَخْرِجُ وَمَفْتُوْحَةٌ فِيْ مَا عَدَاهُ لِيَضْرِبُ وَيَسْتَخْرِجُ وَاِنَّمَا اَعْرَبُوْهُ مَعَ اَنَّ اَصْلَ الْفِعْلِ الْبِنَاءُ لِمُضَارَعَتِهٖ اَيْ لِمُشَابَهَتِهِ الْاِسْمَ فِيْ مَا عَرَفْتَ وَاَصْلُ الْاِسْمِ الْاِعْرَابُ وَذٰلِكَ اِذَا لَمْ يَتَّصِلْ بِهٖ نُوْنُ التَّاكِيْدِ وَلَا نُوْنُ جَمْعِ الْمُؤَنَّثِ وَاِعْرَابُهٗ ثَلٰثَةُ اَنْوَاعٍ رَفْعٌ وَنَصْبٌ وَجَزْمٌ نَحْوُ هُوَ يَضْرِبُ وَلَنْ يَضْرِبَ وَلَمْ يَضْرِبْ:

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: او دویم قسم فعل مضارع ده، تعریف د مضارع دا هغه فعل ده چه د حروف اتین نه یو حرف ورسره په شروع کښې پیوست وی. اسم سره به مشابه وی. حرکات او سکنات کښې به متفق وی لکه یَضرِبُ او یستخرج او لکه ضَارِبٌ او مُستخرِج. اسم سره به مشابه وی او د دواړو په شروع کښې به لام تاکید داخل وی لکه اِنَّ زیدًا لَیَقُومُ لکه څرنگه چه ته ان زیداً لقائم وائې او دا دواړه به د حروفو په تعداد کښې به برابر وی او معنیً په حال او استقبال کښې به هم مشترك وی لکه اسم فاعل د وجه نه دیته ئې نوم مضارع کیخودلو. او حرف د سین او سَوفَ مضارع لره استقبال سره خاص کوی لکه سیضرب او سوف یضرب او لام مفتوحه ئې حال سره خاص کوی لکه لیضرب، او حروف مضارع په رباعی کښې مضموم وی لکه یُدَحرِجُ او یخرج څکه چه دا په اصل کښې یُأخرِجُ وو. او د نه علاوه په نورو کښې علامت د مضارع به مفتوح وی لکه یضرب او یستخرج او بې شکه علماء نحو مضارع لره معرب جوړ کړي. او اصل په افعالو کښې بناء ده لوجه د مشابهت د اسم فاعل سره په هغه وجوه کښې چه کوم تاپیژندلی دی، او اصل د اسم هغه معرب والې دې او دا په هغه وخت کښې چکله نون تاکید او نون د جمع مؤنث ورسره متصل نه وی او اعراب د فعل مضارع په درې قسمه ده، رفع، نصب، جزم لکه هُوَیَضرِبُ وَلَن یَّضرِبَ وَلَم یَضرِبْ

تشریح: دویم قسم دفعل داقسامونه فعل مضارع ده چونکه فعل مضارع دامرمأخذه ددي وجې نه مقدمه ده په امرباندې. مضارع (دویم قول دادی چې مضارع دفرع نه ماخوذده اوفرعه دښاروی تیانوته وایي گویا استقبال اوحال دواړودیوي غولانزی نه پئ څکې چې مضارع ده ۱۲) دمضارعت نه ماخوذده په معنی مشابهت سره پس مصنفؒ تعریف دفعل مضارع پدې شان سره کړیدې چې مضارع عبارت ده ددې نه چې مشابه وي داسم فاعل سره په یودحروفواتینوسره اومشابهت دفعل مضارع داسم فاعل سره لفظی هم دي اومعنوي هم دي پس **لفظی مشابهت** په درې خبروکې دي

(۱) اول مشابهت په حرکاتوسکنا توکې دي لکه یَضرِبُ اوضَارِبٌ.

(۲) دویم مشابهت یې داسم فاعل سره په دخول دلام تاکیدکې دي یعني څنگه چې په فاعل باندې لام داخلیږي دغه شان په مضارع باندې هم داخلیږي

(۳) دریم (څلورم) مشابهت یې دادی چې صفت دنکرې دپاره واقع شې لکه مررت برجلٍ ضاربٌ مررت برجل یضربُ؛ مشابهت په اعدادودحروفوکې دي یعني څومره تعداددحروفودفاعل وي هغه شان ای کذالك فعل مضارع لکه یستخرج مستخرج (الزوج الزوج)

مشابهت معنوي : دا دی چې فعل مضارع مشترک ده په حال او استقبال کې لکه اسم فاعل نو له همدې وجې ورته د مضارع نوم ورکړل شوی ده . خو سین او سوف مضارع له استقبال سره خاص کوي لکه سیضرب ، سوف یضرب ، او لام تاکید بیا مضارع له حال سره خاص کوي په مضارع مجهول کې خو حرف مضارعت مضموم وي لکه یُضرب وغیره...خو د مضارع معلوم ترتیب بیا داسې دی چې حروف مضارع مضموم وي په رباعي کې لکه یُدحرج یُخرج چې په اصل کې یُاخرج وو

او له رباعي پرته ده یعنې دچاچې حرفونه درې وي او یا تر څلورو زیات وي نو بیا علامت مضارع مفتوح وي لکه یَضرب ، یستخرج یقیني خبره ده چې فعل مضارع معرب ده سره له دې چې اصل په فعل کې بناء ده ، ځکه چې مضارع له اسم فاعل سره مشابهت لري

سوال : فعل مضارع څه وخت معرب وي ؟

جواب : فعل مضارع هغه وخت معرب وي چې کله له هغې سره نون تاکید متصل شوی نه وي او نه هم نون جمع مؤنث ورسره متصل وي، اوکه ورسره وي نو بیا مبني وي ، د مضارع اعراب درې قسمونه لري رفع ، نصب ، جزم لکه یضربُ، لن یضربَ ، لم یضربْ

فَصْلٌ : فِيْ أَصْنَافِ إِعْرَابِ الْفِعْلِ وَهِيَ أَرْبَعَةٌ اَلْاَوَّلُ اَنْ يَّكُوْنَ الرَّفْعُ بِالضَّمَّةِ وَالنَّصْبُ بِالْفَتْحَةِ وَالْجَزْمُ بِالسُّكُوْنِ وَيَخْتَصُّ بِالْمُفْرَدِ الصَّحِيْحِ غَيْرِ الْمُخَاطَبَةِ تَقُوْلُ هُوَيَضْرِبُ وَلَنْ يَّضْرِبَ وَلَمْ يَضْرِبْ.

ترجمه: فصل ده په بیان د فعل اعراب په اقسامو کښې ده، او دا په څلور قسمه ده، اول قسم دا ده چه رفع به ئي په ضمه سره وی او نصب به فتحه سره او جزم په سکون سره او دا قسم اعراب مفرد صحیح غیره مخاطبه سره خاص ده لکه هُوَيَضْرِبُ وَلَنْ يَّضْرِبَ وَلَمْ يَضْرِبْ

تشریح: پدې فصل کښې مصنف رحمه الله د فعل مضارع اعراب اقسام بیانوی او دا په څلور قسمه دي اول قسم رفع بالضمه او نصب بالفتحه او جزم بالسکون او دا قسم اعراب مفرد صحیح غیر مخاطبه سره خاص دي ،مفرد سره تثنیه او جمع خارج شول، ددې اعراب به مخکښې راځی ،صحیح د نحویانو په نزد هغه دې چه دلام کلمې په مقابله کښې حرف علت نه وی، صحیح وئیلو سره ناقص واوو یائی و الفی بعنوان دیگر معتل اللام واوی، یائی ، الفی ، خارج شول د دې اعراب به هم مخکښې راځی، غیر المخاطبه سره صیغه د واحد مؤنث مخاطبه خارج شوه ددې اعراب به هم مخکښې راځی، د مفرد صحیح غیر مخاطبه صیغې تولې پنځه دی اعراب به ئې دغه رنګې وی، واحد مزکر غائب واحده مؤنثه غائبه ،واحد مزکر مخاطب ،واحد متکلم ، و جمع متکلم لکه هُوَيَضْرِبُ وَلَنْ يَّضْرِبَ وَلَمْ يَضْرِبْ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَالثَّانِي أَنْ يَكُونَ الرَّفْعُ بِثُبُوتِ النُّونِ وَالنَّصْبُ وَالْجَزْمُ بِحَذْفِهَا وَيُخْتَصُّ بِالتَّثْنِيَةِ وَجَمْعِ الْمُذَكَّرِ وَالْمُفْرَدَةِ الْمُخَاطَبَةِ صَحِيحًا كَانَ أَوْ غَيْرَهُ تَقُولُ هُمَا يَفْعَلَانِ وَهُمْ يَفْعَلُونَ وَأَنْتِ تَفْعَلِينَ وَلَنْ يَفْعَلَا وَلَنْ يَفْعَلُوا وَلَنْ تَفْعَلِي وَلَمْ تَفْعَلَا وَلَمْ تَفْعَلُوا وَلَمْ تَفْعَلِي.

ترجمه: دویم قسم اعراب دادي چه رفع بثبوت نون سره، او نصب او جزم نون محذوفه سره به وی، او دا قسم اعراب خاص ده تثنیه او جمع مذکر سره او مفرد مؤنث مخاطب سره که هغه صحیح وی او که غیر صحیح وی لکه هُمَا يَفْعَلَانِ وَهُمْ يَفْعَلُونَ وَأَنْتِ تَفْعَلِينَ وَلَنْ يَفْعَلَا وَلَنْ يَفْعَلُوا وَلَنْ تَفْعَلِي وَلَمْ تَفْعَلَا وَلَمْ تَفْعَلُوا وَلَمْ تَفْعَلِي

تشریح: او دویم قسم اعراب خاص ده تثنیه سره، که هغه تثنیه مذکر وی یا مؤنث غائب یا حاضر وی او دا قسم اعراب خاص ده جمع مذکر سره که هغه مذکر غائب وی یا حاضر یا واحد مؤنث مخاطب وی بیا دا ټول صحیح وی او که ناقص واوی، یائی، الفی وی او دا ټولی اووه صیغی دی، څلور تثنیه ،دوه جمع مذکر غائب او حاضر او یوه واحد مؤنث مخاطبه او مثالونه ئی واضح دی

وَالثَّالِثُ أَنْ يَكُونَ الرَّفْعُ بِتَقْدِيرِ الضَّمَّةِ وَالنَّصْبُ بِالْفَتْحَةِ لَفْظًا وَالْجَزْمُ بِحَذْفِ اللَّامِ وَيُخْتَصُّ بِالنَّاقِصِ الْيَائِيِّ وَالْوَاوِيِّ غَيْرَ تَثْنِيَةٍ وَجَمْعٍ وَمُخَاطَبَةٍ تَقُولُ هُوَ يَرْمِي وَيَغْزُو وَلَنْ يَرْمِيَ وَلَمْ يَرْمِ وَيَغْزُ.

ترجمه: او دریم قسم اعراب داده چه رفع په تقدیر د ضمی سره او نصب په فتحه لفظی سره او جزم لام کلمی په حذف سره او دا خاص ده ناقص یائی، واوی سره په اسی حال کښی چه هغه تثنیه او جمع او واحده مؤنثه مخاطبه به نه وی لکه هُوَ يَرْمِي وَيَغْزُو وَلَنْ يَرْمِيَ وَلَمْ يَرْمِ وَيَغْزُ

تشریح: او دریم قسم اعراب خاص ده ناقص یائی، واوی سره او دا ټولی پنځه صیغی دی واحد مذکر غائب واحده مؤنثه غائبه واحد مذکر حاضر واحد متکلم جمع متکلم او مثالونه ئی تیر شوی دی.

وَالرَّابِعُ أَنْ يَكُونَ الرَّفْعُ بِتَقْدِيرِ الضَّمَّةِ وَالنَّصْبُ بِتَقْدِيرِ الْفَتْحَةِ وَالْجَزْمُ بِحَذْفِ اللَّامِ وَيُخْتَصُّ بِالنَّاقِصِ الْأَلِفِيِّ غَيْرَ تَثْنِيَةٍ وَجَمْعٍ وَمُخَاطَبَةٍ نَحْوُ هُوَ يَسْعَى وَلَنْ يَسْعَى وَلَمْ يَسْعَ.

ترجمه: او څلورم قسم اعراب داده چه رفع په تقدیر د ضمی سره او نصب په تقدیر د فتحی سره او جزم لام کلمی حذف سره او دا قسم اعراب خاص ده ناقص الفی سره چه هغه ناقص الفی به تثنیه او جمع او واحده مؤنثه مخاطبه به نه وی لکه هُوَ يَسْعَى وَلَنْ يَسْعَى وَلَمْ يَسْعَ

تشریح: او څلورم قسم اعراب داده چه رفع به ئې په تقدیر د ضمی سره وی او نصب په تقدیر د فتحی سره وی او حالت جزم به ئې په حذف د لام سره وی او دا ټولې پنځه صیغی دی هُوَ يَسْعَى وَلَنْ يَسْعَى وَلَمْ يَسْعَ .

(فصل)

فَصْلٌ: اَلْمَرْفُوْعُ عَامِلُهُ مَعْنَوِيٌّ وَهُوَ تَجَرُّدُهُ عَنِ النَّاصِبِ وَالْجَازِمِ نَحْوُ هُوَ يَضْرِبُ وَيَغْزُوْ وَيَرْمِيْ وَيَسْعٰى.

ترجمه و تشریح دویم فصل ده په بیان د فعل مرفوع او دا دې په عامل معنوی کښې دې، د فعل مضارع مرفوع به عامل معنوی وی او عامل معنوی به خالی وی د فعل مضارع د عامل نه چه هغه ناصب او جازم ده. لکه **هُوَ يَضْرِبُ وَيَغْزُوْ وَيَرْمِيْ وَيَسْعٰى** او دا مذهب د کوفیینو ده او د مصنف هم همدغه مذهب خوښ ده. او د بصریینو مذهب دا دی چه د فعل مضارع د اسم معرب په ځائې واقع کیدل صحیح دی، همدغه ئی عامل معنوی دی چه کوم د ته رفع ورکوی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

حل السوالات

(۱) **سوال**: د نحوی لغوی او اصطلاحی تعریف، مقصد او په اسلامی علومو کښی ددي مقام او دي نه پس د مصنف تعارف اولیکی؟

جواب د نحوی لغوی معنی: قصد کول

اصطلاحی معنی: اَلنَّحْوُ عِلْمٌ بِاُصُوْلٍ يُعْرَفُ بِهَا اَحْوَالُ اَوَاخِرِ الْكَلِمِ الثَّلٰثِ مِنْ حَيْثُ الْاِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ وَكَيْفِيَّةُ تَرْكِيْبِ بَعْضِهَا مَعَ بَعْضٍ.

غرض غایت مقصد: صِيَانَةُ الذِّهْنِ عَنِ الْخَطَاِ اللَّفْظِيِّ فِيْ كَلَامِ الْعَرَبِ.

(مقام و مرتبه د علم نحو)

علوم په دوه قسم دی (۱) مقصود عالیه (۲) مقصود غیر عالیه

علم نحو د غیر مقصود نه ده ځکه چه دا د علوم عالیه چه تفسیر او حدیث ده، د لپاره آله ده په خپله مقصود نه ده، لیکن مقصود لپاره موقوف علیه ده، د وجه نه صاحب مفتاح رحمه الله فرمائی چه د علم نحو حاصلول فرض کفایه ده.

(د حضرت عمر رضي الله عنه قول) تَعَلَّمُوا النَّحْوَ كَمَا تَعَلَّمُوْنَ السُّنَنَ وَالْفَرَائِضَ.

ترجمه: تاسو علم نحو زده کړي څرنګه چه سنن او فرائض زده کوی.

(د ایوب سجستاني رحمه الله قول) تَعَلَّمُوا النَّحْوَ فَاِنَّهُ جَمَالٌ لِلْوَضِيْعِ وَتَرْكُهُ هُجْنَةٌ لِلشَّرِيْفِ.

ترجمه: تاسو علم نحو زده کړی ځکه چه دا د ادنی سړی لپاره باعث جمال ده.

(د امام کسائی رحمه الله قول) اَلنَّحْوُ قِيَاسٌ يُتَّبَعُ وَبِهٖ كُلُّ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ.

ترجمه: علم نحو قابل اتباع قیاس ده او په هر علم کښی د ذریعی سر فائده اخستلی کیږی.

د دي عظمت او ضرورت ظاهرولو لپاره د علماء کرامو عجیب او غریب فرموادات دی. مثلاً (۱) اَلنَّحْوُ فِي الْكَلَامِ كَالْمِلْحِ فِي الطَّعَامِ (۲) اَلنَّحْوُ لِلْعُلُوْمِ كَالضَّوْءِ لِلنُّجُوْمِ (۳) اَلنَّحْوُ فِي الْكَلَامِ كَالضَّوْءِ فِي الظَّلَامِ

(د مصنف تعارف)

د مصنف نوم ،محمداو کنیت ئې ابوحیان، د پلار نوم یوسف

سلسله نسب

ابوحیان محمد بن یوسف بن علی بن حیان الاندلسی.

ولادت: د اندلس په ښار غرناطه کښې شوال ۶۵۴ھ کښې پیدا شوی، په ابتدائی عمر کښې حفظ مکمل کړو په علم تجوید و قرات وحدیث کښې مهارت کامله حاصل کړې وو ،علامه سیوطی رحمة الله علیه په علم نحو کښې تصنیف کړې چه د هغې نوم جمع الجوامع ده فرمائی چه پدې کتاب کښې ما څه شې لیکلی هغه مې د ابوحیان د تصانیفونه مې لیکلی ،د ابوحیان هم عصر صلاح الدین صفوی رحمه الله فرمائی کَانَ اَمِیْرُ الْمُؤْمِنِیْنَ فِی النَّحْوِ.

اساتذه کرام

ابومحمد عبدالحق رحمة الله علیه نه فن تجوید زده کړې وو

ابوجعفرغرناطی رحمة الله علیه او حافظ ابوعلی حسین بن عبدالعزیز رحمة الله علیه نه د قرات مشق کړې وو.

عبدالحلیم رحمة الله علیه فرمائی چه د ابوحیان ۱۴۵۰ استاذان وو.

علم الفقه علم الدین عراقی رحمة الله علیه نه حاصل کړې وو.

علم منطق او علم کلام د ابوجعفر بن زبیر رحمة الله علیه نه حاصل کړې وو

علم نحوئی ابوالحسن ابوجعفر بن زبیر ابوجعفر لیلی او ابن صائغ رحمة الله علیه نه حاصل کړو.

شاګردان

ابن عقیل او ابن هشام دا مشهور شاګردان دی.

تصانیف

تقریباً ۶۵ کتابونه په عربی او فارسی کښې لیکلی دی مشهور دادی، تفسیر بحر المحیط، (۲) شرح التسهیل (۳) منهج السالك شرح الفیه ابن مالك (۴) هدایة النحو

وفات: تاریخ وفات کښې اختلاف ده یو قول مطابق په ۷۴۳ھ کښې وفات شوی او دویم قول مطابق په ۷۴۵ھ کښې وفات شوی.

Maktaba Tul Ishaat.com

(٢ سوال)

الکلمة لفظ وضع لمعنی مفرد د کلمه تعریف او لفظ وضع لمعنی او مفرد معنی او ددي جملي ترکیب، فوائد او قیودات اولیکی

(جواب)

(١) **د کلمه تعریف**: کلمه هر هغه لفظ ده چه وضع کړي شوی وی معنی مفرد لپاره

(٢) **د لفظ لغوی معنی**: د لفظ لغوی معنی اندا ختن لکه محاوره کښې راخی اکلت التمرة ولفظت النواة (کهجوره می وخوړه او هډوکی می اوغرځولو)

اصطلاحی معنی: مایتلفظ به الانسان من حرف فصاعد (لفظ هغه ده چه انسان په هغې باندي تلفظ وکړي که هغه یو وی او که ډیر وی)

(٣) **وضع**: داد وضع نه مشتق ده په معنی د نهادن سره راخی

اصطلاحی معنی: یو شی بل شی سره پداسی طریقی سره خاص کول چه اول شی او ونیلی شی یا ذکر کړي شی، نو دویم شی په خپله ذهن کښې راشی لکه لفظ چاقو دسته او میوی لپاره خاص کړي شوی چه کله لفظ چاقو او ونیلی شی نو په خپله دسته او میوه په ذهن کښې راشی

(٤) **معنی**: معنی په وزن د فعل سره راخی، پدي کښې دري احتمالات دی:

(١) اسم مکان ده یعنی د قصد کولو ځائي (٢) مصدر میمی ده مگر دلته کښې اسم مفعول (مقصود) په معنی ده (٣) دا صیغه د اسم مفعول ده په اصل کښې معنوی وو په قانون د سید سره معنی جوړ شو.

مفرد: مفرد دا د اسم مفعول صیغه ده د باب افعال نه.

لغوی معنی: جدا کړي شوی

اصطلاحی معنی: لفظ مفرد هغه لفظ ده چه جز د لفظ په جزد معنی باندي دلالت نه کوی.

د جملی ترکیب

په دي جمله کښې د څلورو ترکیبونو احتمالات دی

اول احتمال: **الکلمة** مرفوع **لفظاً** مبتدا **لفظ** موصوف **وضع** فعل ماضی مجهول **هو** ضمیر پدي کښې مستتر ده راجع بسوئي لفظ مرفوع محلاً نائب فاعل **لام** حرف جار **معنی** مجرور تقدیراً جار سره د مجرور نه دا ظرف لغوی متعلق وضع فعل پوري، فعل سره د نائب فاعل او سره د متعلق نه دا

جمله فعلیه خبریه صفت اول شو، مفرد مرفوع لفظاً دا صفت ثاني شو، موصوف سره د دواړو صفتونو نه خبر شو لپاره د مبتدا مبتدا سره د خبر نه دا جمله اسمیه خبریه شوه

دویم احتمال مفرد مجرور **لفظاً** معنی لپاره صفت شو موصوف سره د صفت نه دا مجرور شو لپاره د جار، جار سره د مجرور نه دا ظرف لغوی متعلق وضع پوري، نور مخکښې ترکیب پشان ده.

دریم احتمال مفرداً منصوب لفظاً حال ده د وضع کښې هُوَ ضمیر مستتر نه، ذوالحال سره د خپل حال نه دا نائب فاعل شو وضع لپاره، سابقا ترکیب غوندې ده.

څلورم احتمال معنی مجرور تقدیرا ذوالحال مفرداً منصوب لفظاً حال، ذوالحال سره د خپل حال نه دا مجرور شو لپاره د لام جار جار سره د مجرور نه دا ظرف لغوی متعلق وضع فعل پوري سابق ترکیب غوندې ده.

فوائد قیودات

د کلمه په تعریف کښې لَفْظٌ ذکر ده دا په درجه د جنس کښې ده معرف ته هم شامل ده او غیر ته هم شامل ده لکه موضوع، مهمل، مفرد، مرکب ټولو ته شامل ده

او **وُضِعَ** دا لفظ فصل اول او قید اول ده دې نه مهملات لکه جسق وغیره خارج شول او سه پورې الفاظ مفرده او مرکبه او کلام تام او کلام ناقص ټول پکښې داخل دي

لمعنًی دا دریم فصل ده دې فصل او قید سره حروف هجاء خارج شول ځکه چه ددې وضع غرض ترکیب لپاره ده یعنی کلمات یو ځاي کولو لپاره دي لکه ض، ر، ب نه ضَرَبَ جوړیږي ددې هیڅ معنی نشته

مفرد دا دریم فصل ده، د فصل او قید سره مرکب تام او مرکب ناقص خارج شول ځکه چه مرکب ناقص مثلاً غُلَامُ زَيْدٍ ددې معنی ده د زید غلام. د یو جز نه ذات د زید او بل جز نه غلام اخلی، همدغه رنګې مرکب تام مثلاً زَيْدٌ قَائِمٌ کښې لفظ د زید په ذات د زید باندې دلالت کوی او قائم د هغه په ولاړ والی باندې دلالت کوی لهذا دا مفرد نده مرکب ده دې ته به کلام وئیلی شي، کلمه نه. او خارج ده اوس د کلمه تعریف جامع مانع شو

(۳) سوال

د کلمه اقسام، تعریف، وجه تسمیه او علامات سره د مثالونو ذکر کړې

جواب: کلمه په درې قسم ده (۱) اسم (۲) فعل (۳) حرف

لکه څرنګه چه وهی منقسمة نه مصنف صاحب د حصر دعوی کړی ده او لانها الخ نه د دلیل حصر بیان کړی ده

Maktaba Tul Ishaat.com

اسم ، فعل، حرف تعریف

اسم: اسم هغه کلمه ده چه بذات خود دلالت کوی په خپله معنی باندې یعنی بلې کلمې یوځائې کولو ته ضرورت نه وی او ددې معنی یو د دریو زمانو سره پیوست نه وی لکه رَجُلٌ او علم

فعل: هغه کلمه ده چه په خپله معنی باندې بذات خود دلالت کوی، یو دو دریو زمانو نه یوې زمانې پورې پیوست وی لکه ضَرَبَ، یَضْرِبُ، اِضْرِبْ

حرف: هغه کلمه ده چه په خپله معنی باندې بذات خود دلالت نه کوی ترسو چه بلې کلمې سره پیوست شوی نه وی لکه مِنْ او اِلٰی

دِ هر یو قسم وجه تسمیه

داسم وجه تسمیه: اسم په اصل کښې سمووو (بکسرالسین و سکون میم، دِ سمو معنی اوچت والې، او اسم هم په خپلو دوو اقسامو چه فعل او حرف ده په هغې اوچت ده، دِ وجه نه اسم ته اسم ونیلې شی

دفعل وجه تسمیه: فعل په اصل کښې دِ مصدر نوم وو، چه نحویانو یه نزد دا دِ فعل اصل ده نو اصل والانوم فرع ته ورکړې شو

د حرف وجه تسمیه: دِ حرف لغوی معنی طرف ده او دِ طرف معنی دِ کناره لکه جلست حرف الوادی ای طرف الوادی، او حرف په نحو کښې هم یو طرف ته واقع کیږی څکه چه دا مقصود نه وی څکه چه مقصود په کلام کښې مسند او مسند الیه وی، او حرف نه مسند وی او نه مسند الیه

اسم ، فعل، حرف علامات سره دِ مثالونو

داسم ۲۸ علامات دی (التحفة العلمیه) مگر صاحب کتاب لس علامات ذکر کړې دی

(۱) داخبار عنه صحیح کیدل یعنی مخبرعنه او محکوم علیه جوړیدل صحیح وی لکه زَیْدٌ قَائِمٌ

(۲) مضاف کیدل لکه غُلَامُ زَیْدٍ (۳) لام تعریف داخلیدل لکه اَلرَّجُلُ

(۴) مجرور کیدل یا حرف جر داخلیدل لکه بزید (۵) تنوین داخلیدل بزید.

(۶) تثنیه کیدل لکه رَجُلَانِ (۷) جمع کیدل لکه مسلمون (۸) صفت کیدل لکه رَجُلٌ عَالِمٌ

(۹) مصغر کیدل لکه قریشی (۱۰) منادی کیدل لکه یا عبدالله

دفعل علامت ۱۱ دی

(۱) اخبار به کیدل یعنی مخبر به او محکوم به جوړیدل صحیح وی لکه ضَرَبَ زَیْدٌ

(۲) په شروع کښې حرف قَدْ داخلیدل لکه قَدْ اَفْلَحَ
(۳) په شروع کښې سین داخلیدل لکه سیضرب
(۴) په شروع کښې سَوْفَ داخلیدل لکه سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ
(۵) مجزوم کیدل یعنی په آخر کښې جزم راوستل لکه لَمْ یَضْرِبْ
(۶) ماضی او مضارع طرف ته اړول یعنی کلمه ماضی او مضارع طرف ته اړول لکه ضَرَبَ الخ یَضْرِبُ الخ
(۷) امر کیدل لکه اضرب (۸) نهی کیدل لکه لاتضرب
(۹) ضمیر بارزه مرفوعه متصل کیدل لکه ضربت
(۱۰) تاء تانیث الساکنه متصل کول لکه ضربت (۱۱) د نون تاکید ثقلیه و خفیفه داخلیدل لکه اضربن اضرب

د حرف علامات

د حرف علامات دادی چه دا نه مخبر به او نه مخبر عنه کیدل صحیح وی او د اسم او فعل علاماتو نه یوه علامه پکښې نه وی لکه من او الی.

(۴ سوال)

اَلْکَلَامُ لَفْظٌ تَضَمَّنَ کَلِمَتَیْنِ بِالْاِسْنَادِ وَالْاِسْنَادُ نِسْبَةُ اِحْدَی الْکَلِمَتَیْنِ اِلَی الْاُخْرٰی بِحَیْثُ تُفِیْدُ الْمُخَاطِبَ فَائِدَةً تَامَّةً یَصِحُّ السُّکُوْتُ عَلَیْهَا نَحْوُ زَیْدٌ قَائِمٌ وَقَامَ زَیْدٌ:

(۱) اعراب لګول (۲) ترجمه لیکل (۳) په کلام کښې څومره احتمالات عقلی دی (۴) صحیح احتمالات کوم یو دی.

جواب

ترجمه: کلام هغه لفظ ده چه متضمن وی دوو کلمو لره اسناد سره، او دا اسناد به د یوې کلمې بلې کلمې لره پداسې طریقې سره وی چه فائده تامه ورکوی مخاطب لره یعنی د متکلم یا مخاطب به هغې باندې چپ کیدل صحیح وی لکه زَیْدٌ قَائِمٌ و قَامَ زَیْدٌ

کلام کښې احتمالات عقلی

کلام چونکه د دوو کلمو نه مرکب وی او د کلمه درې اقسام دی اسم، فعل، حرف نو دریو لره په دوو کښې ضرب ورکړی نو شپږ احتمالات جوړیږی، لهذا کلام کښې شپږ احتمالات وی (۱) دوو اسمونو نه مرکب وی (۲) دوو فعلونو نه مرکب وی (۳) دوو حرفونو نه مرکب وی (۴) اسم او فعل نه مرکب وی (۵) اسم او حرف نه مرکب وی (۶) فعل او حرف نه مرکب وی

Maktaba Tul Ishaat.com

صحيح احتمالات

د کلام په تعریف کښې اسناد معتبر ده او اسناد بغیر د مسند او مسند الیه نه ممکن نه وی نو معلومه شوه چه کلام د دوو اسمونو نه جوړیږی پدې کښې یو مسند وی او بل مسند الیه لکه زَیْدٌ قَائِمٌ کښې زید مسند الیه ده او قائم مسند ده دیته جمله اسمیه وئیلې شی یا فعل او اسم نه جوړ وی فعل مسند او اسم مسند الیه وی لکه قَامَ زَیْدٌ کښې قَامَ فعل او مسند ده او زَیْدٌ اسم او مسند الیه ده دیته جمله فعلیه وئیلی شی ځکه چه اول جزئی فعل ده.

(۵ سوال)

د اسم معرب تعریف او مثالونه ذکر کړی.؟

جواب

اسم معرب تعریف: هُوَ کُلُّ اِسْمٍ رُکِّبَ مَعَ غَيْرِهٖ وَلَا يُشْبِهُ مبنی الاصل کَقَامَ زَيْدٌ

اسم معرب تعریف: اسم معرب هغه ده چه بل سره مرکب وی او مبنی الاصل سره مشابه نه وی لکه قام زید کښې زید اسم معرب ده ځکه چه غیر سره مرکب ده او مبنی الاصل سره مشابه نه ده.

(۶ سوال)

د اسم مبنی تعریف، مثالونه، او مبنی الاصل څومره دی ؟

جواب

د اسم مبنی تعریف، وَهُوَ کُلُّ اِسْمٍ وَقَعَ غَيْرَ مُرَکَّبٍ مَعَ غَيْرِهٖ او مشابه مبنی الاصل

ترجمه: اسم مبنی هر هغه اسم ده چه غیر سره نه وی مرکب او مشابه وی مبنی الاصل سره لکه زَیْدٌ چه کله دا بل چا سره نه وی مرکب نو دا به مبنی وی په سکون سره او هٰؤُلَاءِ په قَامَ هٰؤُلَاءِ کښې دا مبنی ده سره ددې نه چه دا مرکب ده د غیر سره لیکن مبنی الاصل سره مشابهت دوجه نه مبنی ده.

مبنی الاصل دري دی

(۱) فعل ماضی (۲) امر حاضر (۳) او ټول حروف.

(۷ سوال)

اعراب، محل اعراب، معرب، او د عامل تعریف د سره سره د هریو مثال واضح کړی؟

جواب

داعراب تعریف: الاعراب ما به یختلف اخر المعرب:

ترجمه: اعراب هر هغه حرکت او حرف ده چه د سبب سره آخر د معرب مختلف کیږي

محل اعراب تعریف: د اسم معرب آخري حرف چه په کوم باندي اعراب راځي

معرب: هر هغه اسم ده چه بل سره مرکب وي او مبنی الاصل سره مشابه نه وي

عامل تعریف العامل ما به رفع او نصب او جر.

ترجمه: عامل هغه ده چه د چاد وجه نه رفع، نصب، جر راشي

د ټولو مثال

قَامَ زَیْدٌ، قام عامل ده زَیْدٌ معرب ده ضمه اعراب ده او دال محل اعراب ده

(۸ سوال)

د اعراب حرکتي تعریف او مثال اولیکی؟

جواب

اعراب حرکتي هغه اعراب ده چه ضمه، فتحه، کسره وي لکه "جَاءَنِيْ زَيْدٌ رَأَيْتُ زَيْدًا مَرَرْتُ بِزَيْدٍ" پدي کښي زید باندي فتحه کسره او ضمه ده دیته اعراب بالحرکت وائي

(۹ سوال)

اعراب حرفي تعریف او مثال ذکر کړي.

جواب

اعراب حرفي هغې ته وئیلې شي چه واو، الف یاء سره وي لکه "جَاءَنِيْ أَبُوْكَ رَأَيْتُ أَبَاكَ مَرَرْتُ بِأَبِيْكَ" أَبُوْكَ کښي واو اَبَاكَ کښي الف بِاَبِيْكَ کښي یاء دیته اعراب حرفي وائي

(۱۰ سوال)

فَصْلٌ فِيْ أَصْنَافِ إِعْرَابِ الْإِسْمِ وَهِيَ تِسْعَةُ أَصْنَافٍ اَلْأَوَّلُ أَنْ يَكُوْنَ الرَّفْعُ بِالضَّمَّةِ وَالنَّصْبُ بِالْفَتْحَةِ وَالْجَرُّ بِالْكَسْرَةِ وَيَخْتَصُّ بِالْمُفْرَدِ الْمُنْصَرِفِ الصَّحِيْحِ وَهُوَ عِنْدَ النُّحَاتِ مَا لَا يَكُوْنُ فِيْ اٰخِرِهٖ حَرْفُ عِلَّةٍ كَزَيْدٍ وَبِالْجَارِ مَجْرَى الصَّحِيْحِ وَهُوَ مَا يَكُوْنُ فِيْ اٰخِرِهٖ وَاوٌ أَوْ يَاءٌ مَا قَبْلَهَا سَاكِنٌ كَدَلْوٍ وَظَبْيٍ وَبِالْجَمْعِ الْمُكَسَّرِ الْمُنْصَرِفِ كَرِجَالٍ

(۱) مطلوب اشیاء: اعراب د اسم، اقسام وضاحت او امثله ذکر کړی (۲) مفرد منصرف صحیح او جاري مجری صحیح تعریف (۳) لفظ مفرد په خو معنو کښي استعمالیږي او دلته کومه معنی مراد ده

(۲) مفرد سره منصرف او جمع سره د مکسر قید ولی اولګولې شو؟

جواب

(۱) د اسم اعراب ټول په نهه قسمه دی: (۱) ضمه په رفع سره او نصب فتحی سره او جر کسري سره دا قسم د اسم معرب دري اقسامو سره خاص ده.

(۱) مفرد منصرف صحیح (۲) جاری مجری صحیح (۳) جمع مکسر منصرف.

د دریو وارو مثالونه جَاءَنِیْ زَیْدٌ وَدَلْوٌ وَرِجَالٌ رَأَیْتُ زَیْدًا وَدَلْوًا وَرِجَالًا مَرَرْتُ بِزَیْدٍ وَدَلْوٍ وَرِجَالٍ.

(۲) رفع په ضمي سره نصب او جر په کسری سره دا قسم اعراب جمع مؤنث سالمی سره خاص ده لکه هُنَّ مُسْلِمَاتٌ رَأَیْتُ مُسْلِمَاتٍ مَرَرْتُ مُسْلِمَاتٍ. (۳) رفع ضمي سره، نصب او جر فتحی سره دا قسم اعراب غیر منصرف سره خاص ده لکه جَاءَنِیْ عُمَرُ رَأَیْتُ عُمَرَ مَرَرْتُ بِعُمَرَ.

(۴) رفع په واو سره، نصب الف سره او جر یاء سره دا قسم اعراب اسماء سته مکبره سره خاص ده لکه جَاءَنِیْ اَبُوْكَ رَأَیْتُ اَبَاكَ مَرَرْتُ بِاَبِیْكَ.

(۵) رفع په الف سره، نصب او جر یاء ماقبل مفتوح سره دا قسم تثنیه او ملحقات د تثنیه سره خاص ده لکه جَاءَنِیْ رَجُلَانِ كِلَاهُمَا وَاثْنَانِ رَأَیْتُ رَجُلَیْنِ كِلَیْهِمَا وَاثْنَیْنِ مَرَرْتُ بِرَجُلَیْنِ كِلَیْهِمَا وَاثْنَیْنِ.

(۶) رفع واو ماقبل مضموم سره، نصب او جر یاء ما قبل مکسور سره دا قسم اعراب د جمع او ملحقات د جمع سره خاص ده لکه جاءنی مسلمون واو لومال و عشرون، رایت مسلمین واولی مال و عشرین، مررت بمسلمین واولی مال و عشرین.

(۷) رفع په ضمه تقدیری سره، نصب فتحه تقدیری سره او جر کسره تقدیری سره دا قسم اعراب اسم مقصور او هغه اسم سره خاص ده چه کوم جمع مذکر سالم وی او متکلم طرف ته مضاف وی، جاءنی موسیٰ و غلامی، رایت موسیٰ و غلامی، مررت بموسیٰ و غلامی

(۸) رفع په ضمه تقدیری سره، نصب په فتحه لفظی سره او جر په کسره تقدیری سره دا قسم اعراب اسم منقوص سره خاص ده لکه، جاءنی القاضی رایت القاضی مررت بالقاضی

(۹) رفع په واو تقدیری سره، نصب او جر یاء لفظی سره دا قسم اعراب جمع مذکر سالم سره خاص ده چه کله یاء متکلم طرف ته مضاف وی لکه جاءنی مسلمی رایت مسلمی مررت بمسلمی

(۲) مفرد منصرف صحیح تعریف

مفرد منصرف صحیح دا هر هغه اسم ده چه لام کلمی په مقابله کښی حرف علت نه وی راغلی

بیا عام ده که د فاء، عین په مقابله کښې حرف علت وی او که نه وی لکه رجل زید وغیره.

جاري مجری صحیح تعریف

دا هغه اسم ده چه لام کلمه په مقابله کښې واو یا یاء راغلي وی او ماقبل ساکن وی لکه دَلْوٌ، ظَبْيٌ وغیره

(۳) د لفظ مفرد معنی استعمال

لفظ مفرد په څو معنو سره راځي:

(۱) په مقابله د مرکب کښې وی دا مفرد ده مرکب نه ده.

(۲) په مقابله د تثنیه جمع کښې وی دا لفظ مفرد ده یعنی تثنیه، جمع نه ده.

(۳) په مقابلې د مضاف او شبه مضاف کښې وی دا لفظ مفرد ده یعنی مضاف شبه مضاف نه ده

(۴) په مقابلې د جملې او شبه جملې کښې وی دا لفظ مفرد ده یعنی جمله یا شبه جمله نه ده.

دقید وجه

مفرد سره منصرف قید ځکه اولګو چه غیر منصرف خارج شی ځکه چه دا اعراب د دي نه ده او جمع سره مکسر قید ځکه اولګو چه جمع سالم تري خارج شی ځکه چه دا اعراب د دي نه ده.

(۱۱ سوال)

د غیر منصرف، جمع مذکر سالم، اسماء سته مکبره د دي اعراب سره د مثالونو ذکر کړي؟

جواب

د غیر منصرف اعراب: رفع په ضمی سره نصب او جر په فتحی سره لکه جاء نی عمر، رایت عُمرَ، مررت بعمرَ.

د جمع مذکر سالم اعراب: رفع په واو ماقبل مضموم سره، نصب او جر یاء ماقبل مکسور سره، لکه جاء نی مسلمون رایت مسلمین مررت بمسلمین.

د جمع مؤنث سالمی اعراب: رفع په ضمی سره، نصب او جر کسری سره لکه هُنَّ مسلماتٌ، رایت مسلماتٍ. مررت بسلمات.

اسمائي سته مکبره: دادی اب، اخ، حم، هن، فم، ذومال د دي اعراب رفع په واو سره نصب په الف سره او جر په یاء سره لکه جاء نی اخوك، رایت اخاك، مررت باخیك

(۱۲ سوال)

لاحول ولاقوة کښې څو وجه جائز دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب

پدې کښې پنځه وجه جائز دی:

(۱) دواړه په فتحې سره وئیل لکه لاحولَ ولاقوةَ

(۲) دواړه په رفع سره وئیل لکه لاحولٌ ولاقوةٌ

(۳) اول فتح او ثانی نصب لکه لاحولَ ولاقوةً

(۴) اول په فتحې سره او ثانی په رفع سره لکه لاحولَ ولاقوةٌ

(۵) اول په په رفع سره او ثانی په فتحې سره لکه لاحولٌ ولاقوةَ

(۱۳ سوال)

صحیح، جاری مجری صحیح، جمع مکسر، جمع سالم، اسم مقصور، اسم منقوص تعریف سره د مثالونو ذکر کړې.

جواب

صحیح دا هر هغه اسم ده چه لام کلمه په مقابله کښې حرف علت نه وی لکه زید.

جاری مجری صحیح: دا هر هغه اسم ده چه په آخر کښې حرف علت واو یا یاء وی او ماقبل ساکن وی لکه دَلْوٌ، ظَبْیٌ.

جمع مکسر چه بناء د واحد په کښې روغه پاتې نه وی لکه رجل جمع رجالٌ.

جمع سالم: دا هغه جمع ده چه بناء د واحد په کښې روغه پاتې وی د مذکر مثال لکه مسلمون او د مؤنث مثال لکه مسلمات

اسم مقصور: دا هغه اسم ده چه آخر کښې الف مقصوره راغلی وی لفظ وی یا تقدیراً لکه موسیٰ او عصا.

اسم منقوص: دا هغه اسم ده چه د لام کلمې په مقابله کښې تعریف علت وی لکه قاضی په اصل کښې قاضیٌ وو.

(۱۴ سوال)

مسمعات، اعصا، عمر، قاضی پدې مذکوره اسمونو کښې حالت رفعی، نصبی، جری کښې به کوم اعراب وی

جواب

مسمعات جمع مونث سالم ده د دې اعراب حالتې رفع په ضمې سره او نصبی او جری په کسرې سره

عصا دا اسم مقصور ده، ددې اعراب حالت رفعی په ضمې تقدیری سره نصب په فتحه تقدیری

سره او جر په کسره تقدیری سره

عمر: دا اسم غیر منصرف ده ددې اعراب حالت رفعی په ضمې سره او نصب او جرئې په فتحه سره

قاضی: دا اسم منقوص ده ددې اعراب حالت رفعی په تقدیر د ضمې سره او نصب په فتحه لفظی سره او جر په کسره تقدیری سره.

(۱۵ سوال)

اَلرَّابِعُ اَنْ یَکُوْنَ الرَّفْعُ بِالْوَاوِ وَالنَّصْبُ بِالْاَلِفِ وَالْجَرُّ بِالْیَاءِ وَیَخْتَصُّ بِالْاَسْمَاءِ السِّتَّةِ الْمُکَبَّرَةِ

پدې سوال کښې څلور اشیاء مطلوب دی

(۱) د اسماء سته مکبره اعراب او اسماء سته مکبره کوم یو دی؟

(۲) د اسماء سته مکبره شرائط ذکر کړی؟

(۳) د اب، اخوان، حمی، اخی د دې اعراب ذکر کړي؟

(۴) مذکوره متن باندې اعراب اولګوی؟

جواب

(۱) اسماء سته مکبره ټول شپږ دی: (۱) اَبٌ (۲) اَخٌ (۳) حَمٌ (۴) هَنٌ (۵) فَمٌ (۶) ذومالٍ

د اسماء سته مکبره اعراب

د اسماء سته مکبره اعراب رفع په واو سره نصب په الف سره او جر په یاء سره

د اسماء سته مکبره لپاره شرائط

د اسماء سته مکبره اعراب لپاره څلور شرائط دی

(۱) مکبر به وی مصغر به نه وی (۲) واحد به وی تثنیه او جمع به نه وی (۳) مضاف به وی غیر مضاف به نه وی (۴) د یاء متکلم نه علاوه بل اسم طرف ته به مضاف وی

د اب، اخوان، حمی، اخی اعراب

اب: چونکه غیر مضاف ده ددې اعراب به مفرد منصرف صحیح والاوی رفع په ضمې سره، نصب په فتحی سره، جر په کسری سره

اخوان: مفرد نده بلکه تثنیه ده نو اعراب به هم تثنیه والاوی یعنی رفع په الف سره، نصب و جر یاء ماقبل مفتوح سره

حمی: دا چونکه یاء متکلم طرف ته مضاف ده نو ددې اعراب به غلامی والاوی یعنی رفع په ضمه تقدیری سره، نصب په فتحه لفظی سره او جر په کسره تقدیری سره.

Maktaba Tul Ishaat.com

اخي دا مکبر نده بلکه مصغر ده نو ددي اعراب به جاري مجري صحیح والاوي یعني رفع په ضمی سره ،نصب په فتحی سره او جر په کسري سره

(۱۶ سوال)

اَلْاِسْمُ الْمُعْرَبُ عَلٰی نَوْعَیْنِ مُنْصَرِفٌ وَهُوَمَالَیْسَ فِیْهِ سَبَبَانِ اَوْوَاحِدٌ یَقُوْمُ مَقَامَهُمَا مِنَ الْاَسْبَابِ التِّسْعَةِ کَزَیْدٍ.

پدي سوال کښي څلور اشیاء مطلوب دي

(۱) اعراب لګول (۲) منصرف او غیر منصرف تعریف سره د مثالونو (۳) اسباب تسعه کوم کوم دي (۴) د منصرف او غیر منصرف حکم ذکر کول

جواب

(۱) **د منصرف تعریف** دا هغه اسم ده چه دي کښي یو سبب قائمقام د دوو سببونو وي یا دوه سببه په کښي نه وي او د اسباب منع صرف نه لکه زید وغیره

(۲) **غیر منصرف تعریف** دا هغه اسم ده چه دي کښي دوو سببه یا یو سبب قائمقام دِ دوو سببونو وي دا سباب منع صرف نه لکه عمر ،زفر پدي کښي عدل او علم ده او حمراء کښي تانیث بالالف الممدوده ده چه قائمقام د دوو سببونو ده

(۳) **اسباب تسعه** اسباب تسعه سره د مثالونو او دا تول نهه دی

(۱) عدل لکه عمر ،زفر (۲) وصف لکه ثلث ،مثلث (۳) تانیث لکه طلحة ،زینب ،حمراء ،وغیره (۴) معرفه لکه فاطمة (۵) عجمه لکه ابراهیم ،سقر ،ماه ،جور (۶) جمع لکه مساجد ،مصابیح (۷) ترکیب لکه بعلبك (۸) الف نون زائد تان لکه عمران (۹) وزن فعل لکه احمر وغیره

د منصرف او غیر منصرف حکم

د منصرف حکم داده چه پدي باندي دري واړه اعراب سره د تنوین نه داخلیږی لکه جاء نی زیدٌ رایت زیداً مررت بزیدٍ

د غیر منصرف حکم داده چه پدي باندي کسره او تنوین نه داخلیږی لکه جاءنی عمر رایت عمر مررت بعمر

(۱۷ سوال)

اَمَّا الْعَدْلُ فَهُوَتَغْیِیْرُاللَّفْظِ مِنْ صِیْغَتِهِ الْاَصْلِیَّةِ اِلٰی صِیْغَةٍ اُخْرٰی تَحْقِیْقًا اَوْتَقْدِیْرًا وَلَا

يَجْتَمِعُ مَعَ وَزْنِ الْفِعْلِ أَصْلًا وَيَجْتَمِعُ مَعَ الْعَلَمِيَّةِ كَعُمَرَ وَزُفَرَ وَمَعَ الْوَصْفِ كَثُلٰثَ وَمَثْلَثَ:

په دي سوال کښي مذکوره اشياء مطلوب دی:

(۱) اعراب لګول (۲) ترجمه ليکل (۳) د عدل تعريف او اقسام (۴) عدل سره کوم اسباب جمع کيږي او کوم نه جمع کيږي، عدل په څو معنو سره استعماليږي

جواب

د متن ترجمه: عدل هغې ته وئيلی شي چه د خپل اصل شکل نه بل شکل طرف ته منتقل شي که هغه تحقيقاً وی او که تقديراً وی، او عدل وزن فعل سره نه جمع کيږي بالکل او عدل د علميت سره جمع کيږي لکه عُمَرَ و زفر او د وصف سره جمع کيږي لکه ثلث و مثلث

د عدل تعريف او اقسام

د عدل تعريف: عدل هغې ته وئيلی شي چه د خپل اصل نه بل شکل طرف ته منتقل شي لکه عمر.

د عدل اقسام

(۱) عدل تحقيقي (۲) عدل تقديري

عدل تحقيقي: هغې ته وئيلی شي چه د غير منصرف کيدلو نه علاوه دويم دليل هم موجود وی چه داد اصل صيغې نه وتلي ده، يعني که چيري د ته غير منصرف هم او نه وئيلی شي نو بيا هم ددي په معدول والي باندي دليل موجود وی لکه ثلث او مثلث د دواړو معنی دري دري ده چه دا په اصل کښي ثلثة ثلثة ده.

عدل تقديري: هغې ته وئيلی شي چه د باندي غير منصرف والي نه علاوه بل دليل نه وی موجود چه دا د بلي صيغې نه وتلي دي، لکه عمر، زفر.

د عدل سره جمع والا اسباب

عدل وزن فعل سره نه جمع کيږي، علميت او وصف سره جمع کيږي

د عدل معنی

عدل په پنځو معنو سره راځي (۱) عدل په معنی د ميلان سره چه کله صله کښي اِلیٰ واقع شي لکه عدل اليه اي مال اليه (۲) دويمه په معنی د اعراض سره چه کله صله کښي عَنْ واقع شي لکه فلان عدل نه ای اعرض عنه (۳) په معنی د تغير او تصرف سره راځي چه کله صله کښي في راشي لکه فلان عدل فيه ای صرف فيه (۴) څلورم په معنی د بُعْد سره راځي چه کله صله کښي مِنْ راشي لکه عدل الجمل من البعير ای بعد الجمل من العير (۵) په معنی د استواء سره راځي

چه کله صله کښې بَیْنَ راشی لکه عدل الامر بین ذا وکذا ای استوی الامر بین ذا وکذا.

(۱۸) سوال

أَمَّا الْوَصْفُ فَلَا يَجْتَمِعُ مَعَ الْعَلَمِيَّةِ أَصْلًا وَشَرْطُهُ أَنْ يَكُوْنَ وَصْفًا فِي أَصْلِ الْوَضْعِ فَأَسْوَدُ وَأَرْقَمُ غَيْرُ مُنْصَرِفٍ وَإِنْ صَارَا اسْمَيْنِ لِلْحَيَّةِ لِأَصَالَتِهِمَا فِي الْوَصْفِيَّةِ وَأَرْبَعٌ فِي مَرَرْتُ بِنِسْوَةٍ أَرْبَعٍ مُنْصَرِفٌ مَعَ أَنَّهُ صِفَةٌ وَوَزْنُ الْفِعْلِ لِعَدَمِ الْأَصَالَةِ فِي الْوَصْفِيَّةِ:

پدې سوال کښې دا مذکور اشیاء مطلوب دی.

(۱) اعراب لګول (۲) ترجمه لیکل (۳) وصف د علمیت سره ولی نه جمع کیږی.

جواب

ترجمه: وصف د علمیت سره بالکل نه جمع کیږی او دلپاره شرط داده چه په اصل وضع کښې به وصف وی، پس أسْوَد او ارقم غیر منصرف ده اګرچه دا دواړه د مار لپاره نومو ګرځیدلی دی، ځکه چه دوی اصل دی په وصفیت کښې، او أرْبَعٌ په مَرررت بنسوة اربع کښ منصرف ده سره ددې نه چه دا صفت او وزن فعل ده، له وجه د عدم اصالة نه په وصفیت کښې.

د نه جمع والی وجه

وصف د علمیت سره بالکل نه جمع کیږی ځکه چه وصف کښې ابهام وی او علم کښې تعین وی نو دواړه د یو بل ضد دی او د دواړو ضد ینو اجتماع نا جائز ده.

(۱۹) سوال

أَمَّا التَّانِيْثُ بِالتَّاءِ فَشَرْطُهُ أَنْ يَكُوْنَ عَلَمًا كَطَلْحَةَ وَكَذٰلِكَ الْمَعْنَوِيُّ:

دا لاندې مذکور اشیاء مطلوب دی.

(۱) اعراب لګول (۲) او تانیث په څو قسمه ده (۳) وکذلك المعنوی کښې د تانیث معنوی د تانیث لفظی سره په کوم امر کښې تشبیه ورکړی ده.

جواب

د تانیث اقسام

تانیث په څلور قسمه ده:

(۱) تانیث بالتاء اللفظی (۲) تانیث معنوی (۳) تانیث بالالف المقصوره (۴) تانیث بالالف الممدوده.

وکذلک المعنوی کښی تشبیه

وکذلك المعنوی کښی د تانیث معنوی د تانیث لفظی سره تشبیه په اشتراط علمیت کښی ده لکه څرنګه چه تانیث لفظی د سبب جوړیدلو لپاره علمیت شرط ده نو همدغه رنګی په تانیث معنوی کښی هم شرط ده، مګر دواړو کښی فرق داده چه تانیث لفظی کښی علمیت شرط ده وجوباً او تانیث معنوی کښی علمیت شرط ده جوازاً

(۲۰ سوال)

اَمَّا الْمَعْرِفَةُ فَلَا يُعْتَبَرُ فِي مَنْعِ الصَّرْفِ مِنْهَا اِلَّا الْعَلَمِيَّةُ وَتَجْتَمِعُ مَعَ غَيْرِ الْوَصْفِ:

پدي سوال کښی دا مذکوره اشیاء مطلوب دی

(۱) اعراب لګول (۲) ترجمه لیکل (۳) معرفه تعریف (۴) د علمیت نه علاوه د معرفې باقی اقسام د غیر منصرف نه کیدلو وجه

جواب

(۱) **ترجمه**: هرچه معرفه ده پدي کښی نده معتبر په منع صرف والی کښی مګر علمیت او دا جمع کیږی د وصف نه علاوه

(۲) **د معرفه تعریف**: معرفه دا هرهغه اسم ده چه ذات معین لپاره وضع کړي شوی وی

() د غیر منصرف نه کیدلو وجه: دغیر منصرف سبب جوړیدلو وجه داده چه دي کښی بعض اقسام مثلاً مضمرات، اسماء اشارات، اسماء موصولات دا ټول مبنی دی او مبنی ضد د معرب ده او غیر منصرف قسم د اسم معرب ده، نو دا ټول د غیر منصرف ضد دی، یو ضد د بل ضد څرنګه سبب جوړیږی

او بعض اقسام د غیر منصرف لره منصرف یا په حکم د منصرف کښی جوړه وی لکه معرفه بالاضافت او معرفه بالالف واللام لهذا دا هم سبب نه جوړیږی او معرفه بالنداء په حکم د معرف باللام کښی ده د نحویانو په نزد باندي، لهذا دا هم سبب نشی جوړیدلي، کچرته معرفه بالنداء مفرد معرفه وی نو مبنی به وی او دا څرنګه سبب جوړیدلي شی، کچرته مضاف یا شبه مضاف وی نو غیر منصرف لره منصرف یا په حکم د منصرف کښی جوړه وی، کچرته نکره غیر معین وی نو معرفه به نه وی، لهذا معرفه بالنداء سبب د منع صرف والی نه جوړیږی

(۲۱ سوال)

اَمَّا الْعُجْمَةُ فَشَرْطُهَا اَنْ يَّكُوْنَ عَلَمًا فِي الْعُجْمَةِ وَزَائِدَةً عَلٰى ثَلٰثَةِ اَحْرُفٍ

Maktaba Tul Ishaat.com

كَـاِبْرَاهِيْمَ اَوْثُلَاثِيًّا مُتَحَرِّكَ الْاَوْسَطِ كَشَتَرٍ فَلِجَامٌ مُنْصَرِفٌ لِعَدَمِ الْعَلَمِيَّةِ وَنُوْحٌ مُنْصَرِفٌ لِسُكُوْنِ الْاَوْسَطِ:

جواب

پدي مذکوره سوال کښې لاندينې اشياء مطلوب دي

(۱) اعراب لګول (۲) د عبارت وضاحت کول (۳) او د عَلَمًا في العجمة مطلب څه شيي ده.

د عبارت وضاحت عجمه د غیر منصرف جوړيدلو سبب لپاره دوه شرائط دي.

(۱) دا لغت به د عجمونه وي او چا دپاره به علم وي (۲) او هغه کلمه به د دريو حروفو نه زياته وي لکه ابراهيم يا دري حرفي وي بيا به متحرك الاوسط وي لکه شَطَرَ پس لجام منصرف ده ځکه چه دا علم نه ده او نوح هم منصرف ده ځکه چه ثلاثي ساکن الاوسط ده (۳) د علما في العجمة مطلب داده چه داکلمه به عجمي لغت والا او علم به وي. که حقيقتاً علم وي لکه ابراهيم دا عربي لغت طرف ته منتقل کيدونه مخکښې په عجمي لغت کښې علم وو، بغير د څه شي تبديلي نه لغت عربي طرف ته منتقل شو يا حکماً علم وي لکه قالون دا لغت عربي طرف ته منتقل کيدونه مخکښې په عجمي لغت کښې حقيقتاً علم نه وو بلکه اسم جنس وو.

هر جيّد شي ته قالون وائي. بيا لغت عربي طرف ته منتقل کيدونه بعد په معنی جنسي کښې استعماليدونه مخکښې علم وګرځيده قراء حضراتو کښې يو صاحب قرآن دپاره قاري علم وګرځيده جودت قرآت دوجه نه او هغه لفظ عجمي چه کوم لغت عربي طرف ته منتقل کيدو سره په خپل معنی جنسي کښې استعمال کيدونه مخکښې علم شي نو هغه حکماً علم وي ځکه چه دا بغير دتبدل او تغير نه محفوظ کيږي.

(۲۲)سوال

هغه کوم سببونه دي چه د عجمي د منع صرف والي لپاره شرط دي او ابراهيم، لجام، نوح پدې کښې کوم منصرف ده او کوم غير منصرف ده.

جواب

سبب د عجمي د منع صرف والي لپاره دوه شرائط دي:

(۱) علميت (۲) دري حرفونونه به زيات وي يا به ثلاثي متحرك الاوسط وي

دوم: ابراهيم غير منصرف ده د علميت او عجم دوجه نه او لجام منصرف ده ځکه چه علميت په کښې نشته او نوح منصرف ده ځکه چه متحرك الاوسط نه ده

(۲۳سوال)

هغه کوم سببونه دی چه د جمع د غیر منصرف جوړیدلو لپاره شرط دی تفصیل سره بیانول، د بعلبك، معدیکرب، تغلب، نرجس، حبلی، صیاقلة د مثالونو کښی کوم منصرف دی او کوم غیر منصرف دی وجه سره اولیکی

جواب

اول د جمع غیر منصرف والی لپاره دوه شرائط دی

(۱) چه دا جمع به په وزن د منتهی الجموع سره وی، که چیری جمع وی خو په وزن د منتهی الجموع سره نه وی نو دا به د غیر منصرف والی لپاره سبب نشی جوړیدی لکه رِجَالٌ، نِسْوَةٌ وغیره

(۲) په آخر کښی به داسی تاء نه وی چه هغه په حالت د وقف کښی هاء سره بدل شی که چیری داسی نه وی نو دا جمع به دغیر منصرف والی لپاره سبب نشی جوړیدی لکه صَیَاقِلَةٌ د صَیْقَلٌ جمع ده او د منتهی الجموع په وزن هم ده مگر په آخر کښی تاء ده لهذا دا به منصرف وی.

دویم: مذکوره مثالونو کښی کوم منصرف دی او کوم غیر منصرف دی:

بعلبك او معدیکرب غیر منصرف ده د وجه نه چه دي کښی ترکیب او علمیت ده، تغلب او نرجس هم غیر منصرف ده دوجه نه چه دي کښی وزن فعل او علمیت ده، حُبْلی غیر منصرف ده ځکه چه دِکښی الف مقصوره دی چه داقائمقام ددوو سببونو ده، صَیَاقِلَةٌ منصرف ده اگرچه دا جمع ده او جمع منتهی الجموع ده مگر په آخر کښی تاء ده په حالت د وقف کښی هاسره بدلیږی

(۲۴سوال)

اَمَّا التَّرْکِیْبُ فَشَرْطُهٗ اَنْ یَّکُوْنَ عَلَمًا بِلَا اِضَافَةٍ وَّلَا اِسْنَادٍ فَعَبْدُ اللّٰهِ مُنْصَرِفٌ وَمَعْدِیْکَرَبَ غَیْرُ مُنْصَرِفٍ وَشَابَ قَرْنَاهَا مَبْنِیٌّ:

پدي سوال کښی مذکوره اشیاء مطلوب دی

جواب

(۱) اعراب لگول (۲) ترجمه لیکل (۳) د ترکیب لغوی او اصطلاحی معنی

ترجمه: ترکیب لپاره شرط داده چه دا به علم وی بغیر د اضافت او اوسناد نه لکه

بَعلَبكَ، پس عبد الله منصرف ده او معديكرب منصرف ده او شَابَ قَرنَاهَا مبني ده.

د ترکيب لغوي معنی: ترکيب مصدر ده د باب تفضيل نه په معنی د يوځائي کولو سره.

اصطلاحي معنی: د ترکيب اصطلاحي معنی دوه يا دوه نه زيات حروف يوځائي کول.

(۲۵سوال)

وَاعْلَمْ اَنَّ كُلَّ مَا شُرِطَ فِيهِ الْعَلَمِيَّةُ اَوْلَمْ يُشْتَرَطْ فِيهِ ذٰلِكَ وَاجْتَمَعَ مَعَ سَبَبٍ وَاحِدٍ فَقَطْ اِذَا نُكِّرَ صُرِفَ:

پدي سوال کښې لاندي مذکوره اشياء مطلوب دي.

(۱) اعراب لګول (۲) ماشرط فيه العلميت اولم يشترط فيه ذلك ددي مصداق کوم اشياء دي

جواب

(۱) په متن باندي اعراب لګولي شوي ده.

(۲) د ماشرط فيه العلميت مصداق څلور اشياء دي.

(۱) مؤنث بالتاء اللفظي او مؤنث معنوي (۲) عجمه (۳) ترکيب (۴) هر هغه اسم چه هغی کښې الف او نون زائد تان وی

اولم يشترط فيه ذلك مصداق دوه اشياء دي (۱) علم عدول (۲) وزن فعل

(۲۶سوال)

المقصد الاول فی المرفوعات: (۱) مرفوعات څومره دي او د هر يو مثال اوليکی (۲) مرفوعات د مرفوع جمع ده يا د مرفوعة (۳) مرفوعات په منصوباتو او مجروراتو باندي ولې مقدم کړي شو.

جواب

مرفوعات ۸ دي (۱) فاعل لکه ضَرَبَ زَيْدٌ کښې لفظ زيد (۲) مفعول مالم يسم فاعله لکه ضُرِبَ زَيْدٌ کښې لفظ زيد (۳) مبتدا لکه زَيْدٌ قَائِمٌ کښې زيد (۴) خبر لکه زَيْدٌ قَائِمٌ کښې قائم (۵) خبر دانّ او اخواتو ددی لکه اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ کښې قائم (۶) اسم د کان او اخواتو ددی لکه كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا کښې زيد (۷) اسم دما ولا مشبهتين بليس لکه مَا زَيْدٌ بِقَائِمٍ کښې زيد (۸) خبر دلائی نفی جنس لکه لَا رَجُلَ قَائِمٌ کښې لفظ قائم

دويم مرفوعات د مرفوع يا د مرفوعة جمع ده، دا د مرفوع جمع ده نه دي مرفوعة ځکه چه د

مرفوعات مفرد اسم صفت ده او اسم مذکر ده لهذا ددی صفت هم مذکر راوړل پکار دی

دریم مرفوعات په منصوباتو او مجرورات باندي ولي مقدم کړو، ځکه مقدم کړو چه مرفوعات عمده ده او دا اکثر مسندالیه وی او مسند الیه عمده وی نو عمده مقدم کول پکار دی

سوال أَمَّا التَّرْكِيبُ فَشَرْطُهُ أَنْ يَكُونَ عَلَمًا بِلَا إِضَافَةٍ وَلَا إِسْنَادٍ كَبَعْلَبَكَّ فَعَبْدُ اللهِ مُنْصَرِفٌ وَمَعْدِيكَرِبُ غَيْرُ مُنْصَرِفٍ وَشَابَ قَرْنَاهَا مَبْنِيٌّ.

د مذکوره پورتني عبارت مطلب بیان کړی او ولیکئ چی مصنف رحمة الله علیه د ترکیب په منع صرف کښي د مؤثر کیدو لپاره د علمیت اوبلا اضافة او بلا اسناد شرط ولی راوړی

جواب: د دې دواړو سوالونو په یو ځای کولو سره پنځه شیان مطلوب دی

اول: د عبارت ترجمه لیکن بیا د ترکیب شرط دادی چی هغه علم وی بغیرد اضافت او اسناده لکه بَعْلَبَکَّ بیا عبدالله منصرف دی او معدیکرب منصرف دی او شاب قرناها مبنی دی

دویم: د عبارت مطلب په دې عبارت سره په اسباب منع صرف کښی د ترکیب د سبب جوړیدو لپاره دوه شرطونه دی او د مطابقی او احترازی مثالونه ذکر شوی دی اول شرط دا ده چی هغه مرکب به علم وی دویم شرط دادی چی ترکیب اضافی او اسنادی به وی د مطابقی مثال بَعْلَبَکَّ او مَعْدِیکَرِبَ دا دواړه غیر منصرف دی، ځکه په دوئ کښی دوه سببونه ترکیب او علمیت موجود دی او د ترکیب د مؤثر کیدو شرط هم موجود دی علم هم دی او ترکیب اسنادی او اضافی هم نه دی داحترازی مثال عبدالله دا منصرف دی، ځکه په دا مرکب اضافی دی اواحترازی مثال لکه شَابَ قَرْنَاهَا دا مبنی دی، ځکه په دا مرکب اسنادی دی مرکب اسنادی چی کله علم جوړشی نو مبنی کیږی

دریم: د ترکیب لغوی او اصطلاحی معنی: ترکیب مصدر ده دبا به تفصیل نه لغوی معنی جوړه کول او مرکب کیدل او اصطلاحی معنی د دوو یا تر دوو نه زیاتو کلمو بغیر دیو حرف نه جز کیدل یو کیدل

څلورم: دې مصنف رحمة الله علیه د ذکر کړې شوی تولو اتفاقی او احترازی مثالونو وضاحت: مصنف رحمة الله علیه څلور مثالونه ذکر کړی دی بعلبك، او معدیکرب دا اتفاقی مثالونه دی بعل دیوبت نوم ده او بك د باچا نوم ده چاچی ښار جوړ کړی وو دواړه اسمونه سره یو ځای شو ددې ښار نوم و ګرځید په دی کښی هیڅ جزء حرف عطف ته شامل هم نه دی او ترکیب اسنادی او اضافی هم نشته، ځکه نو دا د ترکیب او علمیت په وجه سره غیر منصرف دی او معدیکرب دیو سړی نوم دی مَعْدِی او کَرِبَ دوه اسمونه وو دا دواړه اسمونه سره یو ځای شول

Maktaba Tul Ishaat.com

چونکه دا مرکب اضافي هم نه دی او اسنادي هم نه، نو ده ځکه دا هم د ترکيب او علميت په وجه سره غير منصرف دی او عبد الله او شاب قرناها احترازي مثالونه دی عبد الله منصرف دی که څه هم علم خو دی مګر د دويم شرط لومړی شق چې ترکيب اضافي به نه وي په دې کښې شته، نو ځکه دا مرکب اضافي دی او دا منصرف وګرځيدو او شاب قاناها دا د دويم شرط په قسم ثاني تفريع دی دا مبني دی، ځکه مرکب اسنادي دی شاب فعل او قرناها مضاف سره له مضاف اليه فاعل دی

ترجمه: سپين شوې د هغې ښځې کيسوګان نو ددې نوم کښيښودل شو شابقرناها اوس که څه هم په ده کښې ترکيب او علميت دوه سببونه شته مګر ځکه چې دا مرکب اسنادي دی دا مبني دی، ځکه نو دا غير منصرف دی

پنځم: د علميت او بلا اضافة ولا اسناد د شرطونو فائده: مصنف رحمه الله د ترکيب په منع صرف کښې د مؤثر کيدو لپاره علميت او بلا اضافة او بلا اسناد شرط ولې لګولی دی د علميت شرط، ځکه لګول شوی دی چې ترکيب يو عارضي شی دی، ځکه اصل په کلمه کښې دا دی چې هغه مستقله جلا استعمال کړې شي د بل چا محتاجه نه وي مګر ديو عارض په وجه سره دا د بلې کلمې سره جوړه شوه نو معلومه شوه چې دا يو عارضي شی دی او کوم چې عارضي شی وي په هغه زوال راځي، ځکه نو احتمال دی چې ترکيب زائل شي نو د علميت شرط ځکه ولګيدو چې له زوال څخه محفوظ شي دا ترکيب د غير منصرف سبب جوړ شي او دا بلا اضافة شرط ځکه لګيدلی دی چې اضافت د غير منصرف منصرف دا په حکم کښې د منصرف ګرځوي نو دا ځکه په غير منصرف کښې مؤثر کيدلی شي او بلا اسناد شرط ځکه لګول شوی دی چې د ترکيب د سبب جوړيدو لپاره علميت هم شرط دی اوس ترکيب اسنادي که چيرې وي نو ترکيب اسنادي والا مرکب اسنادي چې کله د يو چا علم شي نو هغه مبني کيږي او مبني د غير منصرف ضد ده، ځکه غير منصرف د معرب قسم دی، ځکه نو له دې څخه احتراز ضروري دی باقي مرکب توصيفي د اضافي په حکم کښې دی دا راز مرکب صوتي، مرکب تعدادي، په مرکب اسنادي کښې داخل دی، ځکه مرکب اسنادي خو لکه علم جوړيدو و روسته مبني جوړيږي او مرکب صوتي، تعدادي خو له سره مبني دی او مبني ضد دی د معرب غير منصرف

سوال: وَاعْلَمْ اَنَّ كُلَّ مَا شُرِطَ فِيْهِ الْعَلَمِيَّةُ وَهُوَ الْمُؤَنَّثُ بِالتَّاءِ وَالْمَعْنَوِيُّ وَالْعُجْمَةُ وَالتَّرْكِيْبُ وَالْاِسْمُ الَّذِيْ فِيْهِ الْاَلِفُ وَالنُّوْنُ الزَّائِدَتَانِ اَوْلَمْ يُشْتَرَطْ فِيْهِ ذٰلِكَ وَاجْتَمَعَ مَعَ سَبَبٍ وَاحِدٍ فَقَطْ اِذَا نُكِّرَ صُرِفَ!

په دې عبارت اعراب ولګوی بيا وښائی چې د ما شُرِطَ فِيْهِ الْعَلَمِيَّةُ اَوْلَمْ يُشْتَرَطْ فِيْهِ ذٰلِكَ د دې

مصداق کوم یو دی له دې وروسته مصنف رحمه الله علیه چې کومه قاعده بیان کړی، ددې پوره تشریح وکړئ

جواب: په دې سوال کښې درې شیان مطلوب دی.

اول: په عبارت باندی اعراب ولګوې.

دویم: د مَا شُرِطَ فِیْهِ الْعَلَمِیَّةُ مصداق څلورشیان دی (۱) مؤنث بالتاء اللفظی او مؤنث معنوی (۲) عجمه (۳) ترکیب (۴) هر هغه اسم په کوم کښې چې الف او نون زائد تان وي او دلم یشترط فیه ذلك مصداق دوه دی (۱) علم معدول (۲) وزن فعل.

دریم: د قاعدی مکمله تشریح په شرح کښې و ګورئ.

سوال: مرفوعات څومره او کوم دی د هر یو مثال بیان کړئ؟

سوال: المقصد الاول في المرفوعات دالاندی جوابونه ولیکلی (۱) مرفوعات څومره دی د هر یو مثال بیان کړئ (۲) مرفوعات د مرفوع جمع ده که د مرفوعة (۳) مصنف رحمه الله علیه د مرفوعاتو بحث ولی په منصوباتو او مجروراتو مخکښې کړو.

جواب: په دې دواړو سوالونو کښې درې شیان مطلوب دی.

اول: مرفوعات ټوټل اته دی (۱) فاعل لکه په ضَرَبَ زَیْدٌ کښې لفظ زید (۲) مفعول مالم یسم فاعله لکه په ضُرِبَ زَیْدٌ کښې زید (۳) مبتدا لکه په زَیْدٌ قَائِمٌ کښې زید (۴) خبر لکه په زَیْدٌ قَائِمٌ کښې قائم (۵) دانّ او د هغه د اخواتو خبر لکه په اِنَّ زَیْدًا قَائِمٌ کښې قائم (۶) د کان او د هغه داخواتو اسم لکه په کَانَ زَیْدٌ قَائِمًا کښې زید (۷) دما او لا مشبهتین بلیس اسم لکه په مَا زَیْدٌ قَائِمًا کښې زید (۸) دلانفي جنس خبر لکه په لَا رَجُلَ قَائِمٌ کښې لفظ د قائم.

دویم: مرفوعات د مرفوع جمع ده که د مرفوعة نو داد مرفوع جمع ده نه د مرفوعة، ځکه د مرفوعات مفرد د اسم صفت دی او اسم مذکر وی، نو ځکه د ده صفت هم مذکر کیدل پکار دی.

سوال: مرفوع مذکر دی او د مذکر جمع سالمه خو په واو او نون سره راځی دلته په الف او تاء سره څرنګه راغلی ده؟

جواب: اسم مذکر لایعقل دی او ضابطه ده چې د مذکر لایعقل صفت جمع په الفْ اوتاء سره راځی لکه الیوم مذکر غیر عاقل دی د ده صفت الخالی راځی او دالخالی جمع الخالیات په الف او تاء سره راځی؛ الایام الخالیات الکوکب مذکر غیر عاقل دی د ده صفت الطالع کیدی شی جمع یې په الف اوتاء سره راغلې ده لکه چې ویل کیږی الکواکب الطالعات.

دریم: مرفوعات په منصوباتو او مجروراتو ولی مقدم شوې دی؛ ځکه چې مرفوعات عمده دی او اکثر مسندالیه وی او مسندالیه په کلام کښې عمده وی

سوال: **اَلْفَاعِلُ كُلُّ اِسْمٍ قَبْلَهُ فِعْلٌ اَوْصِفَةٌ اُسْنِدَ اِلَيْهِ عَلٰى مَعْنٰى اَنَّهُ قَامَ بِهٖ لَا وَقَعَ عَلَيْهِ نَحْوُ قَامَ زَيْدٌ وَزَيْدٌ ضَارِبٌ اَبُوْهُ عَمْرًا وَمَا ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا.**

په عبارت اعراب ولګوئ؛ د عبارت خلاصه بیان کړئ؛ د خط کشیده قید څه فائده ده

سوال: د فاعل تعریف د مثالونو په رڼا کښې قلمبند کړئ.

جواب: د دوارو سوالونو په یوځای کولو سره څلور شیان مطلوب دی **اول:** اعراب په سوالیه عبارت کښې ولګوری.

دویم: د عبارت خلاصه: ددې عبارت د فاعل تعریف سره له مثالونو بیانول دی حاصل دادی چې فاعل هر هغه اسم دی چه د نه مخکښې فعل یا صیغه د صفت وی د کوم چې اسم طرفته نسبت په داسې طریقه شوی وی چې هغه فعل یا صیغه د صفت په دې اسم سره قائم وی نه چې په واقع وی لکه په قام زید کښې زید اسم دی د نه مخکښې قام فعل دی نسبت یې شوی دی زید طرفته په داسې طریقه چې د له ده سره قائم دی په ده واقع نه دی، ځکه نو په زید د فاعل تعریف صادق شو دوهم مثال زید ضارب ابوه عمرا په دې مثال کښې ابوه اسم دی د نه مخکښې صیغه د صفت ده د هغې اسناد دی د ابوه و طرفته په داسې طریقه چې ضرب له ده سره قائم دی په ده واقع نه دی، ځکه په دې مثال کښې ابوه فاعل دی ضارب صیغ، صفت.

دریم: دُ فاعل تعریف د مثالونو په رڼا کښې دا خبره هم په خلاصه کښې بیان شوې ده د مثالونو وضاحت هم شوی دی

څلورم: د خط په کش شوې خیر ﴿وَاَنْ لَّا وَقَعَ عَلَيْهِ﴾ فائده داده چې له دې څخه مفعول مالم یسم فاعل یعنی نائب فاعل خارجول مقصود دی، ځکه له ده سره فعل یا صیغه د صفت قائم نه ده بلکې پرې واقع دی لکه په ضرب زید کښې زید نائب فاعل دی ضرب پر ده واقع دی.

سوال: وان کان الفاعل مظهر اوحد الفعل ابدانحو ضرب زید و ضرب الزیدان الخ (۱) د فاعل داسم ظاهر او اسم ضمیر کیدو په صورت کښې دفعل دوحدت او تثنیه ضابطه په تفصیل سره بیان کړئ؛ (۲) د هر یوه جزء دلیل او وجه هم بیان کړئ؛ (۳) د فاعل د مؤنث حقیقی او غیر حقیقی په صورت کښې د فعل د تذکیر او تانیث ضابطه هم په لنډه توګه بیان کړئ.

سوال: **وَاِنْ كَانَ الْفَاعِلُ مُؤَنَّثًا حَقِيْقِيًّا وَهُوَ مَا بِاِزَائِهٖ ذَكَرٌ مِّنَ الْحَيْوَانِ اُنِّثَ الْفِعْلُ اَبَدًا.** (الف) فعل کله

مؤنث راوړل کیږي تفصیل یې ولیکئ (ب) په عبارت اعراب ولګوئ ترجمه یې وکړئ او وښایئ چې مؤنث حقیقي چاته ویل کیږي (ج) په قَامَتْ هِنْدٌ او هِنْدٌ قَامَتْ کښې فعل مؤنث ولې راوړل کیږي.

جواب: د دواړو سوالونو په یو ځای کولو سره شپږ شیان مطلوب دي.

اول سوال: په عبارت اعراب په سوالیه عبارت کښې وګورئ ترجمه او د هغې ترجمه داده چې که چیرې فاعل مؤنث حقیقي وي (او مؤنث حقیقي هغه دي چې د ده په مقابله کښې یو مذکر حیوان راغلی وي) نو فعل همیشه مؤنث راوړل کیږي.

دویم: د فاعل د اسم ظاهر او ضمیر کیدو په صورت کښې د فعل د وحدت او تثنیې د ضابطې تفصیل دادې چې فاعل به له دوو حالونو خالي نه وي یا به اسم ظاهر وي یا اسم مضمر که چیرې اسم ظاهر وي نو فعل همیشه مفرد راځي خواه هغه فاعل مفرد وي یا تثنیه وي یا جمع وي، لکه ضَرَبَ زَيْدٌ ضَرَبَ الزَّيْدَانِ، ضَرَبَ الزَّيْدُوْنَ او که چیرې فاعل اسم مضمر وي نو فعل د فاعل مطابق راځي که چیرې فاعل مفرد وي نو فعل به هم مفرد وي که تثنیه وي نو فعل به هم تثنیه وي، که جمع وي نو فعل هم جمع راوړل کیږي لکه زَيْدٌ ضَرَبَ الزَّيْدَانِ ضَرَبَا الزَّيْدُوْنَ ضَرَبُوْا.

دریم: د هر یو شي دلیل او وجه د فاعل د اسم کیدو په صورت کښې که چیرې فعل له فاعل سره مطابق راشي نو د فاعل تکرار راځي مثلاً په ضَرَبَ الزَّيْدَانِ کښې د ضَرَبَ فعل فاعل الف ضمیر هم دی او اَلزَّيْدَانِ هم او د فاعل د اسم ضمیر کیدو په صورت کښې ځرنګه چې د دې ضمیر مرجع اسم ظاهر دی که چیرې فعل د فاعل د ضمیر مطابق راوړل شي نو د راجع او مرجع په مینځ کښې مطابقت نه راځي.

څلورم: د فاعل د مؤنث حقیقي او غیر حقیقي په صورت کښې تذکیر او تانیث ضابطه په اختصار سره داده چې که چیرې فعل فاعل مؤنث حقیقي وي (حقیقي هغه دي چې په مقابله کښې یې مذکر حیوان وي) نو فعل یې همیشه مؤنث راځي که چیرې مؤنث رانشي نو د فعل او فاعل په مینځ کښې به فاصله وي لکه قَامَتْ هِنْدٌ (هنده ولاړه ده) او که چیرې فاصله راشي نو تاته اختیار دی په مؤنث او مذکر راوړلو کښې لکه ضَرَبَ الْيَوْمَ هِنْدٌ او که چیرې ته غواړې نو ضَرَبَتِ الْيَوْمَ هِنْدٌ ووایه او دارنګه په مؤنث غیر حقیقي کښې لکه طَلَعَتِ الشَّمْسُ او که ته غواړې نو طَلَعَ الشَّمْسُ ووایه شي دا هغه وخت کله چې فعل اسم ظاهر ته مسند وي او که چیرې اسم ضمیر ته مسند وي نو همیشه به یې مؤنث راوړې لکه اَلشَّمْسُ طَلَعَتْ او جمع مکسر د مؤنث غیر حقیقي په شان ده نو ویل کیږي قَامَ الرِّجَالُ او که چیرې ته وغواړې نو قَامَتِ الرِّجَالُ قامت ویلی شي او په دې کښې اَلرِّجَالُ قَامُوْا ویل

Maktaba Tul Ishaat.com

هم جائز دی.

پنځم: مؤنث په دوه قسمه دی (۱) حقیقي هغه ده چې په مقابله کښې يې مذکر حیوان وی په دی کښې د مؤنث علامه په لفظ کښې وی لکه امراة چې د رجل په مقابله کښې ده او ناقة (اوښه) چې د اوښ په مقابله کښې ده (۲) مؤنث غیر حقیقي هغه ده چې په مقابله کښې يې مذکر حیوان نه وی، خواه بالکل يې مذکر نه وی لکه عین په معنی د چینی یایې په مقابله کښې مذکر خو وی مګر حیوان نه وی لکه نخلة په مقابله کښې يې نخل مذکر دی لیکن حیوان نه وی

شپږم: په قَامَتْ هِندٌ او قامت کښې د فعل مؤنث راوړلو وجه داده چې ضابطه ده چې کله د فعل فاعل مؤنث حقیقي وی خواه اسم مظهروی یا مضمرنو فعل همیشه مؤنث راوړل کیږي په دې شرط چې د فعل او فاعل په مینځ کښې فاصله نه وی په مذکوره مثالونو کښې همدا صورت دی

سوال: د مؤنث حقیقي او غیر حقیقي او جمع تکسیر تعریف ولیکئ او وښائی چې که چیری په دې کښې کوم یو فاعل واقع شي نو فعل مذکر راوړل کیږي یا په دواړو کښې اختیار دی دارنګې د فاعل د مظهر یا مضمر کیدو په صورت کښې قانون یو کیږي یایې فرق شته نو هغه فرق بیان کړئ او هر قانون په مثال سره واضح کړئ

سوال: (۱) فاعل په کومو حالاتو کښې مذکر یا مؤنث راوړل کیږي (۲) هغه کوم حالات دی په کومو کښې چې تذکیر او تانیث دواړه جائز دی (۳) دارنګې د فاعل فعل په کومو حالاتو کښې واحد ،تثنیه او جمع راوړل کیږي

جواب: د دواړو سوالونو په جمع کولو کښې پنځه شیان مطلوب دی

اول: د مؤنث حقیقي، غیر حقیقي، او جمع تکسیر تعریف، د مؤنث حقیقي او غیر حقیقي تعریف د مخکښې سوال په جواب کښې وګورئ جمع تکسیره هغه جمع ده په کومه کښې چې دواحد بناء سلامته نه وی لکه رجل جمع مکسره یې رجال ده

دویم: په دې درې واړو کښې چې کوم یو فاعل واقع شي نو فعل مذکر یا مؤنث راوړل کیږي یا اختیار دی دارنګې د فاعل د مظهر کیدو په صورت کښې قانون یو دی یا فرق هر قانون په مثال سره واضح کړئ نو په دی سلسله کښې د فاعل د مؤنث حقیقي یا غیر حقیقي کیدو په صورت کښې د فعل حالات په تفصیل سره د مخکښې سوال په جواب کښې تیرشوی دی جمع مکسره که چیری فاعل وی نو له دوو حالتونو په خالي نه وی جمع مکسر به اسم ظاهر وی یا ددی ضمیر که چیری اسم ظاهر وی نو ددی حکم مؤنث غیر حقیقي په شان دی چې د فعل مذکر او مؤنث دواړه

راوړل جائز دی خواه د فعل او فاعل په مینځ کښې فاصله وی یا نه وی لکه قام رجال بغیرد تاء او قامت رجال سره له تاء د فاصلې مثال قام الیوم الرجال او قامت الیوم الرجال او که چیرې اسم ضمیر وی نو دده حکم د مؤنث غیر حقیقی د ضمیر په شان نه دی مؤنث غیر حقیقی چې کله فاعل وی نو په فعل کښې تاء تانیث راوړل واجب دی لکه الشمس طلعت لیکن دلته د جمع مکسر ضمیر که چیرې فاعل وی نو بیا کتل کیږی که چیرې د مذکر یعقل د جمع مکسر ضمیر وی نو د تاء تانیث راوړل هم جائز دی لکه الرجال قامت په دې وخت کښې جمع په تاویل د جماعت مؤنث جوړیږی، ځکه نو فعل مؤنث راوړل جائز کیږی او په فعل کښې واو جمع راوړل هم جائز دی یعنی فعل جمع مذکر غائب راوړل هم جائز دی لکه الرجال قامو او که چیرې هغه جمع له غیر ذوی العقول ځخه وی خواه مذکر وی یا مؤنث یا په ذوی العقول کښې وی مګر مؤنث وی نو تاء د تانیث راوړل هم جائز دی یعنی واحده مؤنثه غائبه صیغه راوړل هم جائز دی او نون د جمع مؤنث یعنی د جمع مؤنث غائبات صیغه راوړل هم جائز دی لکه د مذکر لایعقل په جمع مکسره الایام مضت په تاء تانیث سره ویل هم جائز دی او الایام مَضَیْنَ په نون د جمع مؤنث سره هم ویل جائز دی دارنګې د مؤنث لایعقل په جمع مکسره کښې مثلاً العیون جرت (چینې جاری شوی) په تاء تانیث سره او العیون جرین په نون د جمع مؤنث سره ویل جائز دی دارنګې په ذوی العقول کښې د مؤنث په جمع مکسر کښې النساء جاءت په تاء سره او النساء جئن په نون د جمع مؤنث سره ویل جائز دی.

دریم: فاعل په کومو حالاتو کښې مذکر یا مؤنث راوړل کیږی که چیرې فاعل اسم ظاهر مؤنث حقیقی وی او د فعل او فاعل په مینځ کښې فاصله نه وی نو فعل مؤنث راوړل کیږی لکه قامت هند او که چیرې فاعل مؤنث فاعل وی نو فعل همېشه مؤنث راوړل کیږی خواه د مؤنث حقیقی ضمیر وی یا د غیر حقیقی لکه الشمس طلعت هند جاءت.

ځلورم: هغه کوم حالات دی په کومو کښې چې تذکیر او تانیث دواړه جائز دی نو له پورته دوو صورتونو نه علاوه نور صورتونه دی چه په کومو کښې دواړه جائز دی (۱) فاعل اسم ظاهر مؤنث حقیقی وی او فاصله وی نو په مذکر او مؤنث کښې اختیار دی لکه ضَرَبَ الیَوْمَ هِندٌ، ضَرَبَتِ الیَوْمَ هِندٌ (۲) که چیرې فاعل مؤنث غیر حقیقی وی فاصله نه وی لکه طَلَعَتِ الشَّمْسُ طَلَعَ الشَّمْسُ، طَلَعَتِ الیَوْمَ شَمْسٌ، طَلَعَ الیَوْمَ شَمْسٌ (۳) که چیرې فاعل جمع مکسر خواه اسم ظاهر وی یا د جمع مکسر ضمیر وی د فعل او فاعل ترمینځ فاصله وی یا نه لکه قَامَ الرِّجَالُ، قَامَتِ الرِّجَالُ، قَامَ الیَوْمَ رِجَالٌ، قَامَتِ الیَوْمَ رِجَالٌ، قَامَتِ الرِّجَالُ قَامُوا

پنځم: د فاعل فعل په کومو حالاتو کښې واحد، تثنیه او جمع راوړل کیږی (۱) که چیرې فاعل اسم

ظاهروی نو فعل همېشه واحد راځي لکه ضَرَبَ زَيْدٌ ضَرَبَ الزَّيْدَانِ، ضَرَبَ الزَّيْدُوْنَ (۲) که چیري فاعل اسم مضمر وي نو فعل د فاعل مطابق راځي لکه زَيْدٌ ضَرَبَ الزَّيْدَانِ ضَرَبَا الزَّيْدُوْنَ ضَرَبُوْا په دې مسئله کښې د مذکر او مؤنث هيڅ فرق نشته

سوال: هٰذَا اِذَا كَانَ الْفِعْلُ مُسْنَدًا اِلَى الْمُظْهَرِ وَاِنْ كَانَ مُسْنَدًا اِلَى الْمُضْمَرِ اُنِّثَ اَبَدًا نَحْوُ الشَّمْسُ طَلَعَتْ.

(۱) اعراب ورکړئ وښائي چې د فعل د مؤنث راوړلو لپاره څومره او کوم شرطونه دي په کومو صورتونو کښې مؤنث راوړل ضروري دي او په کومو کښې جائز دي.

جواب: په دې سوال کښې درې شیان مطلوب دي.

اول: په عبارت باندې اعراب په سواليه عبارت کښې يې وګورئ.

دويم: د فعل د مؤنث راوړلو لپاره څومره او کوم شرطونه دي نو ټول شپږ شرطونه دي (۱) د فعل فاعل مؤنث حقيقي مظهر کېدل (۲) فاعل د مؤنث حقيقي ضمير کېدل (۳) فاعل د مؤنث غير حقيقي مظهر وي (۴) فاعل د مؤنث غير حقيقي ضمير وي (۵) فاعل جمع مکسر مظهر وي (۶) فاعل د جمع مکسر ضمير وي.

فائده: په دې ذکر شويو پورته صورتونو کښې په بعضو کښې مؤنث راوړل واجب دي او په بعضو کښې جائز تفصيل يې را روان دي.

دريم: په کومو صورتونو کښې مؤنث راوړل واجب دي او په کومو کښې جائز دي نو په درو صورتونو کښې واجب (۱) فاعل مؤنث حقيقي مظهر وي او د فعل او فاعل په مينځ کښې فاصله نه وي لکه قامت هند (۲) فاعل د مؤنث حقيقي ضمير وي لکه هند قامت (۳) فاعل د مؤنث غير حقيقي ضمير وي لکه الشمس کورت په شپږو صورتونو کښې جائز دي: فاعل مؤنث حقيقي مظهر او د فعل او فاعل په مينځ کښې فاصله وي لکه ضرب اليوم هند، ضربت اليوم هند (۲) فاعل مؤنث غير حقيقي مظهر او فاصله وي لکه طلع اليوم الشمس وطلعت اليوم شمس (۳) فاعل مؤنث غير حقيقي مظهر وي او فاصله نه وي لکه طلع الشمس او طلعت الشمس (۴) فاعل د جمع مکسر ضمير وي لکه الرجال قامت او الرجال قاموا (۵) فاعل جمع مکسر مظهر او فاصله وي لکه قام اليوم رجال او قامت اليوم رجال (۶) فاعل جمع مکسر مظهر وي او فاصله نه وي لکه قام الرجال او قامت الرجال

سوال: د جمع التکسير کالمؤنث الغير الحقيقي مطلب وليکئ او د مثال په ذريعه سره يې راوښيئ چې جمع تکسير که فاعل وي نو فعل په کومه طريقه سره راځي مؤنث غير حقيقي چاته وايي کېږي مثال يې وليکئ: د فاعل په مفعول مقدم کېدل کله ضروري دي او کله نه مثالونه وليکئ:

جواب: په دې سوال کښې څلور شیان مطلوب دی.

اول د د جمع التکسیر کالمؤنث الغیر حقیقی الخ مطلب د دې خبره د مخکښې سوال په جواب کښې تیر شوی دی

دویم جمع تکسیر که فاعل وی نو چې فاعل څرنګه استعمال شوی وی د دې مثال او وضاحت یې هم د مخکښې سوال په جواب کښې تیر شوی دی.

دریم د مؤنث غیر حقیقی تعریف او مثال مؤنث غیر حقیقی هغه دی د کوم په مقابله کښې چې مذکر نه وی خواه بالکل نه وی لکه عین یایې په مقابله کښې مذکر خو وی مګر حیوان نه وی لکه دنخلة په مقابله کښې نخل دی.

څلورم د فاعل په مفعول مخکښې کېدل هغه وخت ضروری دی کله چې فاعل او مفعول په دواړه اسم مقصوروی او دالتباس خطره وی حاصل دا چې کله اعراب لفظی په دواړو کښې نه وی او بو داسې قرینه هم نه وی کومه چې د فاعل په فاعلیت دلالت وکړی نو په دې وخت کښې د فاعل په مفعول باندې مخکښې کېدل واجب دی کنې التباس راځی نه معلومیږی چې فاعل کوم یو دی او مفعول کوم یو دی لکه ضَرَبَ مُوسٰی عِیْسٰی، شَتَمَتْ سُعْدٰی سَلْمٰی (بنه کنځل کړی سعدی سلمی ته) او که چیری د التباس خطره نه وی نو د مفعول په فاعل مخکښې کېدل جائز دی خطره هغه وخت نه وی کله چې قرینه لفظی یعنی اعراب لفظی وی لکه ضرب عمرا زید یاقرینه معنوی وی لکه اکل الکمثری یَحْیٰی په یحیی کښې د فاعل جوړیدو صلاحیت او په کمثری کښې د فاعل جوړیدو صلاحیت نشته، ځکه نو د قرینه معنوی له وجې د مفعول تقدیم جائز دی

تمت بالخیر

Maktaba Tul Ishaat.com